سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقهې او قانون د ماسترۍ پروګرام

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

# افغاني وديز دودونه او اغيزې يې

## د اسلامي شريعت او مدني قانون په رڼا کې

(د ماسترۍ د تحصيلي دورې تيزس)


محصل: غوث الدين باز
لارښود استاذ: دکتور محمد مزمل اسلامي



کال: ۱۴۰۱هـ ل - ۱۴۴۳هـ ق

سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقهې او قانون د ماسترۍ پروګرام

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

# افغاني ودیز دودونه او اغیزې یې

## د اسلامي شریعت او مدني قانون په رڼا کې

(د ماسترۍ د تحصیلي دورې تیزیس)

محصل: غوث الدین باز
لارښود استاذ: دکتور محمد مزمل اسلامي

کال: ۱۴۰۱هـ ل ـ ۱۴۴۳هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

## د فقه اوقانون دیپارتمنټ

## د ماسترۍ بورډ

# تـــصـديـق نـــامـــه

ښاغلی غوث الدین د ګلاب الدین زوی د **SH-MSF-98-514 :ID** نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د اومی دوری محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې: افغاني ودیز دودونه او اغیزې یې د اسلامي شریعت او مدني قانون په رڼا کې د چهار شنبې ورځ په ۷ / ۱۰ /۱۴۰۱هـ ل نیټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۲ (نمرو په عدد) دوه نوي (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور نجیب الله صالح | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور محمد مزمل اسلامی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر ............ علمی مرستیال ............

# ډالۍ

په پيل کې خپلې مهرباني او مشفقې مور ته يې ډالۍ کوم چې زما په تربيه او پالنه کې يې ستر رول ادا کړی. د مصيبتونو پر وړاندې د يوه قوي غره په څېر سپر وه، تل يې راته د کاميابۍ او برياليتوب دعاوې کړي، داسې مور چې له يوه پلوه مادي مشکلات هم همدې ته ور په غاړه وو، ځکه زه لا پنځه کلن نه وم چې پلار مې په شهادت ورسېد او زموږ لپاره د کور يواځينۍ سرپرسته مو مور وه.
خپلې ميرمنې ته يې ډالۍ کوم چې له ما سره يې د کورني ژوند په تيرولو کې ډېره همکاري کړې، شپې او ورځې يې را سره نهارې تيرې کړې دي. زما د تعليم او تحصيل لپاره يې له ما سره په داسې شکل همکاري کړې، چې له يوې حوا د اولادونو تربيه، ور په غاړه وه، او له بل لوري يې په کور کې داسې ابتدائي اقتصادي کارونه کول، چې هم يې زموږ د اولادونو او هم زما مادي مشکلات حل کول او همدارنګه زما د مسافرۍ په جريان کې يې ډېر مشکلات ګاللي دي.
خپلو قدرمنو وروڼو او بالخصوص مشر ورور ته يې ډالۍ کوم چې زما د ژوند د يو قوي ملګري په څېر يې را سره ژوند کړی، ځکه که له يو طرف زما نسبي ورور دی نو له بل لوري نه زما فکري او حرکي ورور هم دی چې تر نن پورې راسره هر ډول همکارۍ ته اماده دی.
اسلامي حرکت او اسلامي امت ته يې ډالۍ کوم چې په اوس وخت کې د نړۍ په سطحه د مشکلاتو سره سره د انسانيت د نجات او بهبود پلان ور سره دی او خپلې ټولې هلې ځلې د انسان د خدمت لپاره په لاره اچولي دي.

# مننه

په لومړي سر کې د لوړو زده کړو وزارت څخه مننه کوم چې دې ځوريدلي او کړيدلي ولس ته يې د تحصيل زمينه برابره کړې ده، تر څو دا ولس د هېواد په مادي او معنوي ستونزو کې د تعليم او تحصيل له لارې د حل کوښښ وکړي.

همدارنګه د سلام پوهنتون له محترمي ادارې او منسوبينو څخه مننه کوم، چې په اوسني وخت کې نړۍ په تعليمي او تحصيلي سطحه ډېره پر مختللې، خو متأسفانه زموږ هېواد باالخصوص د تحصيل په ډګر کې ډېر وروسته پاتې دی، په دې وخت کې سلام پوهنتون داسې لازم قدم پورته کړی، چې ولس ته يې د تحصيل زمينه په هغه کېفيت چې لازمه ده برابره کړې ده.

همدارانګه له لارښود استاد محترم دوکتور محمد مزمل اسلامي څخه ډېره مننه کوم چې د تيزس د ليکلو پر وخت لازمه لارښوونه کړې او سالمې مشورې او نظريات يې راسره وخت پر وخت شريک کړي دي.

بيا هم له خپلې ګرانې او محترمې مور څخه ډېره مننه کوم چې تل يې په دعاوو کې ياد ساتلی يم، او د هغې دعاوې زما لپاره اصلي او بنيادي لامل دي، له خپلې ټولې کورنۍ څخه مننه کوم چې زما په تحصيل کې يې مادي او معنوي هڅې کړي، د کابل پوهنتون د عربي ادبياتو له استاد محترم دوکتور عبدالصبور فخري څخه مننه کوم چې زما د تحصلي دورې تشويق کوونکې و او تل يې راته د لازيات تحصيل سپارښتنه کړې.

په پای کې له محترم استاد مجيب الرحمن عاصم څخه مننه کوم چې د دې تيزس په ټايپ کې راسره نه ستړې کېدونکې همکاري کړې، له الله متعال څخه ورته د اخرت د اجر غوښتونکې يم.

حقيقت دا دی چې انسان کمزوری، بې وسه او ضعيف پيدا شوی، نو زما په دې ليکنه کې به هم ډېرې نېمګړتياوې وي، نو له الله تعالی څخه بښنه غواړم.

# د بحث لنډيز

پدې بحث کې واده د اسلام د سپيڅلي شريعت، د افغانستان د مدني قانون، او د افغاني ټولنې د ګڼو ډول ډول دودونو په رڼا کې په تفصيلي توګه تر څېړنې لاندې نيول شوې او دا چې افغاني دودونه پر ودونو او د هغو په وروستيو موخو اواهدافو باندې څه ډول مثبتي اومنفي اغيزې لري، څېړنه په دې برخه باندې ځانګړی ترکيز کوي.

په افغاني ټولنه کې د دودونو قضيه خورا مهمه قضيه ده چې بالفعل ټولنه ورسره لاس او ګرېوان ده، ودودنه يې نېغ په نېغه تر خپلو مثبتو او منفي اغيزو لاندې راوستي دي، د همدې لپاره دغه موضوع د څېړنې لپاره وټاکل شوه، د موضوع له طبيعت سره سم د څېړنې منهج استقرايي او توصيفي غوره شوی دی.

دا چې افغاني ټولنه له سل هاو کلونو را په ديخوا يوه اسلامي ټولنه ده، نو الحمدلله په دې ټولنه کې په ودونو کې داسې دودونه شتون لري چې هغه مثبت او ښه دودونه دي که هغه د کوژدې، واده او يا هم له واده څخه وروسته مرحلو کې وي. د داسې دودونو اغېزې د فرد، کورنۍ او ټولنې په ښه ژوند تيرولو کې مثبتي ليدل شوې دي او هم د ښه ژوند سبب او باعث ګرځېدلي دي.

داسې ښه دودونه اسلامي شريعت او مدني قانون نه يوازې دا چې تاييدوي بلکې د اجر او ثواب وعده يې هم د عمل کوونکي سره کړې ده او کله ناکله اسلامي شريعت او مدني قانون په خپلو پيروانو امر هم کړی دی چې دغه کارونه عملي کړي، تر څو د اسلامي شريعت او مدني قانون هغه اصلي مقصد چې د انسانانو مصالح دي په ښه شکل رعايت شي.

خو بل طرف ته په ډېر تاسف سره دا هم بايد وويل شي چې زمونږ په دې ټولنه کې له پخوا راهيسي په ودونو کې داسې ناوړه دودونه هم شتون لري چې د کوژدې، واده او له واده وورسته ټول مراحل يې سخت کړي دي او د داسې ناوړه دودونو ناوړه اغېزې زمونږ په ټولنه کې په فردي، کورني او ټولنيز ژوند کې پرې ايښي دي.

اسلامي شريعت او مدني قانون نه يوازې دا چې داسې دودونه ردوي، بلکې امر کوي چې له داسې ناوړه دودونو څخه بايد مسلمانان ځان خلاص کړي چې د انساني ژوند مصالح متحقق شي.

په دې بحث کې واده د اسلام د سپيڅلي شريعت، د افغانستان د مدني قانون، او د افغاني ټولنې د ګڼو ډول ډول دودونو په رڼا کې په تفصيلي توګه تر څېړنې لاندې نيول کېږي او دا چې افغاني دودونه پر ودونو او د هغو په وروستيو موخو اواهدافو باندې څه ډول مثبتې او منفي اغيزې ښندي، څېړنه په دې برخه باندې ځانګړی ترکېز کوي.

# لړلیک

**موضوع ........................................................................................ مخګڼه**


د بحث لنډيز ........................................................................................ د
لړلیک ........................................................................................ ه
سريزه ........................................................................................ ۱
د موضوع اهميت: ........................................................................................ ۱
د موضوع د ټاکلو لاملونه: ........................................................................................ ۳
د تحقيق پوښتني ........................................................................................ ۳
لومړی: اصلي پوښتنه: ........................................................................................ ۳
دوهم: فرعي پوښتني: ........................................................................................ ۳
د موضوع تاريخي مخينه: ........................................................................................ ۳
د تحقيق او څيړنې كړنلاره: ........................................................................................ ٤
د تحقيق اهداف او موخې: ........................................................................................ ۵
د بحث خطه: ........................................................................................ ۵
لومړی فصل ........................................................................................ ۱۰
د واده دودونه شريعت او قانون ........................................................................................ ۱۰
لومړی مبحث: واده: ........................................................................................ ۱۰
لومړی مطلب: د دواده پيژندنه: ........................................................................................ ۱۰
دوهم مطلب: د كورنۍ په جوړولو كې د خاوند او ميرمنې رول: ........................................................................................ ۱۱
دريم مطلب - د خاوند او ميرمنې حقوق: ........................................................................................ ۱۱
څلورم مطلب- د خاوند او ميرمنې ګډ مسئوليت: ........................................................................................ ۱۹
دوهم مبحث : دود يا عرف ........................................................................................ ۲۰
لومړی مطلب : د دود ( عرف ) پيژندنه : ........................................................................................ ۲۰
دوهم مطلب : د دود ډولونه: ........................................................................................ ۲۱
دريم مطلب: د عرف د معتبر كيدو شرطونه ........................................................................................ ۲٤
دريم مبحث- اسلامي شريعت: ........................................................................................ ۲٦
لومړی مطلب- د شريعت تعريف: ........................................................................................ ۲٦
دوهم مطلب- د شريعت مقصد: ........................................................................................ ۲٦

درېیم مطلب- شریعت او واده:................................................................... ۲۶
څلورم مبحث: مدني قانون:...................................................................... ۲۸
لومړی مطلب- د مدني قانون تعریف:...................................................... ۲۸
دوهم مطلب- د مدني قانون مقصد:......................................................... ۲۸
درېیم مطلب- مدني قانون او واده:......................................................... ۲۸
دوهم فصل .................................................................................................... ۳۱
مثبت دودونه او اغېزې یې........................................................................... ۳۱
لومړی مبحث : مثبت دودونه..................................................................... ۳۱
لومړی مطلب د کوزدې د مرحلې مثبت دودونه ........................................... ۳۱
دوهم مطلب: د واده د مرحلې مثبت دودونه:............................................. ۳۷
درېیم مطلب: له واده وروسته مثبت دودونه:............................................ ٤٤
دوهم مبحث: اغیزې.................................................................................. ٤۹
لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزې............................ ٤۹
دوهم مطلب: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزې.................................... ۵۰
درېیم مطلب: له واده ورسته د مثبتو دودنو اغیزې....................................... ۵۱
درېیم مبحث: د مخکېنیو دودونو شرعي او قانوني حیثیت ........................... ۵۳
لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت ........ ۵۳
لومړی: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي حیثیت: .......................... ۵۳
دوهم: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو قانوني حیثیت:............................ ۵۹
دوهم مطلب: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت ............ ٦۵
لومړی: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي حیثیت:............................. ٦۵
دوهم: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو قانوني حیثیت:................................ ۷۱
درېیم مطلب: له واده وروسته د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت ........... ۷۵
لومړی: له واده وروسته د مثبتو دودونو شرعي حیثیت: ............................. ۷۵
دوهم: له واده وروسته د مثبتو دودونو قانوني حیثیت: ................................ ۸۰
درېیم فصل.................................................................................................. ۸٤
منفي دودونه، اغېزې او شرعي او قانوني حیثیت.......................................... ۸٤
لومړی مبحث: منفي دودونه........................................................................ ۸٤
لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې منفي دودونه.......................................... ۸٤

دوهم مطلب د واده د مرحلې منفي دودونه........................................................................ ۹۰
دریم مطلب: له واده وروسته منفي دودونه: ..................................................................................۹۸
دوهم مبحث: د منفي دودونو اغېزې:...................................................................................... ۱۰٤
لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو اغېزې:......................................................... ۱۰٤
دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفي دودونو اغیزې: ................................................................ ۱۰۷
دریم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو اغیزې: ................................................................. ۱۰۹
دریم مبحث: د مخکېنیو دودونو شرعي او قانوني حیثیت .......................................................... ۱۱۱
لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حیثیت: ............................. ۱۱۱
لومړی: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو شرعي حیثیت:......................................................... ۱۱۱
دوهم: د کوژدې د مرحلې د منفي دودونو قانوني حیثیت:.......................................................... ۱۱۸
دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حیثیت:...................................... ۱۲۳
لومړی: د واده د مرحلې د منفي دودونو شرعي حیثیت:............................................................. ۱۲۳
دوهم: د واده د مرحلې د منفي دودونو قانوني حیثیت: ............................................................. ۱۲۸
دریم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو شرعي او قانوني حیثیت: ..................................... ۱۳۱
لومړی: له واده څخه وروسته د منفي دودونو شرعي حیثیت:...................................................... ۱۳۱
دوهم: له واده څخه وروسته د منفي دودونو قانوني حیثیت: ...................................................... ۱۳۷
خاتمه او پایله.................................................................................................................... ۱٤۰
وړاندیزونه: ....................................................................................................................... ۱٤۱
د ځینو اعلامو معرفي او پېژندنه.......................................................................................... ۱٤۲
د آیتونو لړلیک.................................................................................................................... ۱٤٤
د احادیثو لړلیک.................................................................................................................. ۱٤٥
مراجع ............................................................................................................................... ۱٤۷

# سریزه

الحمد لله و الصلاة والسلام على خير خلق الله محمد وعلى آله و صحبه و من اهتدى بهديه و دعا بدعوته إلى يوم الدين أمابعد:

قال الله تعالى: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا»[1]

په اسلامي شریعت کې چې د نر او ښځې د ګډ ژوند د ښه سمبالښت لپاره د واده نظام ټاکل شوی اصلي او بنیادي هدف د دې دواړو اشخاصو د دوی د اولادونو او د دوی د لویو کورنیو یو د بل سره روابط، ژوند، مسؤلیتونه او د حقوقو رعایت کول دي. اسلامي شریعت چې د کورني ژوند لپاره کوم احکام او قوانین ترسیم کړي او رالیږلي د انسان د مادي او معنوي پرمختګ او ښه ژوند او د کمال حد ته رسول غواړي. انسانیت هغه وخت د خیر او فلاح خواته روان شو چې الهي احکام ورته رالیږل شول، او تر هغه وخته پورې اسلامي ټولنه مخ پر وړاندې روانه وه تر څو یې د اسلامي شریعت احکام پر ځان منلي او عملي کړي وو، د افغانستان مدني قانون هم د خپل ملت لپاره د ښه ژوند تېرولو لپاره په فردي، کورني او ټولنیز ژوند کې د همدې ملت د فرهنګ، کلتور، عقیدې په نظر کې نیولو سره قوانین وړاندې کړي؛ تر څو ښه ژوند ترسره کړي او له ستونزو څخه وساتل شي، زما د ماسټرۍ د دې رسالې یا تېزس موضوع د اسلامي شریعت او قانون په رڼا کې په افغاني ټولنه کې په ودونو باندې د دودونو اغېزې دي.

په دې باورې یو چې زموږ په ټولنه کې داسې مثبت دودونه هم شته چې د فرد او کورنۍ سره ډېره همکاري او د هغوی په ژوند کې یې مثبتې پایلې لیدل شوي دي، خو له بده مرغه داسې ناوړه دودونه هم شتون لري چې افراد، کورنۍ او ټولنه یې له ډېرو ستونزو سره مخ کړي ده، په دې رساله کې په دواړو اړخونو د افغانستان له مختلفو ولایتونو څخه معلومات په لیکل شوي بڼه راټول شوي دي، او ځېني مرکې هم له خلکو سره شوي دي، ما د افغانستان کابو ټولو ولایتونو ته سفر کړی، او د همدې سفرونو په لړ کې مې په هر ولایت کې د هغه ځای له علماوو، استادانو او قومي مشرانو څخه په دې اړه پوښتنې کړې دي، چې هغوی هم هغه پوښتنپاڼې ځواب کړي، د هم هغې سیمې مثبت او ناوړه دودونه یې له اغېزو سره راته لیکلي دي، چې هغه په دقت او غور سره ترتیب شوي دي. د مثبتو دودونو اغېزې او د هغو شرعي او قانوني حیثیت او همدارنګه د منفي دودونو اغېزې او د هغو شرعي او قانوني حیثیت بیان شوی دی.

## د موضوع اهمیت:

ددې موضوع اهمیت په دې کې دی چې هغه دودونه هیوادوالو ته په ګوته شي چې افراد کورنۍ او ټولنه یې هوسا کړې او یا یې له سختو کړاوونو سره مخ کړې ده او د واده اسانه مسایل یې سخت کړي دي.

[1]- د نساء سورت، ۱ آیت

د دې موضوع اهميت په دې کې دی چې هغه مثبت دودونه هېوادوالو ته په ګوته شي چې په هغو کې افراد او کورنۍ رول لري، تر څو دا دودونه عام او خلک ورته متوجه شي ځکه دا اصلا انساني ژوند آسانه کوي لکه:

١) د کورنيو يو بل ته بلنه تر څو دواړه کورنۍ په خپل منځ کې پوره تعارف حاصل کړي.
٢) د نجلۍ د کورنۍ لخوا د هلک کورنۍ دسمال د نښې په توګه ورکول
٣) په اطرافو کې د واده څخه درې ورځې وړاندې د ځوانانو لخوا د هلک کورنۍ سره د حشر په شکل همکاري او کومک کول.
٤) مخ روڼي يا د ناوې د کتو په وخت کې له هغې سره د کلي د ښځو لخوا مالي مرسته او همکاري کول.
٥) د دواړو کورنيو تر منځ خپل منځي اړيکې پراخه ساتل تر دې چې قومي روابط هم ورسره پالل کيږي.
٦) د زوم کورنۍ ته د خپلوانو لخوا مبارکي، ميلمستيا او تحفې وروړل.

سره له دې چې د اسلام مقدس دين د آسانيتا دين دی او د آسانيتا حکم کوي، خو هر کله چې د شريعت پرځای ناوړه دودونه راشي، نو په واده او کورنۍ بدې اغيزې پريوزي.
لکه:

١ :د واده اساسي موخه په لاس نه راځي.
٢ : کورنۍ له مشکلاتو سره مخ کيږي.
٣ : دمجردانو سطحه پورته کيږي .
۴ : له هيواد څخه ځوان نسل بهر وځي.

زموږ په ټولنه کې روان ناورين ددې لامل شوی چې دا وياړلی ولس دې د ډېرو ستونزو سره مخ کړي . د خواريو او بدمرغيو، د هلاکوونکو سيلاوونو سره لاس او ګريوان دی، خپلمنځي شخړو د نابودۍ کندې ته ور ټيل وهلی، د دغه ولس ازلي دښمنان هم لاس تر زنې ناست نه دي، بلکې د هرې بدمرغۍ تر شا د هغوی لاس دی، چې غواړې دا ولس يوځلي بيا خپل تېر برم تر لاسه نه کړي، نو يې د دې هدف لپاره ځينې شومې لارې چارې په لاره اچولي، له هغو څخه يوه دا چې غواړي په پيل کې په افغانستان کې د اسلامي ټولنيز نظام په ځانګړي ډول د کورني نظام مراندې وشلوي او دا ولس د ځان په څېر په سراب پسې روان کړي، کورنۍ تړاو لمنځه يوسي پر ځای يې د هوس پالنې دود پياوړي کړي، نو اړينه ده چې په ياده موضوع ډېر څه وليکل شي او ټولنې ته د اصيل اسلامی هويت او د کورني نظام بنسټيز اصول ورپه ګوته کړای شي، تر څو هر افغان د اسلام د سپېڅلي دين په رڼا کې خپل کورنی ژوند سمبال کړي .

### د موضوع د ټاکلو لاملونه:

سره له دې چې په افغانستان کې د سمتي او قومي دودونو په اړه ډېر څه ليکل شوي ؤ، خو په ودودونو کې د افغاني ټولنې د دودونو په اړه داسې څه نه ؤ ليکل شوي چې په ځانګړې توګه همدا موضوع بيان کړي، نو د لاندې لاملونو له امله دا موضوع وټاکل شوه:

١) زمونږ د ټولنې هغه دودونه چې مثبت او بنه دودونه دي د هغو شرعي حيثيت څرګندول تر څو داسې دودونو ته نوره هم وده ورکړل شي.

٢) په فرد، کورنۍ او ټولنه باندې د مثبتو دودونو اغيزې بيانول.

٣) په ټولنه کې د ناوړه دودونو څرګندول او د هغو شرعي او قانوني حيثيت بيانول تر څو د داسې دودونو مخه ونيول شي.

٤) خلک او هېوادوال له دې څخه خبرول چې په هېواد کې کوم ډول دودونه شتون لري.

### د تحقيق پوښتنې

### لومړی: اصلي پوښتنه:

- په افغاني ټولنه کې د کورنۍ په جوړوښت کې کوم دودونه شتون لري او دا دودونه له له اسلامي شريعت او قانون سره سمون لري او کنه؟

### دوهم: فرعي پوښتنې:

- دودونه پر واده څه اغيزې لري ؟
- دودونه په شريعت کې څه حيثيت لري؟
- دودونه په مدني قانون کې څه حيثت لري؟
- که په واده کې پوره شرعي اوامر عملي شي نو اغيزې به يې څه وي؟
- د نيکمرغه واده لپاره کوم ټکي په پام کې نيول په کار دي؟

هڅه کيږي چې پورتنيو پوښتنو او هغو ته ورته نورو پوښتنو ته په دې څېړنه کې ځواب وويل شي.

### د موضوع تاريخي مخينه:

په دې کې شک نشته چې په ټوله کې اسلامي شريعت په نړۍ کې د ټولو قوانينو مور بلل کيږي، د ژوند په هره برخه کې يې انساني ټولنې ته ارزښتمني لاربنووني کړي، د انساني ژوند هر اړخ يې د هغه له فطرت سره سم تنظيم کړې دي. نکاح او په انسان کې د فطري غريزې اشباع، د تناسل او توالد اړتيا هغه څه دې چې ارومرو بايد ترسره شي، له همدې امله د کائناتو خالق هم د انسانانو دغو اړينو فطري غوښتنو لپاره موزون قوانين رالېږلي چې له مخې يې بشريت په روا لارو د خپل نسل د بقا او د ژوند د اړتياوو په پار خپل يون لورى وټاکي، خو له دې سره سره يوشمېر دودونه دخلکو ترمنځ رواج شوي چې

ځینو یې د واده پر اصلي اهدافو باندې بنې او ځینو یې بدې اغیزي کړي دي، چې نویو څیړنو ته ضرورت لري.

د پورته موخو د تر لاسه کولو لپاره دافغاني ټولنې په شمول په اسلامي بې سیاله علمي پانګه کې په دې اړه خورا ډېر کتابونه او آثار په عامه بڼه لیکل شوي دي.

څومره چې د اسلامي شریعت خبره ده نو د اسلامي فقهي په ټولو کتابونو کې یاده موضوع هر اړخیزه څېړل شوې او نړیوالو ته یې ډېر څه په لاس ورکړي، یاده موضوع چې په عربي ژبه ډېر څه لري، خو دا چې په هیواد کې په پښتو ژبه په دې اړه دومره څه چې د لوستونکو تنده پرې ماته شي، نه لیدل کېږي، ځکه خو مې هڅه وکړه هیوادوالو ته د خدمت په پار د دې موضوع په اړه څیړنه وکړم.

دیادونې وړ ده چې دې موضوع ته ورته لاندې اثار لیکل شوي دي:

١. د اسلام کورنی نظام (عزیزي، شیرزاد) د ننګرهار پوهنتون استاد.
٢. ناوړه دودونه (احمدزی زاهدي، جان محمد) دافغان پوهنتون پخوانی استاد.
٣. ناوړه دودونه د شریعت په رڼا کې (د افغانستان حج او اوقافو وزارت د څیړنې او د اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست) د چاپ کال ١٣٩٨ هجري لمریز.
٤. په ختیځ زون کې د نکاح مروج عقدونه او رواجونه څیرونکې (دانش، محمد اسلام) د سلام پوهنتون د ماسترئ تیزس د چاپ کال ١٣٩٨.
٥. په افغانستان کې د کورنې نظام تحلیل (لودي، میرزا محمد).
٦. د ټولنیزو انحرافاتو په مخنیوي کې د کورنۍ نقش (فهیم، نوراحمد).

په دې آثارو کې په بېلا بېلو موضوعاتو بحث شوی دی، خو یوه یې هم (پر ودونو د دودونو اغیزې) په موضوعي او تفصیلي توګه ندي بیان کړي.

بنا پر دې (په افغاني ټولنه کې پر ودونو د دودونو اغیزې د اسلامي شریعت او مدني قانون په رڼا کې) موضوع یوه جلا او مستقله څیړنه ده چې حتماً به په کې له مخکېنیو آثارو څخه استفاده صورت مومي.

## د تحقیق او څیړنې کړنلاره:

د دې څیړنې کړنلاره استقرائي ده چې په یوه برخه کې به د موضوع اړوند لیکل شوو اصلي مصادرو او مراجعو ته په کې رجوع کېږي او په بله برخه کې به یې میداني څېړنې، مرکې او پوښتنې شاملې وي.

دا چې زما موضوع میداني موضوع وه او په دې اړه معلومات پیدا کول زما مسئولیت ؤ، د معلوماتو په پیدا کولو کې د مشکلاتو سره مخ شوم

په دې موضوع کې کوم کتاب نه ؤ لیکل شوی چې په کتابخانه کې یې لټون وکړم.ځینو کسانو پر وخت زما پوښتن لیکونو ته ځواب نه راکاوه، هر ولایت ته مې سفر وکړ، د سفر په جریان کې هم له مشکلاتو سره مخامخ شوی یم. د دودنو شرعي او قانوني حیثیت پیدا کول هم یو ستونزمن کار ؤ.

## د تحقيق اهداف او موخې:

۱) د تحقيق اصلي و اساسي هدف دا ۇ چې په افغاني ټولنه کې د واده ټول دودونو لوستونکو ته راټول کړم، تر څو هېوادوال په افغانستان کې د واده له دودونو څخه خبر شي.

۲) بل مهم هدف دا ۇ چې د دغو دودونو شرعي او قانوني حيثيت هېوادوالو ته معلوم شي، تر څو د شريعت په رڼا کې د هغو دودونو د ښه والي او بدوالی پرېکړه دوی پخپله وکړي.

۳) بل دا چې ښه او بد دودونه هم سره معلوم شي تر څو خلک ښو دودونو ته وده ورکړي او ناوړه دودونه له منځه يوسي.

٤) همدارنګه بل هدف دا ۇ چې پر ودودنو باندې د دودنو ښې او ناوړه اغيزې هم هېوادولو ته معلومې شي، ځکه ځيني وخت ناوړه دودونه پر ودونو باندې دومره ناوړه اغيزې لرلای شي چې زمونږ ټولنه له لويو لويو ستونزو سره مخامخ کوي او زمونږ ځوانان او پېغلې تر ډېره وخته د واده کولو توان نشي پيدا کولای.

## د بحث خطه:

دا څېرنه په پيليزې، تمهيد، (۳) فصلونو (۱۰) مبحثونو، (۳۱) مطالبو، پايلې، سپارښتنو او د مصادرو او فهرستونو په لړ ليک مشتمله ده.

پيليزه

د موضوع پيژندنه

د موضوع ارزښت

د موضوع د انتخاب لاملونه

د څېرنې پوښتنې

په موضوع کې نوي اضافات

د څېرنې کړنلاره

لومړی فصل: وديزدودونه، شريعت اوقانون

دغه فصل څلور مبحثه لري:

لومړی مبحث: واده

دغه مبحث څلورمطالبه لري:

لومړی مطلب: د واده پيژندنه

دوهم مطلب: د کورنی په جوړولوکي دخاونداوميرمن رول

دريم مطلب :دخاونداوميرمن حقوق

 څلورم مطلب :دخاونداومیرمن مسؤلیتونه
دوهم مبحث :دودونه
دغه مبحث درې مطلبه لري:
لومړی مطلب: د دود پیژندنه
دوهم مطلب: د دود ډولونه
دریم مطلب: د دود شرطونه
دریم مبحث: اسلامي شریعت
دغه مبحث درې مطالبه لري:
لومړی مطلب: د شریعت تعریف
دوهم مطلب: د شریعت مقصد
دریم مطلب: شریعت او واده
څلورم مبحث:مدني قانون
دغه مبحث درې مطالبه لري:
لومړی مطلب: د مدني قانون تعریف
دوهم مطلب: د مدني قانون مقصد
دریم مطلب:مدني قانون او واده
دوهم فصل: مثبت دودونه او د هغو اغیزي
دغه فصل درې مباحثه لري:
لومړی مبحث: مثبت دودونه
دغه مبحث درې مطالبه لري:
لومړی مطلب:د کوژدې د مرحلې مثبت دودونه
دوهم مطلب:د واده د مرحلې مثبت دودونه
دریم مطلب: له واده وروسته مثبت دودونه
دوهم مبحث: اغیزي
دغه مبحث دریې مطالبه لري:
لومړی مطلب: د کوژدې د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزي

دوهم مطلب:د واده د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزي
دریم مطلب: له واده وروسته د مثبتو دودونو اغیزي
دریم مبحث: د مخکینیو دودونو شرعي او قانوني حیثیت
دغه مبحث دري مطالبه لري
لومړی مطلب:د کوژدې د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت
دوهم مطلب:د واده د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوي حیثیت
دریم مطلب: له واده وروسته د مثبتو دودونو شرعي او قانوي حیثیت
دریم فصل: منفي دودونه او د هغو اغیزي:
دغه فصل درې مبحثه لري:
لومړی مبحث:منفي دودونه
دغه مبحث درې مطالبه لري:
لومړی مطلب:د کوژدې د مرحلې منفي دودونه
دوهم مطلب:د واده د مرحلې منفي دودونه
دریم مطلب: له واده وروسته منفي دودونه
دوهم مبحث:دنفي دودونو اغیزي:
دغه مبحث دري مطالبه لري
لومړی مطلب:د کوژدې د مرحلې د منفي دودونو اغیزي:
دوهم مطلب:د واده د مرحلې د منفي دودونو اغیزي
دریم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو اغیزي
دریم مبحث: د مخکینیو دودونو شرعي او قانوني حیثیت
دغه مبحث درې مطالبه لري:
لومړی مطلب:د کوژدې د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حیثیت
دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حیثیت
دریم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو شرعي اوقانوني حیثیت
پایله
سپاربنتنې

فهرستونه

مصادر او مراجع

**و من الله توفيق**

# لومړی فصل

# د واده دودونه شریعت او قانون

لومړی مبحث: واده

لومړی مطلب: د دواده پیژندنه

دوهم مطلب: د کورنۍ په جوړولو کې د خاوند او میرمنې رول

درېیم مطلب: د خاوند او میرمنې حقوق

څلورم مطلب: د خاوند او میرمنې ګډ مسئولیت

دوهم مبحث: دود یا عرف

لومړی مطلب: د دود (عرف) پیژندنه

دوهم مطلب: د دود ډولونه

درېیم مطلب: د عرف د معتبر کیدو شرطونه

درېیم مبحث: اسلامي شریعت

لومړی مطلب: د شریعت تعریف

دوهم مطلب: د شریعت مقصد

درېیم مطلب: شریعت او واده

څلورم مبحث: مدني قانون

لومړی مطلب: د مدني قانون تعریف

دوهم مطلب: د مدني قانون مقصد

درېیم مطلب: مدني قانون او واده

# لومړی فصل

## د واده دودونه شریعت او قانون

په دغه فصل کې هڅه کېږي چې قدرمنو لوستونکو ته واده، دود، شریعت او قانون په لغوي او اصطلاحي معنا سره بیان شي، تر څو مخکې له دې چې په دې اړه بحث وشي د دې مفاهیمو معنا واضحه او روښانه وي..

### لومړی مبحث: واده:

دلته له واده څخه هدف او مقصد نکاح دی، نو موږ دلته کوښښ کوو چې دا اصطلاح د لغت د علماوو او همدا رنګه د فقهاوو کرامو له نظره وپېژنو.

واده د لغت په کتابونو کې:

واده د عروسي او ازدواج مرادف دی، جمعه یې ودونه دي، عیال ګرفتن و با مراسم به خانه اوردن، یا خواهر و دختر را با مراسم معموله به شوهر سپردن[1].

النکاح لغة: الضم و الجمع او عبارة عن الوطء و العقد جمعیاً[2]

یا دا چې "ازدواج یو عقد دی چې د کورنی د جوړولو په منظور یې د ښځې او سړي معاشرت مشروع کړی او د دواړو خواوو حقوق او واجبات تنظیموي"[3].

### لومړی مطلب: د دواده پیژندنه:

له واده څخه په عربي ژبه کې په زواج او نکاح باندې تعبیر کېږي، نو اوس د نکاح معنا ذکر کوو:

**د واده (نکاح) لغوي معنا:** معجم التعریفات داسې لیکي: "هو في اللغة: الضم و الجمع[4]"

ژباړه: نکاح په لغت کې نښلیدلو او جمع کولو ته وایي.

**د واده (نکاح) اصطلاحي معنا:** بحر الرائق کې د واده (نکاح) تعریف داسې شوی دی: "هو عقد یرد على ملک المتعة قصدا[5]"

ژباړه: نکاح هغه عقد دی چې د لذت وړلو او د خوند د ترلاسه کولو په خاطر ترسره کېږي.

---

[1]- محمد ګل مهمند، پښتو سیند قاموس افغان، ص ۳۰۰

[2]- وهبة الزحیلي، الفقه الاسلامي و ادلته، ج۹، ص ۵۰۱۳

[3]. د افغانستان مدني قانون چې په کال ۱۳۵۵ کال کې د رسمي جریدې، په ۳۵۳ ګڼه کې نشر او نافذ شوی دی، چې د لومړي قسمت، دویم فصل شپږم مبحث، ماده (۶۰).

[4]- علي بن محمد بن علی الدین الشریف، معجم التعریفات، ۲۰۶ مخ، تالیف: علامه جرجاني.

[5]- زین الدین ابن نجیم الحنفي، بحرالرائق شرح کنز الدائق، دریم ټوک، ۱۳۶ مخ، تالیف: امام نسفي رحمه الله

## دوهم مطلب: د کورنۍ په جوړولو کې د خاوند او میرمنې رول:

الله تعالی انسان په داسې طبیعیت سره پیدا کړی چې ټولنیز ژوند ته میلان ښکاره کوي او کوښښ کوي چې ځان له ګوښه توب او یواځیتوب څخه وژغوري، او دا هم د انسان له ذاتي عادتونو څخه دی چې په هغه ټولنه کې ژوند کوي چې له ده سره توافق او همغږي ولري.

ټولنیز ژوند مختلف شکلونه لري چې له هغې ستړې ټولنې څخه پیلیږي چې انسان په کې سترګې غړوي او هلته لویږي او آن تر کورنۍ پورې چې له مور، پلار، خویندو او ورونو څخه جوړه شوې وي.

کورنۍ نظام یواځې ددې لپاره نه دی چې د انساني نسل د بقاء ضمانت وکړي اوبس! بلکه همدغه کورنۍ ده چې انسان د هغې په داخل کې د ډاډ احساس کوي، هلته خپل شکآیتونه اوروي، د ناروغیو درملنې لپاره غږ پورته کوي، د کورنۍ له غړو سره د خوښیو په ورځو کې یوځای جشن نیسی او د غم په شیبو کې له هغوی سره یوځای ویر کوي.

دغه پورتني اهداف ممکنه نده چې ترلاسه شي، مګر د واده او د کورني نظام د جوړولو په واسطې سره، او د کورني نظام دا اهمیت له دې کبله ده چې انسانانو آن له لومړۍ ورځې په دې باره کې ژور فکر کړی دی او یو لړ رواجونه هم داسې راغلي چې د کورني نظام په غښتلتیا کې یې مرسته کړې او حتی پیغمران علیهم السلام هم د همدې موخې لپاره لیږل شوي دي.

نړۍ له دومره پرمختګ او لاسته راوړنو سره سره بیا هم نده توانیدلې چې د کورنۍ بدیل وړاندې کړي او دا خبره د کورنۍ په لوړ مقام باندې دلالت کوي، هغه کورنۍ چې انسان له هغې څخه د ژوند چارې پیلوي.

دغه کورنۍ او مقام یې د خاوند او میرمنې تر احسانونو لاندې ده او د انساني تاریخ په هر قدم کې د هغوی د احساناتو تر پور لاندې راځي، ځکه، کله چې خاوند او میرمن یوبل ونه زغمي او یو بل ته لاسونه ور نه کړي، نه کورنۍ جوړیږي او نه هغه لاسته راوړنې موجودیدلای شي چې په پورتنیو کرښو کې ترې یادونه وشوه.

## دریم مطلب – د خاوند او میرمنې حقوق:

په کورني نظام کې خاوند او میرمن پر یو بل باندې یو لړ حقوق لري چې په لاندېنیو کرښو کې اول د خاوند حقوق او بیا د میرمنې حقوق په لنډ ډول ذکر کوو:

**الف - د خاوند حقوق:**

**لومړی- اطاعت او د خبرې منل([۱]):** خاوند د کور سرپرستي پر غاړه لري او مسئولیت لري چې د کور چارې سمبال او د کورنۍ د غړو رهبري وکړي، پر میرمن باندې لازمه ده چې د خپلې کورنۍ د حفاظت، عزت، کرامت او سعادت لپاره تل هڅه وکړي او د خپلې کورنۍ د ټولو غړو لپاره هوسا او له امنیت او ډاډ څخه برخمن ژوند برابر کړي.

-[۱] - فقه خانواده در جهان معاصر، تالیف: وهبة الزحیلی، ژباړه: عبدالعزیز سلیمي، مخ: ۱۲۸

عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لو كنت آمرا أحدا أن يسجد لأحد لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها»[1]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: که چېرته ما چا ته امر کولای چې بل چا ته سجده وکړي نو ما به ښځې ته امر کړی وای چې خپل خاوند ته سجده وکړي.

له خاوند څخه د اطاعت او د هغه د خبرو منلو حق خپل قوت د قران کريم له دغه آيت څخه اخلي:

[الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ[2]]

ژباړه: نارينه د ښځو سرپرست دي، په سبب د هغه فضيلت چې الله (ج) ځينو د دوی ته پر ځينو نورو ورکړی او په سبب ددې چې (نارينه) له خپل مال څخه مصرفوي.

همدارنگه الله تعالی فرمايي: «وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ»[3]

ژباړه: او شته دی ښځو لره [حقوق پر مېړونو باندې] د هغو حقوق په شان چې پر دوی باندې دي او شته نارينه و لره په ښځو باندې بهتروالی او درجه.

د پورتني آيت په تفسير کې شبير احمد عثماني او محمود الحسن صاحب وای: يعني د آمر چې کوم حق دی او يا دا چې د نارينه ؤ حقوق پر ښځو باندې دي همغه شان د ښځو حقوق پر نارينه و باندې هم دي[4].

او د همدې آيت لاندې مفتي محمد شفيع صاحب وايي دا آيت د شرعي ضابطې حيثيت لري چې ښځه او خاوند يو تر بله کوم حقوق او وظيفې لري

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إذا دعا الرجُلُ امرأتَه إلى فِراشِه، فلم تأتِه، فبات غضبانَ عليها؛ لعَنَتْها الملائكةُ حتى تُصبِحَ»[5]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې خاوند خپله ښځه بسترې ته راوغواړي او هغه ممانعت وکړي او خاوند په داسې حال کې ويده شي چې پر هغې غوسه وي، ملايکې تر سبا پورې په هغې ښځې لعنت وايي.

په ښه لازمه ده چې د خاوند اطاعت وکړي کله چې هغه خپلې بسترې ته راوغواړي، په دې شرط چې له هغې څخه فرايض پاتې نشي او يا ورته کوم ضرر ونه رسيږي، ځکه ضرر رسول د ښه ژوند څخه نه شمېرل کيږي[6]

---

[1]- محمد بن عيسى الترمذی، سنن الترمذی، د حديث شمېره ۱۱۵۹ ، صححه الالباني فی الترغيب و الترهيب

[2]- نساء سورت، آيت ۳٤ آيت

[3]- د بقرې سورت، ۲۲۸ آيت.

[4]- شبير احمد عثمانی او محمود الحسن، کابلی تفسير، ج ۱، ص ۱۸۳.

[5]- محمد بن اسماعيل البخاری، صحيح البخاری، کتاب بدء الخلق. ج ۱، ص ۳۲۷

[6]- وهبة البرحيلی، الفقه الاسلامي و ادلته ج ۹، ص ۶۸۵

**دوهم- د خاوند له مال او عزت څخه ساتنه:**

پر ښځې باندې لازمه ده چې د خاوند په نشتون کې د هغه له مال او عزت څخه ساتنه وکړي او د خپل خاوند له اجازې پرته هیچاته اجازه ورنکړي چې کورته داخل شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «والمَرْأَةُ في بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وهي مَسْؤُولَةٌ عن رَعِيَّتِهَا[1]»

ژباړه: او ښځه د خپل خاوند په کور کې مسئوله ده او له خپل مسئولیته پوښتل کیږي.

د خاوند په مال کې ښځې ته د تصرف کولو د جواز ځینې صورتونه شته چې په هغو صورتونو کې کولای شي د خپل خاوند په مال کې تصرف وکړي، ښځه خو به د خاوند مال حفاظت کوي چې د هغه مال ضایع نشي خو که چیرې یو سړی داسې وي چې خپلې ښځې ته د اولاد نفقه د هغوی د ضرورت د پوره کېدلو لپاره نه ورکوي، اسلامي شریعت ښځې ته اجازه ورکړې ده چې د هغه په مال کې تصرف وکړي، دا استثنا او ضرورت دی.

عن عايشة رضي الله عنها قالت: جاءت هندٌ إلى النَّبيِّ صلَّى اللَّهُ علَيْهِ وسلَّم، فقالت: يا رسولَ اللَّهِ إنَّ أبا سفيانَ رجلٌ شحيحٌ، لا يعطيني ما يَكفيني وولَدي، إلَّا ما أخذتُ من مالِهِ، وَهوَ لا يعلَمُ، فقال: «خُذي ما يَكفيكِ وولَدَكِ بالمعروفِ»[2].

ژباړه: له حضرت عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې فرمايي: هنده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته یې وویل: ای د الله تعالی رسوله! ابوسفیان بخیل سړی دی، ما ته دومره څه نه راکوي چې ما او زما زوی ته کفایت وکړي، مګر دا چې زه یې په خپله ترې واخلم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: دومره څه د هغه له مال څخه واخله چې ستا او ستا د زوی لپاره کفایت وکړي.

**دریم- په کور کې کار کول[3]:**

د کور کارونه لکه: پخلی، جاروکول، کالي پریمنځل... او دې ته ورته کارونه کول د ښځې اخلاقي مسئولیت دی، نه شرعي مسئولیت، ددې خبرې ثبوت د رسول الله علیه وسلم هغه فیصله ده چې هغه مبارک صلی الله علیه وسلم د حضرت علي او حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنهما تر منځ فیصله وکړه چې علي رضی الله عنه دې بیروني کارونه کوي او فاطمه رضی الله عنها دې د کور داخلي کارونه کوي([4]).

**څلورم- سینګار:**

دا د خاوند له حقوقو څخه دي چې له خپلې میرمنې څخه وغواړي چې هغه لباس واغوندي او ځان په هغه شان جوړ او سینګار کړي چې دده خوښیږي، همدارنګه میرمن یې هم عین حق لري، باید وویل شي چې

---

-[1]- محمد بن اسماعیل البخاری صحیح البخاري، ج۱، ص۲۳۹.
[2]- محمد بن اسماعیل البخاری، صحیح البخاري، کتاب النفقات، باب و علی الوارث مثل ذلک
-[3]- فقه خانواده در جهان معاصر، تالیف: وهبه الزحیلي، ژباړه: عبدالعزیز سلیمی، صفحه: ۱۳۷
-[4]- زاد المعاد، تالیف: امام ابن قیم جوزی رحمه الله، جلد: ٤، صفحه: ۳۲.

ددې حق مراعتول د کورني نظام په ټينګښت کې مرسته کوي او د کور د غړو تر منځ د مينې او الفت سبب ګرځي.[1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «قيل لرسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ أيُّ النساءِ خيرٌ ؟ قال : التي تسرُّه إذا نظر، وتطيعُه إذا أمر، ولا تخالفُه في نفسِها ومالها بما يكره.[2]»

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل شول: کومه ښځه ښه ښځه ده؟ ويې ويل: هغه ښځه ښه ښځه ده چې کتل يې د خوښي سبب ګرځي، او چې ورته امر وشي اطاعت کوي، او په خپل نفس او مال کې داسې تصرف نه کوي چې د خاوند يې نه خوښيږي.

**پنځم- مشروع تأديب:**

که کله داسې وخت راشي چې ميرمن د خاوند له مشروع اوامرو څخه سرغړونه کوي او د خپله ميړه اطاعت نه کوي، په دغه وخت کې اسلامی شريعت خاوند ته حق ورکوي چې د خپلې ميرمنې د اطاعت د ترلاسه کولو په هدف او د هغې د سرغړاوي د پای ته رسولو په منظور، هغه تاديب کړي، الله جل جلاله فرمايي: [وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُواْ عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا[3]]

ژباړه: او چې د کومو ښځو له سرغړونې او مخالفته ډارېږئ؛نو نصيحت ورته وکړئ (او که اغېزمن نشو) د خوب ځايونه ترې بېل کړئ او (که د خپلو دندو د سرته رسولو لپاره بې له سختئ پر بله لار نه اړ ايستل کيږي؛ نو په ورو او د تاديب په نيت يې) ووهئ او که غاړه يې کېښووه؛نو د تېري لپاره ورته پلمې مه جوړوئ ( پوه شئ) چې خدای د لوړ مقام (څښتن) او ستر دی ( او پر ټولو ځواکونو لاسبری دی) او که د مېړه او مېرمنې د مخالفت په باب انديښمن ياست؛ نو يو منځګړی د مېړه له کورنۍ او يو منځګړی د مېرمنې له کورنۍ وټاکئ (چې دا شخړه هواره کړي) که دواړه (مېړه او مېرمن) د روغې جوړې هوډ لري؛ نو خدای (ج) به يې جوړ کړي؛ ځکه خدای (ج) باخبر پوه دی (او د ټولو له نيتونو باخبر دی).[4]

**شپږم- د خاوند په کور کې اوسيدل:**

په ښځې باندې لازمه ده چې د خاوند په کور کې واوسيږي او په خاوند باندې د ميرمنې يې حق جوړيږي چې بايد د ژوند ټولې آسانتياوې د خپل مالي توان په اندازه ورته برابرې کړي.

الله جل جلاله په دې اړه فرمايي: [أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ][5]

ژباړه: تاسو دغه ښځې د خپل طاقت سره سم د هغه ځای په څه حصه کې اوسوئ چې تاسو (په کې) اوسيږئ.

---

-[1]- فقه خانواده در جهان معاصر، تاليف: وهبه الزحيلي، ژباړه: عبدالعزيز سليمي، صفحه: ۱۳۸

-[2] - احمد بن شعيب النسايى، سنن النسايى، ج۲، ص ۲۴۸۵. حسنه الالباني

-[3]- النساء سورت، ٣٤ او ٣٥ آيتونه

-[4]- فقه خانواده در جهان معاصر، تاليف: وهبه الزحيلي، ژباړه: عبدالعزيز سليمي، صفحه: ۱۳۹.

-[5]- الطلاق سورت، ۶ آيت.

همدارنګه په ښځې باندې لازمه ده چې خپل ځان او غوښتنې د خپل خاوند له مالي توان سره برابرې کړي او د هغه له مالي توان څخه زیاته غوښتنه ترې ونکړي.[1]

**اووم- د مریضتیا په وخت کې خدمت کول:**

خاوند حق لري چې د ناروغۍ او تکلیف په وخت کې د میرمنې له خوا یې خدمت وشي، دا ځکه چې خاوند دغه وخت له هر بل وخت څخه زیات خدمت ته اړتیا لري او ضرورت لیدل کیږي چې په همدې وخت کې یو کس وي چې ورسره د زړه خواله وکړي[2].

په دې اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا مبارک حدیث را وړو:

«أنَّ رَسولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ كانَ يَسْأَلُ في مَرَضِهِ الذي ماتَ فِيهِ: أيْنَ أنا غَدًا؟ أيْنَ أنا غَدًا؟ يُرِيدُ يَومَ عائِشَةَ، فأذِنَ له أزْواجُهُ يَكونُ حَيْثُ شاءَ، فَكانَ في بَيْتِ عائِشَةَ حتَّى ماتَ عِنْدَها.»[3]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه مرض کې چې بیا ترې وفات شو، تل به یې پوښتنه کوله: سبا ته به (خپلو میرمنو کې) د چا کور کې به یمه؟ سباته به (خپلو میرمنو کې) د چا کور کې به یمه؟ او د حضرت عایشې رضی الله عنها نوبت به یې مراد وو، نو میرمنو یې اجازه ورکړه چې کوم ځای یې خوښه وي هماغلته دې پاتې شي، نو د عایشې رضی الله عنها کور کې پاتې شو (او هغې رضی الله عنها به د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت کاوه) تر څو چې هلته (د عایشې رضی الله عنها په کور کې) وفات شو.

**اتم- طلاق او رجعت:**

له خاوند سره دا حق شته چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي او بیا له هغې سره د ښه معاشرت له ژمنتیا سره د هغې له خوښې پرته بیرته ورته رجوع وکړي[4].

**نهم- عدت:**

که چېرته طلاق واقع شي، نو خاوند په خپلې ښځې باندې د عدت تیرولو حق لري، او د عدت حکمت دادی تر څو د ښځې د رحم له پاکوالي څخه یې خاوند اطمینان ترلاسه کړي. او کېدای شي رامنځته شوې ستونزه حل او سوء تفاهم له منځه لاړ شي او بېرته سره یو ځای شي.[5]

که معلومات وشو چې ښځه حامله ده نو عدت یې دنیا ته د ماشوم راتلل دي او کله چې ماشوم نړۍ ته سترګې و غړوي، نو عدت هم ورسره پای ته رسیږي، الله جل جلاله فرمایي: [وَ أُولاتُ الْأَحْمالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ][6]

ژباړه: او امیدوارې (حامله) ښځې (چې دي) د دوی عدت دا دی چې حمل (بچی) وزیږوي.

---

[1]- فقه خانواده در جهان معاصر، تالیف: وهبه الزحیلي، ژباړه: عبدالعزیز سلیمي، صفحه: ١٤٢.
[2]- فقه خانواده در جهان معاصر، تالیف: وهبه الزحیلي، ژباړه: عبدالعزیز سلیمي، صفحه: ١٤٣.
[3]- محمد بن اسماعیل البخارى، صحیح البخاري، د حدیث شمیره: ٥٢١٧.
[4]- فقه خانواده در جهان معاصر، تالیف: وهبه الزحیلي، ژباړه: عبدالعزیز سلیمي، صفحه: ١٤٤
[5]- فقه خانواده در جهان معاصر، تالیف: وهبه الزحیلي، ژباړه: عبدالعزیز سلیمي، صفحه: ١٤٧.
[6]- الطلاق سورت، ۴ آیت.

او هغه ښځې چې حامله نه وي، نو ددوئ عدت د درې حیضونو تیرول دي، الله جل جلاله فرمايي:
[وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ](1)

**ب - د ښځې حقوق:**

په تېرو مخونو کې مو د خاوند پر حقوقو باندې رڼا واچوله او اوس هغو حقوقو ته لنډه کتنه کوو چې میرمن یې پر خاوند باندې لري، باید وویل شي چې ښځه پر خاوند باندې حقوق لري چې په لاندېنیو کرښو کې یو بل پسې ذکر کېږي:

**لومړی- مهر:**

مهر چې صداق هم ورته ویل کېږي له هغه مال څخه عبارت دی چې د نکاح د عقد په وخت کې او یا هم تر هغې ورسته ښځې ته ورکول کېږي، برابره ده چې دا مال په معجله توګه او یا هم په موجله توګه ښځې ته ورکړل شي.(2)

الله جل جلاله د مهر په هکله فرمايي: [وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً[3]]

ژباړه: او د ښځو (پوره) مهر په ښه زړه ورکړئ.

علامه زمخشري رحمه الله په خپل تفسیر د صَدُقَاتِ لفظ په مهر باندې معرفي کړی او ویلي یې دي: "صَدُقَاتِهِنَّ: أي مهورهن"[4] یعنې له صَدُقَاتِهِنَّ څخه مراد د ښځو مهرونه دي.

ښځې ته د مهر د ورکولو په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم هم سپارښتنه کوي او وايي چې باید میرمنې ته مهر ورکړل شي:

عن انس بن مالک رضي الله عنه أنَّ رسولَ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليْهِ وسلَّمَ رأى عبدَالرَّحمنِ بنَ عوفٍ وعليْهِ رِدعُ زعفرانٍ فقالَ النَّبيُّ صلَّى اللَّهُ عليْهِ وسلَّمَ مَهيم فقالَ يا رسولَ اللَّهِ تزوَّجتُ امرأةً قالَ ما أصدقتَها قالَ وَزنَ نواةٍ من ذَهبٍ قالَ أولِم ولو بشاةٍ[5]»

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په داسې حال کې ولید چې د زعفرانو خوشبويي ترې احساس کېده، نو پوښتنه یې ترې وکړه: دا (خوشبويي) د څه لپاره؟ نو ځواب یې ورکړ: ای د خدای رسوله صلی الله علیه وسلم! واده مې کړی! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: مهر کې دې ورته څه ورکړي؟ ځواب یې ورکړ: لږ شانې سره زر، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ولیمه وکړه، که څه هم یو پسه وي.

**دویم- د هغې ارزښت پیژندل:**

پر خاوند باندې لازم دی چې د خپلې ښځې په ارزښت باندې پوه شي او د هغې قدر وکړي، رسول الله صلی الله وسلم فرمايي: «الدُّنيا متاعٌ وخيرُ متاعِها المرأةُ الصَّالحةِ(6)»

---

1- البقره سورت، ۲۲۸ آیت.
2- محمد رواس قلعه جی، معجم اللغة الفقهاء، صحفه: ۶۱۱.
3- النساء سورت، ۴ آیت.
4- ابو القاسم محمود بن عمرو بن احمد الزمخشري، تفسير الكشاف، صفحه: ۲۴۸
5- سليمان بن الاشعث السجستاني، ابوداؤود، ج۱، ص ۱۵۰۷ صحححه الالبانى
6- الحافظ مسلم بن الحجاج النسابوری، صحیح مسلم، ج۱، ص ۱۰۲۷. صححه الزرقاوي فی مختصر المقاصد

**درېیم- ښه ژوند کول:**

الله تعالی فرمايي: « وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ»([1])

ژباړه: او [له خپلو میرمنو سره] په سمه توګه ژوند تېروئ.

عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « أكْملُ المؤمنينَ إيمانًا أحسنُهُم خلقًا، وخيارُكُم خيارُكُم لنسائِهِم([2])»

ژباړه: د هغه مومن انسان ایمان کامل دی چې اخلاق یې ښه وي، او په تاسو کې غوره هغه دی چې خپلو ښځو ته غوره وي.

**څلورم- ښځې ته د تعلیم او د دینی زدکړو زمینه برابرول او پر هغې باندې د شرعي احکامو عملي کول، تر څو د دوزخ له اور څخه وژغول شي:**

الله جل جلاله فرمايي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا([3])]

ژباړه: ای ایمان والاوو! ځانونه او خپلي کورنی د (دوزخ) له اوره وژغوئ.

څښتن تعالی په بل ځای کي فرمايي: [وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا[4]]

ژباړه: او کورنی ته دې د لمانځه امر کوه او خپله هم پرې ټينګ اوسه.

عن سليمان بن عمرو بن الاحوص قال حدثنى ابي انه شهد مع رسول الله صلى الله عليه وسلم حجة الوداع فقال: «ألا واستوصوا بالنساء خيرًا، فإنما هن عوانٌ عندكم[5]»

ژباړه: خبردار! ښځو ته نیک وصیت وکړئ، دا ځکه چې هغوی له تاسې سره اسيراني دي.

**پنځم- ښځه پر خاوند حق لري چې عیبونه یې وساتي او رازونه یې چاته ونه وايي:**

رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې موضوع په هکله فرمايي عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « إنَّ مِن أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَومَ القِيَامَةِ، الرَّجُلَ يُفْضِي إلى امْرَأَتِهِ، وَتُفْضِي إلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا.[6] »

ژباړه: د قیامت په ورځ الله تعالی ته تر ټولو خلکو بد شخص هغه دی چې له خپلې ښځې سره کوروالی وکړي او بیا (د هغه کوروالي) راز نورو ته ووايي.

**شپږم- ښځې ته دې اجازه ورکړل شي چې د اسلامي حجاب په مراعتولو سره او همدا راز اسلامي آدابو ته په کامله توجه سره له خپلو دوستانو او خورلنو سره اجتماعي روابط او راشه درشه ولري:**

راځئ چې دا حديث ولولوو، عن عايشة رضى الله عنها قالت: «ما غِرْتُ على أَحَدٍ من أَزْوَاجِ النبيِّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ ما غِرْتُ على خديجةَ وما بي أنْ أَكُونَ أَدْرَكْتُها وما ذلكَ إلَّا لِكَثْرَةِ ذكرِ رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ لها وإنْ كان لَيذبحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ بِها صدايقَ خديجةَ فَيُهْدِيها لهُنَّ.[1] »

---

[1]) د النساء سورت ۱۹ آیت.

[2]- سليمان بن الاشعث السجستاني، ابو داؤود، ج ۱، ص ۱۷۰۷، اسناده صحيح او حسن او قاربهما الالباني فى الترغيب او الترهيب

[3]- التحريم سورت، ۶ آيت

[4]- طه سورت، ۱۳۲ آیت

[5]- محمد بن عيسى الترمذى، سنن الترمذى، ج۱، ص ۱۸۹۵. حسنه الالباني فى الترغيب و الترهيب

[6]- مسلم بن الحجاج النسابورى،صحيح مسلم، ج۱، ص۱۰۱۸. صححه ابن حبان و الحاكم

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوې میرمنې باندې مې هم د خدیجې رضی الله عنها په اندازه رخه نه ده کړې، سره له دې چې هغه زما او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له واده نه درې کاله مخکې وفات شوې وه، ځکه چې رسول الله به تل د هغې یاد کاوه او ویل به یې چې الله جل جلاله راته امر وکړ چې خدیجې رضی الله عنها ته په جنت کې له مرغلرو څخه د جوړ شوي کور زیری ورکړم، او هر کله به یې چې گډ ذبحه کړ، نو هغه به یې د خدیجې رضی الله عنها دوستانو ته هدیه کاوه.

له دې مبارک حدیث څخه دا خبره څرگندیږي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها له مرگه وروسته د هغې دوستانو ته خاصه توجه کوله، که چیرې هغه رضی الله عنها ژوندۍ وای آیا اجازه به یې نه ورکوله چې د خپلو دوستان کره لاړه شي؟

**اووم- له گناهونو او اشتباهاتو څخه یې سترگې پټول:**

په دې هکله الله جل جلاله فرمایي: [وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ[۲]]

ژباړه: او ښه چلن ورسره کوئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:« لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إنْ كَرِهَ منها خُلُقًا رَضِيَ منها آخَرَ، أَوْ قالَ: غَيْرَهُ.[۳]»

ژباړه: هېڅ مومن سړی دې، مومنه ښځه بده نه گوري (او په زړه کې دې ورته کېنه نه ساتي) که چیرې د هغې له یوه عادته یې بدې راځي، نو له بل نه به یې خوښ شي.

**اتم- سړی دې خپلې میرمنې ته د کېسې کولو وخت ورکړي او سفر دې ورسره وکړي او پام دې ورته ولري، او دا ددې لپاره چې کورنۍ ژوند د مینې او محبت مرکز شي:**

گران پیغمبر صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث فرمایي: « وإنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وإنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا[٤]»

ژباړه پوه شه چې کورودانه دې پرتا حق لري، پوه شه چې کورودانه دې پر تا حق لري.

**نهم- د دوو او یا هم ډېرو میرمنو درلودلوو په صورت کې عدل په نظر کې نیول:**

الله جل جلاله فرمایي: [إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ[٥]]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «مَنْ كانتْ له امرأتان فمال إلى إحداهما جاء يومَ القيامةِ وشِقُّه مائلٌ[٦]»

ژباړه: څوک چې دوې ښځې ولري او یوې ته یې توجه ولري (او بلې ته یې توجه ونه لري) نو د قیامت په روځ به په داسې حالت حشر کېږي چې یو اړخ به یې کوږ وي.

**لسم- نفقه ورکول:**

---

[۱]- مسلم بن الحجاج النسابوری، صحیح مسلم، ص۱۰۲۶

[۲]- النساء سورت، ۱۹ آیت.

[۳]- مسلم بن الحجاج النسابوری، صحیح مسلم، ص۱۰۲۶

[٤]- الامام الحافظ محمد بن اسماعیل البخاری، صحیح البخاري، ج۱، ص ۶۰۶

[٥]- النحل سورت، ۹۰ آیت.

[٦]- ا سلیمان بن الاشعث السجستاني، ابوداؤود، ج۱، ص ۱۵۰۷. قال ابن الملقن فی تحفة المحتاج سنده صحیح او حسن

په نفقه کې دوړی، جامې او کور شامليږي، الله جل جلاله فرمايي: [وَعلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ[1]]

ژباړه: د ماشوم پر پلار لازمه ده، چې مور ته د تي رودني په وخت کې په غوره توګه خوراك او جامې ورکړي ( ان كه طلاق يې هم اخيستی وي).

الله جل جلاله په بل ځای کې فرمايي: [أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ[2]]

ژباړه: هغوی [طلاقو شويو ښځو] ته [په عدت کې] په هر ځای کې،چې اوسئ [او] په وس کې مو وي، ځای ورکړئ.

نو کله چې يوه ښځه د طلاق نه وروسته او په عدت کې پر نارينه باندې د مسکن حق لري، په ګډ ژوند کې په اولی طريقې سره دا حق ورته ثابتيږي.

**يوولسم- مادي او معنوي ضرر دې ورته نه رسوي:**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فيصله کړې ده چې عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «أن لا ضررَ ولا ضِرار[3]»

ژباړه: (رسول الله صلى الله عليه وسلم) په دې باندې يې فيصله وکړه چې نه ضرر رسول جواز لري او نه هم د ضرر تحمل کول جواز لري.

## څلورم مطلب – د خاوند او ميرمنې ګډ مسئوليت:

وروسته تر دې چې د خاوند او ميرمنې حقوق وپيژندل شول او په دې باندې پوه شوو چې خاوند پر ښځې او ښځه پر خاوند کوم حقوق لري؟ اوس نو بايد وويل شي چې د خاوند مسئوليت د خپلې ميرمنې په مقابل کې دادی چې د هغې ټول شرعي حقوق ورته ورکړي، او همدا رنګه د ښځې مسئوليت جوړيږي چې د خاوند ټول هغه حقوق پرځای کړي او پوره يې ورته ورکړي چې د شريعت له خوا ورکړل شوي دي.

---

-[1]- البقره سورت، ۲۳۳ آيت.

-[2]- الطلاق سورت، ٦ آيت.

-[3]- محمد بن يزيد القزوني، سنن ابن ماجه، ج۲، ص۲۸۷۵. حسنه النووي فى الاربعين النووية و صححه الالباني

## دوهم مبحث : دود یا عرف

په اسلامي شريعت کې هغه دود يا عرف ډېر اعتبار او ارزښت لري چې د شرعي نصوصو سره په ټکر کې نه وي، بلکې په حقوقي مسائلو او معاملاتو کې يو لوی اصل ګڼل کيږي، نو ځکه په شرعي محکمو کې ګڼ شمير مسائل د همدې دود اوعرف په رڼا کې فيصله کيږي .

دود يا عرف ته اعتبار ورکول د اسلامي شريعت په پراختيا هر وخت او په هره سيمه کې دهغې د پلې کولو په صلاحيت دلالت کوي، ځکه دود يا عرف د وخت او سيمې په تغير سره تغير کوي، نو هغه حکمونه چې د دود يا عرف په اساس تر سره کيدل هغه هم تغير کوي او د هغې پر ځای نوي حکمونه د وخت او ځای سره سم مخې ته راځي، البته له هغه ياد شوي شرط سره يعني هغه دود يا عرف چې د اسلامي شريعت د نصوصو سره په مخالفت او ټکر کې نه وي .

په همدې اساس دود يا عرف ته په اسلامي شريعت کې په لويه کچه ارزښت ورکړل شوی، نو ځکه فقهاوو رحمهم الله پدې اړه يو لړ قواعد برابر کړي دي.

## لومړی مطلب : د دود ( عرف ) پيژندنه :

دود يا عرف په لغت کې : کل ما تعرفه النفس من الخير وتطمئن اليه.[1]

ژباړه : هرهغه دخير کارچې نفس يې پيژندي او ورباندې مطمئن کيږي.

په اصطلاح کې : ما استقرت النفوس عليه بشهادة العقول، وتلقته الطبائع بالقبول.[2]

ژباړه : هغه کړنې او وېناوې چې دعقل په شهادت نفس ورباندې مطمئن شي او طبيعتونه يې قبول کړي .

ورته لفظ :

١ – عادت :

تعريف :

عادت له عود څخه اخيستل شوی چې د تکرار په معنی دی، يا هغه مکرر کارونه چې دعقل څه تړاو ورسره نه وي.[3]

په اصطلاح کې : عبارة عما استقر في النفوس من الأمور المتكررة المقبولة عند الطبائع السليمة.[4]

ژباړه: عادت عبارت له هغه شي څخه دی چې د معقوليت له اړخه يې د خلکو په نفسونو او ذهنونو کې د هغه په تکرارولول استقرار پيدا کړی وي او سليمي طبعي منلی وي.

---

[1]) ابن منظور، أبو الفضل محمد بن مكر بن علي، لسان العرب : ٩ / ٢٣٩، چاپ : دارصادر – بيروت دريم چاپ، کال : ١٤١٤ هـ .

[2]) الجرجاني، علي بن محمد بن علي الزين الشريف، التعريفات، صـ :١٤٩، چاپ : دار الكتب العلمية – بيروت لومړی چاپ، کال : ١٤٠٣ هـ ١٩٨٣ م .

[3]) جماعة العلماء، المعجم الوسيط، ج ٢، ص ٦٣٥.

[4]) الجرجاني، التعريفات، ص ١٤٦.

## دوهم مطلب : د دود ډولونه:

**لومړی ډول :** دود ( عرف ) دهغه عملونو له مخي چې خلک يي کوي په دوه ډوله دی :

لومړی : قولي دود (عرف ) : هغه دي چي د خلکو په منځ کي کوم الفاظ د هغه مانا پرته، چي دا ورته ټاکل شوی وي، په بله خاصه مانا کي مشهور او خپاره شوی وي، لکه په عرف کي ولد زوی ته ويل کيږي لور ته نه ويل کيږي، د لحم اطلاق د ماهي له غوښښ پرته په نورو غوښو کيږي او د دا به لفظ اطلاق پرځلورو حيواناتو کيږي، که څه هم دا لفظ د هر شي لپاره چي پره ځمکه ګرځی ټاکل شوی دی بيا عرف د پورتنيو ډولونو سره په دوه ډوله دي.[1]

دوهم : عملی دود (عرف ) : هغه کارونوته وايی، چي خلک ورسره عادت لري، لکه لاس په لاس سودا او بيعه کول، چي له عقد نه پرته پکي راکړه ورکړه کيږی، يا دوه ډولونوته د مهر ويش، چي يو يی نقد او بل د نيتی وي، عامو حمامونو ته د وخت يا د اوبو د اندازي له ټاکلو پرته ننوتل، د کور لوښي، سامانونه، څپلي بوټان او نو شيان پرکاريګر جوړول، په پردي کور کي د خوړو راوړلو وروسته د ميلمه لپاره بي اجازي د هغه خوړو خوراک په دي ګمان، چی د کور والا لخوا به هرومرو اجازه وی او داسی نور.[2]

**دوهم ډول : عام او خاص دود ( عرف ) :**

لومړی : عام دود (عرف ) : دا هغه دی چي په اسلامی هيوادونو کی خپور شوی او مشهور شوی دی او ټول خلک ورباندی چلن کوي، لکه چې څوک قسم وکړي چې د فلاني په کورکې به قدم نه ګدم نو په عام عرف کي دغه قدم ايښودل د داخليدلو په معنی دی.[3]

دوهم : خاص دود (عرف ) : دا هغه دی چی په يو هيواد کی، يا د خاص کسب والا وو ترمنځ خپور او مشهور شوی وی .

لکه د عملی خاص عرف مثال دا دی، چی په عراق کی مهر دوه ډولونو ته ويشل شوی دی، چی يو نقد مهر دی او بل د نيتی (نسيه ) دی او يا لکه د ديالی په ځينو سيمو کی د مالټوخرڅونکی د خرڅ شويو مالټونه پرته څه نوری مالټی زياتی ورکوی

او د قولی عام عرف مثال دا دی لکه، چی په ټولو اسلامی هيوادونو کی د دا به د لفظ اطلاق په څلور پښيز حيوانا تو کيږی، په انسان يی اطلاق نه کيږی او يا د طلاق لفظ دښځی او ښځتن تر منځ د اړيکو پر شليدو کيږی، او د قولی خاص عرف مثال ټول هغه الفاظ دی چی د بيلا بيلو کسبونو والا يی پر خپلو خاصو اصطلاحاتو کی استعمالوی او لغوی مانا يی په پام کی نه نيسی.[4]

---

[1]) القرافي، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن ادريس، الفروق، ص ۱، ص۱۸۷ .

[2]) الجوزية، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد بن قيم، اعلام الموقعين عن رب العالمين، ص ۲، ج ۲۹۸، چاپ : دارالكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، کال : ۱۴۱۱ هـ ۱۹۹۱ م، تحقيق : محمد عبد السلام ابراهيم .

[3]) الموسوعة الفقهية الكويتية : ۳۰ / ۵۶، چاپ : وزارة الأوفاق والشؤون الاسلامية – کويت، دريم چاپ، کال : ۱۴۲۷ هـ .

[4]) زيدان، د / عبد الكريم، الوجيز في أصول الفقه، ص ۲۳۲ – ۲۳۳، چاپ : مسلم خپرندويه ټولنه – جلال آباد، کال : ۱۳۹۶ هـ ش .

**درېیم ډول : صحیح او فاسد دود ( عرف ) :**

لومړی : صحیح دود (عرف ) : هغه ته ویل کیږی چی د شرعی نص نه خلاف نه وی او داسی مصلحت چی به شریعت کی د اعتبار وړ وی له منځه نه وړی او راجع مفسد کار منځ ته نه راوړی، لکه له واده نه مخکی خاوند خپلی ښځی ته جوړی یا نور شیان وړی، په عرف کی دا له مهر څخه نه شمیرل کیږی یا د مهرعقد نه د عامو خلکو غوښتل او هغی ته څه خواږه تیارول یا په عراق کی دا رواج وه چی څوک کور جوړوی نو کاریګر ته به سبا ناری ورکوی یا په هوټل والا باندی د خپلو کاریګرو د غرمی او ماښام خوراک په عرف کی مشهوردی، او یا په عراق کی د عرف ویش دوه ډولونو ته چی یوبی نغد او بل یې نسیه دی چی په دی کی به نسیه له خاوند څخه نه غوښتل کیږی ترڅو په طلاق یا مرګ سره یو له بل نه بیل شوی نه وی .

دوهم : فاسد دود (عرف ) : هغه ته وایی چی له شرعی نصوصونه خلاف وي، یا د شرعی معتبرمصلحت له منځه وړی او یا یو راجح مفسد کار او ګناه منځ ته راوړی، لکه ناروا عقود ( لکه له بانګ یا خلکو نه پرسود قرض اخیستل ) چی په خلکو کی مشهور دی یا خلک په بیلا بیلو لوبو لکه د اسونو منډی، شترنج او داسی نرو کی د جواری عادت لري.[1]

**څلورم : ثابت او متغییر ( تغیرکیدونکی ) دود :**

دود ( عرف ) د ثبوت استقرار او دنه ثبوت له مخي په دوه ډوله دی :

لومړي : ثابت دود (عرف ) : هغه دود دی چي دوخت، ځای، اشخاصو او احوالو په تغیر سره بدلون نه مومي، ځکه چي هغه دانسان د طبیعت او فطرت سره تړاو لري، لکه : د خوراک، څکاک، خوشحالي او خپګان شهوت، او همدا ډول دثابت دود ( عرف ) څخه شرعي دود هم دی، لکه : هغه څه چي شریعت ورباندې هر انسان مکلف کړی، امر، نهي او اجازه یي ورباندې کړي ده.

دوهم : متبدل ( تغیرکیدونکی ) دود ( عرف ) : هغه دود دی چي دوخت، ځای، اشخاصو او احوالو په تغیر سره بدلون مومي.[2]

**د عرف حجیت (دلیل کیدل) :**

د عرف له حجیت ( دلیل کیدل ) څخه مقصد هغه د تشریع او احکامو مصدرنه دی، بلکې مقصد ترینه هغه تفسیر دی چي علماوو د شارع له نصوصو څخه کړی او هغه د عرف سره برابر دی، نو له همدې امله علما وو عرف د استینباط له اصولو نه یو اصل ګڼلی دی او د دلیل کیدلو لپاره یې لومړی په کتاب الله اوبیا د درسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت باندې استدلال کړی :

لومړی : کتاب الله، قال الله تعالی : «وأمربالعرف».[3]

ژباړه : او امر ( حکم ) وکړه په معروف ( نیکو کارونو ) سره.[1]

---

[1]) السیوطي، جلال الدین عبد الرحمن بن أبي بکر، الأشباه والنظائر، ص ۱۹۴ – ۱۰۵، چاپ : دارالکتب العلمیة لومړی چاپ، کال : ۱۴۱۱ هـ ۱۹۹۰ م .

[2]) الموسوعة الفقهیة الکویتیة، ج ۳۰، ص ۵۶ .

[3]) سورت الأعراف، ایت ۱۹۹

امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحیح البخاري کې دعبد الله بن الزبیر رضي الله عنه څخه روایت کړی، چې هغه فرمایي : ( نزلت هذه الأیة في أخلاق الناس ).[2]

ژباړه : دا ایت د خلکو د أخلاقو او عاداتو په باره کې نازل شوی دی .

امام السیوطي رحمه الله وایي[3] : ( هذا أصل القاعدة الفقهیة في اعتبار العرف)[4]

ژباړه : دا آیت عرف ته په اعتبار ورکولوکې د هغې فقهي قاعدې اصل دی .

**دوهم، سنت :**

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال : «ما راه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن»[5]

ژباړه : مسلمانان چی څه ښه وګڼي د الله جل جلاله پروړاندی هغه ښه دي .

دکتور عبد الکریم زیدان – رحمه الله – وایي : عرف په شرع کی معتبر ده او احکامورباندی بناء کیږی، خو په حقیقت کی خاص او مستقل دلیل نه دی بلکی د شریعت د نورو معتبرو دلیلونو لپاره تائید دی او هغی ته راګرځی او په دی خبره ډیر دلیلونه شته، چی ځینی یی په لاندی ډول دی :

لومړی: شارع د عربو د غوره عادتونو خیال ساتلی دی، لکه هغه تجارتی معاملات یی پرخپل ځای پریښی دی چی عربو به ښه ګڼل، لکه مضاربت، بیوع اوهغه اجاری چی له مفاسدو څخه خالی وی همداشان د سلم بیعه یی له عامو ناروا بیعو نه مستثنی کړی ده، ځکه د مدینی والاووپه عرف کی وه همداشان کجوری د کجورو په بدل کی خرڅول ناروا دی، خو د عرا یا بیعه یی تری مستثنی کړی ده، چی هغه په وزن کی په اټکل سره د هغه په اندازه د کجورو خوځول دی او دا هم ځکه چی په عرف کی چلیدلی ده او د خلکو اړتیا ورته زیاته دی، نو شریعت یی پر بطلان حکم کړی دی، لکه یو پردی سړی ته زوی ویل د جاهلیت په عرف کی وو او احکام پری مرتب کیدل، خو شریعتورباندی د احکامو بناء کیدل لغوه کړل، همداشان د عربو جاهلانو به ښځی په میراث وړلی، شریعت نه یوازی دا کار له منځه ویوړه، بلکی د ښځو له پاره یی په میراث کی برخه وټاکله.

دوهم : په حقیقت کی عرف د شرعی معتبرو د لیلونو ته راګرځی، لکه اجماع، مرسله مصلحت او ذرایع، نو کوم عرف چی اجماع ت راګرځی مثال یی، کاریګرته د کار امر ورکول یا حمامونوته ننوتل،چی عرف پری له انکارنه پرته راچلیدلی وی، نو دا د اجماع له قبیلی نه شو او اجماع معتبره ده او کوم چی مرسله مصلحت ته راګرځی نو دا له دی امله چی عرف په نفسونو کی ځای لری نو کله چی عرف

---

[1]) شبیر احمد عثماني او محمود الحسن، کابلی تفسیر، ج ۱، ص ۹۷۸.

[2]) البخاري، محمد بن اسماعیل، الجامع المسند الصحیح المختصر من أمور رسول الله صلی الله علیه وسلم وسننه وأیامه، کتاب : التفسیر، باب : خذ العفو وأمر بالعرف وأعرض عن الجاهلین، نمبر : ۴۶۴۳، چاب : دارطوق النجاة لومړی چاپ، کال : ۱۴۲۲ هـ، تحقیق : محمد فؤاد عبد الباقي

[3]) السیوطي، حافظ مؤرخ او ادیب جلال الدین عبد الحمن بن أبي بکر بن محمد بن سابق الدین، چې په کال : ۸۴۹ هـ، کې پیدا شوی، دپنځو کلوپه عمر یې پلار یې وفات شوی او په قاهره کې یتیم لوی شوی، په کال : ۹۱۱ هـ کې وفات شوی دی، رحمه الله . اوګورئ : الزرکلی، الأعلام : ۳ / ۳۰۱ – ۳۰۲، اووم چاپ : دارالعلم للملایین، کال : ۱۹۸۶ م

[4]) السیوطي، جلال الدین، الاکلیل في استنباط التنزیل، صـ : ۱۳۲، چاپ : دار الکتب العلمیة – بیروت، کال : ۱۴۰۱ هـ ۱۹۸۱م، تحقیق : سیف الدین عبدالقادر الکاتب

[5]- احمد بن حنبل، مسند امام احمد بن حنبل د حدیث شمیره ۳۶۰۰، اسناده حسن

صحيح وی او فاسد نه وی، نو خيال ساتل يې د خلکو ستونزی له منځه وړی او اسانتيا وی منځ ته راوړی، نو لکه څرنګه چې يې خيال نه ساتل اسانتياوی له منځه وړی او ستونزی رامنځته کوی، نو دا مصلحت شو او دی معنا ته علامه سرخسی رحمه الله په مبسوط کی داسی اشاره کړی ده، لکه چې وايي، ځکه هغه څه چې پرعرف ثابت وی هغه په حقيقت کی پريوه شرعی دليل ثابت وی، ځکه له څرګنده عادت نه د خلکو راويستل ښکاره ستونزه ده .

دريم : په بيلابيلو و ختونو کی علماوو پرعرف باندی دليل نيولی وی او په خپلو اجتهادونو کی يې ورته اعتبار ورکړی وی، چې دا د غرف د دلبل کيدو لپاره پوره دليل دی، ځکه پر عرف د ټولو فقهاوو عمل کول د سکوتی اجماع په څيرده، لکه چې ځينو علماوو ددی څرګندونه او ځينو نورو پری سکوت کړی دی، له همد امله پر عرف عمل کول په اجماع سره ثابت شو.

## دريم مطلب: د عرف د معتبر کيدو شرطونه

لومړی : عرف به له شرعی نص څخه مخلف نه وی[١]، په دی شان چې دا عرف به صحيح وی، نو بيا به د شرعی احکامو لپاره معتبردليل وی ددی مثالونه مو مخکی وڅيړل، ځينی نور مثالونه يې په لاندی ډول دی :

١ – چاسره چې امانت کيښودل شی نو دی کولای شی چې هغه چاته يې وسپاری چې په عرف کی يې ورته سپارل رواج وی،لکه د امانت ايښودونکی ښځی اولاد او يا خادم ته سپارل

٢ – يا لکه د هغه منقول شی وقف کول کوم چې په عرف کی يې وقف کول راوج وی لکه، لوښی، مصحفونه او داسی نور.

٣ – يا په عقودو کی هغ شرطونه چې صحيح عرف يې غوښتنه کوی، نو که له نص نه خلاف وی بيا به ناروا وی، لکه سودی معاملات يا په ودونو کی د شرابو يا نورو نيشه يې توکو ترسره کول يا د عورتونو ښکاره کول، نو دا او ددی په شان نور شيان د علماوو په اتفاق د منلو وړنه دی.

له نص نه د عرف د خلاف معنا دا ده چې سړی عرف باندی عمل وکړی په پوره توګو پرنص باندی عمل کول له مينځه لاړشی، لکه په مخکی مثالونو کی يې يادونه وشوه، خو کله چې داسی نه وی بيا له نص نه خلاف نه شمير کيږی، نو په خپل چوکاټ کی به پری عمل کيدای شی، لکه د چا سره د استصناع (يعنی د يوشی د جوړولو عقد کول) چې په حقيقت کی دا د معدوم بيعه ده او د معدوم بيعه په شريعت کی ناروا ده، خو استصناع عقد روا دی پر دی به د عرف له امله عمل کيدلای شی او نورو معاملاتو کی به د بيع المعدوم لا يجوز په قاعده عمل کيدلای شی، ځکه چې دا عرف کی را چليدلی دی او چا بد نه دی ګڼلی.[٢]

دوهم: دا چې عرف به يا مطرد وی ايا به غالب وی او دا اطراد معنا دا ده، چې عادت به عام او کلی وی په دی معنا چې څوک به تری خلاف نه وی اوکله له مطرد نه په عموم سره هم تعبير کيدلی شی يعنی دا عرف به د خلکو ترمنځ عام او شايع (خپور) وی او ډيرخلک به يې پيژنی او عمل به پری کوی اود غلبی معنا دا ده چې دا به ډير او اکثر وی او دا به دی معنا چې زياتو خلکو به تری خلاف نه وی کړی،

---

[١]) الحازمي، أبو عبد الله أحمد بن عمر بن مساعد، شرح القواعد والأصول الجامعة والفروق والتقاسيم البديعة النافعة، ج ٥، ص ٢٥

[٢]) زيدان، عبدالكريم، الوجيزفي أصول الفقه، ص ٢٣٥

او غلبه او اطراد دواړه هلته معتبر دی، چی په عرف کی ومومندل شی که د فقهی په کتابونو کی و موندل شی نو معتبر نه دی ځکه چی په دی کی بلون اټکل کیدای شی.[1]

درېیم : عرف د تصرف په وخت کی موجود وی او دا په دې معنا ده چی عرف به مخکی پیدا شوی وی بیا به د تصرف د زمانی پوری راچلیدلی وی اود تصرف سره به ملګری شوی وی و له همدی امله د اوقافو وصیتونو، بیعو دلایل یا د نکاح وثیقی او یا په دی کی د تصرف کوونکو په عرف کی هغه راغلی شرطونه او اصطلاحات معتبر دی کوم چی د تصرف کوونکو په زمانه کی وی که کوم عرف وروسته منځ ته راځی، نو دا عرف په دغه تصرفاتو کی اغیزه نه لری لکه که یو سړی د خپلی ځمکی غله زده کوونکو او عالمان، یوازی هغه چاته ویل کیدل چی له دینی چارو ځان خبروی او یا پری پوهه لری، نو غله به یی یوازی په دینی زده کوونکواو عالمانو لګیږی، که څه هم وروسته په عرف کی دزده کوونکو او عالمانو اطلاق پر عامو زده کوونکو یا عامو پوهانو باندی هم کیږی.[2]

څلورم: داسی وینا او کاربه نه موندل کیږی چی د عرف برخلاف تری ګټه لاس ته راځی لکه په عرف کی په بازار کی د قسطونورواج وی، خو سوداګرپه خپل منځ کی د نغدو پر سودا سره رضا شی یا په عرف کی دا خبره وی چی دمال د راوړلو لګښت به پراخیستونکی وی خو سوداګر پر دی سره راضی شی چی دا مصرف به پراخیستونکی وی خو له دواړ, خواوو پر دی پریکړه وشی چی دا مصرف به پلورونکی په غاړه اخلی او په دی اړه قاعده دا ده چی ما ثبت بالتعارف بدون ذکر لا یثبت اذا نص علی خلافه

ځباړه: هغه څه چی په عرف کی پرته له یادولو ثابت وي چی یی پرخلاف څرګندونه وشی نو نه ثابتیږی

عرف د احکامو د تطبیق مرجع ده. [3]

---

[1]) السیوطي، عبدالرحمن بن ابی بکر جلال الدین، الأشباه والنظائر، ص ۹۲ .

[2]) الحازمي، أبو عبد الله أحمد بن عمر بن مساعد، شرح القواعد والأصول الجامعة : ۵ / ۲۵، او زیدان، د / عبد الکریم، الوجیز في أصول الفقه، ص ۲۳۶ .

[3]) النملة، د / عبد الکریم بن علي بن محمد، المهذب فی علم آصول الفقه المقارن : ۳ / ۱۰۲۲، چاپ : مکتبة الرشید – الریاض لومړی چاپ، کال : ۱۴۲۰ هـ ۱۹۹۹م .

## دریيم مبحث – اسلامي شریعت:

په دغه مبحث کې، لومړی د شریعت په تعریف باندې خبرې کوو، بیا د شریعت پر مقاصدو باندې لنډه رڼا اچوو او په آخر کې پر شریعت او واده باندې غږیږو. ان شاءالله

## لومړی مطلب – د شریعت تعریف:

په اول کې د شریعت لغوي معنا او تر هغه وروسته اصطلاحي معنا یې راوړو:

**د شریعت لغوي معنا:** شریعت په لغت کې هغې لویې لارې ته ویل کیږي چې د ښار دننه موقعیت لري[1].

**د شریعت اصطلاحي معنا:** القاموس المحیط شریعت داسې معنا او تعریفوي: "الشريعة: ما شَرَعَ الله تعالى لعباده[2]"

ژباړه: شریعت له هر هغه څه څخه عبارت دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره د قانون په توګه بیان کړی وي.

## دوهم مطلب – د شریعت مقصد:

د شریعت له راتګ څخه مقصد دادی چې انسانانو ته د هغوی مصالح تعریف شي او تر هغه وروسته دغه مصالح ترلاسه شي او بیا ترې ساتنه وشي، نو ویلی شو چې د انسانانو مصالح ساتل او مضر شیان ترې لرې کول د شریعت مقصد جوړوي، او مصالح په دغو دریوو برخو باندې وېشل کیږي:

**الف- ضروریات:** هغه مصالح دي چې له هغو نه پرته ژوند کول ممکن نه وي او دا پنځه شیان دي: د دین ساتل، د ځان ساتل، د نسل او عرض ساتل، د عقل ساتل او د مال ساتل.

**ب- حاجیات:** هغه مصالح دي که چیرې وجود ونه لري ژوند له سختیو سره مخ کیږي، لکه: په شریعت کې شته رخصتونه چې د عدم په صورت کې یې انسان له کړاو سره مخ وي، مثلاً: دا چې مریض ته اجازه ورکړل شوې چې روژه افطار کړي او که روژه ونیسي او افطار یې نه کړي نو له مشقت سره مخ کیږي.

**ج- تحسینیات:** هغه مصالح دي، که چیرې وجود ونه لري ژوند له سختیو سره نه مخ کیږي، صرف له عالي آدابو څخه خالي کیږي، مثلاً: په ښي لاس خوراک، که چیري په چپ لاس خوارک وشي، ژوند پر انسان باندې نه سختیږي، صرف د انسان حیثیت را ټیټوي.[3]

**درېیم مطلب- شریعت او واده:**

له څنګه چې وویل شول اسلامي شریعت د انسانانو د مصالحو لپاره راغلی؛ تر څو د هغه د لارښوونو په رڼا کې انسانان آرامه او سرلوړی ژوند ولري؛ او همدارنګه وویل شول چې د اسلامي شریعت له اساسي مصالحو څخه یوه د ځان ساتل او بل هم د نسل ساتل دي، دا دوه ستر اهداف له واده او نکاح څخه پرته نه ترلاسه کیږي.

---

[1]- (الطريق الأعظم في المدينه) المعجم الوسيط، ۴۷۹ مخ، د جمهورية مصر العربية تاليف.
[2]- القاموس المحيط، ۷۳۲ مخ، تاليف: فيروزآبادي.
[3]- په دې برخه کې د لازیاتو معلوماتو لپاره الوجيز في اصول الفقه د دکتر عبدالكريم زيدان کتاب دغه مخونه وګورئ: ۳۷۸- ۳۸۵

نو ویلی شوو چې په شریعت کې واده ددې لپاره مشروع شوی چې انسان د هغه په واسطې سره خپل اطمینان ترلاسه کړي، خپل عفت وساتي او دخپل نسل حفاظت پرې وکړي.

## څلورم مبحث: مدني قانون:

په دې مبحث کې په اول قدم کې د مدني قانون پيژندنه او تعريف کيږي او بيا يې په مقصد او هدف رڼا اچول کيږي او په آخر کې هم په دې باندې خبرې کيږي چې آيا مدني قانون د دواده په هکله څه ويلي او کنه؟

### لومړی مطلب – د مدني قانون تعريف:

کله چې د مدني قانون موضوعات تر دقيقې مطالعې لاندې ونيسو او په هغه کې شته مطالب ذهن ته وسپارو، نو فکر کوم چې د پيژندلو لپاره به يې دغه تعريف مناسب وي:
مدني قانون د هغو قانوني موادو ټولګه ده چې په ټولنه کې د خلکو پر روابطو باندې له حاکميت څخه بحث کوي او د هغوی راوبط ورښيي.

### دوهم مطلب – د مدني قانون مقصد:

د مدني قانون مقصد او هدف له پورتني تعريف څخه پوره جوتيږي چې دغه قانون غواړي د ټولنې د افرادو تر منځ روابط منظم وي، هر فرد د خپل ځان په هکله پوه شي چې په جامعه کې څه حقوق لري؟ او کوم وجايب ور په غاړه دي؟ تر څو ټولنيز ژوند له جنجالونو پرته او د مينې او محبت په فضاء کې پر مخ لاړ شي.

### دریيم مطلب – مدني قانون او واده:

لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده چې واده او نکاح د نارينه او ښځينه له طبيعي غوښتنو څخه ده او د هغوی د روحي اطمينان او ډاډ سبب ګرځي، همدارنګه واده او نکاح د بشري نسل د تداوم سبب هم دی، نو مدني قانون هم له دې با اهميته موضوع څخه ندی غافل شوی او هغه يې داسې تعريف کړی:
"د ازدواج عقد په صريح ايجاب او قبول سره چه فوريت او استمرار افاده کوي بې د وخت له قيد څخه په يوه مجلس کښې صورت مومي"[1]
مدني قانون هغه ته واده نه وايي چې نکاح په کې په غير محقق شرط پورې معلق کړل شي او يا هم راتلونکې زمانې ته مضاف کړی شي:
"ازدواج چې غير محقق شرط پورې معلق وي يا راتلونکې زمانې ته مضاف وي، نه شي عقد کېدای"[2]
همدا رنګه مدني قانون هغه واده ته باطل وايي چې د قانون او د نکاح له اهدافو څخه خلاف شرط په کې کېښودل شي:
"که د ازدواج په عقد کې داسې شرط کښيښودل شي چه د قانون او ازواج د هدفونو څخه مخالف وي، عقد صحيح او شرط باطل ګڼل کيږي"[3]

---

[1]- مدني قانون، ٦٦ ماده، رسمي جريده، د چاپ تاريخ: ١٣٨٦ د جدي مياشت.
[2]- مدني قانون، ٦٧ ماده.
[3]- مدني قانون، ٦٨ ماده.

مدني قانون د واده د اهلیت په باره کې داسې وايي: "د ازدواج اهلیت هغه وخت پوره کیږي چې نارینه وو د (۱۸) کلنۍ عمر او ښځو د شپاړس کلنۍ عمر پوره کړی وي"[1]

بلوغ په لغت کې وصول ته وايي او په اصطلاح کې د صغر د مودې پای ته بلوغ وايي خو د مودې په اړه ابن عبادین وايي: «قال عیاض: الصغیر یطلق علی الصبی من حین یولد إلی أن یبلغ و عند الإمام حتی یتم له ثماني عشرة سنة و لها سبع عشرة سنة»[2]

ژباړه: عیاض ویلي دي چې د صبي اطلاق په هغه چا باندې کیږي چې کله تولد شي تر هغه چې بلوغ ته ورسیږي او د امام په نزد دا دی چې هلک ۱۸ کلنی ته ورسیږي او انجلۍ ۱۷ کلنی ته ورسیږي.

اصلا دا په هغه صورت کې دی چې نور علایم وربانديې نه وي ښکاره شوي لکه د هلک ږیره، بریت او احتلام او د نجلۍ د سینو پورته کېدل، حیض او تخرګ او خاصو اندامو ویښتان.

-[1]- مدني قانون، ۷۰ ماده.

[2]- محمد امین مشهور به ابن عابدین، رد المحتار، فصل بلوغ الغلام بالاحتلام، ج۶، ص۱۵۳.

# دوهم فصل

# مثبت دودونه او اغیزې یې

## لومړی مبحث : مثبت دودونه

### لومړی مطلب د کوزدې د مرحلې مثبت دودونه

### دوهم مطلب: د واده د مرحلې مثبت دودونه

### درېیم مطلب: له واده وروسته مثبت دودونه

## دوهم مبحث: اغیزې

### لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزې

### دوهم مطلب: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزې

### درېیم مطلب: له واده ورسته د مثبتو دودنو اغیزې

## درېیم مبحث: د مخکېنیو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

### لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

### دوهم مطلب: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

### درېیم مطلب: له واده وروسته د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

# دوهم فصل

# مثبت دودونه او اغیزې يې

په دغه فصل کې قدرمونو لوستونکو ته په افغاني ټولنه کې مثبت دودونه او په فرد، کورنۍ او ټولنه د هغو اغیزې د اسلامي شریعت او افغانستان د مدني قانون په رڼا کې بیانیږي.

## لومړی مبحث : مثبت دودونه

دا چې افغاني ټولنه له ډېر پخوا یعنې په سلهاوو کلونو را هیسې اسلامي ټولنه ده، نو الحمدلله په دې ټولنه داسې دودونه شتون لري چې د شریعت په رڼا کې مثبت دي او هم مثبتې اغیزې په ټولنه، کورنیو او هم د کورنیو په افرادو لري.

د افغانستان په څلور خواوو کې ځینې مثبت دودونه داسې دي چې هېڅ توپیر نه لري او په ټول هېواد کې رعایت کیږي.

### لومړی مطلب د کوزدې د مرحلې مثبت دودونه

**۱: د غوښتنې لپاره مؤثر اشخاص تعینول.**

هر کله چې د هلک د کورنۍ له خوا د غوښتنې لپاره کوم کسان ټاکل کیږي، نو هغه باید داسې کسان وي چې د نجلۍ له کورنۍ سره له مخکې یو ښه روابط ولري، ځکه داسې کسان په غوښتنه کې د نجلۍ پر کورنۍ اغیزمن او مثبت وي، نو هرکله چې د نجلۍ کورنۍ ته د هلک د کورنۍ پیغام و رسېد، نو که چېرې د نجلۍ د کورنۍ پیغام مثبت و، نو بیا لږ وخت غواړي او که منفي و، نو هماغه وخت ورته منفي ځواب ورکوي.

هرکله چې د نجلۍ د کورنۍ له خوا ځواب مثبت و، نو بیا ورڅخه وخت غواړي، نو دنجلۍ کورنۍ د دې وخت په جریان کې بعضې کارونه تر سره کوي.

**۲: د کورنیو خپلمنځي مشورې:**

هرکله چې د هلک د کورنۍ له خوا هلک ته کومه نجلۍ انتخابیږي، نو مخکې له دې چې د هلک د کورنۍ له خوا وړاندیز وشي، نو له هر څه وړاندې خپل منځي مشورې کوي، دا مشورې په بعضې کورنیو کې په وړه کچه وي، اما په بعضې ساحو کې په ډېره لویه کچه وي، لکه د هلک ورونه، خوېندې، ترونه، ماماګان، د تره زامن د ماما زامن .... د دوی تر منځ د نجلۍ او د نجلۍ د کورنۍ په اړه مشورې کیږي. همدا رنګه د نجلۍ کورنۍ ته چې کله د هلک د کورنۍ پیغام ورسیږي، هغوی هم له خپلو او خپلوانو سره د هلک او د هلک د کورنۍ په اړه مشورې کوي.

**۳: د کورنیو یو بل ته بلنه:**

کله چې خپلمنځي مشورې تر سره شي، نو د هلک او نجلۍ کورنۍ یو بل ته بلنه ورکوي چې د یو بل له کورنیو څخه لیدنه وکړي.

د دې بلنې اصلي موخه يو د بل پېژندل وي. په دې مجلس کې د هلک او نجلۍ اقارب راجمع کېږي، تر څو يو بل پوره وپېژني.
او همدا رنګه يو له بل څخه د ژوند، کار، دود ... معلومات حاصل کړي.

**٤: د ښځو تګ راتګ:**

کله چې د هلک د کورنۍ لخوا کومه نجلۍ انتخاب شي، نو د هلک د کورنۍ له خوا يوه ډله ښځې د نجلۍ د ليدلو لپاره د هغوی کور ته ورځي، خو دغه ښځې هېڅ کله هم په لومړۍ مرحله کې خپله موخه نه څرګندوي، بلکې د دې تګ اصلي هدف د نجلۍ ليدل وي او د هغې په اړه پوره معلومات حاصلول وي.
په دې وخت کې که چېرته د نجلۍ کورنۍ د دغو ښځو په هدف پوه شي، نو بيا که چېرې د نجلۍ د کورنۍ خوښه نه وي، ځينې خلک او کورنۍ بيا نجلۍ پټوي او ښځو ته يې نه ښکاره کوي، خو اکثره کورنۍ نجلۍ ته نوی لباس اغوندي، سينګاروي يې او راغلو ښځو ته يې ور ښکاروي او که چېرته موافقه او خوښه يې نه وي، نو بيا په دې وخت کې نجلۍ په عادي توګه په کور کې ګرځي، راګرځي، ځان نه پټوي، بلکه د راغلو مېلمنو خدمت کوي.
همدا رنګه د نجلۍ د کورنۍ له خوا څه نارينه د هلک د ليدو لپاره تعينېږي، په هغه صورت کې چې د نجلۍ کورنۍ موافقه وي.
دا ليدل د هلک د اخلاقو، ځوانۍ، جسم او عاداتو څخه معلومات تر لاسه کوي. د افغانستان په ختيځو ولايتونو کې زيات مثبت دودونه داسې دي چې د افغانستان په نورو ولاياتو کې هم شتون لري، خو ځينې بيا داسې دودونه هم شته، چې د همدغو ولايتونو ځانګړي دي.

**٥: وړوکې دسمال يا هوکې:**

د کوزدې پيل چې عموماً د دوه کورنيو تر منځ د دوستۍ لومړۍ مرحله ده. دې مرحلې ته (وړوکې دسمال) او همدارنګه (هوکې) هم ويل کېږي.[1]
د افغانستان په شمال کې هم ډېر دودونه داسې دي چې هغه د نور هيواد په څېر دي او زيات توپير نه لري او يا خو يواځې په لفظ کې توپير لري، نور هدف او مقصد د نور هيواد په ولاياتو کې چې څه دود وي. هماغه هدف او مقصد لري، خو ځينې داسې دودونه هم شته، چې هغه په نورو ولايتونو کې موجود نه دي.
هغه چې يواځې په لفظ کې توپير لري.

**۶: لفظ (لوظنامه):**

کله چې د هلک او نجلۍ د کورنۍ لخوا موافقه ترسره شوه، نو د هلک د کورنۍ څو مشران د نجلۍ کورنۍ ته ورځي او د کوزدې مرحله ورسره ترسره کوي. د نجلۍ د کورنۍ لخوا ورسره هوکې کېږي چې د کاپيسا د خلکو په اصطلاح ورته (لفظ دادن) وايي.

**۷: جوړه وړل:**

[1]- محمد امين مشهور به ابن عابدين، رد المحتار، فصل بلوغ الغلام بالاحتلام، ج۶، ص۱۵۳.

وروسته له دې چې د هلک او نجلۍ د کورنيو له خوا توافق تر سره شي، نو د هلک د کورنۍ له خوا د نجلۍ کورنۍ ته جوړه وروړل کيږي او دا جوړه د هلک د کورنۍ له خوا يو تعداد ښځې وړي او هم همدغه ښځې د خپل ځان له طرفه د ډالۍ په شکل نجلۍ ته هره يوه ښځه يوه يوه جوړه لباس هم وړي او هلته يې همدا جوړې ښکاره کوي او هم يې معريفي کوي چې دا نجلۍ يا ښځه د هلک څه کيږي.

٨: د دسمال اخيستلو په وخت کې د هلک د کورنۍ له خوا د يو څه پيسو همکاري کله چې د نجلۍ د کورنۍ له خوا دسمال اماده شو، نو د نجلۍ د کورنۍ له خوا د هلک د کورنۍ يو څه تعداد اشخاصو ته ډوډۍ برابريږي او دسمال د هلک کورنۍ ته ورکول کيږي. د هلک د کورنۍ له خوا د همکارۍ په توګه يو څه افغانۍ د خپل توان مطابق هغه ظرف چې دسمال په کې راوړل کيږي او يا هم په پتنوس د هلک د کورنۍ د يو مشر شخص له خوا پيسې اچوي او د نجلۍ کورنۍ ته يې تسليموي دا يوائې همکاري وي، د څه شي په بدل کې نه وي او اصلاً کومک دی چې د هلک د کورنۍ له خوا کيږي.

**٨: د کوزدې د ورځې ډوډۍ:**

کله چې د دواړو کوورنيو موافقه تر سره شوه، نو د کوزدې ورځ ټاکل کيږي او د نجلۍ د کورنۍ له خوا د هلک کورنۍ دعوت کيږي او دوی ته ښه ډوډۍ چمتو کيږي.

**١٠: د کورنيو يو بل ته مېلمستيا کول.**

کله چې د هلک او نجلۍ د کورنۍ د کوزدې مرحله منځ ته راغله، نو دواړه کورنۍ يو بل ته مېلمستيا کوي.[١]

**١١: په جرګو سره غوښتنه:**

د ننګرهار د خلکو په مجموع کې د مشرقي ولس خواستګاري په جرګو سره وي. يعني کله چې د هلک د کورنۍ له خوا کومه نجلۍ انتخاب شي، نو وروسته له دې چې د هلک د کورنۍ خپلمنځي مشورې وشوې، نو بيا د غوښتنې لپاره په فردي شکل سره نه ورځي. بلکې د نجلۍ کورنۍ ته د جرګې په شکل سره مشران خلک ور استوي او د هلک لپاره ورڅخه غوښتنه کوي.[٢]

**١٢: راز ساتل:**

کله چې د هلک د کورنۍ له خوا د کومې نجلۍ خواستګاري وشي، نو که چېرې د نجلۍ د کورنۍ له خوا نتيجه منفي وه. په دې صورت کې د ټولو له خوا دا قضيه د راز په شان ساتل کيږي او هېڅ څوک ورڅخه نه خبروي چې پلاني د پلاني لور و غوښتله.[٣]

**١٣: ډالۍ اخيستل**

وروسته له دې چې د دواړو کورنيو له خوا توافق تر سره شو، نو بيا وروسته له دسمال اخيستلو هر کله چې په لومړي ځل د دواړو کورنيو افراد د يو بل له کورنيو څخه ليدنه کوي، نو يو بل ته ډالۍ ورکوي، البته دا هم د هرې کورنۍ په خپلې ارادې سره وي او هېڅ شرط د بل کور له خوا وربانديې نه وي .[١]

---

[١]- محمد نعيم جليلي. د امام ابويوسف شيخ الحديث او د ننګرهار ولايت اوسيدونکی

[٢]- نجيب الله صالح، د ننګرهار پوهنتون استاذ او د ننګرهار ولايت اوسيدونکی

[٣]- پخوانۍ مرجع

کله چې د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ انتخاب شوه، نو د غوښتنې لپاره د هلک د کورنۍ لخوا یو تعداد ښځې د نجلۍ کورنۍ ته ورځي او له ځان سره هره ښځه یوه تحفه د نجلۍ کورنۍ ته وړي. دغو تحفو ته د بغلانیانو په اصطلاح سوغات وايي.
دا سوغات د موافقې او عدم موافقې څخه مخکې وروړل کېږي.[2]
د بلخ ولایت دودونه هم د نور هیواد په څیر د کوزدې په وخت کې زیات توپیر نه لري اما ځیني داسې دودونه شته چې بل ځای وجود نه لري لکه:

**۱۴ : د نجلۍ په ورکړې سره شریني او چاکلېټ وېشل:**

کله چې د نجلۍ د ورکړې په موضوع توافق وشو، نو د نجلۍ د کور څخه او یا د هلک د کور خلکو ته شیرني او یا چاکلېټ ورکول کېږي.[3]

**۱۵ : د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ له کورنۍ او یا کلي سره کومک:**

کله چې د هلک د کورنۍ ټول غړي د کومې نجلۍ په غوښتلو او د هغې کورنۍ سره په دوستي باندې راضي شي، نو د ښه تعامل لپاره د هلک د کورنۍ خلک کله ناکله د نجلۍ د کورنۍ د جوړ او ناجوړ پوښتنه کوي، راشه درشه پیل کوي او همدا رنګه د کور په کارونو کې ورسره برخه هم اخلي او که چېرته یې کلي سره ښې وي، نو د هلک د کورنۍ غړي د نجلۍ د کورنۍ د کلي په کارونو کې ورسره مرسته کوي، تر دې چې د دواړو کورنیو تر منځ د دوستي مزي ټینګ شي .[4]

**۱۶: خور او لور چې پېغله شي په کور نه پاتې کېږي:**

کله چې د هلک کورنۍ له خوا کومه نجلۍ خوښه شي. نو د هلک پلار یا بل کوم مشر د یوه هوښیار او باوري شخص په خوله د نجلۍ پلار یا مور ته د خپلوۍ خبر ورلېږي. څوک چې دا کار په غاړه اخلي، هغه د نجلۍ کور ته د پوښتنې په خاطر ورځي، په ډېر ادب او احترام د نجلۍ پلار او یا هم مور ته وړاندیز کوي.
کله چې د نجلۍ کور ته پیغام ور ورسول شي، نو که هغوی موافق وي یا مخالف خو بیا هم استازي ته په ډېر درنښت او پسته لهجه وایي(خور او لور چې پېغله شي په کور نه پاتې کېږی) موږ به مشوره وکړو او بیا به تاسو ته خبر درکړو. بیا که چېرته د نجلۍ د کورنۍ موافقه نه وي، نو ورته وایي چې زموږ خوښه نه ده، خو که چېرته موافقه وي. بیا د هلک په اړه پلټنه کوي، په نتیجه کې که هلک یې خوښ شو، نو بیا خبر ورکوي چې زموږ هم له تاسو سره د خپلوۍ کولو خوښه ده.[5]

**۱۷: د شیرني خوري مطالبه نه کول:**

د کونړ د خلکو یو مثبت دود دا هم دی چې د نجلۍ کورنۍ د هلک له کورنۍ څخه د شیرنخوري مطالبه نه کوي، خو که چېرته د هلک کورنۍ په خپله خوښه څه مصرف وکړي، نو د نجلۍ د کورنۍ له خوا څه

---

[1]- محمد نعیم جلیلي، امام ابویوسف دارالعلوم او سلام پوهنتون استاد او د ننګرهار ولایت اوسیدونکی
[2]- سید صفی الله نهرینی د تره خیل دارالعلوم استاذ او د بغلان ولایت اوسیدونکی.
[3]- محمد نعیم جلیلي، د امام ابویوسف دارالعلوم او سلام پوهنتون استاذ او د ننګرهار ولایت اوسیدونکی
[4]- ابوطارق غلام سرور (ساپی) د کنړ ولایت د پیچ دری. د پښتنو ولس دودونه د چاپ کال ۱۳۸۶ صفحه ۸۳
[5]- ابوطارق غلام سرور (ساپی) د پیچ دري، د پښتنو ولس دودونه د چاپ کال ۱۳۸۶ صفحه ۸۴

اعتراض ورباندې نه وي، خو د نجلۍ کورنۍ ورځخه غوښتنه نه کوي او هر کله چې د هلک د کورنۍ له خوا د شیرنیخوري پروګرام ترتیب کېږي، نو هغه هم د نجلۍ په کور کې ترتیب کېږي .[1]

۱۸: د کونړ د دولس یو مثبت دود دا هم دی چې کله د هلک د کورنۍ او نجلۍ د کورنۍ موافقه تر سره شي نو بیا د کوزدې په وخت کې چې فیصله کېږي او نکاح تړي، نو له دې وړاندې مرحلې ته پرېکون وایي او په دې پرېکون کې مهر ټاکل کېږي، تر څو وروسته اختلاف پیدا نه شي .[2]

د افغانستان د نورو ولایاتو په څېر د لغمان ولایت الینګار ولسوالۍ پشه یي قوم مثبت دودونه هم د هېواد د نورو برخو په څېر دي او زیات تفاوت نه لري، خو ځینې منفي دودونه هلته زیات دي چې په خپل ځای به یې یادونه وشي، خو بیا هم ځینې مثبت دودونه شتون لري چې یو له هغو څخه د مشرانو جرګه کول دي.

کله چې د هلک د کورنۍ له خوا یوه نجلۍ انتخاب شوه، نو د هلک د کورنۍ له خوا د کلي مشران د نجلۍ کورنۍ ته په جرګه ورلېږي او د هلک د کورنۍ پېغام وروړي. د نجلۍ د کورنۍ له خوا هغه ښه استقبالېږي چې د دې مشرانو د جرګې په پایله کې اکثره کورنۍ موافقه کوي .[3]

**۱۹: د مېلمنو ښه راغلاست:**

زموږ د اصلي وطن بادپېش ولسوالۍ یو مثبت دود چې د مېلمنو په ښه راغلاست کې دی، کله چې د هلک د کورنۍ ښځې د نجلۍ کورنۍ ته راشي، نو د ښه راغلاست تعرف او ناستې څخه وړاندې دنجلۍ د کورنۍ د ښځو له خوا په لاسنو کې چاکلېټ او وچه مېوه او اوبه وي او د مېلمنو په انتظار ولاړ وي. کله چې مېلمانه کور ته داخل شي، نو هغه مېوه او چاکلېټ په مېلمنو باندې اچوي او د کلي کوچنیان یې ټولوي .[4]

**۲۰: خوږه کاسه:**

د لوی دسمال د ورځې په سبا یا بل سبا د هلک د کورنۍ او خپلوانو یو شمېر نسبتاً ځوانې نجونې چې عموماً شمېر یې له پنځو تر پنځلسو تنو رسېږي. د ناوې لپاره د یوې جوړې جامو علاوه یو مقدار خوراکي توکي چې عموماً کېک، کلچې، جلبي او تازه میوه وي. د نجلۍ کور ته د ماسپښین لخوا ورځې او هلته هم د دوی راتګ ته له مخکې چمتوالی نیول شوی وي. د بیرته ستنیدو په وخت کې د ناوې د کورنۍ لخوا ټولو میلمنو ښځو ته جامې او ټیکري ورکول کېږي چې د لغمان د کلیوالو خلکو لخوا دې دود ته (خوږه کاسه) ویل کېږي.[5]

---

[1]- محمد ظاهر، د خدیجة الکبری د مدرسې استاذ او د کنړ ولایت اوسیدونکی

[2]- انعام الله (ساپی) د تره خیل دارالعلوم استاذ او کنړ ولایت اوسیدونکی

[3]- عبدالحکیم او شاه محمد د لغمان ولایت د نورلام صاحب درې اوسیدونکي

[5]- استاد محمد عثمان (اخلاص) د لغمان ولایت د معارف د تفتیش عمومي مدیر او د لغمان ولایت اوسیدونکی

**۲۱: دسمال ورکول:**

کله چې مخکېنۍ مرحله تیره شي څه موده وروسته د نجلۍ د کورنۍ لخوا دسمال اماده کېږي او د هلک د کورنۍ لخوا یو څه تعداد سړي او ښځې د نجلۍ کورنۍ ته د دسمال راوړلو لپاره ورځي او دسمال راوړي.[۱]

**۲۲: د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته پتنوس وړل:**

کله چې د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کور انتخاب شو، نو د هلک کورنۍ داسې ښځې چې د نجلۍ د کورنۍ سره یې تعامل او ناسته ولاړه ښه وي. د نجلۍ کور ته له یو پتنوس شیرنی باب سره ورلیږي، د نجلۍ له کورنۍ سره له کتنې څخه وروسته او د خپل هدف د ښکاره کولو بعد هغه پتنوس چې له ځان سره یې د نجلۍ کورنۍ ته وړی، همغته پریږدي او خپله غوښتنه ورڅخه کوي.کله چې د نجلۍ پلار، نیکه، ورور کورته راشي، نو دکور ښځې ورته د هلک د کورنۍ د غوښتنې په اړه معلومات ورکوي او ورته وایي چې د شیرنۍ پتنوس یې هم راوړی، نو له دې وروسته دا کورنۍ خپل تصمیم نیسي، مثبت یا منفي. که منفي و، نو پتنوس بېرته د هلک کورنۍ ته لیږي او که مثبت وي، نو پتنوس له شیرني سره د نجلۍ کور کې پاتې کېږي او دوی ورڅخه استفاده کوي.[۲]

د پنجشیر ولایت دودونه هم د نور هیواد په څیر دي او زیات توپیر نه لري او تقریباً ډېر سره ورته دي.

**۲۳: په مناسباتو کې د تحفو لیږل:**

که څه هم د افغانستان په نورو ولایاتو کې هم دا دود شته دی، خو د پنجشیر په ولایت کې یې توپیر او مثبتوالی په دې کې دی چې دا تحفې د نجلۍ د کور لخوا لازمي نه وي او د هلک د کور لخوا د نجلۍ کورنۍ ته په خپله خوښه او د توان مطابق ورکول کېږي، دا تحفې چې زیاتې ورکول کېږي هغه د اخترونو په مناسبتونو کې وي.[۳]

**۲۴: د معلوماتو راټولول:**

په پنجشیر ولایت کې دا هم ښه دود دی چې د خواستګارۍ په مرحله کې چې کله د هلک د کورنۍ لخوا مشوره وشي، لومړی د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ او د هغې د کورنۍ په اړه معلوات را جمعه کېږي او کله چې د نجلۍ کورنۍ ته پیغام ولیږي، نو بیا هغوی هم خپل معلومات له مختلفو لارو جمعه کوي.[٤]

مخکې مو وویل چې د افغانستان په په ټولو ولایتونو کې ډېر دودونه سره شریک دي، خو ځیني دودونه یا صرف په نوم کې سره توپیر لري او یا هم په ځینو ولایاتو کې داسې دودونه هم شته، چې په نورو ولایاتو کې نشته.

د بغلان ولایت د کوزدې د مرحلې دودونه هم تقریباً د نور هیواد سره نږدې دي، خو بعضې دودونه چې تقریباً په نوم کې سره توپیر لري لکه:

---

[۱]- استاد عبدالوهاب (عابد) د افغانستان د علومو د اکادمی علمي غړی او د کاپیسا ولایت اوسیدونکی

[۲]- عبدالظاهر حمیدي د سلام پوهنتون استاذ او د کابل ولایت اوسیدونکی

[۳]- مظهرالدین (فایز) د ښوونې او روزنې د پوهنتون استاذ او د پنجشیر ولایت اوسیدونکی

[٤]- مفتي احسان الله

**۲۵: اقتصادي مرسته او همکاري:**
کله چې د هلک د کورنۍ لخوا یوه نجلۍ انتخاب شي او د کوزدې تصمیم ونیول شي، نو د هلک د کورنۍ د اقاربو لخوا هلک سره د اقتصادي همکارۍ وعده کېږي چې په دې وعدې سره هلک د هغه مشکل چې معمولا یوه کورنۍ ورسره مخ کېږي، د هغه مشکل خلاصیږي او د کوزدې څخه بعد مراحل په ډېر اطمینان قلب سره ترسره کوي.[۱]

## دوهم مطلب: د واده د مرحلې مثبت دودونه:

لکه څرنګه چې افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده الحمدلله په دې ټولنه کې ډېر داسې دودونه شته دي چې د اسلامي شریعت او انساني ښو اخلاقو سره موافق دي او تر نن پورې ډېر هماغه دودونه په افغاني ټولنه کې ژوندي دي. د اسلام مقدس دین هم د داسې دودونو تایید کوي چې د انساني ټولنې حقیقي خیر او صلاح په کې وي، زموږ په دې ټولنه کې د ژوند په ډېرو او حتی په ټولو ابعادو کې مثبت دودونه شته چې موږ صرف په ودونو کې پر دودونو بحث کوو، مخکې مو د کوزدې د مرحلې مثبت دودونه ذکر کړل، په دې مطلب کې د واده د مرحلې مثبت دودونه بیانوو.
په افغاني ټولنه کې زیات دودونه شتون لري چې هغه په ټول هېواد کې په یوه بڼه موجود دي، خو ځینې داسې دودونه هم شته چې یوازې تر یوه ولایت او یا یوه قوم پورې ځانګړي دي.

**۱- د واده د مراسمو د تدویر لپاره په نېټه باندې د دواړو کورنیو رضایت او اتفاق:**
د ننګرهار ولایت د ولس یو مثبت دود د واده په وخت کې دا هم دی چې هر کله له واده څخه مخکې مقدمات ترسره شي او د واده لپاره پوره تیاري ونیول شي، نو بیا د واده د مراسمو د ترسره کولو لپاره د دواړو کورنیو د مشرانو لخوا په دې موضوع بحث کېږي چې داسې ورځ او وخت باید وټاکي چې د دواړو کورنیو اقارب او خپلوان ورته رسیدګي وکړای شي، نو د دې مراسمو لپاره نېټه تعینوي او د دواړو کورنیو له رضایت څخه وروسته چې وخت او ځای تعیین شو، بیا خپل خپلوان خبروي، تر څو د واده په مراسمو کې ګډون وکړي.

**۲- د واده د تکالیفو په اړه تفاهم:**
د ننګرهار د ولس بل مثبت دود دا هم دی چې هغه مکلفیتونه چې د واده په مراسمو کې باید ترسره شي. په هغو باندې دواړه کورنۍ بحث کوي چې د هرې کورنۍ وظیفه او مکلفیت باید معلوم شي چې د کورنیو د اشخاصو لخوا له بحث څخه وروسته یوې نتیجې ته رسیږي او پر هغې نتیجې توافق کوي او بیا د همغه توافق او تفاهم په اساس مخ ته ځي او خپل پرورګرام ترسره کوي دا هم اصلاً د دې لپاره چې د واده په وخت کې له کوم مشکل سره مخ نشي.

---
[۱]- عبدالسمیع (حمیدي) د مزارشریف د معارف مدیر، د بلخ دارالمعلمین استاذ او د بلخ ولایت اوسیدونکی

**۳- د واده د خوړو په اړه اتفاق:**

د ننګرهار ولس د واده د خوړو په اړه هم په تفاهم او توافق سره مخ ته ځي چې کومه کورنۍ او په کومه اندازه خواړه اماده کړي چې په کې هم د دواړو کورنیو مصالح او خیر پروت وي.[۱]

**۴- ناوې ته جوړه اخیستل:**

د ننګرهار د خلکو یو بل مثبت دود دا هم دی چې د هلک د کورنۍ لخوا ناوې ته څو جوړې کالي اخلي، البته په دې کې مثبته خبره صرف دغه ده چې د هلک د کورنۍ د توان مطابق وي، نو له همدې امله د نجلۍ کورنۍ د هلک کورنۍ ته واک ورکوي چې څومره ستاسو توان وي، په هماغه اندازه جوړې ناوې ته واخلئ، خو بدبختانه په دې کې منفي دود هم شته چې هغه به په منفي دودونو کې ان شاء الله ذکر شي.[۲]

**۵- د ختو اماده کول:**

د لغمان ولایت په دودونو کې هم ډېر داسې دودونه دي چې هغه مثبت دي او د هلک او نجلۍ د دواړو کورنیو په مصلحت دي، خو ځیني منفي دودونه هم شتون لري چې هغه به وروسته بیان شي.

کله چې د واده ورځ وټاکل شي، نو له دې ورځې مخکې د هلک د کورنۍ لخوا ناوې ته د هغې د شخصي ژوند پوره سامان اماده شوی وي چې دې ته ختې ویل کېږي، دا ټول سامان د واده په ورځ د هلک د کورنۍ لخوا د انجلۍ کورنۍ ته وړل کېږي او همدارنګه ټول هغه سامان چې د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ لپاره اخیستل شوی وي هغه هم له ځان سره اخلي او د واده په ورځ یې په یو لړ مراسمو کې ښکاره کوي.

په میدان وردګو ولایت کې هم د واده پر مهال ډېر مثبت دودونه شته دي، د مثال په توګه د پوښ وړل، له واده څخه دوه ورځې مخکې چې کوم شیان د پوښ په نامه د زوم په کور کې تیار شوي وي، د ناوې کور ته وړل کېږي، تر څو د ناوې کورنۍ د هغو په وسیله سره خپل ځانونه واده ته آماده کړي.[۳]

**۶- د واده دقیقه نېټه ټاکل:**

د لغمان د ولس یو بل ښه دود دا هم دی چې کله د هلک د کورنۍ لخوا د واده غوښتنه وشي، نو د نجلۍ لخوا د وړاندیز په اړه څېړنه کوي او په اړه یې خپل ظروف په نظر کې نیسي او ورسره پرېکړه کوي، نو د موافقې په صورت کې د واده د وخت په اړه دقیقه نېټه ټاکي چې د دواړو کورنیو په موافقې سره ترسره کېږي.

**۷- ورا:**

د لغمان په ځینو ساحو کې اوس هم دا دود شتون لري چې د هلک کورنۍ لومړۍ خلکو ته ډوډۍ ورکوي او بیا وروسته له ډوډۍ یو زیات شمیر خلک د ناوې د راوړلو لپاره د نجلۍ کور ته ځي او په ډېرې مینې او خوشحالۍ سره ناوې راوړي چې دې ته ورا یا جنج وایي.

---

[۱] نجیب الله صالح د ننګرهار پوهنتون استاذ او د ننګرهار ولایت اوسیدونکی

[۲] محمد نعیم جلیلی د امام ابویوسف دارالعلوم شیخ الحدیث او د ننګرهار ولایت اوسیدونکی

[۳] مجیب الرحمن عاصم د سلام پوهنتون استاذ او د وردګو ولایت اوسیدونکی

**۸- مخ رونی:**

کله چې د واده مراسم برابر شي، نو د نجلۍ د کورنۍ لخوا په مشوره دوه ښځې د ناوې سره د هلک تر کوره ځي او هلته د ناوې د کتو مراسم د همدغو دوه ښځو په لاس وي او د هلک د کورنۍ لخوا ناوې ته د مخکتو په وخت پیسې ورکوي چې دې پیسو ته مخ رونی وايي او دا پیسې د ناوې ملکیت وي چې په ځینو ساحو کې د ناوې پوره اقتصادي لاس نیوی ورسره کیږي.[۱]

مخ کتنه چې د پنجشیر خلک یې رونمایک بولي، دا دود د پنجشیر د خلکو یو ښه دود دی چې کله ناوې د خاوند کور ته لاړه شي، نو په لومړۍ ورځ د هلک د کورنۍ نږدې ښځې د ناوې د لیدو لپاره ورځي چې هغوی هم د خپل توان مطابق له ځان سره تحفې وړي او د ناوې د لیدو په وخت هماغه تحفې ناوې ته ورکوي چې دې ته د پنجشیر د خلکو په اصطلاح کې روی نمایک ویل کیږي.[۲]

کله چې د واده هغه لومړي مراحل چې ډوډۍ خوړل او ناوې راوړل دي، ترسره شي، نو بیا د کلي ښځې چې واده ته راغلي وي، د ناوې د لیدو لپاره د ناوې کوټې ته ورځي او په لیدو سره یې پیسې ورکوي چې دې ته مخ دیدني وايي.[۳]

**۹- خوراکي توکي آماده کول:**

د لغمان الینګار پشه یي قوم کې هم زیات شمیر ښه دودونه شته دي چې ځینو ته یې موږ اشاره کوو، یو ښه دود چې د دې قوم په خلکو کې موجود دی، هغه له ناتوانه افرادو سره مرسته کول دي. کله چې د واده مراسم رانږدې شي، نو د کوم کور زوم چې اقتصادي وس او توان یې ښه وي او اقتصادي مشکلات ونه لري، نو خپل ترتیبات نیسي، خو که په دوی کې داسې کورنۍ وي چې د واده د خوراکي توکو توان ونه لري، نو بیا د هلک د کورنۍ خپل خپلوان مرسته ورسره کوي. څوک غنم، څوک وربشې یا شولې ورکوي چې د غنمو او شولو پاکولو لپاره به بیا دوی یوه ورځ مشخصوي، نو بیا به د کلي د نجونو لخوا پاکیږي او له پاکولو وروسته به بیا د کلي ځوانان د شپې لخوا غنم اوړه کوي چې په دې کار کې د هلک اندیوالان برخه اخلي.

**۱۰- د سون توکي آماده کول:**

بل ښه دود چې په لغمان کې شته دی. د واده لپاره د سون لرګي برابرول دي چې ځیني رضاکار ځوانان غره ته ځي او د هلک کور ته د سون لرګي راوړي. ځینې وخت داسې هم کیږي چې د هلک د کورنۍ د یو کال د سون توکي پوره شي او بیا د کال تر آخره هم لرګیو ته ضرورت او اړتیا نه پیدا کیږي.

**۱۱- د نکریزو شپه:**

کله چې د واده شپه رانږدې شي، نو د نجلۍ خپلوانې نجونې د نکریزو پاڼې ټکوي په کلیوالو یې هم تقسیموي او چا ته چې نکریزې ورکوي، نو ورته وايي چې سبا د فلانې واده دی او د شپې لخوا بیا ځینې نجونې ناوې ته په ډېر ښه صمیمیت سره نکریزې ږدي.

---

[۱]) محمد عثمان اخلاص د لغمان ولایت د معارف د تفتیش مدیر او د لغمان ولایت اوسیدونکی

[۲]) عبدالصبور فخري د کابل پوهنتون استاذ او د پنجشیر ولایت اوسیدونکی

[۳]) محمد حسن اسلامي د سلام پوهنتون استاذ او د وردګو ولایت اوسیدونکی

د افغانستان د شمالي ولایتونه هم د هیواد د نورو ولایاتو په څېر ډېر مشترک دودونه لري چې د دې دودونو یو څه مثبت اما بدبختانه زیات منفي دي او په ولس کې یې ډېرې بدې اغیزې پرې ایښې دي.
خو بیا هم لله الحمد ښه دودونه هم موجود دي چې د ټولنې په خیر او ګټه تمام شوي دي، خو ځیني دودونه بیا هم داسې دي چې صرف په نوم کې د نورو ولایاتو له خلکو سره توپیر لري، لکه شب خینه، کله چې د واده شپه راورسیږي په دې معنا چې سبا یې واده وي، نو په دې شپه د نجلۍ د کورنۍ لخوا په یو لړ خاصو مراسمو کې د نکریزو شپې ته تدابیر نیول کیږي چې د ناوې خپلې او خپلوانې نجونې راځي او په ډېره خوښۍ او صمیمیت سره ناوې ته نکریزې ږدي.[1]

**۱۲- د نجلۍ خپلوان راغوښتل او ډوډۍ ورکول:**

د نجلي د واده مراسم د لغمان په پشيي قوم کې په ډېر ښه دود ترسره کیږي او هغه دا چې د طعام او ډوډۍ لپاره د نجلۍ خپلوان راغوښتل کیږي او د ډوډۍ له خوړلو وروسته لرې کسان ځي او نږدې خپلوان د ناوې په کور کې د ناوې تر وتلو پورې پاتې کیږي او ښځینه په ډېره مینه او محبت له هغې سره مجلس کوي او د هغې نږدې ملګرې نجونې ورسره خبرې کوي، ټوکې او ټکالې ورسره کوي او د نوي ژوند مبارکي ورکوي او د ناوې د همزولو لخوا د هغې سینګار کیږي.[2]

**۱۳- د نجلۍ د کورنۍ لخوا د فرمایشاتو نشتون:**

د کونړ ولایت په ولس کې الحمدلله ډېر مثبت دودونه شته دي چې دا مثبت دودونه اکثره په وروستیو کې په دې ولایت کې دود شوي دي او متأسفانه منفي دودونه هم شتون لري چې په خپل ځای کې به ذکر شي.
د واده په وخت کې یو مثبت دود چې د کنړ ولس یې لري هغه دا دی چې د نجلۍ کورنۍ د هلک له کورنۍ څخه د خپلو میلمنو لپاره څه شي نه غواړي، په ځانګړې توګه خوارکي توکي نه غوښتل کیږي چې په ځینو ځایونو او ولایتونو کې د نجلۍ د کورنۍ فرمایشات ډېر زیات وي.[3]

**۱۴- جهیز:**

د کاپیسا ولس یو مثبت دود دا هم دی چې د نجلۍ د کورنۍ لخوا د هغوی د توان مطابق خپلې لور ته د نوي کور سامان برابروي او د ساحې او وخت په نظر کې نیولو سره څه یې چې په توان کې وي، د واده د ورځې لپاره یې برابروي او د خپلې ناوې لور سره یې استوي دا هم د حسن نیت او ښه تعامل یوه نمونه ده.[4]

**۱۵- د ناوې لخوا تحفه:**

د پنجشیر ولایت هم د نور هېواد په څېر شریک دودونه لري چې مثبت یې مثبت او منفي یې منفي دي، خو ځیني داسې دودونه هم لري چې یوازې تر دې ولایت پورې ځانګړي دي.

---

[1]) عبدالوهاب عابد د افغانستان دعلومو اکادمي علمي غړی او د کاپیسا اوسیدونکی
[2]) عبدالحکیم رسولي پشه یي د لغمان ولایت الینګار نورلام صاب درې اوسېدونکی
[3]) محمد ظاهر د حسن بصري دارالعلوم شیخ الحدیث او د کنړ ولایت اوسیدونکی
[4]) نورالحق عزیزی د علومو اکادمي علمي غړی او کاپیسا ولایت اوسیدونکی

هر کله چې د واده وخت رانږدې شي، نو د نجلۍ د کورنۍ لخوا یوه څه تحفې چې د هغوی کورنۍ د توان مطابق وي په یو خاص بکس کې د ناوې له واده سره استول کېږي چې همدا تحفې د هلک په کور کې د واده په لومړۍ او دوهمه ورځ توزیع کېږي او ځینې خو داسې هم وي چې د زوم نږدې خپلوانو مېلمنو ته ډالۍ او تحفې ورکوي.

**۱۶- له میلمنو څخه د محلي د خلکو استقبال:**

د بلخ ولایت د ولس دودونه هم د هېواد د نورو ولایتونو په څېر دي او کوم خاص توپیر ورسره نه لري، د واده په مرحله کې یو ښه دود چې د بلخ په ولایت کې شتون لري، هغه د زوم میلمنو ته ښه راغلاست، خدمت او له هغوی سره همکاري ده.[۱]

**۱۷- له خپلو خپلوانو سره د واده د مراسمو په اړه مجلس:**

د بلخ ولایت بل ښه دود دا هم دی، مخکې له دې چې د واده مراسم ترسره شي، د هلک او نجلۍ کورنۍ له خپلو خپلوانو سره مشورې کوي چې د واده مراسم کله، په کوم ځای او په کوم شکل ترسره کړي چې د دې مشورو په پایله کې وخت، ځای او د واده شکل ټاکل کېږي.

په کندهار ولایت کې ډېر داسې دودونه شتون لري چې د نورو ولایاتو سره تفاوت لري او متأسفانه زیات یې منفي دي، خو بیا هم ځینې مثبت دودونه هم لري، لکه د واده د مراسمو لپاره د دواړو کورنیو تر منځ مشوره او توافق.[۲]

**۱۸- د مساجدو له لارې د واده مراسمو ته د خلکو اخبار:**

په بلخ کې بل ښه دود دا هم دی چې د اطرافو خلک د مسجد له لارې واده ته خبرېږي او په اطرافي سیمو کې ډېر فقراء او مساکین اوسېږي، نو هغوی په ډوډۍ کې د ګډون لپاره راغوښتل کېږي.[۳]

**۱۹- د زوم له کورنۍ سره د هغه د اقاربو لخوا د هغه مشکلات حل کول:**

د بدخشان ولایت هم د نورو ولایاتو په څېر مثبت او منفي دودونه لري، خو یو هغه دود چې په عمومي شکل په بدخشان کې شتون لري، هغه د زوم سره په هغو مشکلاتو کې مرسته کول دي چې زوم ورسره د واده په وخت کې مخامخ کېږي.[٤]

د فاریاب ولایت دودونه هم په مجموع کې د نورو ولایاتو په څېر دي، خو ځینې داسې دودونه چې په دې ولایت کې عمومیت لري، هغه له هلک سره اقتصادي مرسته کول دي، په دې ولایت کې له هغه هلک سره چې واده کوي په هر صورت کې مرسته او همکاري کېږي او بل دا چې د دواړو کورنیو لخوا د هغوی خپلو خپلوانو ته هره کورنۍ ډوډې کوي چې دا ډېر ښه او مثبت دود دی او د یوې کورنۍ بوج په بله کورنۍ نه وربارېږي.[٥]

---

[۱] حمیدالله نجیب د بلخ پوهنتون استاذ او د بلخ ولایت اوسیدونکی
[۲] محمد محمد طاهر د کندهار د پنجوایي ولسوالی اوسیدونکی او د کندهار ښار کې د لیسې استاذ
[۳] عبدالسمیع حمیدی د بلخ دارالمعلمین استاذ او د بلخ ولایت اوسیدونکی
[٤] عبدالواحد ربیع متقاعد څارنوال د بدخشان ولایت اوسیدونکی
[٥] احمد نسیمی د فاریاب ولایت حقوقي مدافع د فاریاب ولایت اوسیدونکی

په نیمروز ولایت کې متأسفانه ډېر منفي دودونه شتون لري چې ټولنه ورڅخه متاثره شوې ده خو بیا هم ځینې مثبت دودونه شتون لري، لکه:
له زوم سره مرسته کول: د هلک خپلوان د واده په ورځ او ځینې یې له واده څخه وړاندې له هلک سره پوره مرسته کوي چې زوم خپل هغه مشکلات ورباندې حل کوي چې د واده پر مهال ورسره مخامخ کېږي.
د میلمنو خدمت: بل ښه دود چې په نیمروز ولایت کې شتون لري هغه د کلي او محل خلک د میلمنو پوره خدمت کوي او تر څو چې لرې میلمانه نه وي عذر شوي، نو د خدماتو ګروپونه خپل خدمتونه ترسره کوي او بیا وروسته ډوډۍ خوري.[1]

**۲۰- د واده محفل ساده دایرول:**

د افغانستان په جنوبي ولایاتو کې متأسفانه ډېر نامناسب دودونه شتون لري چې په مجموع کې ولسونه ترې متضرره کېږي، خو ځینې مثبت دودونه هم شته، لکه د واده محفل ساده دایرول، د لوګر ولایت په خلکو کې هغه ښه او مثبت دود چې شتون لري، هغه د واده مراسم په ساده شکل او آسانۍ سره دایرول دي چې په دې سره د دواړو طرفونو د کورنیو لپاره ډېرې آسانیتاوې رامنځته کېږي، خو دا دود په زیاته پیمانه د لوګر ولایت په اطرافو کې شتون لري.[2]

**۲۱- د دودونو د پرځای کولو په موخه غریب خلک نه مجبورول:**

سره له دې چې په پکتیا کې ډېر دودونه داسې دي، نه یوازې دا چې منفي دي بلکې ټولنه او ولس هم ورڅخه تنګ شوی دی او هر فرد غواړي چې له دې مشکلاتو څخه ځان خلاص کړي، خو متأسفانه دې دودونو په ولس داسې اوږده مرحله تېره کړې ده چې ډېر کار ته اړتیا لري، تر څو د عامه پوهاوي له لارې د دې دودونه اضرار او مشکلات خلکو ته په ګوته شي، تر څو خلک دې ته تیار شي چې له دې دودونو څخه لاس په سر شي، خو له نیکه مرغه اوس په ځینو سیمو کې هغه پخواني منفي دودونه ډېر کم شوي دي، خو بیا ښه خبره دا ده چې بې وسه او غریب خلک د دې دودونو پر عملي کولو نه مجبورېږي.[3]

**۲۲- د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته ډالۍ:**

د خوست په ولایت کې سره له دې چې ډېر منفي دودونه شته دي، خو بیا هم ځینې مثبت دودونه د واده په مختلفو مراحلو کې وجود لري چې یو یې هم د واده په ورځ او یا یوه ورځ وروسته د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته ډالۍ لېږل دي. کله چې واده تیار شي، نو د نجلۍ له کورنۍ څخه یو سړی او دوه یا درې ښځې د نجلۍ د کورنۍ په مشوره له ناوې سره د زوم کور ته ځي، کله چې د واده مراسم تېر شي او دا سړی او ښځې چې کله بېرته خپل کور ته راستنېږي، نو د هلک د کورنۍ لخوا مختلفې تحفې

---

[1]) محمد ابراهیم خلیل د اعجاز القرآن موسس او د نیمروز ولایت اوسیدونکی
[2]) عبدالفتاح جواد د احساس خیریه موسسې رئیس او د لوګر ولایت اوسیدونکی
[3]) قومي مشر حاجي احمد ګل احمدزی د پکتیا د ګردیز اوسېدونکی

ورکول کېږي، لکه: کالي، پګړۍ، ټکرى او د دې هېڅ عوض هم نه اخيستل کېږي او نه دا کار لازمي دى.[1]

د غور ولايت دودونه هم په مجموع کې د نورو ولاياتو په څېر دي، خو ځيني تفاوتونه لري، لکه په واده کې ټولي ګډونوالي ښځې د خپل وس مطابق ناوې ته تحفې ورکوي.[2]

**۲۳- پاستي په کلي وېشل:**

د وردګو د خلکو يو ډېر ښه دود دا دى چې د زوم د کورنۍ لخوا په ټول کلي اوړه ويشل کېږي، تر څو هغه پاخه کړي او همدارنګه د کلي خلکو ته يو يو پاستي او خامه غوښه ورکوي، تر څو يې په خپلو کورونو کې پخه کړي او بيا د کلي خلک ډوډۍ ته نه ورځي او يوازې د هر کور پر سر يو يو کس ميلمه کوي.

او دا ډوډۍ هغو خلکو ته ورکوي چې د نور ولس څخه رادعوت شوي وي، البته هغو خلکو ته هم د زوم په کور کې ډوډۍ ورکوي چې د لرو ميلمنو خدمت کوي.

**۲۴- په مشخص تعداد زنانه د نجلۍ کور ته د ناوې راوړو لپاره ورځي:**

د غزني ولايت د خلکو دودونه هم تقريباً د نورو ولايتونو په څېر دي، خو ځيني دودونه يې تفاوت لري.

کله چې واده برابر شي، نو د هلک له کور څخه يوه ټاکلي اندازه ښځې د نجلۍ کور ته ورځي او ناوې راوړي چې دغه تعداد يو معلوم تعداد وي او له هغه څخه نه زياتېږي.[3]

**۲۵- د نورو ولاياتو په نسبت د واده کم مصرف:**

د باميانو ولايت دودونه له نورو ولاياتو سره څه ناڅه توپير لري، لکه:

**۲۶- په واده کې لږ مصرف کول:**

په مجموع کې په باميانو کې د اهل سنتو ودونه په لږ لګښت ترسره کېږي او ډېر مصارف نه لري.

**۲۷- د واده محفل په کورونو کې دايرول:** د باميانو په ولايت کې تقريباً ټول ودونه په کورونو کې ترسره کېږي او هغه هم په ډېر ساده شکل سره وي چې ډېر تکلفات په کې نه وي.

د واده په وليمه کې بې له کوم تبعيض څخه ټول خلک رادعوت کول: دا هم د باميانو د خلکو يو ښه دود دى چې په واده کې د ډوډۍ لپاره عامه اجازه وي او خلک دعوت کوي، خو په داسې شکل چې هېڅوک ورڅخه مستثنى نه وي او ټول خلک چې په هغه کلي کې اوسېږي د وليمې ډوډۍ ته دعوت کېږي.[4]

**۲۸- د واده لپاره کور د طرفينو د توان مطابق برابرول:**

په هرات ولايت کې نسبتا مثبت دودونه په اطرافو کې زيات دي، خو ښار له نورو منفي دودونو څخه متاثره شوى دى، خو بيا هم مثبت دودونه په کې شتون لري، لکه د زوم لپاره چې کوم کور يا کوټه

---

[1]) ډاکتر قيوم شاه د خوست ولايت اوسيدونکى او د خوست په بازار کې ډاکتر

[2]) عبدالروؤف فياض د غور دارالعلوم استاذ او د غور ولايت اوسيدونکى

[3])استاذ نعمت الله هاشمي غزنوي د ساختماني شرکت کارکوونکى او د غزني ولايت اوسيدونکى

[4]) اصحاب الدين رحماني د علومو د اکادمۍ علمي غړى او د باميانو ولايت اوسيدونکى

تنظیمیږي، په هغه شکل تیاریږي چې د دواړو کورنیو په توان او وس کې وي او د هغوی د توان مطابق مصارف وربانديږ کیږي.[1]

## دریم مطلب: له واده وروسته مثبت دودونه:

په مخکي مطالبو کې مو د کوزدې د مرحلې او واده د مرحلې مثبت دودونه په مختصر شکل سره د افغانستان له اکثرو ولایاتو څخه چې د همدغو ولایاتو د اوسېدونکو په ذریعه مو راټول کړي دي ذکر کړل، په دې مطلب کې له واده وروسته مثبت دودونه ذکر کوو.

حقیقت دا دی چې له واده وروسته که دودونه مثبت وي یا منفي، هغه زیات شمیر د کوزدې او واده تر مرحلې پورې تعلق لري، که د کومو کورنیو تر منځ د کوزدې او واده په مرحلو کې ښه تعامل او ښه دود په ترسره کولو واده شوی وي، نو له واده وروسته هم په افغاني ټولنه کې اکثره خلک مخکښني تعامل ته ګوري او هماغه شان دود هم لري او د هغه په رڼا کې دودونه په دې ټولنه کې لیدل کیږي.

خو که چیرې په تیرو دوو مرحلو کې ښه چلند نه وي شوی، متأسفانه بیا په دې ټولنه کې دا ډیر بد دود دی چې له واده وروسته هم بیا ښه تعامل نه کیږي.

هغه مثبت دودونه چې د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې له واده وروسته ترسره کیږي:

**۱- دریېمه:**

د لغمان الینګار ولسوالۍ په پشه یي قوم کې د لغمان د ولایت د نورو ولسوالیو په پرتله ځینې دودونه توپیر لري لکه دریېمه چې په نورو قومونو کې دا اوومه ده، خو د نورلام صاحب درې پشه یي خلک د واده په دریېمه ناوې د پلار کور ته بیایي او د خپل توان مطابق ځینې خواړه ورسره لیږي، په ځینو ځایونو کې چرګ پخوي او په ډیرو ځایونو کې وچه میوه، کلچې او مټایي ورسره وړي.

خو په نور لغمان ولایت کې دې ته اوومه وایي چې د نور هېواد سره په لږ توپیر دا مراسم ترسره کوي. د مثال په توګه د زوم له کوره د نجلۍ د پلار د کور لپاره ځینې خواړه اماده کیږي او نجلۍ د پلار په کور کې اووه شپې تیروي، له هغه وروسته د خاوند کور ته ځي چې د پلار له کوره نجلۍ ته څه خواړه چې اکثره په کې خواږه شیان وي ورکوي او د نجلۍ د خسر کور ته یې استوي او له دې مراسمو څخه وروسته د واده مراسم رسماً پای ته رسیږي او ژوند عادي کیږي.[2]

د کونړ ولایت ولسي دودونه له واده وروسته تقریباً په مشرقي ولایاتو کې له ډیرو دودونو سره یو شان دي او صرف نوم یې سره توپیر لري.

اوومه: هغه دود دی چې د واده په اوومه ورځ زوم او ناوې له یو څه اندازې میوې سره چې د هلک کورنۍ یې اخلي د خپل خسر کورته ځي، د نجلۍ د پلار کور ته په تګ سره د نجلۍ خپلوانې نجونې راجمع کیږي او له نجلۍ سره مجلس کوي او د کنړ په ځینو ځایونو کې دا دود هم شته کله چې نجلۍ د

---

[1]) خلیل احمد جامي د هرات ولایت د اینده سازانو لیسې مسئول او د هرات ولایت اوسیدونکی

[2]) عبدالحکیم رسولي او شاه محمد پینا د نورلام صاب درې اوسېدونکي او استاذ محمد عثمان اخلاص د لغمان ولایت د معارف د تفتیش مدیر او د لغمان ولایت اوسیدونکی

اوومې مرحله د پلار په کور تېره کړي چې دا مرحله کله اووه ورځې او کله پنځه ورځې وي، نو بيا د نجلی پلار خپلې لور ته چې بېرته د خپل خاوند کور ته ځي، څه خرچه ورکوي او په ځينو ځايونو کې خلک خپلې لور ته چې له اوومې وروسته خپل کور ته ځي څاروي ورکوي، څوک غوا، ميږه او څوک اوزې ورکوي[1].

**۲- ناوې ته دعوت کول:**

د ننګرهار ولسي دودونه هم تقريباً له نورو مشرقي ولاياتو سره زيات توپير نه لري، د مثال په توګه د دواړو کورنيو لخوا يعني د نجلی د پلار او د هلک د پلار د کورنيو لخوا چې نږدې اقارب ټول په کې برخه اخلي هغه دا دود دی چې ناوې او زوم ته دعوت ورکوي او له دوی سره د هغو نور اقارب هم دعوت کوي او په ډېرو خوشحاليو سره د دعوت مراسم ترسره کوي چې په پای کې زوم او ناوې ته تحفې هم ورکوي چې اکثره کورنی د خپل توان په اندازه لباس ورکوي.[2]

**۳- تحفې ورکول:**

د ننګرهار د ولس يو ښه دود دا هم دی، هغه دا چې د دواړو کورنيو دوستي په ښه شکل سره وساتل شي، نو دواړه کورنی په مختلفو مراسمو کې د يوې د بلې کورنی افرادو ته د خپل توان مطابق تحفې ورکوي.

د تخار ولايت ډېر دودونه داسې دي چې ټولنه ورسره له مشکل سره مخامخ ده، خو يو څه مثبت دودونه هم په کې شتون لري، يو له هغو دودونو څخه تحفې ورکول دي. کله چې د واده مراسم تېر شي نو د ناوې د پلار د کورنی لخوا د هلک د کورنی ټولو خپلوانو ته دعوت ورکول کېږي او د خپل توان مطابق ټولو ته تحفې ورکول کېږي، تر دې چې ماشومانو ته هم دسمالونه ورکوي.[3]

د سرپل ولايت مثبت دودونه هم د شمال د ولايتونو په څېر دي او څه خاص توپير نه لري.[4]

د فارياب ولايت مثبت دودونه هم د شمال د نورو ولايتونو په څېر دي او کوم خاص توپير په کې نه ليدل کېږي.[5]

**۴- يو د بل له خپلوانو سره روابط او اړيکې ساتل:**

بل ښه دود د ننګرهار دا هم دی چې د هلک او نجلی د کورنيو لخوا د هغوی له خپلو خپلوانو سره ښه روابط او دوستي پالي او په ځينو وختونو کې خو د دواړو کورنيو لرې خپلوان هم دا تعامل کوي چې دا زموږ زوم دی او دا مو خورلنه ده[6].

---

[1]) محمد ظاهر، د تره خيل دارالعلوم استاذ او استاذ انعام الله صافی د دارالعلوم استاذ او د کنړ ولايت اوسيدونکي

[2]) محمد نعيم جليلی د امام ابويوسف دارالعلوم شيخ الحديث او د ننګرهار ولايت اوسيدونکی

[3]) جمعه خان متوکل د چاه اب اوسيدونکی او استاذ عبدالواحد کريمی د تخار دارالعلوم استاذ او د تخار ولايت اوسيدونکي

[4]) محمد يوسف مرادي د سرپل ولايت اوسيدونکي

[5]) نثار احمد نسيمی د فارياب ولايت وکيل مدافع او د فارياب ولايت اوسيدونکي

[6]) نجيب الله صالح د ننګرهار د پوهنتون استاذ او د ننګرهار ولايت اوسيدونکی

**۵- د دواړو کورنیو له لوري میلمستیا:**

د افغانستان په شمال کې له واده څخه وروسته هم لله الحمد مثبت دودونه شتون لري، لکه: میلمستیا، کله چې د واده مراسم خلاص شي، نو لومړی د هلک د اقاربو لخوا زوم او ناوې ته میلمستیا کېږي چې دغې میلمستیا ته د کاپیسا ولایت په ځینو ساحو کې پایوازي وایي[۱].

د غور ولایت ښه دودونه هم د نورو ولایتونو په څېر دي، خو ځینو دودونو چې په نورو ولایتونو کې مثبت شکل لري په دې ولایت کې یې منفي بڼه خپله کړې ده او پر خلکو هغه اجباري شوي دي، خو بیا هم ښه دودونه په دې ولایت کې شتون لري، لکه: میلمستیا: د زوم او ناوې کورنۍ د خپلو خپلوانو د کورنیو لخوا دعوت کېږي او په دې کې کوم اسراف هم نه وي.[۲]

د میدان وردګو ولایت یو ولسي مثبت دود دا دی چې د زوم او ناوې کورنۍ په نوبت سره یو او بل ته میلمستیا او ډوډۍ کوي او په دې سره هم د دواړو لوریو کورنیو تر منځ ښه روابط پیدا کېږي او هم یو له بل سره په عزت راشه درشه پیدا کوي.[۳]

**۶- شاه سلامي:**

په پنجشیر ولایت کې هم الحمدلله ډېر مثبت دودونه شتون لري او د نور هېواد په څېر دي او کوم زیات توپیر نه لري او بعضې دودونه یوازې په نامه کې سره توپیر لري، لکه: شاه سلامي، او هغه داسې وي چې له واده څخه درې اوونۍ وروسته زوم د خپلې کورنۍ ځیني کسان د خسر کور ته بیایي او هلته د غرمې ډوډۍ خوري او له هغه وروسته خپلو کورونو ته ځي او له واده څخه یوه میاشت وروسته ناوې د پلار کور ته ځي او د زوم له کور څخه ورته ځیني خوارکي توکي ورکول کېږي او دا کار د هر چا د وس او توان په انداز وي.[۴]

**۷- د هلک د کورنۍ لخوا همکاري جمع کول:**

له واده وروسته د بغلان د نهرین ولسوالۍ د ولس دود دا دی چې د هلک یا زوم اقارب او خپل خپلوان د خپل توان مطابق په منظمه توګه نغدې پیسې راټولوي او زوم ته یې ورکوي او همدارنګه له واده وروسته د ناوې د پلار له کور څخه د زوم کور ته لږ خواږه د مینې او محبت د اظهار په موخه لېږل کېږي او هلته خوړل کېږي.[۵]

**۸ – مبارکي:**

مبارکي که څه هم چې په ټول هېواد کې مروجه ده، خو د بغلان خلک دې ته یو ځانګړی اهتمام لري او په خاصو مراسمو کې یې تر سره کوي او په دې سره له خپلې خوا د مینې او خوښۍ اظهار کوي چې په دې کې د زوم کورنۍ، دوستان، خپلوان او د هلک شخصي اندیوالان هم شتون لري.[۶]

---

[۱]) عبدالواهاب عابد د علومو د اکادمۍ علمي غړی.او د کاپیسا ولایت اوسیدونکی

[۲]) عبدالروؤف فیاض د غور د پوهنتون استاذ او د غور ولایت اوسیدونکی

[۳]) محمد حسن اسلامي او استاذ مجیب الرحمن عاصم د سلام پوهنتون استاذان او د وردګو ولایت اوسیدونکي

[۴]) عبدالصبور فخري د کابل پوهنتون استاذ او مظهرالدین فایز د تعلیم او تربیې پوهنتون استاذ او د پنجشیر ولایت اوسیدونکي

[۵]) سید صفی الله عثمانی د دارالعلوم استاذ او د بغلان ولایت اوسیدونکی

[۶]) سمیع الله دانشیار د کندز د سلام پوهنتون رئیس او بغلان ولایت اوسیدونکی

**۹- د واده غرمه:**

په بغلان کې یو ښه دود دا هم دی چې د واده په سبا د هلک خپل خپلوان له ځان سره د خپل توان مطابق تحفې د هلک کور ته وروړي او کله ناکله پخه ډوډۍ چې د وریځو پلو هم په کې وي د زوم کورته وروړي چې دې ته چاشت عروسي وایي او هلته زوم ته تحفې هم ورکوي.[۱]

**۱۰- کمک او تحفې:**

په کندز ولایت کې متأسفانه تر اوسه ډېر داسې ولسي دودونه شتون لري چې منفي دي او ټولنه ورځخه کړېږي، خو بیا هم ځینې دودونه په کې شتون لري چې د ولس په ګټه دي، یو له هغو دودونو څخه له واده څخه وروسته د زوم سره مالي مرسته ده، تر څو یې له مشکل څخه وژغوري او همدارنګه د خپلو خپلوانو لخوا تحفې ورکول کیږي او دا کار د هر چا د توان مطابق ترسره کیږي چې په دې تحفو کې د کور سامان هم شامل وي.[۲]

د سمنګان ولایت مثبت دودونه هم د نورو ولایتونو په څېر دي، خو په ځینو ساحو کې ورته خاصه توجه کیږي چې یو له هغو د مبارکۍ، همکارۍ او تحفو دود دی، د سمنګانو په ولایت کې له واده وروسته د هلک ګاونډیان، قومیان او خپل خپلوان د هلک کور ته ورځي او مبارکي ورکوي.

او که چېرې زوم اقتصادي مشکلات ولري، نو له واده څخه وروسته د هغه خپل او خپلوان ورسره اقتصادي مرسته کوي او چا چې مخکې وعده کړې وي، هغه عملي کوي او همدارنګه یې د کور د سامان او تحفو په شکل کې د زوم کور ته وروړي.[۳]

د بلخ ولایت ولسي دودونه هم د نورو ولایتونو په څېر دي او مثبت دودونه یې زیات توپیر نه لري او تقریباً د شمال ولایتونه په دودونو کې زیات نږدیوالی لري او کوم ځانګړی توپیر په کې نشته.[٤]

د نیمروز د خلکو ښه دود دا دی چې له واده څخه وروسته د هلک کورنۍ ته مبارکي ورکول کیږي، چې ګاونډیان، مختلف اقوام او خپل خپلوان د زوم کور ته ورځي او هغوی ته مبارکي ورکوي او همدارنګه د دواړو کورنیو لخوا یو او بل ته میلمستیا کول او په احترام سره هغوی میلمانه کول او په پای کې ناوې ته د رونمایي په نوم تحفې ورکول.[٥]

د فراه ولایت مثبت دود دا دی چې دواړه کورنۍ یو بل ته میلمستیا کوي.[٦]

د هرات په ولایت کې هغه ښه دودونه چې له واده څخه ورسته شتون لري او په ټولنه کې یې ښې اغیزې لرلې دي. د دواړو کورنیو لخوا یو او بل ته میلمستیا کول دي او په دې میلمستیا کې دواړه کورنۍ ګډون کوي او یو بل ته تحفې هم راوړي او دا کار په حقیقت کې د مرستې او کمک په نیت تر سره کوي او په

---

[۱])عباد الله محقق د بغلان د پوهنتون استاذ او د بغلان ولایت اوسیدونکی

[۲]) عبدالسلام سایح د کندز د سلام پوهنتون د حقوقو د پوهنځۍ رئیس او د کندز ولایت اوسیدونکی

[۳]) فیض محمد د سمنګان دارالعلوم استاذ او د بدخشان ولایت اوسیدونکی

[٤]) عبدالسمیع حمیدی د بلخ د دارالمعلمین استاذ او د بلخ ولایت اوسیدونکی او حمیدالله نجیب، د بلخ پوهنتون استاذ او د بلخ ولایت اوسیدونکي

[٥]) محمد ابراهیم خلیل د نیمروز د اعجاز القران موسس او د نیمروز ولایت اوسیدونکی

[٦]) شاه محمد بلیغ د دارالعلوم استاذ او د فراه ولایت اوسیدونکی

دې تحفو کې ځيني تحفې خاص د زوم لپاره وي او ځيني تحفې بيا خاص د ناوې لپاره وي او ځيني خلک د دوی د کورنو لپاره سامان او وسايل هم اخلي.[1]

**۱۱- شاه کانی:**

د بدخشان ولايت په مثبتو دودونو کې چې يوازې په نوم کې توپير لري، هغه له هلک او د هغه له کورنۍ سره د خپلو خپلوانو نغدي يا غيرنغدي مرسته او همکاري ده چې دې ته د بدخشان په اصطلاح شاه کاني ويل کېږي.[2]

**۱۲- ناشتا لېږل:**

د ميدان وردګو د خلک ښه دود دا دی چې د واده له مراسمو څخه وروسته د نجلۍ د کورنۍ لخوا د زوم کورنۍ ته خواړه لېږل کېږي چې دې ته ناشتا ويل کېږي او دا يو ښه عمل دی.

او دا عمل د دواړو کورنيو د دوامداره دوستۍ سبب ګرځي، دا عمل چې په کومو ځايونو کې ترسره کېږي، هلته يې ښه نتايج هم لرلي دي، خو په دې شرط چې دغه کار د توان مطابق وي.[3]

**۱۳- درېيمه:**

د غزني د خلک ښه دودونه هم د نورو ولاياتو په څېر دي او هغه دودونه چې توپير لري ډېر لږ دي او يا يوازې په نوم کې سره توپير لري، لکه درېيمه: د واده له مراسمو وروسته د واده په درېيمه ورځ زوم له ناوې سره د خسر کور ته ځي او خپله ميرمن له ځان سره بيايي او يو څه ميوه هم له ځان سره وړي.[4]

**۱۴- پايوازي:**

د باميانو ولايت ښه دودونه هم د نورو ولاياتو په څېر دي، خو په ځينو حالاتو کې لږ توپير سره لري چې يو له هغو څخه پايوازي ده او هغه دا چې زوم او د هغه نږدې خپلوان د ناوې د پلرګنۍ لخوا دعوت کېږي او همدارنګه د ناوې او زوم خپلوان د يو او بل لخوا دعوت کېږي او دواړو لوريو ته لباس او تحفې ورکول کېږي چې په دې سره د دواړو کورنيو تر منځ تعارف پياوړی کېږي او د دوی تر منځ د مينې او محبت لامل ګرځي.[5]

**۱۵- ناوې د پلار کور ته بيول:**

په کندهار کې ښه دودونه د نورو ولايتونو په څېر دي، خو متأسفانه چې ناوړه دودونه هم په کې زيات دي، خو بيا هم يو څه مثبت دودونه په کې شتون لري، يو له هغو دودونو څخه په اوومه، اتمه او يا هم لسمه ورځ ناوې له زوم او د هغه له خپلو خاصو خپلوانو او ملګرو سره د پلار کور ته بيايي او هلته يوه ورځ تېروي او ميلمستيا ورته کوي.[6]

---

[1]) خليل احمد جامی د هرات د آينده سازان ليسی مسئول

[2]) شريف الله خاموش او استاذ عبدالواحد ربيع او د بدخشان ولايت اوسيدونکي

[3]) عبدالبصير مومن حکيمی، د ملي پوهنتون استاذ د ميدان وردګو ولايت اوسيدونکی

[4]) نعمت الله هاشمي د غزني ولايت اوسيدونکی

[5]) اصحاب الدين رحمانی د علومو اکادمۍ علمي غړی او د باميانو ولايت اوسيدونکی.

[6]) محمد طاهر، کندهار کي د ليسي استاذ او د کندهار ولايت ډېنجوايي ولسوالی اوسيدونکی

## دوهم مبحث: اغیزې:

اصلاً د دودنو اغیزې په دودونو پورې تړاو لري، نو؛ چې کوم دودونه مثبت د هغو اغیزې هم مثبتې وي او کوم دودونه چې منفي وي، نو؛ د هغو اغیزې هم منفي وي او دا اغیزې په یو شخص او یوې کورنۍ پورې اړه نه لري، بلکې د دې دودونو اغیزې دومره پراخې وي، چې حتی دوه قومونه او دوه لوی کلي ورڅخه اغیزمن کېږي او دا اغیزې داسې نه وي چې تر یوې میاشتې یا یو څو کلونو پورې محدود وي، بلکې د دې اغیزې تر پیړیو پیړیو پورې غځېږي او اشخاص، افراد، کورنۍ،کلي او قومونه له دې دودونو څخه اغیزمن کېږي، په مخکېنۍ بحث کې مو مثبت دودونه ذکر کړل اوس د هغو دودنو په یو شمېر اغیزو رڼا اچوو:

## لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو اغیزې

کله چې د کوزدې په مرحله کې له دقت او غور څخه کار واخیستل شي او په ډېر غور او فکر سره هلک او نجلۍ انتخاب شي، نو؛ ښې اغیزې او تاثیرات یې تر اخیره پورې وي او د دواړه کورنیو د نږدې اقاربو لکه ورونو، زامنو، ترونو، ماماګانو، مور، خویندو، ترورګانو، خلاصه دا چې په لویه کچه مشورې وشي، نو د دې اغیزې یو خو په راتلونکې کې بدګماني نه پیدا کېږي، یو په بل اعتراض نه کوي چې دا ستا له لاسه بلکې هر څه چې شوې هغه د ټولو په مشوره او سلا شوي وي چې د مشورې په نتیجه کې هغه څه په لاس راځي، هغه دا چې د دواړو کورنیو ترمنځ ښه تعارف حاصلېږي، تر څو په آینده کې د یو ستر مشکل سره مخ نشي او په پوره او عمیق تعرف سره د دواړو افرادو پوره پیژندل د هغه شخص ژوند، کار روزګار، وظیفه، ملګري، اخلاق، عقیده، تعامل...

د کورنیو پوره تعارف چې د کوم قوم، نسب، عقیدې سره تعلق لري، تر څو په آینده کې له مشکل سره مخ نه شي. د کوزدې په مرحله کې چې هر څومره له دقت څخه کار واخیستل شي، په آینده کې ډېره غوره پریکړه وي، د هلک او نجلۍ د کورنۍ په اړه چې هر څومره مشورې وشي په راتلونکې کې پښېمانتیا نه لري، ځکه د مشورې په کولو سره د هلک، نجلۍ او کورنیو په اړه معلومات را جمعه کېږي او هر کار چې په مشوره وي پیښمانتیا نه لري، خو که چېرې پرته له مشورې یو کوزده وشي او ښه انتخاب هم وي، خو بیا هم د هلک او نجلۍ اقارب له دې وجې چې مشوره نه ده ورسره شوې، تر ډېره وخته ورڅخه خپه وي او که چېرې ښه انتخاب هم نه وي، نو بیا خو د کورنیو د شخړو باعث هم ګرځي او تر ډېره وخت نه تنها هلک او نجلۍ تر فشار لاندې خپلې شپې او ورځې تیروي، بلکې د دواړو کورنیو وګړي هم د خفګان شپې او ورځې تېروي.

د کورنیو د اقاربو د مشورو په نتیجه کې د هغوی همکاري هم له دې سره تړلې ده، مادي او معنوي همکاري ور سره کوي چې مشوره ورسره شوې وي، خو که مشوره ورسره نه وي شوې، بیا وایي دی پوه شوه او خپښي یې، دوي یې ځانته ډنګوي موږ ته هېڅ اړتیا نه لري، چې د دې پایله بیا دا شي چې هغه کورني هم ور سره مشوره نه کوي.

د کوزدې لپاره چې لومړی مرحله يې هغه غوښتنه ده، چې دا اکثره د مشرانو لخوا تر سره کېږي، د دې هم مثبتې اغيزې زموږ په ټولنه کې ليدل کېږي، يو خو د نجلۍ کورنۍ هم په دې مطمئنه وي، چې د هلک کورنۍ موږ ته په غټ نظر وکتل، ځکه چې مشران خلک يې راوليږل، بل دا چې هغوی ښه قناعت ورکولی شي، تر څو منلو ته اماده شي، خو بيا هم که چېرې د نجلۍ کور قناعت ونه کړي او انکاري شي، نو بيا د همداسې اشخاصو لخوا دا قضيه د راز په شکل ساتل کېږي او نور خلک ورباندې نه خبروي او که چېرې غوښتنه ومنل شي، نو دنجلۍ کورنۍ د مشورې څخه وروسته همدې هئيت ته يوه نښه، چې جوړ شوی ګل او يو لاسي دستمال وي دا اصلاً د نښې په شان د هلک کورنۍ ته ورکول کېږي، د دې هم ښې اغيزې دي، چې د هلک د کورنۍ د اطمينان لپاره په کې کار اخيستل کېږي، دا چې په افغاني ټولنه کې د کوزدې په مرحله کې د ښو دودنو ډېری ښې اغيزې په فرد کورنۍ او ټولنه کې ښکاره کېږي چې دا ښې اغيزې بيا د هلک او کورنۍ په وروستيو پرګرامونو کې هم ښه رول لوبولی شي.

## دوهم مطلب: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو اغيزې

د واده د مرحلې د دودونو اغيزې هم اصلاً د کوزدې د مرحلې له دودونو سره زيات تړاو لري، که چيرې د کوزدې په مرحله کې د دواړو کورنيو ترمنځ ښه تعامل شوی وي او د هغه تعامل ښې اغيزې لاس ته راغلې وي، نو د واده د دودونو اغيزې هم بيا ښې وي، خو که چېرې د کوزدې په مرحله کې اغيزې منفي وي، بيا نو متأسفانه د واده په مرحله کې هم اغيزې منفي وي.

کله چې د کوزدې ښې اغيزې لاس ته راشي، نو د واده په وخت کې هم ښې او مثبتې پايلې ترلاسه کېدلايشي، لکه د ښې کورنۍ جوړښت، د واده د مرحلې د ښو دودونو په نتيجه کې داسې يوه کورنۍ وجود ته راځي او د هغو دوو کسانو چې هلک او نجلۍ دي، ښه ژوند په برخه کېږي او د هغو دواړه کورنيو تر منځ هم ښه تعامل منځ ته راځي، ځکه د دوی په واده سره دوه لويې کورنۍ هم وتړل شوې او له دې کورنيو ور ها خوا د دوو قومونو ترمنځ هم يوه ښه رابطه منځ ته راځي او د دې نتيجه دا کېږي، چې دا دوه لويې کورنۍ او حتی دا دوه قومونه له دې وروسته بيا نورې خپښۍ او دوستۍ هم سره کوي، تر دې چې دا دواړه کورنۍ او دواړه قومونه يو د بل جز وګرځي اصلاً دا د هغو ښو نتيجه وه.

د خپلو خپلوانو لخوا د واده په مرحله کې خدمت او همکاري ډېرې ښې اغيزې زموږ په ټولنه کې لري، تر دې چې کله نا کله د دوو کورنيو ترمنځ چې لږ مشکل پيدا شوی وي، نو د خوشحاليو په مراسمو کې د هغوي همکاري، خدمت او شرکت د دې باعث شي چې مشکل، خو بلکل حل شي، بلکې د دې اغيزې دا وي چې د دې کورنيو ترمنځ روابط بالکل ښه کېږي.

اقرباء او خپل خپلوان يو بل ګوري دا هم ښې اغيزې دي چې هغه خپل خپلوان چې ډير وقت يې يو بل نه وي ليدلي په واده کې يو بل ويني، يو بل ته په واده کې تحفې ورکوي، چې دا دمحبت او مينې سبب ګرځي، اصلاً دالی په ټولنه کې ډېرې ښې اغيزې پرېږدي.

په واده کې چې د هلک خپل خپلوان مرسته کوي ډېرې ښې اغیزې یې په فرد او کورنۍ کې راغلې دي، د هغوی اقتصادي مشکل ورباندې حل کېږي، سره له دې چې د ورکوونکي په ورکړه هغه ته کوم اقتصادي مشکل نه پیدا کېږي، ځکه ډېر خلک لږ لږ همکاري کوي چې د دې لږ لږ همکارۍ اغیز بالکل په هغې کورنۍ کې نه ښکاري.

د واده د ښو دودونو اغیزې حتی په اولاد باندې هم ښکاره کېږي، ښه نسل وجود ته راځي د واده په ښو دودنو سره د دوو کورنیو تر منځ ښه روابط مینه او محبت رامنځ ته کېږي.

واده د کورنیو د خوښیو یوه ورځ ده داسې خوښي ورته کېږي، لکه اخترونو کې، نو له همدې وجې ودونو ته له ډېرو لرې لرې ځایونه هم خپل خپلوان راجمع کېږي او دا ډېرې ښې اغیزې لري، یو بل ګوري، په خوښیو کې شرکت کوي، همکاري کوي خدمت کوي، چې دا ټولې خوښۍ اصلاً په هغه وخت کې ښه اغیز لرلی شي، چې د ښه دود له لارې واده شوی وي، ښه دودونه اصلاً ځوانانو ته ودونه اسانوي او د مجردۍ مشکلات له منځه وړي، او د مجردانو شمېر په کورنیو او ټولنه کې کمېږي او همدارنګه مجردانو په شمېر کې د کمښت نتجه دا هم کېږي چې د فحشا او بد کارۍ محنیوی په طبیعي توګه کېږي.

ناوې ته د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې د واده په وخت نغدې روپۍ ورکوي او په دې سره د ناوې د زیات وخت اقتصادي مشکل ورباندې حل کېږي.

څوک لباس او څوک د ناوې او زم لپاره د هغوی د کور سامان برابروي، چې د دې ټولو په مجموعه کې ښې اغیزې په کورنۍ باندې ښکاره کېږي.

خلاصه دا چې په افغاني ټولنه کې د واده په مرحله کې چې کوم مثبت دودونه شتون لري، فرد، کورنۍ او هم ټولنه ورڅخه ښه اغیزمنه ده، چې اصلاً د دې مرحلې د مثبتو دودونو اغیزې تر وروسته مرحله پورې هم تړاو لري، که چیرې د واده په مرحله کې د ښو دودونو شتون وي، نو بیا له واده وروسته ژوند او مرحله هم ډېره دې پورې تړلې ده او په هغه مرحله یې هم اغیزې که مثبت وي او که منفي په واده پورې اړه لري.

## دریم مطلب: له واده ورسته د مثبتو دودنو اغیزې

کله چې په کوزده او واده کې ښه او مثبت دودونه عملي شوي وي، نو د دې پایلې د هغې وړې او سترې کورنۍ په برخلیک کې ډېرې مثبتې اغیزې لري. کله چې یوه صالحه او ښه کورنۍ وجود ته راغله، نو له دې وروسته د دوی او د دوی دواړو کورنیو ژوند هم ور سره اغیزمن کېږي، چې په کوزده کې د نجلۍ او هلک هغه حقوق چې باید ورکړل شي، هغه په ښه شکل ورکول کېږي، نو د دوی ژوند یو له بل سره په مینه، محبت او همکارۍ سره تر سره کېږي او همدارنګه کله چې د کوزدې او واده په مرحله کې هغه څه چې د نجلۍ او هلک او دواړو کورنیو حقیقي ګټې په کې وي هغه عملي شي، نو د دواړو کورنیو ژوند هم په ښه شکل سره تر سره کېږي، ښځه او خاوند د کور په چارو کې یو له بل سره مرسته کوي، مشکلات زغمي، اقتصادي همکاري کوي، د کور په ژوند کې ګوزاره کوي، زیات اسراف او غوښتنې

نجلۍ له هلک ځخه نه کوي. د هلک او نجلۍ د خپلو خپلوانو لخوا زوم او ناوې ته میلمستیا او تحفې ورکوي، چې د دې ډېري ښې اغیزې، په فرد، کورنۍ، او ټولنه کې ښکاري، مینه، محبت او همېشه تګ راتګ د دواړو لوریو او کورنیو ترمنځ پیدا کېږي،کله چې په واده کې ښه دود رعایت شي، نو د هلک کورنۍ او خپله هلک له قرضدارۍ ځخه خلاص وي، د مزدورۍ لپاره نورو هېوادونو ته زړه نه ښه کوي او خپل عادي ژوند په خپل کور کې تیروي، دا اغیزې اصلاً د هغه ښه دود له وجې راغلې دي. کله چې په واده کې ناوړه دودنه ونه پالل شي، د دواړو کورنیو اقتصادي وضعیت ښه ساتل کېږي.
د ښو دودونو په نتیجه کې فرد، کورنۍ د دواړو کلیو او یا قومونه خپلو مسئولیتونو ته متوجه کېږي، اصلاً دا ښې اغیزې د هغه مثبت دود له وجې دي، په کورنیو کې سړی او ښه ښځه خپل ځان مسئول ګڼي او کوښښ کوي، د مسئولیت د ترسره کولو په نتیجه کې د دواړه کورنۍ ژوند ډېر ښه مخکې ځي. هغه غټې کورنۍ هم د دې وړې کورنۍ په ښه ژوند خوشحاله او ښه روابط ساتي او حتی په لویه کچه یو بل ته د احترام، عزت او قدر په سترګه ګوري، دا کورنۍ یو له بل سره په خوشحالیو او د غم په مراسمو کې ځانونه شریک بولي، کله چې ښه دودونه په ودونو کې رعایت شي، نو حقیقت دا دی چې پر ټولنه باندې یې ښې اغیزې راڅرګندېږي، ښه ټولنه د ریښتیني انسانیت، ښکارندوي کوي، لنډه دا چې په افغاني ټولنه کې په ښو دودونو پورې له واده وروسته د دې وړې او سترې کورنۍ د ژوند ټول برخلیک ورپورې تړلی دی.

## دریم مبحث: د مخکېنیو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

په دې مبحث کې د مخکینیو دودنو چې هغه مثبت وو، شرعي او قانوني حثیثت بیانېږي تر څو د مثبتو دودونو په اړه لوستونکو ته وضاحت وشي

## لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

### لومړی: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي حیثیت:

لکه څرنګه چې مو په سر کې ویلي ؤ چې الحمدلله افغاني ټولنه له پخوا اسلامي ټولنه ده او هغه دودونه چې مثبت او ښه دودونه دي، نو دا دودونه خو یا اصلاً د شریعت په راتګ سره په دې ټولنه کې دود شوي دي او یا هم له ډېر پخوا څخه په دې ټولنه کې داسې دودونو شتون درلود او اسلامي شریعت هم د ښو دودونو تایید کوي تر څو یوه ښه ټولنه رامنځ ته شي.

اسلامي شریعت اصلاً د ښې ټولنې د ایجاد او د ښې کورنۍ د جوړښت امر کوي او په دې کې افرادو ته په لومړۍ مرحله کې چې د یوې کورنۍ تر جوړښت او ایجاد پورې تړلې ده. خپلې سپارښتنې لري، هر کله چې هغه سپارښتنې عملي شي، نو ښه کورنۍ وجود ته راځي او د ښې کورنۍ په وجود سره ښه ټولنه وجود ته راځي.

د اسلام مقدس دین هغه حسنه او ښه دودونه چې په ټولنه کې یې له پخوا شتون درلود نه دي تحریم کړي او نه یې په لرې کولو امر کړی دی، لکه: په عربو کې سخاوت، شجاعت، په وعده باندې وفا، د ګاونډي درناوی او داسې نور دودونه له پخوا په عربي ټولنه کې موجود وو او اسلام منع نه کړل، همداسې دودونه په افغاني ټولنه کې له پخوا شتون لري او ښه دودونه دي، نو په افغاني ټولنه کې هم زیات ښه دودونه شتون لري چې موږ په لومړي مبحث کې په تفصیل سره د مختلفو ولایاتو ښه دودونه ذکر کړل.

۱- خطبه: په افغاني ټولنه کې دا ډېر ښه دود دی چې د خطبې یا خیښي کولو په وخت کې مشران او پوه خلک چې د واده په قضیه ښه پوهېږي او ښه شهرت هم لري. د نجلۍ کور ته استوي او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیرت لارښوونه هم ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله غوښتل چې خدیجې رضي الله عنها ته د خطبې لپاره سفیر واستوي، نو یو اغیزمن کس یې ورولیږه چې هغه حمزه رضي الله عنه ؤ «فلما قالت ذلك لرسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر ذلك لاعمامه فخرج معه عمه حمزة بن عبدالمطلب حتى دخل على خويلد بن أسد فخطبها اليه فتزوجها»[۱]

خدیجه رضی الله عنه چې د مکې تاجره او د قوي شرف او مال څښتنه وه او هغې به د خپلو ځینو تجارتي سفرونو لپاره خلک استخدامول، نو کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صداقت او امانت څخه خبره شوه، نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې غوښتنه وکړه چې د دې له قافلې سره چې شام ته روانه ده ولاړ شي او خپل غلام میسره یې هم ورسره ملګری کړ، نو محمد صلی الله علیه وسلم د هغه وړاندیز ومانه.

---

[۱]) ابو محمد جمال الدین عبدالملک بن هشام بن ایوب الحمیری، ج ۱، ص ۱۱۰

کله چې په لاره کې میسره له رسول الله علیه وسلم څخه ځینې عجایب ولیدل او په مال کې یې هم زیاته ګټه وکړه، نو خدیجه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیاته متأثره شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د واده کولو وړاندیز وکړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قضیه له خپلو ترونو سره شریکه کړه نو بیا له نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د هغه تره حمزه رضی الله عنه لاړ او د خدیجې رضي الله عنها خطبه یې وکړه. دا خطبه په داسې وخت کې وه چې له دې څخه وړاندې د خدیجې رضي الله عنها غوښتونکي د مکې مالدار خلک او اشراف ډېر زیات وو، خو خدیجې رضي الله عنه خپل راز له خپلې رازدارې چې نفیسه نومیده شریک کړ او بیا نفیسه رسول الله علیه وسلم ته راغله او له هغه سره یې خبره شریکه کړه، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم له خپلو ترونو سره خبره شریکه کړه چې بیا حمزه رضی الله عنه ورغی او غوښتنه یې وکړه چې په پایله کې واده ترسره شو.[1]

۲- د کورنیو خپل منځي مشورې: په اسلامي شریعت کې مشوره یو اصل دی چې باید کارونه په مشوره سره ترسره شي، نو په کومه کورنۍ کې چې دغه اصل مراعات شي، نو د افرادو تر منځ یې ژوند په ښه توګه پرمخ ځي او دا کورنۍ یوه کامیابه کورنۍ بلل کېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له دې چې پیغمبر ؤ، الله تعالی ورته د مشورې کولو امر کړی دی چې له خپلو صحابه کرامو سره مشوره وکړي او د رسول الله علیه وسلم سیرت هم موږ ته دا راښیي چې د صحابه کرامو سره یې د ژوند په مختلفو چارو او مهمو قضایاوو کې مشورې کولې.

الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمایي: «وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ»[2]

د دې آیت لاندې مفسرین ځینې مسایل بیانوي چې یو مؤمن مسلمان باید هغه رعایت کړي، مخکې مو وویل چې رسول الله علیه وسلم سره له دې چې پیغمر هم ؤ بیا یې هم په هغو قضایاوو کې چې وحې به نه وه نازله شوې له صحابه کرامو سره مشوره کوله، په تفسیر المبین کې دکتور عبدالرحمن بن النفیسة وایي: مشوره د ښه تعامل یوه ستره نښه ده، سره له دې چې مخالف نظر به هم راځي او کله به په هماغه مخالف نظر عمل هم کېږي او دا مشوره اصلاً په هغو کارونو کې غوښتل کېږي چې په هغو کارونو کې وحې نه وي[3].

په سورت شورا کې الله تعالی فرمایي: « وَ الَّذِينَ اسْتَجابُوا لِرَبِّهِمْ وَ أَقامُوا الصَّلاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ»[4]

تر دې آیت نه لاندې علامه ابوعبدالله بن احمد الانصاري القرطبی وایي: انصارو به چې کله هم د یوه کار اراده وکړه، نو په هغه کې به یې مشوره وکړه او بیا به یې عملي کړه، نو الله تعالی د هغوی صفت په قرآن کریم کې بیان کړ، حسن وایي دا مشوره د دوی د تابعدارۍ نښه وه، د دې لپاره چې په کارونو کې د اختلاف پر ځای اتفاق وکړي او بیا وایي چې هېڅ قوم په کومه قضیه کې مشوره نه ده کړې، مګر الله

[1]) صفی الله مبارکفوري، رحیق المختوم، ناشر عبدالله خاموش هروي
[2]) د ال عمران سورت، ۱۵۹ ایت.
[3]) عبدالرحمن بن نفیسه، تفسیر المبین ج۲ ص۱۸۰
[4]) د شوری سورت ۳۸ ایت

تعالی ورته لاره ښودلي ده او کارونه یې ورته آسانه کړي دي او په پای کې علامه قرطبی وایي چې په مشوره کې برکت دی.[1]

مشوره د مؤمنانو له غوره صفاتو څخه شمېرل کیږي، له همدې امله مشوره د اسلامي ژوند تېرولو یوه مهمه ستن ده او له مشورې پرته ټولنیزې چارې پر مخ بیول، نه یوازې دا چې د جاهلیت کړنلاره ده، بلکې د الله تعالی له وضع کړي قانون څخه څرګند سرغړاوی دی، مشورې ته ځکه په اسلام کې ارزښت ورکړل شوی دی:

لومړی: د کومې معاملې ارتباط چې له دوو یا له دوو نه زیاتو کسانو پورې اړه ولري، په هغه کې په خپله رأیه باندې فیصله کول تیری دی. د عدل غوښتنه دا ده چې یوه معامله چې د زیاتو خلکو له ګټو سره اړوند وي، نو په هغې کې باید د نورو رأیه واخیستل شي.

دوهم: دا چې انسان په مشترکو کارونو کې په خپل سر کار کولو هڅه کوي. د دې لپاره چې خپلو اغراضو ته ورسیږي، د نورو حق تر پښو لاندې کوي، نو له همدې وجې اسلام په مشوره کولو ټینګار کړی دی.

درېیم: دا چې په کومه معامله کې د نورو له حقوقو سره تړلې وي. په هغې خپل سرې فیصلې کول. یو ډیر ستر مسئولیت دی. هر شخص چې د خپل رب څخه ویریږي، هغه هېڅکله هم د یو ستر بوج مسئولیت په غاړه نه اخلي او د دې جرات نه کوي.

دا پورته لاملونه داسې دي چې که انسان ورباندې غور او فکر وکړي، نو د هغه په ذهن کې دا خبره ښه ځای نیسي چې باید په هغو کارونو کې چې د دوو یا له دوو څخه زیاتو اشخاصو پورې تړاو لري، باید مشوره وکړي.[2]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې په هغو کارونو کې د مشورې کولو ترغیب راغلی دی چې هلته شرعي دلیل نه وي، تر څو خلک مشوره وکړي او خپل کارونه د مشورې له لارې تر سره کړي، امام بخاري رحمه الله د مشورې په اړه د صحیح البخاري په کتاب الاعتصام بالکتاب و السنة کې د دې آیت (وَالَّذينَ استَجابوا لِرَبِّهِم وَأَقامُوا الصَّلاةَ وَأَمرُهُم شورىٰ بَينَهُم وَمِمّا رَزَقناهُم يُنفِقونَ)[3] لاندې وایي مشوره مخکې د یو کار چې عزم ورته وکړي او د هغه کار د تبین، نو وروسته له دې چې مشوره یې وکړه او هغه کار ښه ورته واضح شو، نو بیا به د کار عزک کوي، نو له هغه وروسته دې په الله تعالی توکل وکړي او بیا وایي: و کانت الایمة بعد النبي صلي الله علیه وسلم یستشیرون الامناء من اهل العلم في الامور المباحة لیاخذوا باسهلها[4]

ایمه کرامو له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته له امینو علماؤ څخه په مباحو کارونو کې مشوره غوښتله، تر څو په اسانه رأیه باندې عمل وکړي او هغه اسانه رأیه واخلي.

---

[1]) ابو عبدالرحمن محمد بن احمد الانصاری القرطبی ج ۸، ص ۳۶

[2]) سید ابوالاعلی مودودی، تفهیم القران ج ۴ ص ۷۷۶مکتبه اداره احیاء العلوم

[3]) د شوری سورت ۳۸ ایت

[4]) محمد بن اسماعیل البخاری، صحیح البخاری ج ۱، ص ۷۱۹

عن ابي هريرة رضي الله عنه « كنتُ عندَ النَّبيِّ فأتاه رجلٌ فأخبره أنَّه تزوَّجَ امرأةً من الأنصارِ فقال رسولُ اللهِ أنظَرتَ إليها ؟ قال : لا قال : فاذهَبْ فانظُر إليها فإنَّ في أعيُنِ الأنصارِ شيئًا »[1]

په دې حديث شريف کې ابوهريره رضي الله عنه وايي چې يو شخص اراده درلوده چې له يوې ښځې سره واده وکړي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل هغې ته وګوره ځکه د انصارو د ښځو په سترګو کې څه شی شته يعني د سترګو کوچنيوالی او يا کوږ والی، نو له دې حديث شريف څخه معلوميږي چې څوک د يوې ښځې سره د واده کولو اراده لري، نو هغه ته مستحب ده چې هغه نجلۍ وګوري او امام نسايي دغه حديث په باب استشارت المراءة رجلا فيم يخطب کې راوړی دی.

**۳- د هلک او نجلۍ کورنيو لخوا يو بل ته ميلمستيا:**

په افغانستان کې الحمدلله په مجموع کې ميلمه پالنه شتون لري، د هر ميلمه اکرام کوي، که هغه پيژني او که نه يې پيژني، ميلمه پالنه زموږ د ولس پخوانی دود دی او په ټول ولس کې شتون لري، هر څوک د خپل توان مطابق د ميلمه اکرام کوي.

د اسلام مقدس دين هم د ميلمه اکرام او عزت د ايمان يوه برخه ګڼلي ده او هم يې د دعوت د قبلولو حکم کړی دی چې هر کله د يو شخص لخوا دعوت درکړل شو او شرعي عذر دی نه درلود، نو د هغه بلنه به نه ردوې.

عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ : قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَسَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ »[2].

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: يو مسلمان پر مسلمان په ښه توګه شپږ حقوق لري: کله چې ورسره مخامخ شي، نو سلام به پرې اچوي، کله يې چې بلنه ورکړه نو بلنه به يې قبلوي، دعا به ورته کوي چې کله يې پرنجی وکړ او پوښتنه به يې کوي چې کله مريض شو او له جنازې سره به يې ځي چې کله مړ شو او هغه ته به هغه څه خوښوي چې د ځان لپاره يې خوښوي.

په دې حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم د ميلمستيا په اړه ويلي دي چې بايد د ميلمستيا بلنه قبوله شي، د ميلمستيا له امله د کورنيو تر منځ تعارف، مينه او محبت پيدا کيږي چې دلته د کوزدې په مرحله کې دغه ميلمستيا کيږي. د دې اصلي هدف هم همدا دی چې کورنۍ يو بل وپيژني او تر منځ يې مينه پيدا شي.

**۴- يو بل ته سوغات او تحفې ورکول:**

سوغات او تحفې ورکول زموږ په افغاني ټولنه کې له ډېر پخوا څخه دود دی او په مختلفو مراسمو کې خلک يو بل ته سوغات ورکوي او همدارنګه کورنۍ يو بل ته په مختلفو مراسمول کې د خپل توان مطابق ډالۍ ورکوي. په سوغات او تحفو ورکولو سره د افرادو او کورنيو تر منځ مينه او محبت پيدا کيږي، خو

---

[1]) احمد بن شعيب نسايي سنن نسايي ج ٢ ص ٢٤٨٦ صححه الالباني فی غاية المرام
[2]) ابومحمد الحسين بن مسعود البغوی مشکوة المصابيح ج ٢ ص ٣٩٨ مکتبه فاروقيه پيښور

دا سوغات ورکول هم په هغه اندازه چې په کې افراط ونشي، خو په بعضو وختونو کې چې د ښځو لخوا په کې افراط کېږي افراد او کورنۍ په حرج کې واقع کوي او له دې وجې هغه هديه او سوغات چې ښځې يې غواړې برابري نشي، کله ناکله روابط قطعه کېږي، خو اصلاً سوغات د دې لپاره دی، چې د افرادو او کورنيو تر منځ مينه او حبت پيدا شي، لکه: په حديث کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مُسْلِمٍ عَبْدِ اللَّهِ الْخُرَاسَانِيِّ– رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – أَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَصَافَحُوا يَذْهَبْ الْغِلُّ، وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا، وَتَذْهَبْ الشَّحْنَاءُ» [1].

په دې حديث شريف کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: يو بل ته تحفې ورکړئ، تر څو مو تر منځ محبت پيدا شي. په دې کې څو نقطې چې مهمې دي بايد پاملرنه ورته وشي، څکه مخکې مو وويل چې د سوغات ورکولو مشخص هدف دی، نو بايد د هماغه هدف د لاسته راوړلو لپاره تحفې ورکړل شي:

لومړی: دا سوغات چې چاته ورکوي د الله د رضا لپاره يې ورکړي، يعنې نيت په کې خالص وګرځول شي او د ورکولو په وخت دا فکر وکړي چې الله تعالی دې په دې کې برکت واچوي، تر څو د دې سوغات په واسطه د هغه شخص يا هغې کورنۍ زړه په لاس راوړل شي او په نتيجه کې محبت منځ ته راشي.

دوهم: مناسبه تحفه او سوغات: په دې معنا چې شخص او د هغه حالاتو ته په کتو هغه ته سوغات ورکړل شي ښځې ته سوغات د نارينه په پرتله مختلف وي، ځوان ته د ښځې په پرتله مختلف او همدارنګه حالاتو په کتو سوغات ورکړل شي.

دريېم: د خپل توان مطابق وي او په سوغات ورکولو کې ډېر تکليف ونه شي، څکه کله ناکله د تکليفي سوغات د نه پيدا کېدو له وجې روابط قطعه کېږي.

څلورم: شرعي موانع نه وي، لکه: رشوت چې په خپله نامشروع کارونه ورباندې کول غواړي يا نامشروع اشياء نه وي.

کله چې دا پورتني نقاط په نظر کې ونيول شي، نو مطلوب هدف هم په لاس راتلای شي او هم به د الله تعالی رضا حاصله شوې وي.

**۵- د نجلۍ او هلک په اړه معلومات جمعه کول:**

په افغاني ټولنه کې وروسته له دې چې د هلک د کورنۍ لخوا له مشورې وروسته کومه نجلۍ انتخاب شي، نو د هلک د کورنۍ کم تعداد ښځې چې له پنځو ښځو زياتې نه وي. د نجلۍ د کتلو لپاره د نجلۍ کور ته ورځي، تر څو د نجلۍ په اړه پوره معلومات په لاس راوړي، د خپلوانو په وسيله خطبه کول، لکه: مور، خور، ترور او... په وسيله خطبه وکړي چې دا د اعتماد او بارو ولا اشخاص وي، خطبه کولی شي [2].

[1]) مالک بن انس ابن مالک بن ابي عامر بن عمرو بن الحارث ابوعبدالله، الموطا للامام مالک، ج ۲، ص ۴۵۹ قال الالباني في ارواء الغليل: مرسل ضعيف

[2]) شيرزاد عزيزي، د اسلام کورنی نظام ص۳۴

او همدارنګه د نورو ښځو په وسیله چې د هلک خپلواني هم نه وي چې دده وربانديې باور وي، کولی شي د نجلۍ په اړه معلومات جمعه کړي او ځان مطمین کړي.
او هغه ښځه په ډېر دقت سره نجلۍ وګوري او د معلوماتو له راټولو وروسته هغه هلک ته بې له کوم کمي او زیاتي ورسوي.
نجلۍ هم کولای شي یو شخص چې د دې وربانديې باور وي، موظف کړي، تر څو د هلک په اړه پوره معلومات حاصل کړي. د هغه اخلاق، رفتار، تعامل، ملګري او... ځکه ښځه هم دا غواړي چې خاوند یې د هغې په خوښه وي[1].
د کوزدې د مرحلې باقي مثبت دودونه لکه جوړه ورل، دسمال ورکول، شیرني تقسیمول په افغاني ټولنه کې اصلاً داسې نور دودونه چې د کوزدې په مرحله کې شتون لري. د اسلام تر عمومي قواعدو لاندې راځي او په اسلامي شریعت کې هغه دود د اعتبار وړ دی چې له شرعي نصوصو سره په ټکر کې نه وي، بلکې دودونه په معاملاتو کې یو لوی اصل ګڼل کېږي او اصلاً عرف او دود ته اعتبار او ارزښت ورکول، د اسلامي شریعت په پراختیا او هر وخت او هر ځای کې د هغه عملي کولو په صلاحیت دلالت کوي، ځکه دود او عرف د وخت او ځای په تغییر سره بدلون مومي، نو هغه احکام چې د عرف او دود پر بنسټ ترسره کېږي، هغه هم تغییر کوي او د هغو پر ځای نوي حکمونه له وخت او ځای سره مخې ته راځي، خو په همغه مخکې شرط چې له شریعت سره ټکر ونه لري.
له همدې امله فقهاؤ ستره قاعده وضعه کړې ده چې العادة محکمة یعنې عادت د حکم د اثبات لپاره حکم دی.
د پورتنیو دودونو لپاره عمومي قواعد چې تر هغو لاندې راتلای شي:
۱- د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قول دی چې وایي: ما راه المسلمون حسنا فهو عندالله حسن[2].
۲- الأصل في الأشیاء الإباحة[3]
د پورتینو دودونو د شرعي حیثت لپاره دا قاعده هم دلیل دی چې اصل په شیانو کې اباحت دی، هر کله چې د یوه شي په اړه په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې د تحریم په اړه څه نه وي او هغه دود د شرعي نصوصو سره ټکر ونه لري، نو د تحریم نشتوالی یې پر اباحت دلالت کوي، خو که چیرې شرعي مانع ؤ او یا د بلې قاعدې لاندې یې ممانعت راتلو، نو مباح نه بلکې حرام دی، مثلا عبادت به له ځان څخه نه جوړوو، د بل شخص په مال کې د هغه له اجازې پرته تصرف حرام دی.
د دې قاعدې پر اساس ډېر عقود او تصرفات بیرون کېږي چې د هغو په اړه صریح جواز او یا عدم جواز وارد شوی وی[4].

---

[1] وهبه زهیلی فقه خانواده در جهان معاصر صفح ۷۷ مکتبه احسان
[2] عاصم بن عبدالله بن ابراهیم الخلیلی اقریدی – ګوګل او مسند احمد بن حنبل ج ۶ ص ۸۴ د حدیث شمیره ۳۶۰۰
[3] عبدالکریم زیدان، فقهي قواعد، ص ۱۷۷
[4] عبدالکریم زیدان، قواعد فقهی ص ۱۵۷ انتشارات مستقبل

د دې قاعدې په رڼا کې معاصر اسلامي فقيه دکتور يوسف قرضاوي وايي: د حرامو دايره په اسلامي شريعت کې تنګه او د حلالو دايره په اسلامي شريعت کې ډېره پراخه ده، ځکه صحيح نصوص د تحريم په اړه ډېر دي، خو هغه امورات چې د هغو په اړه د حل او حرمت په اړه څه نه وي ويل شوي، هغه د همدې قاعدې لاندې راځي چې هغه عفو او مباح دي[1].

پورته قواعدو ته په کتو سره په افغاني ټولنه کې هغه دودونه چې د کوزدې په مرحله کې شتون لري او د هغو دودونو په اړه شرعي ممانعت هم شتون نه لري، نو دا شرعي حيث لري او د کورنيو په دې دودونو کې کوم نقصان هم نشته، ځکه دسمال ورکول اصلاً د نجلۍ د کورنۍ د رضايت نښه ده او هرکله چې د هلک کورنۍ خپل دسمال په لاس راوړي، له هغه وروسته خپل خپلوان هم په دې مطمين شي چې کوزده وشوه او له دسمال څخه وروسته مبارکۍ ته هم خپل خپلوان ورځي.

او همدارنګه هغه ميوې او شيرني چې د توان مطابق تقسيميږي، هغه هم د دې قاعدې لاندې راځي او هغه شيرني هم د يو اعلان په شکل هلک کاروي.

لنډه داچې د دې دودونو نتايج په افغاني ټولنه کې مثبتې او ښې اغېزې هم لري او شرعي حيثيت يې د پورته دلايلو په استناد پيدا کړی دی.

## دوهم: د کوزدې د مرحلې د مثبتو دودونو قانوني حيثيت:

واده کول يو انساني ضرورت دی چې په الهی شرائعو او بشري قوانينو کې ورته پوره توجه شوې ده. واده کول د بشريت د تاريخ په اوږدو کې د يوه انساني ضرورت په توګه رواج درلود، خو د دغه مهم عقد د ترسره کولو لپاره بيلابيل ديني او قانوني احکام او متفاوتې بشري تجربې شتون لری.

دا چې واده کول يا د شريعت په اصطلاح نکاح تړل، د بشريت يو مشترک او ګډ رسم دی، نو هره ټولنه، هره جغرافيه، د هر دين او فلسفې پيروان او همداسې د هر قام وګړي جلا جلا رواجونه لري، چې له قديمه او پخوانيو نسلونه ورته په ميراث پاتې دي. دغه دودونه او رواجونه د دغه مقدس او مهم عقد له پيل نه نيولې تر آخرنۍ مرحلې پورې په ځانګړو اشکالو ترسره کيږی.

په افغانی ټولنه کې هم واده يو مقدس عقد بلل کيږی چې د ښځې او نارينه تر منځ د مشروع اړيکو ټينګولو يواځېنۍ لار هم بلل کېدای شی. په دغه ټولنه کې له ډېرې اوږدې مودې راهيسې ځانګړي آداب، رسوم، رواجونه او دودونه د خواستګارۍ له پيل نه شروع تر واده او له واده نه وروسته د څه مودې لپاره دوام لري. دا چې په افغاني ټولنه کې د مختلفو اقوامو د اوږد مهالي اوسېدنې او د غني فرهنګ سربيره د دغو دودونو په اړه داسې يو جامع او ټول شموله تحقيق چې د موجوده ټولو رواجونو او دودونو ارزونه له قانوني ليدلوري څخه شوې وي، لا نه دی شوی.

نو دغه موضوع چې (په افغاني ټولنه کې د واده مثبت او منفي دودونه) تر عنوان لاندې ده، په دوه جلا فصلونو کې؛ يو د مثبتو دودونو او بل د منفي دودونو تر عنوان لاندې ځانګړې کړې ده. چې په يو فصل کې به د هغو دودونو او رواجو چې د هيواد موجوده او نافذ شويو قوانينو کې ځای لري او بل فصل د

[1]) يوسف القرضاوی مقاله الاصل فی الاشياء الاباحة - ګوګل

هغو رسومو او دودونو په اړه چې په قانون کې په صراحت سره د هغوی ترسره کول منع شوي یا د قانون د فحوی څخه د هغوی د ممانعت استنباط کېدای شي.
د دې لپاره چې یو رسم یا دود د قانون په رڼا کې څه حکم لري؟ قانون یا قانون جوړونکي په عامه توګه رسمونو او رواجونو ته له کومې زاویې ګوري؟ ولې یو عمل په قانون کې مجاز او بل منع ګرځول شوی؟ د دغو او دغو ته ورته پوښتنو د ځواب لپاره اړینه ده چې د قانون جوړونې هغه اصلي اصول او معیارونه بیان کړو، تر څو د قانون لید لوری د مثبتو او منفي دودونو په اړه ښه روښانه شي.
د یوې پدیدې یا د یو عمل د کولو یا نه کولو لپاره قانون یا په ټوله کې قانون جوړونکي درې اصولو ته ګوري؛
لومړی اصل، اسلام من حیث د دین باید د اساسي معیار په توګه په نظر کې ونیول شي. معنا دا چې قانون جوړونکي چې کله وغواړي د یوې پدیدې یا یو عمل (د ترسره کولو یا نه کولو) په اړه قانوني حکم تسوید کړي، له هرڅه نه مخکې د همدې پدیدې په اړه د شریعت حکم ته مراجعه کوي.
په همدې اړه د اساسي قانون درېیمه ماده داسې وایي: "په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام دسپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي"[1].
نو که چېرې په شریعت کې د یو حکم په هکله په صراحت یا په ضمني توګه ممانعت نه یې راغلی، نو قانون جوړونکي کولی شي چې د عصر د مقتضیاتو سره سم د ټولنې اړتیاوو ته په کتو، یو نوی حکم د قانون د مادې په صورت قایم کړي.
دویم اصل، عرف د انساني ټولنې د تجربو د یوې مهمې منبع په توګه ملاک او معیار ګرځول؛ معنا دا چې هغه څه چې د ټولنې په عرف کې منع نه وي او له عرف سره په تضاد او تناقض کې واقع نشي، د هغه لپاره هم قانون جوړونکي کولی شي، چې یو نوی حکم د قانوني مادې په صورت تسوید کړي، خو شرط یې دا دی چې دغه عرف باید پسندیده او ښه عرف وي، ناپسند او بد عرف معیار جوړېدای نشي او قانون کولی شي، له بد عرف سره په تعارض کې واقع شي.
درېیم اصل، قانون جوړونکي چې کوم نوی حکم د یو عمل په اړه د قانوني مادې په صورت تسویدوي، دغه حکم باید د قبح او ضرر نه خالي وي. تر څو هغه مشخصه بشري ټولنه چې دغه قانون ورته جوړیږي له یوه نوي مشکل سره مخ نه کړي.
اوس له دغې مقدمې سره، دا ویلی شو، په ودونو کې چې کوم دودونه قانون منلي او د کومو اعمالو یې چې جواز ورکړی، هغه نه له شریعت سره په ټکر او تعارض کې دي، نه د ټولنې له عرف سره او نه هم کوم قبح بنه لري، چې یاد دودونه مو د مثبتو دودونو تر عنوان لاندې ذکر کړي دي.
له دې سره د یوې بلې موضوع یادونه هم اړینه بولو، هغه دا چې په افغانستان کې قانون جوړونکي دغې مسئلې ته پوره پام کړي او په مختلفو اختصاصي او عمومي قوانینو کې د دغې موضوع په اړه حکمونه بیان کړي.

---

[1]. د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، اساسي قانون، د تصویب کال ۱۳۸۲ (۳ ماده).

په سر کې اساسي قانون چې د ټولو قوانینو مور بلل کېږي او له ټولو قوانینو څخه لوړ مقام لري، لکه څنګه چې پورته مو ورته اشاره وکړه ۵۴ ماده دغو او دې ته ورته مسایلو ته ځانګړې شوې ده.
د اساسي قانون تر څنګ بل مهم قانون چې د واده په پروسه کې يې دودونو ته پام کړی او واضح حکمونه يې بيان کړي، هغه "مدني قانون" دی، چې د نکاح او واده په اړه د دغې اوږدې پروسې له لومړي قدمه تر پايه پورې ټول مسايل له دودونو او رواجونو سره بيان کړي او د دغه قانون يوه لويه برخه همدې موضوع ته ځانګړې شوې ده.
بل مهم تقنيني سند چې د يادې موضوع په اړه دلته د يادونې وړ دی، هغه د "کورنۍ قانون" دی. دا چې اساسي قانون کورنۍ ته ډېر پام کړی دی او پوره اهميت يې ورکړی، نو له دولت څخه غوښته کېږي چې د مدني قانون هغه مواد چې د کورنۍ او په ځانګړې توګه د واده کولو په اړه دي، هغه په يوه ځانګړي قانون کې راټول کړي او د اوسني عصر له مقتضياتو سره نور مهم مواد هم ورسره يو ځای شي، تر څو د يوه اختصاصي مهم قانون په بڼه د نورو تقنيني اسنادو په ليست کې ځای و نيسي.
خو دا چې دغه موضوع تر ډېره حده د فقهي مسايلو تابع وه او د مختلفو مذاهبو فقهاوو مختلف نظريات په کې وو، نو حکومت مجبور و چې دوه جلا تقنيني اسناد يو د اهل تشيع او بل د اهل سنت لپاره ترتيب او تسويد کړي.
د اهل تشيع لپاره د قانون طرح جوړه او د قانون احوال شخصيه اهل تشيع په نوم پارلمان ته وړاندې شوه چې له يو څه تعديل سره تصويب او نافذ شوه، خو د اهل سنت مربوط چې کوم قانون بايد جوړ شوی وای، د هغه په طرحې ډېر کار وشو اما د حکومت لخوا پارلمان ته وړاندې نه شوه. نو د کورنۍ په اړه دغه مهم تقنيني سند د يوې قانوني طرحې په شکل پاتې شو.
بل مهم او له دغې موضوع سره ډېر مرتبط تقنيني سند، د واده د مراسمو قانون دی چې بيخي د همدغې موضوع په اړه تسويد او تصويب شوی دی. د دغه قانون اصلي موخه په واده کې د ناسمو دودونو مخ نيوی دی. له دې سربېره د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي او د ښځو د آزار او اذيت د مخنيوي قوانين هم يو څه ارتباط ورسره لري.
خواستګاري يا خطبه چې د واده د پروسې لومړی مرحله ګڼل کېږي، په دې مرحله کې ځينې دودونه او رواجونه داسې دي چې د سم او منل شوي عرف سره په ټکر کې نه دي او همداسې د شريعت له احکامو سره په تضاد او تعارض کې نه دي، د دې ترڅنګ کوم بل قبح يا ضرر هم نه لري، نو دغه دودونه او رواجونه دې، په ټولنه کې قانون جوړونکي هم په نظر کې ونيسي او د هغوی د ترسره کولو اجازه وکړي.

"دغه دودونه په لاندې ډول دي: د هلک د کورنۍ د ښځو لخوا د نجلۍ لیدل، غوښتنه یا خواستګاري، د واده له موافقې وروسته د دواړو کورنیو لخوا راشه درشه، د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته میلمستیا، نیمه نکاح، د هلک د کورنۍ معلومات حاصلول، شیرینیخوري، د کوژدې په مرحله کې د نجلۍ کور ته هلک ته اجازه نه ورکول، شیرینیخوري مراسم دنارینه او ښځینه وو په ګډون، پایوازي د ښې خلاصې میلمستیا، د دواړو کورنیو لخوا، دناوې دجهیز تیارولو لپاره یو اندازه پیسې ټاکل، ددواړو کورنیو لخوا یو بل ته په ډالۍ کې سوغاتونه اخیستل، داخترونو په رارسېدلو سره د نجلۍ کورته داختر ډالۍ وړل چې دا اوس نږدې، په ټول افغانستان کې رواج شوي، د نوي کال په رابرسېره کېدو سره خاص خوراکي توکي او پوښاک وړل، دا چاره هم عامه ده، دلفظ ورکولو مرحله ده چې هلته د خپلوي کولو وعده ورکول کېږي، بیا وروسته دنامزادي (کوژدني ) میلمستیا وي چې ښځې او سړي په کې ګډون کوي، ناوې ته قیمتي لباس او زیورات اخیستل، دناوې پر سر شال اچول، په اخترونو کې ناوې ته قیمتي ډالۍ وړل، د کال په نوي کېدلو سره ډالۍ وړل، د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ لیدل، د نجلۍ د کورنۍ لخوا دهلک د کور او کورنۍ لیدل، د نجلۍ د کورنۍ د مشرانو تر منځ سلا او مشوره کول، دهلک لیدل بیا له هغې وروسته خواستګاري (ریباري) وي، د ښځو لخوا دریباري په موخه سوغات وړل، که چېرې دپیغلې کورنۍ خپلوي ونه غواړي، نو د هلک کورنۍ سوغات بېرته ورستنوي، یعنې د ډالۍ قبلول د خپلوي کولو لپاره مثبت ځواب دی، له ښځو وروسته نارینه د ناوې کورنۍ ته د ریباري لپاره ورځي او په اصطلاح لفظ ورځيني اخلي، دشیرینیخورۍ(کوژدني) محفل چې په هغه کې د نجلۍ او هلک د کورنیو پرته نژدې دوستان او خپلوان هم برخه په کې اخلي، تر څو له دې نوې خپلوۍ، ټول خبر شي. د همدې مراسمو په ترڅ کې، ایجاب او قبول، ناوې ته ځانګړی شال ور په سر کول هم ترسره کیږي، د ولور ټاکل، له ولور ټاکلو وروسته د دعا پروګرام، پوښ، د خوږې مراسم، د هلک او نجلۍ نه اړیکې، لباس او جوړې، شیربها، د خواستګارۍ لپاره سلا مشورې، د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ لیدل، د نجلۍ د کورنۍ لخوا د هلک د کور او کورنۍ لیدل، د نجلۍ د کورنۍ د مشرانو تر منځ سلا او مشوره کول، چې د خوږې د لګښت لپاره زیات مقدار پیسې له زوم څخه تر لاسه کیږی، دکوېدنې دپرېکړون پر ورځ د مهر ټاکل، دخوږې پر ورځ د جینۍ د کورنۍ لخوا د هلک د کورنۍ ټولو سړو او ښځو ته لباسونه ورکول، د پیغلې لیدل، غوښتنه او خواستګاري، د دواړو کورنیو تر منځ راشه درشه، د ناوې کورنۍ ته میلمستیا، د نجلۍ کورنۍ ته لباس او جوړې، د نجلۍ کورنۍ ته جوړې او لباس ورکول، په ځانګړې توګه جینۍ ته دجوړو راوړل، د مقدار په توپیر سره طلا اوزیورات اخیستل"

په دې اړه لومړی که د افغانستان اساسي قانون ته مراجعه وشي، نو د اساسي قانون څلور پنځوسمه ماده، د کورنۍ د اهمیت او د دولت د مسئولیت په اړه داسې وایي: "کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده".

له دې ورها خوا، اساسي قانون په همدې ماده کې زیاتوي چې: "دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، د ماشومانو دروزنې او د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي"۱.
د اساسي قانون د یادې مادې په اساس "کورنۍ د ټولنې اساسي رکن" بلل شوی، د دغه حکم مفاد دا دی چې دولت به کورنۍ ته چې د ټولنې اساسي رکن دی، خورا پاملرنه کوي او د همدې مادې په بله برخه کې وايي چې "... او د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي"۲. دا په ډاګه کوي، هغه ټول ناسم او منفي دودونه چې د اسلامي شریعت د احکامو سره مغایر دي او هغه رسوم او رواجونه چې له دیني احکامو سره په تعارض او ټکر کې دي، باید له منځه یوړل شي، د هغوی مخنیوی وشي او د هغوی د ترویج لاره بنده شي.
د اساسي قانون له دغې مادې څخه داسې استنباطیږي، هغه دودونه او رواجونه چې د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره مغایر او متعارض نه يي او هغه رسوم چې د شریعت له احکامو سره په ټکر کې نه وي، هغه د قانون په رڼا کې مجاز دي او هېڅ مشکل نه لري. د یادې مادې مفهوم عیناً، لکه: د فقهي احکامو په شکل بیان شوی چې د اباحت وسیعه فضاء يی آزاده پرېښې او یوازې د قانون له مخې هغه دودونه او رواجونه چې باید له منځه یوړل شي، د هغو یادونه شوې.
بل دا چې قانون جوړونکو د اساسي قانون په یاده ماده کې ټول تمرکز د شریعت په اصالت کړی او د اسلام د سپیڅلي دین احکام يې د معیار او ملاک په شکل معرفي کړي دي، ټول هغه رواجونه چې د دغه معیار سره سم نه دي، هغه نه یوازې چې منع شوي، بلکې د هغوی د له منځه وړولو لپاره جدي سپارښتنه هم شوی ده.
همدا راز د مدنی قانون په مختلفو موادو کې د نامزادۍ یا کوژدې په اړه احکام بیان شوی، لکه: په ۶۳ ماده کې خواستګاري، په ۶۴ ماده کې نامزادي، په ۶۵ ماده کې نجلۍ ته هدیه یا تحفه ورکول، په ۶۶ ماده کې لفظ ورکول یا ایجاب او قبول او په ۷۲ ماده کې، د وکېل نیول یاد شوي، دا ټول هغه څه دي، چې په ټولنه کې رواج لري او د افغانستان په ټوله جغرافیه کې همدا دودونه شته او خلک يې پالي او مدني قانون هم د دغو دودونو د مجاز ګڼلو په پار قانونی حکمونه بیان کړي دي[3].
خو دا چې دغه یاد مواد په یوازې توګه د ټولو هغو رواجونو او دودونو د قانوني او مجاز ګڼلو لپاره کافي نه دي، نو اړینه ده چې د واده د مراسمو د تنظیم قانون ته هم مراجعه وکړو.
په افغانستان کې د واده کولو مراسم او ددغې پروسې په اړه قانون جوړونکو له ډېر پخوا پاملرنه کړې ده. د کمونیستي رژیم ځینې فرامین د حکومت لخوا صادر شوي دي، چې ښایي د دودونو او رواجونه په اړه لومړی قانوني اقدام و بلل شي، ځکه چې په دغه ساحه کې له دې مخکې یوازې په مدني قانون کې یو

---

[1]. د افغانستان جمهوری اسلامي دولت، اساسي قانون، د تصویب کال ۱۳۸۲ (۵۴ ماده)
[2]. د افغانستان جمهوری اسلامي دولت، اساسي قانون، د تصویب کال ۱۳۸۲ (۵۴ ماده)
[3]. د افغانستان مدنی قانون قانون چې په کال ۱۳۵۵ کال کی د رسمی جریدی په ۳۵۳ ګڼه نشر او نافذ شوی دی، چې د لومړی قسمت، دویم فصل شپږم مبحث (۸۹-۶۲ مادی پوری ) د واده په اړه ځانګړی شوی دی.

څه داسې احکام وو چې د واده کولو حقوقي چوکاټ یې بیان کړی وو، خو د رسمونو او رواجونو په اړه ډېر څه په کې نه وو بیان شوي، تر دې چې په دې وروستیو کې د واده د مراسمو قانون([1]) تدوین او نافذ شو.

که څه هم ځیني خلک په دې باور دي چې د واده د مراسمو په اړه قانوني احکام صادریدل، د وګړو په شخصي حریم کې مداخله او تعرض دی چې باید ترینه ډډه وشی، خو ډېر بیا په دې نظر دي چې دغه قانون له یوې خوا له دیني احکامو سره انطباق لري او له بلې خوا د اساسي قانون د ۵۴ مادې د پلي کولو لپاره یواځنی عملي کړنلاره ده، چې له دغه قانون سره به د ټولنې ټول هغه دودونه چې د شریعت سره په ټکر کې دي، مخنیوی وشی، نو دا قانون له دې امله د ټولنیزې اصلاًح لپاره یو مهم او اړین ګام بلل کېدای شي.

د واده د مراسمو قانون په دویمه ماده لومړۍ فقره کې؛ د واده د پروسې اړوند ټول هغه محفلونه په داسې شکل بیان شوي: "محفلونه: هغه مجلسونه دي چې د لوظ اخیستنې، نامزادۍ (کوزدې) شیریني خورۍ، خویش خورۍ، د نکریزو شپې، واده، تخت جمعی، پایوازۍ، .. اختریز او نوروزي او روژې او کالیزې په منظور تر سره کېږی"[2].

دغه یاد محفلونه او مجلسونه د یاد قانون له مخې مجاز ګڼل شوي، خو د همدې قانون په څلورمه ماده کې راغلي چې یاد مجلسونه په هوټلونو، رسټورانټونو او سالونونو کې نشي، ترسره کېدای. یعنې محض مجلس نیول او دغه دودونه ترسره کول، کومه ستونزه نه لري، مشروط په دې چې په هوټلونو کې تر سره نشي.

د واده د مراسمو د قانون د څلورمې مادې له حکم څخه داسې بریښي چې په اصل کې دغه رواجونه هیڅ مشکل نه لري، یواځنی مشکل یې له بې ځایه مصارفو سره دی، نو ځکه یې په هوټلونو کې د لمانځنې مخنیوی کړی.

د تحفو او ډالیو په اړه د واده د مراسمو د قانون په اوومه ماده کې داسې راغلي دي: "د اختري، براتي، رمضاني، نوروزي او دې ته ورته په نامه د نامزادانو د کورنیو تر منځ د ډالیو تحمیل او جبري کول منع دي[3]". د یادې مادې د حکم په بناء تحفې او ډالۍ ورکول او اخیستل، یو دود دی او مشکل نه لري، خو چې جبري او تحمیلي نه وي.

د یاد قانون نهمه ماده د جهیز په اړه داسې تصریح کړې ده: "زوم د هغه اولیاء او خپلوان، کولای شي، په خپله خوښه او رغبت، د ناوې د کورنۍ له غوښتنې پرته، یو اندازه پیسې د جهیزیې د برابرلو په منظور د ناوې لورۍ ته ورکړي. همدا شان د ناوې اولیاء او خپلوان کولای شي، په خپله خوښه مناسبه جهیزیه

---

۱. د واده د مراسمو قانون، په ۱۳۹۶ کال د جدی په میاشتی کی، د رسمی جریدی په ۱۲۸۰ گنی کی په ۴ فصلونو او ۲۵ مادو کی نشر شوی.
۲. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۲) فقره (۱).
۳. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۷).

ناوی ته هدیه کړي. نورو ته د هدیې ښودل منع دي[1]". د واده د مراسمو د قانون د نهمې مادې د حکم په اساس، جهیزیه فی نفسه یو ښه دود او پسندیده رواج دی، خو دغه جهیزیه باید په خپله خوښه يې، چې هېڅ قسم جبر په کې نه يې او بل دا چې نورو خلکو ته له ښودلو ډډه وشی.
دا چې بیا هم د ټولو دودونو او رواجونو یادول او د قانون له لوري، د هغو تایید ناشونی دی، نو یاد قانون په دې اکتفا کړې چې یواځې د ناسمو دودونو د مخنیوي یا د سم دود هغه برخه چې د قانون جوړونکو له نظره ستونزه لری منع کړی. له دی څخه دا حقیقت استنباطیږي، ټول هغه دودونه چې په دې ټولنه کې موجود دي کومه ستونزه نه لري.

## دوهم مطلب: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

### لومړی: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو شرعي حیثیت:

۱- د واده ډوډۍ ته عامه بلنه:
په کلیوالي ماحول کې الحمدلله په ټول افغانستان کې دا یو ښه دود دی چې د واده ډوډۍ ته عامه بلنه ورکوي او حتی په ځینو ځایونو کې د ټول کلي نارینه، ښځینه او ماشومان دعوت کیږي او هېڅوک هم له ډوډۍ څخه نه منع کیږي چې د اسلام مقدس دین هم دا کار ښه بولي، په ځینو ځایونو کې د دې عکس بیا مالدار خلک د واده ډوډۍ ته بلل کیږي او غریب او ناداره خلک ورڅخه منع کیږي، اسلامي شریعت دغه عمل بد ګڼلی دی، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن النبيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قال : «شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ، يُمْنَعُهَا مَنْ يَأْتِيهَا، وَيُدْعَى إِلَيْهَا مَنْ يَأْبَاهَا، وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ، فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ»[2]
په دې حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه په ښکاره ټینګار سره ویلي دي، هغه طعام او خواړه چې د واده په مناسبت تیار شوي وي، خو مالدار او ماړه خلک ورته دعوت کیږي او غریب، وږي او هغه خلک چې اړتیا لري ترې منع کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ناکاره طعام ویلی دی.
او همدارنګه دا حدیث د دې ښکارندوي کوي چې مسلمانان باید په داسې مراسمو کې له فقراؤ او مساکینو سره احسان او نیکي وکړي، یتیمان او محتاج خلک باید په داسې مراسمو کې له یاده ونه غورځول شي، ځکه محتاج خلک هغو خوړو ته ضرورت لري او هر کله چې هغوی ته بلنه ورکړل شي، نو په ډېره خوشحالی سره بلنه هم قبلوي او د زړه له کومې د واده ډوډۍ ته حاضریږي.
باید دا دود عام شي په ښار کې هم باید دا دود رعایت شي او که نه نو هغه خواړه چې د واده په مراسمو کې اماده کیږي، خو مالداره خلک ورته دعوت کیږي او هغه خپل خپلوان چې فقیر او غریب دي هغوی له پامه غورځول کیږي ماشومان منع کیږي، لمر ته ولاړ وي، دریوران په خپلو موټرو کې انتظار وي او د هغوی مالکان ډوډۍ ته ناست وي، همدې خوړو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اشاره کړې ده چې دا بد خواړه دي، خلاصه دا چې زموږ په افغاني ټولنه کې د واده ډوډۍ ته په کلیوالو ساحو کې عامه بلنه

[1]. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۹).
[2]) مسلم بن الحجاج النسابوری کتاب النکاح، باب اجابة الداعی الی الدعوة ج۱ ص۱۰۱۶ مکتبه کت السته

ورکول کیږي چې په دې سره یو طرف د فقراؤ او مساکینو ضرورت رفع کیږي او له بل طرف څخه له هغوی سره د مینې او محبت ښکاره کول دي او د هغوی خوشحالي په لاس راځي او ځانونه محروم نه ګڼي.

۲- بلنه او دعوت قبلول:

دا هم په افغاني ټولنه کې یو اتفاقي دود دی، که څه هم چې ډېر لرې هم وي زموږ د افغاني ټولنې تشکېل تر نن پورې په هماغه اجتماعي شکل پاتې دی. تر ډېر لرې حده خپل اقارب پالل کیږي، په لرې کلیو، ولسوالیو، ولایاتو او حتی په بل هېواد کې چې هم ژوند کوي، خو چې کله ورته د واده د ډوډۍ بلنه ورکړل شي. د خپلوۍ او قرابت له وجې ځان حاضروي.

بل طرف ته اسلامي شریعت هم دا امر او حکم کوي چې په خپل اجتماعي ژوند کې باید هغه رعایت شي او دا بلنه قبلول یې یو پر بل حق بللی دی چې د مسلمان پر بل مسلمان باندې دا حق دی چې هغه ته دعوت او بلنه ورکړل شي باید قبوله یې کړي. عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ، فَلْيُجِبْ»[1] و ایضا عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا»[2].

پورتني دواړه روایتونه هم د دې ښکاروندي کوي چې د واده د ډوډۍ دعوت او بلنه قبلول واجب او لازم دي، نو د دې ترک ګناه ده او ښه کار نه دی، نو باید بې له شرعي عذره او یا د واده په مراسمو کې د معصیت له وجې ترک نشي.

نو د واده بلنه او دعوت قبلول لازم او واجب دي، تر څو په هغه مجلس کې د ګناه کار نه وي او حتی هغه څوک چې هغوی ته بلنه ورکړل شوې، که هغوی روژه هم وي، باید بلنه او دعوت یې قبول کړي، بیا که چېرې د دوی روژه فرضي وي، نو هغه شخص چې ده ته یې دعوت ورکړی په خپلې روژې خبر کړي چې زه روژه یم، تر څو چې هغه په ده باندې بد ګومان ونه کړي چې د ده ډوډۍ خوړل ښه نه ګڼي او یا یې د ده خواړه بد راځي او که چېرې یې روژه نفلي وي، نو بیا دې د دعوت کوونکي زړه ته وګوري یعنې که هغه په دې خوشحاله کېده چې باید دی روژه وخوري، نو روژه دې افطار کړي او که چېرې نه خپه کېده، نو خپله روژه دې سرته ورسوي.

او که ممکنه وه دا شخص چې روژه دی د واده په مراسمو کې شریک هم شي، خو د واده والا څوک پوه نه کړي چې زه روژه یم او دا امکان لري، ځکه د واده په مراسمو کې ازدحام او ګڼه ګونه زیاته وي، نو صرف په دې سره چې دی په مراسمو کې شریک شو او واده والا ته یې د خیر او برکت دعا وکړه، همدا کفآیت کوي او که څوک موږ هم وي یعنې بل ځای یې ډوډي خوړلې وي بیا دې هم د واده والا د خوشحالۍ لپاره حاضري ورکړي، ښه خبره ده، اګر که څه شی خوړلی هم نشي او یا خو دې لږ څه وخوري.

---

[1]) مسلم بن الحجاج النسابور صحیح مسلم ج ۱ ص ۱۰۱۶ مکتبه کتب السته

[2]) محمد بن اسماعیل البخاري صحیح البخاري کتاب النکاح، باب اجابة الوصیة ج ۱ ص ۵۲۶ مکتبه کتب السته

لنده دا چې زموږ په افغاني ټولنه کې دا تر نن پورې يو ښه دود دی چې د دعوت منل او د واده ځای ته حاضرېدل که څه هم مصرف پرې راځي. د خپلولی د پاللو او مينې او محبت د اظهار په موخه دا کار کوي.

۳- همکاري او کمک:

زموږ په ټولنه کې د واده د مراسمو له لومړۍ مرحلې شروع بيا تر پای پورې د هلک او نجلۍ له کورنۍ سره خپل خپل اقارب او خپلوان د خپل توان مطابق کمک او مرسته کوي، که هغه نغدي، خواړه، لباس او د سون مواد وي، د اسلامي شريعت له اوامرو څخه يو امر همدا دی چې د يو بل سره بايد همکاري او کمک وکړو «وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى»[۱]. ژباړه: په نيکۍ او تقوا کې يو بل سره مرسته کوئ.

پورتنی آيت په صراحت سره امر کوي چې مسلمانان بايد په خپل ورځني ژوند کې د يو بل سره همکاري وکړي، دا ځکه چې انسان يو اجتماعي موجود دی او د ژوند په چارو کې خپلې ټولې چارې په يواځېوالي سره مخ ته نشي بيولی، نو بايد يو د بل سره مرسته او کمک وکړي.

د انسانانو خپلمنځي مرسته او کمک د قرآن کريم يو مهم اصل دی.

پورتنی آيت د مايدې سورت د دوهم آيت اخري برخه ده په دې کې قرانکريم د يوې داسې اصولي او بنيادي مسئلې په اړه يوه حکېمانه فيصله کړې ده چې د ټول عالم د نظام روح دی او په کومه پورې چې د انسانانو د هرې صلاح او کاميابۍ او د ژوند بقاء تړلې ده، دا مسئله له يو او بل سره تعاون او مرسته ده، هر عاقل انسان په دې پوهېږي چې د ځمکې ټول نظام د مخلوق له يو بل سره په مرسته او کمک ولاړ دی، ځکه يو انسان په خپل ځان يوازې د خپل ژوند ټول ضروريات نشي پوره کولای، مقصد دا دی چې هر انسان د خپل ژوند په هره څانگه کې نورو خلکو ته محتاج دی او دا مرسته تنها په ژوند کې نه بلکې تر قبر پورې يو بل ته ضرورت لري.

لنده دا چې د ټولې دنيا نظام د يو بل په کمک او تعاون سره قايم دی[۲]. او همدارنگه علامه قرطبي رحمه الله په احکام القرآن کې وايي مسلمانان بايد په کمک او مرسته کې د يوه لاس په شان وي، مالدار بايد په خپل مال سره له نورو سره مرسته او کمک وکړي[۳]. او همدارنگه شهيد سيدقطب رحمه الله په في ظلال القرآن کې وايي: اسلامي تربيې وکولای شوای چې يو نفس دې ته تابع کړي چې د هغه اخلاق داسې اماده شي، تر څو په نيکو او خيريه کارونو کې له يو بل سره مرسته وکړي[٤].

او همدارنگه په احاديثو کې هم د همکاري په اړه ترغيب راغلی دی او د نبي کريم عليه السلام او صحابه کرامو سيرت موږ ته همدا راښيي چې مومن او مسلمان بايد يو له بل سره همکاري وکړي.

---

[۱]) د مايدې سورت ۳ آيت.

[۲]) مولانا مفتي محمد شفيع، معارف القرآن ج ۲ ص ۶۶.

[۳]) ابی عبدالله محمد بن احمد الانصاري القرطبي، الجامع لاحکام القرآن ج ۳ ص ۴۶

[٤]) شهيد سيدقطب، في ظلال القرآن ج ۲ ص۸۳۸.

عن ابي موسى رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «المؤمن لِلْمؤْمن كالبُنْيان يَشُدُّ بَعْضُه بَعْضا»[1]

عن أبي هريرة -رضي الله عنه- عن النبي -صلى الله عليه وآله وسلم- قال: «مَن نَفَّسَ عن مؤمنٍ كُرْبَةً من كُرَبِ الدُّنيا نَفَّسَ اللهُ عنه كُرْبَةً من كُرَبِ يومِ القِيامَة، ومن يَسَّرَ على مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عليه في الدُّنيا والآخرةِ، ومن سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ في الدُّنيا والآخرةِ، واللهُ في عَوْنِ العَبْدِ ما كَانَ العبدُ في عَوْنِ أَخِيهِ»[2]

عن ابن عمر رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ القِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ»[3]

له پورته دريو احاديثو څخه په ښکاره او صراحت دا معلوميږي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مؤمنانو او مسلمانانو ته د همکارۍ په اړه مختلفې سپارښتنې کړې دي، د همدې سپارښتنو په عملي کولو سره د انسانانو اجتماعي ژوند په ښه توګه پرمخ تللی شي.

او هرکله چې خپل خپلوان له يو بل سره په همکارۍ کې خپل ژوند مخ په وړاندې يوسي، نو د هغوی فردي، کورنی او اجتماعي ژوند په ښه شکل تيريږي او تر منځ يې مينه، محبت او دوستي پياوړې کيږي او دا د ژوند يو ستر ضرورت دی.

دا همکاري بايد د خير په ټولو چارو کې د خپل توان مطابق ترسره شي، قوي او ښه اخلاق اصلاً همدا دي چې د بل انسان سره د خير په کارونو کې همکاري وشي او نبي عليه السلام په حديث شريف کې څه ښه مثال ورکوي چې مؤمنان د يوه تعمير د خښتو په څېر دي يو بل قوي کوي، نو نن چې يو شخص له يوه بل شخص سره د هغه په واده کې همکاري کوي، سبا به له ده سره داسې همکاري او کمک وشي چې د ده به اميد هم نه وي او بل دا چې له يوه مسلمان سره په همکارۍ باندې الله تعالى يوه مسلمان ته څومره قوي امتيازات ورکوي، د دنيا او آخرت له سختيو به يې خلاص کړي او له مصيبتونو څخه به يې وژغوري، الله تعالى له هغه چا سره خپل خاص کمک کوي چې هغه له بل چا سره مرسته او کمک کوي.

د پورته حديث په اړه چې مسلمان بايد له نورو مسلماناو سره تعاون او همکاري وکړي حافظ بن حجر عسقلاني رحمه الله وايي:

په دې حديث کې مسلمانانو ته په تعاون کولو تيزي د دې لپاره ورکړل شوې ده چې د مسلمانانو تر منځ ښه ژوند او مينه پيدا شي[4].

د لومړي حديث په تشريح کې امام نووي رحمه الله وايي: دا حديث په دې کې ډېر صريح دی چې د مسلمانانو حقوق بايد رعايت شي او همدارنګه مسلمانان دې ته اماده کوي، تر څو خپلمنځي مينه او محبت او په نيکو کارونو کې له يو بل سره همکاري وکړي.[1]

---

[1]) مسلم بن الحجاج النيسابورى، صحيح مسلم، كتاب البر والصلة و الادب ج ١ ص ١٢٦٠

[2]) مسلم بن الحجاج النيسابورى، صحيح مسلم، كتاب الذكر و الدعاء و التوبة و الاستغفار ج ١ ص ٢٨٢

[3]) محمد بن اسماعيل البخارى، صحيح البخاري، كتاب المظالم ج ١٠ ص ٢٤٤

[4]) احمد بن على بن حجر العسقلانى، فتح البارى شرح صحيح البخاري ج ٥ ص ٩٧

۴- د واده مراسم ساده او آسانه دايرول:

په کليوالي او اطرافي ساحو کې د واده مراسم ساده او بې تکلفه جوړيږي، په کليوالي ساحو کې تقريباً د ژوند ټولې چارې په ساده شکل سره مخ ته وړل کيږي. په انساني ژوند کې آساني د اسلامي شريعت له اصولو څخه يو مهم اصل دی، الله تعالی په دې اړه فرمايي: «يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ»[٢] ژباړه: الله تعالی تاسې ته آساني غواړي او تاسې ته سختي نه غواړي. او په بل ځای کې فرمايي: « وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ»[٣]. ژباړه: او پر تاسې باندې يې په دين کې هېڅ کوم مشقت او تکليف نه دی ايښی.

د لومړي آيت په تفسير کې شهيد سيد قطب رحمه الله وايي: دا يوه ستره قاعده ده، په هغو مسايلو کې چې مسلمانان ورباندې مکلف دي آسانيتا ده، نه سختي کول، داسې آسانيتا کول چې انسان خپل ټول ژوند ورباندې تېر کړي[٤]. او امام الوسي په روح المعاني کې د لومړي آيت لاندې ليکي: دا د الله تعالی هغه نهايي نرمي او آساني او پراخه رحمت دی چې په انسانانو يې کړی دی.[٥]

همدارنګه د لومړي آيت لاندې علامه قرطبي وايي: لفظ د يسر عام دی د دين ټولو مسايلو او اموراتو ته شامل دی، ځکه د الله تعالی دين آسانه دی.[٦]

د دوهم آيت لاندې شبير احمد عثماني او محمود الحسن وايي: الله تعالی په دين کې داسې يو مشکل نه دی پرېښودی چې د هغه کول سخت او مشکل وي، په احکامو کې د هر ډول رخصتونو او آسانيتاو لحاظ ساتل شوی او دا خو بېله خبره ده چې تاسو يو آسان کار په خپل ځان مشکل او سخت کړئ[٧].

د همدې دوهم آيت لاندې مولانا مودودی رحمه الله وايي: يعنې ستاسو ژوند له هغو ټولو بې ځايه قيدونو څخه الله تعالی آزاد کړی دی، کوم قيدونه چې په مخکېنيو امتونو باندې د هغوی د علماؤ او پاپانو لخوا لګول شوي وو، په اسلام کې اجتماعي ژوند په ښه توګه تېرولو کې هېڅ ډول بنديزونه نشته دا دين يو ساده او آسانه دين دی او داسې يو قانون دی چې ستاسو د پرمختګ مخه نه نيسي.[٨].

مفتي محمد شفيع عثماني د دوهم آيت په تفسير کې وايي: د دين په احکامو کې يو حکم داسې نشته کوم چې في نفسه ناقابل برداشت وي، نور څه ناڅه مشقت او محنت خو د دنيا په هر کار کې شتون لري.[٩]

پورتنيو آياتونو او د مفسرينو تفسيرونو همدې موضوع ته په پوره صراحت سره اشاره کړې ده چې په آسانی سره خپل ژوند ترسره کړي او يو پر بل سختي ونه کړي.

په واده کې د آسانيتا په اړه احاديث هم اشاره کوي:

---

[١]) محي الدين ابو ذکريا يحيی بن شرف النووي، شرح النووي لصحيح مسلم ج ١٥ ص١٣٨
[٢]) د بقره سورت ١٨٥ آيت
[٣]) د حج سورت ٧٨ آيت
[٤]) شهيد سيدقطب، في ظلال القرآن ج ١ ص ١٧٢
[٥]) ابی الفضل شهاب الدين السيد محمود الالوسی، روح المعاني ج ٢ ص ٦٢
[٦]) ابی عبدالله محمد بن احمد الانصاري القرطبی، تفسير احکام القرآن ج ١ ص ٣٠١
[٧]) شبير احمد عثمانی او مولانا محمود الحسن ديوبندی، تفسير کابلی ج ٢ ص ٢٢ړ
[٨]) سيد ابوالاعلی مودودی، تفهيم القرآن ج ٣ ص ٢٥۴
[٩]) محمد شفيع عثمانی، معارف القرآن ج ۶ ص ٢١٠

عن عايشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «اعظم النساء بركة ايسرهن مؤنة»[١].

يعني ستري، لويې او مباركې ښځې هغه دي چې د هغوی د واده بوج آسانه وي، ملا علي قاري رحمه الله وايي: مقصد له دې ښځه بهترينه نكاح ده چې مهر او نفقه په كې شامل دي[٢].

كله چې په دې حديث باندې عمل وشي، نو يو خو به د مجردانو تعداد كم شي، د فساد مخه به ونيول شي او بل دا چې په كورنيو كې تبعاً نارينه او نجوني شتون لري، نو كه چېرې نن يوه كورنۍ د خپلې لور په واده كې سختي كوي او د هلک له كورنۍ څخه داسې غوښتنې كوي چې د هغوی له توان څخه بيرون وي، نو سبا چې دا كورنۍ خپل زوی ته واده كوي له دوی سره به هم هماغه چلند وشي چې دوی له بلې كورنۍ سره كړی ؤ، نو بايد د كوزدې او د واده په ټولو چارو كې آسانيتا او نرمي وشي، تر څو زموږ كورنۍ او ټولنيز ژوند په ښه توګه پر مخ ولاړ شي.

باقي دودونه چې د عرف او دود لاندې راځي لكه ختې وړل، ورا، مخ روڼې او د نكريزو شپه، هغه دودونه دي چې شريعت يې ممانعت نه دی كړی او هر كله چې د شريعت ممانعت نه وي راغلی نو دايې په جواز دلالت كوي او دوهم په دې باندې د خلكو دود او عادت هم دی، فقهي قاعده ده «التعيين بالعرف كالتعيين بالنص» [٣]. ژباړه: په عرف او عادت ټاكل شوی شی داسې دی لكه په نص چې ټاكل شوی وي.

بله قاعده ده: «انما تعتبر العادة اذا اطردت او غلبت»[٤]. ژباړه: غالب يا عام دود د اعتبار وړ دی.

بله قاعده ده: «استعمال الناس حجة يجب العمل بها» [٥]. ژباړه: د خلكو عادت چې د شريعت مخالف نه وي دليل دی او عمل وربانديې واجب دی.

بله قاعده ده: «الاصل في الاشياء الاباحة»[٦]. ژباړه: اصل په اشياؤ كې اباحت دی.

پورتني قواعد موږ ته دا راښيي، د كوم شي په اړه چې د شرعي نصوصو لخوا څه حكم نه وي او هماغه شی په عرف او دود باندې بنا وي، نو دا داسې ده، لكه: چې د شرعي نصوصو په رڼا كې ثابت شوی وي.

او كوم عادت او دود چې عام دود وي او شرعي نصوص يې رد نه كوي، نو د يوه حكم د اثبات لپاره مرجع او دليل ګرځېدلی شي.

او هغه څه او دود چې خلک يې په وار وار ترسره كوي او له شريعت سره مخالف نه وي، نو دا دليل هم دی او واجب العمل هم دی.

نو د پورتنيو افغاني دودونو څخه چې د واده په مرحله كې ترسره كېږي، په عرف او دود سره ثابت دي او د عمل وړ دي ځكه شرعي ممانعت په كې نشته دی.

---

[١]) احمد بن حنبل، مسند امام احمد بن حنبل د حديث شميره ٢٥١١٩، قال الالبانى فى الترغيب و الترهيب: ضعيف

[٢])نورالدين ابوالحسن على بن سلطان محمد القارى الهروى، مرقاة المفاتيح ج ۵ ص ٢٠۴٩

[٣])پوهنوال بركت الله تايب، فقهي قواعد ص ٨٨.

[٤]) هماغه مرجع ص ٢۴

[٥]) هماغه مرجع ص ٢۵

[٦]) عبدالكريم زيدان، ژباړه : ابوعاصم زاهدي، قواعد فقهي ص ١۵۶.

## دوهم: د واده د مرحلې د مثبتو دودونو قانوني حيثيت:

د واده په بهير کې د نامزادۍ له مرحلې وروسته چې د واده مراسمو نوبت رارسيږي په دغې مرحلې کې هم خورا ډېر دودونه موجود دي چې په افغاني ټولنه کې بيلابيل ډولونه لري.

لکه څنګه مو چې په مخکېني مبحث کې دغې مسئلې ته اشاره وکړه چې ټول هغه مروجه دودونه د قانون له مخې مجاز ګڼل کېږي، تر څو چې په قانون کې يې منع نه يې راغلي. نو د دغې قاعدې په اساس هغه دودونه چې په قانون کې مجاز ګڼل شوي، د هغوی لپاره لومړی شرط د اساسي قانون ۵۴ ماده ده چې د شريعت مغاير دود نه وي.

> د واده د مرحلې مهم دودونه کوم چې مثبت ګڼل کيږی؛ په دې ډول دي: د واده د مراسمو د تدوير لپاره په نيېټه باندې د دواړو کورنيو رضايت او اتفاق، د واده د تکاليفو په اړه تفاهم، د واده د خوړې په اړه اتفاق، ناوې ته جوړه اخيستل، د ختو اماده کول، د واده دقيقه نيېټه ټاکل، ورا يا جنج، مخ روڼی، خوراکي توکي آماده کول، سون توکي آماده کول، د نکريزو شپه، د نجلۍ خپلوان راغوښتل او ډوډۍ ورکول، د نجلۍ د کورنۍ لخوا د فرمايشاتو نشتون، شب خينه، جهيز، د ناوې لخوا تحفه، روی نمايک، خنا بندان، له ميلمنو څخه د محلي د خلکو استقبال، د خپلو خپلوانو سره د واده د مراسمو په اړه مجلس، د مساجدو له لارې د واده مراسمو ته د خلکو اخبار، د زوم له کورنۍ سره د هغه د اقاربو لخوا د هغه مشکلات حل کول، له زوم سره د هغه د اقاربو لخوا مرسته کول، د واده محفل ساده دايرول، د دودونو د پرځای کولو په موخه غريب خلک نه مجبورول، د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته ډالۍ، د ناوې کور ته د واده پوښ وړل، پاستي په کلي وېشل، مخ ديدني، په مشخص تعداد زنانه د نجلۍ کور ته د واده لپاره ورتلل، د نورو ولاياتو په نسبت د واده کم مصرف، د واده د ښځينه ګډونوالو لخوا ناوې ته تحفه، له زوم سره کمک، د واده د وخت لپاره مشوره، له زوم سره کمک، د واده لپاره کورد طرفينو د توان مطابق برابرول.

د اساسي قانون ۵۴ ماده د مروجه دودونو په اړه وايي: "... او د اسلام د سپېڅلي دين له احکامو سره د مغايرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبيرونه نيسي"[۱]. د يادې مادې د حکم په بناء، دا د دولت مکلفيت دی چې د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو سره مغاير رسمونو او دودونه له منځه يوسی.

د اساسي قانون د ۵۴ مادې په بناء ټول هغه دودونه د قانون له مخی مجاز ګڼل شوي چې د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو سره مغايرت و نه لري. د دې ترڅنګ هغه دوه نور اصول چې په تېر مبحث کې

مو بيان کړل، لکه: يو دا چې د ټولنې له عرف سره په تعارض کې واقع نه وي او بل دا چې هغه دود او رواج ذاتي قبح ونه لري او ضرر په کې نه وي.

خو دا چې کوم دودونه د اسلام له احکامو سره مغايرت لري، او دغه دودونه چې له ديني احکامو سره مغايرت لري، څنګه تشخيص کيږي او کومه مرجع د دغه کار صلاحيت لري؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي

---

[۱]. د افغانستان جمهوری اسلامي دولت، اساسي قانون، د تصويب کال ۱۳۸۲ (۵۴ ماده)

چې په اساسي قانون کې ورته ځواب نشو موندلی، خو دولت د يادې مادې د ښه تطبيق لپاره او د پورتنيو پوښتنو د ځواب په موخه د واده د مراسمو قانون تدوين کړی چې په دغه قانون کې د ناسمو او د شرعي احکامو مغايرو دودونو پيژندنه، د هغو مراجعو چې د دغو ناسمو او بدو رواجونو مخنيوی وکړي، ذيصلاح مراجع او مقامات هم بيان شوي. مخکې له دې چې د دودونو هغو معيارونو او اصول ته چې د واده د مراسمو په قانون کې بيان شوي، مراجعه وکړو لازمه ده، په مدني قانون کې چې کوم دودونه مجاز ګڼل شوي، هغو ته هم يو کتنه وشي.

د افغانستان مدني قانون د واده د بهير په اړه مختلف حکمونه په بيلابيلو مادو کې بيان کړي، چې له دغو حکمونو د ځينو دودونو جواز او تائيد هم استنباطيږي.

د مدني قانون شپږم مبحث له ۶۰ مادې نه تر۸۹ مادې پورې د واده بهير ته ځانګړی شوی دی، د ياد قانون په ۶۰ ماده کې د واده په اړه داسې راغلي: "ازدواج يو عقد دی چې د کورنۍ د جوړولو په منظور يې د ښځې او سړي معاشرت مشروع کړی او د دواړو خواوو حقوق او واجبات تنظيموي"[1].

د مدني قانون ۷۷ ماده د ايجاب او قبول او د شاهدانو په اړه وايي چې: "د نکاح د عقد د صحت لپاره او د هغه د نافذيدو لپاره لاندې شرطونه لازم دي:

- عقد د دواړو خواوو يا د هغوی د وليانو يا وکيلانو په وسيله د صحيح ايجاب او قبول ترسره کول،
- د اهليت لرونکو دوه شاهدان حضور[2]"

د دې ترڅنګ، د يو دود د قانوني حيثيت او مجاز ګڼلو لپاره نور شرطونه د واده د مراسمو قانون په دويمه ماده کې چې د ياد قانون موخې او اهداف يې بيان کړي، ذکر شوی دی.

د واده د مراسمو قانون اهداف په لاندې ډول دي: "د دغه قانون موخې عبارت دي له:

- د اسلام د سپيڅلي دين له حکمونو سره د مغايرو رسمونو او عنعنو له منځه وړل،
- د اصيلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او غوره سنتونو ته درناوی،
- د زياتو لګښتونو مخنيوی او د محفلونو په ترسره کولو کې د آسانيتاوو برابرول،
- له انحرافاتو څخه مخنيوی،
- د ټولو لپاره د سالمې کورنۍ د جوړولو د زمينې برابرول،
- د کورنۍ د ښيرازې ساتل او د کورنۍ د تاوتريخوالی مخنيوی،
- د اسلامي ارزښتونو او اخلاقو ساتنه،
- د زوج او زوجې او د دوی د کورنۍ د ښو او پايدونکو اړيکو تأمينول[3]"،

---

[1]. د افغانستان مدني قانون چې په کال ۱۳۵۵ کال کې د رسمي جريدې، په ۳۵۳ ګڼه کې نشر او نافذ شوی دی، چې د لومړي قسمت، دويم فصل شپږم مبحث، ماده (۶۰).

[2]. د افغانستان مدني قانون چې په کال ۱۳۵۵ کال کې د رسمي جريدې په ۳۵۳ ګڼه کې نشر او نافذ شوی دی، چې د لومړی قسمت، دويم فصل شپږم مبحث، ماده (۶۰).

[3]. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۲).

که چېرې د واده د مراسمو قانون چې د واده په بهیر کې د شته دودونو او رواجونو په اړه ځانګړی او اختصاصي قانون دی، دغو موخو ته وکتل شی، نو دا جوتیږي، ټول هغه معیارونه چې د هغوی په اساس یو دود قانوني بڼه خپله وي یا د قانون له لوري د هغه مخنیوی کیږی، په ډېر ښه انداز او په پوره وضاحت سره بیان شوی.
د یاد قانون دویمه ماده په حقیقت کې د اساسي قانون د ۵۴ مادې تشریح او عملي کړنلاره ده، په دغې مادې کې د یاد قانون موخې د داسې عمومي قواعدو په شکل بیان شوي چې د قانون په رڼا کې مجاز او غیر مجاز دودونو د پیژندنې یو ډېر روښانه معیار او یو ډېر ښه ملاک ورته تعیین شوی.
د دغې مادې د حکم په بناء ټول هغه دودونه قانوني حیثیت لري او ترسره کول یې ستونزه نه لري، مشروط په دې چې دغه پورته اووه شرطونه په کې موجود وي او د قانون په چوکاټ کې ترسره شوي وي.
د واده د مراسمو قانون ځینې دودونه او رواجونه په بېلابېلو موادو کې په دې ترتیب بیان کړي:
د درېیمې مادې په لومړۍ فقره کې د محفلونو بیان شوی، د همدې مادې په ۴ فقره کې خویش خوري او په ۵ فقره کې د نکریزو شپه، په ۶ فقره کې واده، په ۷ فقره کې مهر، په ۹ فقره کې تخت جمعي، په ۱۰ فقره کې جهیز، په ۱۱ فقره کې پایوازي، په ۱۴ فقره کې د واده کلیزه او په ۱۵ فقره کې د شریعت مغایرې جامې تعریف شوې دي.
د دې ترڅنګ، د یاد قانون څلورمه ماده چې په هوټلونو، رسټورانټونو او سالونونو کې د محفولونو منع راغلې، د نورو محفلونو، ترڅنګ د نکریزو د شپې او د تخت جمعۍ د لمانځنې منع هم په صراحت سره یاده شوې[1].
د واده د مراسمو قانون په هوټلونو، سالونونو او رسټورانټونو کې د واده د مراسمو د لمانځنې په اړه وایي: "د شرایطو لرونکي د ناوی او زوم اولیاء او خپلوان کولای شی، د دې قانون له حکومونو سره سم په هوټل، سالون یا رسټورانټ کې د واده محفل جوړ کړي[2]".
د دې مادې د حکم په بناء یو خو د واده د مراسمو لپاره چې کوم محفل دود دی، د هغه جوړول مجاز ګڼل شوي دي او بل دا چې د نورو محفلونو پر خلاف دغه محفل د یادې مادې په اساس په هوټل او رسټورانټ کې هم مجاز ګڼل شوی دی.
دا چې په یاد محفل کې د رابلل شوو میلمنو شمیر څومره وي، د یاد قانون د لسمې مادې په لومړۍ فقرې کې داسې راغلي: "(۱) د ناوې او زوم اولیاء کولای شي، له دواړو خواوو څخه زیات نه زیاد (۵۰۰) تنو په ګډون په هوټلونو، سالونونو او رسټورانټونو کې د واده محفل جوړ کړی[3]".

---

[1]. د واده د مراسمو قانون، څلورمې مادې ته دې مراجعه وشی.
[2]. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۵).
[3]. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۱۰) فقره (۱).

بله هغه مسئله یا هغه دود چې په دې قانون کې ځای لري، د ناوې لپاره جوړه یا د واده جامې اخیستل او برابرول دي. د یاد قانون په اتمه ماده کې داسې راغلي چې: "د واده جامې د اسلامي شریعت سره سم د دواړو لورو په هوکړې (موافقې)، او د زوم لخوا ناوې ته برابرېږي[1]".

دلته قانون جوړونکو دغه دود په رسمیت پیژندلی او جواز یې ورکړی، خو شرط یې دا دی چې دغه جوړه له اسلامي شریعت سره برابره وی، چې د ښځی هغه واجبي حجاب په کې مراعات شوی وي او بل دا چې د داوړو لورو په موافقې برابره شوې وې. نرخ او شکل یې د دواړو په خوښه وي، یواځې د ناوې نظر په کې جبراً نه وي نیول شوی.

دې سره ویلی شو، په افغانستان کې قانون جوړونکو ډېر کوښښ کړی دی، تر څو د موجوده رواجونو او عنعناتو لپاره مشخص او قانوني احکام و ټاکي، چې د ځینو رواجونو او دودونو تائید به په کې شوی وی او د ځینو نورو به مخه نیول شوې وی، خو دا چې واده یو بهیر دی او دغه بهیر د ډول ډول متحولو او متغیرو ظروفو سره مخ کېږي او د هرې کورنی تجربه د بلې کورنی له تجربې سره توپیرونه لري، نو واضح ده چې د ټولو هغو دودونو او د ټولو بشري تجربو لپاره چې خورا وسیع میدان لري او د شمېر له لحاظه هم بې اندازې دي، په قانون کې یې د مادې په توګه بیانول ناشونی کاری دی.

په همدې اړه د قانون جوړونې په بهیر کې عمومي قاعده دا ده چې د متحولو ظروفو او متغییرو حالاتو لپاره قانوني اصل ایښودل نا ممکن کار دی. قانون د عمومي قواعدو او کلي ضوابطو نوم دی چې د مشخصو حالاتو او شرایطو لپاره وضع کېږی.

هغه حالات او شرایط چې د قانون مشخص حکم په هغه کې نه وي بیان شوی، هغه منطقة الفراغ نومیږي، د منطقة الفراغ لپاره حکم دا دی، په قانون کې چې کوم احکام د حالاتو د پیشبینی په توګه بیان شوي، کوم چې حکم په دغه استثنائي حالت ډېر صدق کوي او ډېر ورته والی لري. هماغه دې حکم بیا د دغې مشخصې واقعې لپاره هم د قیاس په بنه تطبیق شی.

نو دا چې دودونه او رواجونه ډېر دي او په مختلفو ټولنو کې مختلف رواجوانو عملي کېږی، دا هغه متغییر او متحول وضعیت دی چې قانون جوړونکي ورته د منطقة الفراغ په سترګه کتل کېږي.

اوس ټول هغه رواجونه چې د واده د مراسمو د قانون هغه ۷ معیارونه چې د موخو او اهدافو تر عنوان لاندې بیان شوي له هغو سره په ټکر کې نه وي، هغه ټول مجاز ګڼل کېږی. دغه مسئله یا دغه میدان د فقهي احکامو هغه د اباحت ساحې ته ورته والی لري، کوم چې وایي الاصل فی الاشیاء الاباحة، نو دلته هم اصل دا دی چې هر دود او هر رواج قانونا مجاز دی، مګر دا چې د واده د مراسمو د قانون له اهدافو سره په ټکر کې راشي.

خو کوم رواج چې د هغه لپاره مشخص قانوني حکم وجود نه لری، خو د دغو دوه ګونو معیارونو سره په تعارض کې وي، بیا نو هغه دود یا رواج قانوناً منع دی.

---

[1]. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۸).

## دریم مطلب: له واده وروسته د مښتو دودونو شرعي او قانوني حیثیت

### لومړی: له واده وروسته د مښتو دودونو شرعي حیثیت:

۱- ناوې او زوم ته د خپلوانو لخوا میلمستیا او دعوت:

په افغاني ټولنه کې له واده څخه وروسته چې کوم ښه دود شتون لري، هغه ناوې او زوم ته د خپلوانو لخوا میلمستیا کول دي، دا دود تقریباً په ټول هېواد کې شتون لري او هر شخص او هره کورنۍ د خپل توان مطابق د دې میلمستیا مراسم تر سره کوي او زموږ هېوادوال اصلاً په مجموع کې میلمه پاله خلک دي، سره له دې چې ډېر اقتصادي مشکلات به هم لري، خو دا زموږ د هېوادوالو ښه دود دی چې د میلمه عزت او احترام کوي او د خپل توان مطابق یې اکرام کوي.

اسلامي شریعت هم د میلمه اکرام د ایمان یوه برخه ګرځولې ده او همدارنګه د بلنې او دعوت د قبلولو حکم یې کړی دی، په قرآن کریم کې د میلمه پالنې په اړه د انبیاؤ علیهم السلام کېسې الله تعالی ذکر کړې دي: «هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ»[1]. ژباړه: آیا راغلې تا ته خبره د ابراهیم د میلمنو چې عزتمنده وو او همدارنګه فرمایي: « وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ»[2]. ژباړه: او ته خبر ورکړه دوی ته د ابراهیم علیه السلام د میلمنو.

په دې دواړو آیتونو کې د ابراهیم علیه السلام د میلمه پالنې ذکر الله تعالی کړی دی.

د پورتنیو آیتونو په تفسیر کې مولانا مودودي رحمه الله وایي چې په دنیا کې ژوند صرف په طبیعي قوانینو بناء نه دی، بلکې په انساني ژوند کې اخلاقي قانون هم مهم رول لري، ځکه نو ابراهیم علیه السلام هم د هغه اخلاقي قانون له وجې د میلمنو خدمت کوي او په داسې شکل له میلمنو څخه پورته شو چې هغوی ته یې دا ونه ویل چې زه ستاسو د خوراک ترتیب نیسم، بلکې په خاموشي سره خپل کور ته د میلمنو د ضیافت لپاره ولاړ، تر څو چې میلمانه ورته ونه وایي چې دې تکلیف ته څه اړتیا وه.[3]

او مفتي محمد شفیع صاحب د دې آیتونو په اړه وایي: ابراهیم علیه السلام کور ته داسې ولاړ چې میلمانه یې خبر نه کړل کېدای شي چې هغوی له خوراک او میلمستیا څخه انکار کړای وای[4].

او حافظ ابن کثیر د دې آیت لاندې د میلمستیا اداب ذکر کړي دي:

۱. میلمانه هېڅ خبر نه شول چې کور والا ورته څه تیاری کوي.
۲. له میلمنو څخه یې پوښتنه هم ونه کړه چې ډوډۍ خورئ او کنه؟
۳. د میلمستیا لپاره چې د ده په کور کې کوم ښه شی ؤ هغه یې ورته راوړ.
۴. میلمنو ته یې تکلیف ورنه کړ چې راشئ او خواړه تیار دي، بلکې خوراک یې دوی ته حاضر کړ.

---

[1]) د الذاریات سورت ۲۴ آیت
[2]) د الحجر سورت ۵۱ آیت.
[3]) سید ابوالاعلی مودودي، تفهیم القرآن ج ۵ ص ۱۴۳.
[4]) مولانا مفتي محمد شفیع، معارف القرآن ج ۹ ص ۲۶۸.

٥. د خوراک نه کولو له وجې په ميلمنو ډېر اصرار نه کوي، چې ولې خوراک نه کوئ.[١]
محمد علي صابوني رحمه الله وايي: له دې وجې ابراهيم عليه السلام ميلمانه خبر نه کړل او په داسې شکل لاړ چې هغوی ته يې ونه ويل چې ستاسو لپاره د خوراک تياري کوم، يا خو به يې منع کړی وای چې تياري مه کوه او يا دا چې د خوړو په آماده کولو کې به تاخير راغلی ؤ[٢].
شهيد سيد قطب رحمه الله وايي: ابراهيم عليه السلام د ميلمنو دومره عزت وکړ، تر دې چې الله تعالی ورته مکرمين وويل. لکه: څرنګه چې په قصد تفصيلاً ذکر کوي. او ابراهيم عليه السلام په دومره سخاوتمندي سره د ميلمنو عزت وکړ چې د هغه سخا ښکاره ده داسې چې ميلمانه دري نفره ؤ، خو ابراهيم عليه السلام ورته پوره خوسی حلال کړی ؤ[٣].
شبير احمد عثماني او محمود الحسن رحمهما الله تر دې آيت لاندې وايي:
په ډېر اهتمام يې په ميلمستيا لاس پورې کړ او په ډېر تهذيب او خوړه ژبه يې دوی ته وويل ګرانو ميلمنو ولې تاسې ډوډۍ نه خورئ[٤].
د دې مفسرينو اقوال هم په ميلمه پالنې او د هغوی په عزت، احترام او قدر باندې بناء دي، تر څو ميلمه د کوروالا څخه په هېڅ شکل خپه نشي او د هغه اکرام د خپل توان مطابق وکړي.
په احاديثو کې هم رسول الله صلی الله عليه وسلم ميلمه پالنې ته ترغيب ورکړی او د ميلمه اکرام يې د ايمان يوه برخه ګرځولې ده، د صحابه کرامو تعامل هم همداسې ؤ چې سره د دې چې خوراکې توکي به ورسره ډېر کم هم ؤ، خو بيا هم د خپل توان مطابق يې د ميلمه اکرام کړی او په دې برخه ډېرې تعجب آورې کېسې او واقعات د صحابه کرامو راغلي دي چې د ميلمه لپاره به يې ډېره قرباني کوله:
عن ابي شريح الکعبي ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: «من کان يؤمن بالله و اليوم الاخر فليکرم ضيفه»[٥]. ژباړه: څوک چې په الله تعالی او د قيامت په ورځ ايمان لري، نو د ميله عزت دې وکړي.
له اسلام څخه وړاندې، د عربو يو ښه دود ميلمه پالنه وه، تر دې چې اسلام راغی او همدا ميلمه پالنه يې د دوی د ايمان يوه برخه وګرځوله.
عربو په ميلمه پالنه باندې افتخار کاوه او کېدای شي چې همدا ميلمه پالنه، تر ډېر وخته په عربو کې دود وه دا هماغه ابراهيمي طريقه وه، خو په دوی کې وروسته د دود او عرف په څېر پاتې شوې وه.
په افغاني ټولنه کې همدا دود له ډېر پخوا موجود دی، په پورته حديث باندې صحابه کرامو د ښه فهم په نتيجه کې هغه په ښې طريقې سره عملي کړی هم ؤ، تر دې چې د خپلو ماشومانو خواړه او برخه به يې په ميلمنو وخوړه چې نور څه به ورسره نه ؤ.

---

[١]) عماد الدين ابی الفداء اسماعيل ابن کثير القريشی الدمشقی، تفسير القرآن العظيم ج ۴ ص ۲۰۰
[٢]) محمد علي الصابوني، صفوة التفاسير ج ۳ ص۲۳۶.
[٣]) سيد قطب، في ظلال القرآن ج ۶ ص ۳۳۸۲.
[٤]) شبير احمد عثماني او محمود الحسن ديوبندي، تفسير کابلی ج ۲ ص ۱۲۴.
[٥]) محمد بن اسماعيل البخاري، صحيح البخاري، کتاب الادب، باب اکرام الضيف ص ۶۰۷

۲- ناوې او زوم ته سوغاتونه ورکول:

کله چې د واده رسمي مراسم تېر شي او د خپل خپلوانو لخوا ناوې او زوم ته میلمستیا کېږي، نو کله چې له کور څخه رخصت کېږي. هر کور د خپل توان مطابق تحفې او سوغاتونه ورکوي چې په اکثرو ځایونو کې لباس، ساعت، ټکرى او داسې نور ورکوي، چې په دې سره ښه روابط، مینه او محبت د کورنیو تر منځ پیدا کېږي، په دې اړه په حدیث شریف کې راځي: عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم: «تهادوا تحابوا»[1] ژباړه: یو بل ته تحفې ورکړئ، تر څو مو په خپل منځ کې محبت پیدا شي.

خو په تحفه ورکولو کې غرض او مقصد به د الله تعالی رضا وي، او ځان ښودونه نه وي، ډېره غلو او افراط په کې ونشي چې بیا د خلکو له توان څخه وځي او هر شخص ته د هغه ضرورت او حالاتو ته په کتو تحفه ورکړل شي او ناجایز شی په کې نه وي:

عن عطاء بن ابي مسلم عبدالله الخراساني قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «تصافحوا يذهب الغل و تهادو تحابو و تذهب الشحناء» [2]. ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو یو بل سره مصافحه یعنې په لاس سترې مه شې وکړئ، کینې به مو له منځه لاړې شي او یو بل ته تحفې او سوغاتونه ورکړئ چې مینه او محبت مو پیدا شي او بخل مو له منځه لاړ شي.

په دې حدیث شریف کې اصلاً د مینې او محبت اسباب ذکر شوي چې په تحفې سره د ورکونکي او اخیستونکي تر منځ محبت پیدا کېږي.

**۳- د دواړو کورنیو یو بل سره روابط او اړیکې:**

زموږ په افغاني ټولنه کې دا هم یو ښه دود دی چې د ډېر ښخوا څخه شتون لري چې له واده څخه ورسته د هلک او نجلۍ کورنیو لخوا د هغوی خپلوانو سره روابط او دوستي پالي، تر دې چې دواړه سترې کورنۍ د یو بل په خوشحالیو او غمونو کې شریکې وي او د اسلام شرعي نظام هم د خپلوانو د پاللو په هکله ډېر ټینګار کړی دی چې خپلوي باید وپالل شي، الله تعالی فرمایي: «وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا» [3]. ژباړه: او ویره کوئ له الله تعالی څخه د چا په واسطه چې سوال کوي په خپل منځ او خپلوۍ، بې شکه الله تعالی په تاسو باندې نګهبان دی.

مفتي محمد شفيع رحمه الله تر دې آیت لاندې وايي: په دې آیت کې د الله تعالی خطاب ټول بني آدم ته دی، نو ټولو انسانانو ته شامل دی، که هغه نر وي یا ښځه او ترقیامته چې راځي هغوی ته شامل دی، انسانان د یو آدم علیه السلام څخه پیدا دي او ټول یې د وروروولۍ په یوه قوي مزي تړلي دي، نو باید یو بل سره د همدردۍ او خیرخواهۍ حقونه پوره ادا کړي.[4].

---

[1]) ابوبکر احمد بن الحسين بن علي البيهقي، سنن الكبرى للبيهقي ج ۱ ص ۳۳

[2]): مالک بن اَنس بن مالک بن انس بن الحارث بن غَيمان بن خُثَيل بن عمرو بن الحارث الأصبحى، موطا امام مالک، باب ما جاء في المصافحة ج ۲ ص ۴۹

[3]) د النساء سورت ۱ ایت

[4]) مولانا مفتي محمد شفيع، تفسير معارف القرآن ج ۱ ص ۲۳۲

په کابل تفسیر کې تر دې آیت لاندې داسې راغلي دي: د اقاربو حقوق په ښه ډول رعایت کړئ، د بني نوع انسان له ټولو افرادو سره په عمومي ډول ښه سلوک د آیت په لومړۍ برخه کې تیر شوی، نو څرنګه چې د قرابت له خاوندانو سره یو خاصه رابطه ده، نو ځکه د هغوی ذکر خاص راغی او دا ځکه چې د دوی حقوق له نورو انسانانو له حقوقو زیات دي.[1]

په احادیثو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صله رحمی په اړه قوي تاکیدات کړي دي. عن عایشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «الرحم معلقة بالعرش، تقول من وصلني وصله الله و من قطعني قطعه الله»[2]. ژباړه: نبي کریم علیه السلام ویلي دي: صله رحمي په عرش پورې تړلې او نښتې ده او وایي چا چې پاللې یم، الله تعالی یې دې ځان ته نږدې کړي او چا چې شلولې یم الله تعالی یې دې وشلوي.

په دې حدیث شریف او مخکښنیو آیاتونو کې خو امر په صله رحمي پاللو شوی چې په هغو کې هغه اقارب چې د پلار او مور له طرفه وي او د اولادونو له طرفه، ورونه، خویندې، کاکاګان، ماماګان، او ټول هغه اقارب چې د پلار او مور له طرفه وي دا په ارحامو کې داخل دي، خو د ښځې خپلوان چې د هلک او د کور خاوند لپاره خسرګنی ده، نو له دوی سره د خپلوۍ اړیکه د خسرګنی له وجې ده او همدارنګه د هلک خپلوان چې د ښځې لپاره خسرګنی ده، نو له هغو سره ښه تعامل او ښه رابطه چې د شریعت په رڼا کې وي، احسان، نیکي او ښه رباطه ساتل هم یو مطلوب عمل دی.

او د دې اغیزې په کورنیو او اجتماعي ژوند کې ډېرې ښې په لاس راځي او حتی د دواړو اقاربو سره ښه رابطه د هلک او نجلی په خپل کورني ژوند باندې هم ښې اغیزې لرلای شي او د اقاربو لخوا یو بل تشویق او ترغیب کېږي، د خپل کور او د خپل ژوند له ملګري سره په ښه تعامل، قناعت، اطاعت او همکارۍ باندې، خو که چېرې یو د بل له اقاربو سره ښه رابطه ونه لري، کله ناکله د هغو خپلوانو لخوا هغوی تحریک کېږي په نامناسب تعامل چې نتایج یې د دواړو په ژوند کې بیا ښه نه وي.

**۴- له واده وروسته د زوم کورنۍ ته د خپلوانو لخوا مبارکي:**

په افغاني ټولنه کې د واده په ورځ او له واده وروسته د زوم د کورنۍ خپل او خپلوان، ملګرو او اقاربو لخوا هلک، د هغه پلار، مور او ورونو ته مبارکي ویل کېږي او په بعضو ځایونو کې له ځان سره تحفې هم راوړي او د هلک کورنۍ ته یې تسلیموي.

په اسلامي شریعت کې هم د واده مبارکۍ لپاره د نبي کریم علیه السلام د هغه مبارک سیرت او د صحابه کرامو تعامل هم همداسې ؤ چې یو بل ته به یې مبارکي ورکوله. عن ابي هریرة رضي الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم کان اذا رفا الانسان قال: «بارک لکم و بارک علیکم و جمع بینکما فی خیر»[3]. ژباړه: ابوهریره رضي الله عنه وایي چې کله به یو انسان نکاح وکړه، نو بیا به نبي علیه

---

[1]) شبیر احمد عثماني او محمود الحسن دیوبندي، کابلي تفسیر ج ۱ ص ۴۲۴.

[2]) الحافظ مسلم بن الحجاج النیسابوري صحیح مسلم ص ۱۲۵۶.

[3]) محمد بن یزید القزوني، سنن ابن ماجة ج ۲ ص ۲۸، قال الالباني فی الترغیب و الترهیب : حدیث صحیح

السلام ورته مبارکي ورکوله او ورته ویل به یې : تاسې ته دې مبارک وي او پر تاسې دې مبارک وي او په خیر سره مو یو ځای کړه.
په دې حدیث کې د نبي علیه السلام لخوا په داسې شکل کې مبارکي ورکړل شوې چې ډېره جامع دعا ده چې هغه لفظ د برکت دی، دا یو عام لفظ، شامل دی د کور برکت ته، د مال برکت ته، د ښه ژوند برکت ته، د اخلاقو برکت ته، د اولاد برکت ته، د بدن برکت ته او ښه جمع کېدو ته، یعني داسې جمع شئ چې د دنیا او اخرت خیر په کې وي، زموږ په افغاني ټولنه کې خو د واده د مبارکۍ په وخت کې نور الفاظ کارول کېږي، نو ښه دا ده چې هغه الفاظ استعمال شي، چې مخکې، موږ ذکر کړل او د زړه په اخلاص ورته دعا هم وکړي.
۵- باقي دودونه لکه درېیمه، اومه، مخ رونی، پایوازې او داسې نور:
دا هم داسې دودنه دي چې د اسلامي فقهې تر هغو عمومي قواعدو لاندې راځي. کوم چې په فقهي قواعدو کې ذکر شوي دي او دا هم داسې دودونه دي چې د شریعت له اصولو سره مخالفت او ټکر نه لري.
فقهي قاعده ده: الأصل في العادات الإباحة[1].
بله قاعده ده: استعمال الناس حجة يجب العمل بها[2].
بله قاعده ده: الأصل في الأشياء الإباحة [3].
بله قاعده ده: التعيين بالعرف كالتعيين بالنص[4]
پورتنۍ قاعدې یو لوی شرعي اصل دی چې د انسان په ژوند کې د زیاتو قضیاوو مدار او محور دي، اصلاً دا قواعد د انسان لپاره په ژوند کې آسانیتا ښیي چې د اسلامي شریعت اصول (قرآن او حدیث) هم په آسانیتا او سهولت باندې ډېر ترکېز کوي، خو دا عادت او دود هم باید په دې مرحله کې پاتې شي چې نه یې په کولو باندې په خلکو زور واچول شي، ځکه دا خو کوم واجب عمل نه دی او نه یې کول عبادت دی او نه یې په ترک کولو باندې زور واچول شي، ځکه دا کوم حرام او منکر عمل هم نه دی.
د پورتنۍ دوهمې قاعدې په اړه سلیم باز وایي: په عاداتو کې به دخلکو تعامل ته کتل کېږي، که د خلکو عادت و، نو هماغه عادت معتبر دی او که عادت نه ؤ، نو بیا دې ته څه اعتبار نشته دی[5]. او د لومړۍ قاعدې په تشریح کې شیخ سعد ناصر وایي: په عاداتو کې اباحت تر هغې معتبر دی، تر څو داسې دلیل راوړل شي چې هغه شی له اباحت څخه وباسي او دا د الله تعالی یو خاص فضل دی چې په شریعت کې یې آسانیتا راوړې ده[6].

---

[1]) سعد بن ناصر الشترى، شرح منظومة القواعد الفقهية
[2]) سليم رستم باز اللبناني، شرح المجلة ج ١ ص ٣٥.
[3]) عبدالکریم زیدان مترجم ابوعاصم عبدالناصر زاهدی قواعد فقهي ص ١٥٧.
[4]) پوهنوال برکت الله تایب، فقهي قواعد ص ٨٨
[5]) سليم باز اللبناني، شرح مجله ج ١ ص ٣٧.
[6]) سعد بن ناصر، شرح منظومة القواعد الفقهية

او همدارنګه د دې قاعدې په شرحه کې علامه عبدالرحمن وايي: چې په عاداتو کې اصل اباحت دی، نو هېڅ دود څوک نشي حراموﻻی، مګر چې د هغه حرمت راغلی وي او عادات د انسانانو عادت پورې تړاو لري لکه خوراک، څښاک، لباس، تګ راتګ او نور ټول هغه تصرفات چې د خلکو عادت دي، نو دا نشي حراموﻻی، مګر چې په حرمت يې صريح نص راشي او يا هم د حرمت تر عمومي قواعدو لاندې راشي[1].

د درېيمې قاعدې لاندې زيدان صاحب وايي: دا قاعده په هغو اشياؤ او امورو کې دليل دی چې هلته شرعي دليل نه وي او هرکله چې شرعي دليل راغی، بيا دې قاعدې ته ضرورت نشته دی.[2].

لنډه دا چې زموږ په ټولنه کې له واده څخه وروسته چې کوم دودنه شتون لري، کوم شرعي موانع په کې وجود نه لري او همدارنګه تر نن پورې د فرد، کورنۍ او ټولنې مصالح په کې نغښتي دي.

## دوهم: له واده وروسته د مثبتو دودونو قانوني حيثيت:

د واده په بهير کې آخرنی مرحله له واده وروسته مرحله ده. نورو مرحلو ته ورته په دغې مرحلې کې هم ډېر دودونه او رواجونه موجود دي، چې د ټولنې په مختلفو برخو کې عملي کېږی. دغه دودونه او رسمونه، هم لکه د تيرو دوو مرحلو دودونو په شان په مثبت او منفی دودونو تقسيمېږی.

ځينې هغه دودونه او رواجونه دي چې قانون او په ټوله کې قانون جوړونکړ ورته درناوی کړی او د قانون په موادو کې يې د هغو د تائيد لپاره حکمونه وضع کړی. البته په ځينې ځايونو کې يې د تائيد ترڅنګ يو څه تعديل هم کړی دی. يعني د يو دود يا د يو رسم چې په مجموع کې د قانون له مخې د تائيد وړګرځيدلی، خو يوه برخه يې تغيير شوې يا په يوې ځانګړې کړنې يا شرط، پورې مشروط شوی دی.

> دغه دودونه او رواجونه چې له واده وروسته د درېيمی، اوومې، ناوې ته دعوت کول، تحفې ورکول، د دواړو کورنيو له طرف ميلمستيا، روی نمايک، شاه سلامې، د هلک د کورنۍ لخوا همکاري جمع کول، مبارکې، پايوازي، ناوې د پلار کور ته بيول، يو د بل له خپلوانو سره روابط او اړيکې ساتل او داسې نور دي په ټوله کې د قانون له مخې کومه ستونزه نه لري.

ځينې بيا هغه دودونه او رواجونه دي چې قانون جوړونکو په مختلفو دلايلو ناسم بللي او د هغوی د منعې حکم يې کړی يا د هغه د مخنيوي او بالکل له ټولنې نه د لری کولو او د لمنځه وړلو حکم يې صادر کړی. پرته د هغو ناسمو دودونو او رواجونو چې د اساسي قانون د ۵۴ مادې د حکم په بنياد د اسلام سپيڅلي دين له احکامو سره مغاير دي، داسې ډېر دودونه او رواجونه شته چې د تاريخ په اوږدو کې په افغاني ټولنه کې د واده د بهير په دغه آخرينۍ مرحله يا د واده په وروستۍ مرحله کې عملي کېږی.

---

[1]) عبدالرحمن بن ناصر السعدي، شرح شيخ سعد، الاصل فی العادات الاباحة.
[2]) عبدالکريم زيدان قواعد فقهي مترجم ابوعاصم عبدالناصر ص ۱۵۶.

هغه ځکه چې دا ټول هغه اقدامات دي چې د دواړو کورونو تر منځ اړیکې لا پیاوړې او د مینې او ورورولی فضاء را منځ ته کولو کې مثبت رول لرلی شی.
که د اساسي قانون ۵۴ مادې ته ځیر شو، نو دا چې دغه رواجونه او دودونه د اسلامي د سپیڅلي دین له احکامو سره مغایر نه دي، له شرعي او اخلاقي اصولو سره په تعارض او ټکر کې نه واقع کېږی، نو د همدې اساسي قانون له مخې دا رواجونه هېڅ ستونزه نه لري.
او دا چې دغه یاد دودونه د ښځې د جسمي او روحي روغتیا او د کورنۍ د خوشحالۍ سبب هم ګرځي، نو د همدې مادې له مخې د تائید وړ عمل دی.
دا چې د مدني قانون ډېر تمرکز په هغو مواردو او حالاتو دی، تر څو د واده په بهیر کې داسې کوم عمل تر سره نشي چې هغه د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره په ټکر کې وي یا د واده بهیر له مشکل سره مخ کړي، نو کله چې د هغو مواردو مخه ډپ شي، د واده په وروستۍ مرحله کې د دواړو لورو اړیکې ښې یې او د تحایفو او ډالیو تباله، همدا رنګ د تګ او راتګ او د میلمستیا په اړه چې کوم دودونه دي، هغه په عادی توګه ترسره کېږی.
نو د واده په وروستۍ مرحله کې چې کوم دودونه او رواجونه یاد شوي، دا ټول د دواړو لوریو د اوږدمهاله اړیکو تداوم او پایدار ساتل دي. دا رواجونه له یوې خوا اختیاري او غیر اجباري دي او له بلې خوا هره کورنۍ یې خپل ځواک او توان ته په کتو عملي کولو ته اقدام کوي، نو مدني قانون د یادو رواجونو په اړه سکوت کړی او څه یادونه یی نه ده کړې.
او همدارنګه د واده د مراسمو قانون ته که وګورو، د واده وروستۍ مرحلې او هغه رواجونه چې په دغې مرحلې کې تر سره کېږی، توجه نه ده کړې او نه یې د هغو په اړه کوم حکم وضع کړی.
که چېری د یاد قانون اهدافو ته وکتل شي، بیا هم ټول هغه څه په کې بیان شوي چې د واده بهیر بې له کومې ستونزې او بې له دې چې د شریعت خلاف کوم عمل په کې ترسره شي، سر ته ورسیږي. کله چې واده د واده د مراسمو د قانون په رڼا کې ترسره شي او دغه یادې موخې او اهداف په نظر کې ونیول شي، نو معنا دا چې د واده بهیر د قانون مطابق ترسره شوی دی.
نو له دې سره ویلی شو چې د واده په وروستۍ مرحلې کې چې کوم دودونه ذکر شوي دی، دا ټول هغو متغیرو او متحولو حالاتو او شرایطو ته ورته دي چې د قانون د کوم ځانګړی حکم وضع ورته نه ایجابیږی.
که چېری د واده د مراسمو قانون اهدافو ته وکتل شي، لاندني درې موخې هغه څه دي چې د واده په وروستۍ مرحله کې چې دغه دودونو ترسره کېږی، د هغوی لپاره عمومي اصول او مشوق دي:

- "د اصیلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او غوره سنتونو ته درناوی،
- د کورنۍ د شیرازې ساتل او د کورني تاوتریخوالي مخنیوی،
- د زوج او زوجې او د دوی د کورنیو د ښو او پایدونکو اړیکو تأمینول[1]"،

---

۱. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۲).

نو د واده د مراسمو د قانون د دویمې مادې پورتنیو اهدافو ته په کتو هغه څه چې د واده وروستۍ مرحلې د دودونو په اړه وویل شو، هغه یا خو د اصیلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او د غوره سنتونو درناوی دی، یا هم د کورنۍ د ښیرازې د ساتلو او د تاوتریخوالی مخنیوی دی او یا هم د زوج او زوجې د کورنیو تر منځ د پایدونکو اړیکو ساتل او تأمینول دي.

که چېرې دغه دودونه او رواجونه د یادو درېو موخو څخه د یوې هم مصداق نه وي، نو په دې حال کې بیا د هغه تقنیني منطقة الفراغ حکم پلي کېږي، کوم چې د هرې کړنې او هر عمل د قانون د عمومي اباحت ساحه یا د منطقة الفراغ ساحې په اړه د تطبیق وړ دي.

د تقنیني منطقة الفراغ ساحه یا د فقهي احکامو د اباحت هغه لوی میدان دا ایجابوي چې یواځې د عمومي اصولو او لویو معیارونو ته پاملرنه وشي، تر څو د هغو معیارونو سره په ټکر کې کوم عمل ترسره نه شي، نور نو هره کړنه او هر عمل قانوني بلل کېږي او هېڅ کومه ستونزه نه لري.

# درېيم فصل

# منفي دودونه، اغېزې او شرعي او قانوني حيثيت

لومړی مبحث: منفي دودونه

لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې منفي دودونه

دوهم مطلب د واده د مرحلې منفي دودونه

درېيم مطلب: له واده وروسته منفي دودونه:

دوهم مبحث: د منفي دودونو اغېزې

لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو اغېزې

دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفي دودونو اغيزې

درېيم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو اغيزې

درېيم مبحث: د مخکېنيو دودونو شرعي او قانوني حيثيت

لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حيثيت

دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حيثيت

درېيم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو شرعي او قانوني حيثيت

# درېیم فصل

## منفي دودونه، اغېزې او شرعي او قانوني حیثیت

په دغه فصل کې قدرمنو لوستونکو ته په افغاني ټولنه کې منفي دودونه او په فرد، کورنۍ او ټولنه د هغو منفي اغېزې د اسلامي شریعت او د افغانستان د مدني قانون په رڼا کې وړاندې کېږي.

### لومړی مبحث: منفي دودونه

سره له دې چې افغاني ټولنه له سلګونو کلونو را په دې خوا اسلامي ټولنه ده او د ژوند په مختلفو اړخونو کې الحمدلله ښه او مثبت دودونه لري چې مثبت دودونه مو مخکې بیان کړل، خو په تاسف سره باید دا هم ووایو چې زموږ په ټولنه کې ډېر داسې دودونه هم شتون لري چې د اسلامي شریعت خلاف، د انساني اخلاقو خلاف او زموږ په ټولنه کې یې هېڅ ښه اثار نه دي پرېښودي، پرته له دې چې فردي، کورني او اجتماعي مشکلات یې پیدا کړي دي چې له دې دودونو څخه زموږ ټولنه کلونه کلونه کړېږي. الله تعالی دې زموږ په ولس کې دیني، اخلاقي او انساني فهم قوي کړي، تر څو له دې مشکلاتو څخه خلاص شو. زموږ په هېواد کې ځینې داسې دودونه شته چې په ټول هېواد کې یو شان دي، خو ځینې بیا داسې دي چې په سمت، قوم او ژبو پورې تړلي دي چې هغو دودونو ته کتنه کوو.

### لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې منفي دودونه

**۱- نوروزي:**

د کوزدې په مرحله کې چې کوم منفي دودونه شتون لري او تقریباً په ټول هېواد کې عمومیت لري، خو په ځینو ولایاتو کې ورته ډېر اهتمام کېږي او په ځینو نورو ولایاتو کې بیا کمرنګه دي او لږ کورنۍ او افراد یې عملي کوي، دا دود هم د افغانستان په شمالي ولایتونو کې نسبت له نورو ولایاتو څخه زیات دی چې د نجلۍ د کورنۍ لخوا غوښتنل کېږي.

هرکله چې د هلک کوزده ترسره شي، نو له همدې مرحلې وروسته، تر څو چې واده نه وي شوی، نو د هر نوي کال په راتګ سره هلک مجبوره دی، تر څو د نجلۍ کورنۍ ته نوروزي یوسي چې دا دود هم بیا د ساحو په اعتبار متفاوت دی. په ځینو ځایونو کې ډېر زیات مصارف د هلک په کورنۍ باندې راځي، لکه: لباس، شریني، نغدې روپۍ، طلا او داسې نور او په ځینو ولایاتو او یا کورنیو کې نوروزي اخیستل کېږي خو زیات مصارف وربانديې نه راځي[1].

**۲- عیدي:**

د عیدي یا اختري په نوم چې د افغانستان په شمال کې کوم منفي دود شتون لري. هلک وربانديې مکلف او مجبور دی چې د نجلۍ کورنۍ ته د اختر ضروري شیان لکه میوه، لباس او داسې نور حتما یوسي. که

---

[1]) څېړنپوه نورالحق عزیزي، د علومو اکاډمي، د تفسیر او علوم قرآن د انستیتیوت امر او د کاپیسا ولایت اوسیدونکی او مظهرالدین فایز د تعلیم او تربیې د پوهنتون استاذ او د پنجشیر ولایت اوسیدونکی

توان لري او که يې نه لري او کله چې عيدي رانه وړي د نجلۍ د کورنۍ د خفګان سبب ګرځي او د واده په راتلونکو مراحلو کې بدې اغېزې لري[1].

**۳- د خطبې په وخت د انکار په صورت کې د دښمنۍ فکر کول:**

کله چې د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ د غوښتنې لپاره نارينه او ښځينه ولېږل شي او د نجلۍ لخوا ورته منفي ځواب ورکړل شي او د نجلۍ له ورکولو څخه انکار وشي، نو د هلک کورنۍ داسې فکر کوي چې دوی له موږ سره دوستني کول نه غواړي او زموږ دوستان نه دي او داسې فکر کوي، لکه موږ چې د هغوی دښمنان يو او دا عمل ورته ښه نه ښکاري او تر ډېره وخته يې روابط قطع وي چې دا دود زيات د پنجشير په ولايت کې شتون لري[2].

**۴- د سوغات ردول:**

کله چې د هلک کورنۍ له مشورې وروسته کوم کور او نجلۍ انتخاب شي، نو څه اشخاص نارينه او ښځينه له سوغات سره چې اکثره په کې شيرني وي او په ځينو ولاياتو کې، لکه: کاپيسا او پروان کې د سوغات وړل د پټنوس په نامه يادوي، يعني شيرني په پټنوس کې اچوي او د نجلۍ کور ته يې وړي، شيرني او سوغات په دې مرحله کې د ښه نيت د ښکاره کولو او په پوره عزم او ارادې باندې دلالت کوي او کله ناکله خو د نجلۍ د کورنۍ د ښځو لخوا نارينه وو ته ويل کېږي چې فلاني خېل د دوستۍ لپاره راغلي او پټنوس يې هم له ځان سره راوړی دی، يعني دا پټنوس او ميوه د هغوی لخوا په پوره عزم او قوي ارادې دلالت کوي، نو کله چې د نجلۍ د کورنۍ لخوا ځواب مثبت وي، نو هغه راوړل شوې مېوه د نجلۍ په کور کې خوړل کېږي، خو که چېرې د نجلۍ د کور لخوا ځواب منفي وي، نو هغه پټنوس سره له ميوې بېرته رد او د هلک کورنۍ ته واپس کېږي[3].

**۵- په انتخاب کې د هلک او نجلۍ اختيار نه لرل:**

متأسفانه په مجموع کې په افغاني ټولنه کې د واده په هکله نجلۍ او هلک ته هغه اختيار او واک چې شريعت ورکړی دی، نه ورکول کېږي، مشوره ورسره نه کېږي، يو بل نه شي ليدلی او ليدل او کتل شرم او عار ګڼل کېږي[4].

**۶- د شيريني خوري محفل:**

يو له هغو منفي دودونو چې د هلک او د هغه په کورنۍ باندې ناوړه اقتصادي اغېز لري، هغه بې ځايه د شيرينی خوري په نوم محافل دي چې د دې محفل ګټه نه د نجلۍ کورنۍ ته وي او نه هم د هلک کورنۍ

---

[1]) عبدالوهاب عابد. د علومو اکاډمي علمي غړی او د کاپيسا ولايت اوسيدونکی او استاذ سميع الله دانشيار په کندز کې د سلام پوهنتون رئيس او د بغلان ولايت اوسيدونکی

[2]) عبدالصبور فخري د کابل پوهنتون استاذ او د پنجشير ولايت اوسيدونکی

[3]) سيد صفی الله عثمانی د بغلان ولايت د نهرين ولسوالی اوسيدونکی

[4]) عبدالواحد ربيع د بدخشان ولايت د درواز اوسيدونکی، استاذ مظهر الدين فايز د تعليم او تربيې د پوهنتون استاذ او د پنجشير ولايت اوسيدونکی

ته، صرف یو بې ځایه او نامناسبه اسراف دی چې کله نا کله خو دواړه کورنۍ ورڅخه متضررې کېږي او هغه فزیکي تکلیف او ستړیا خو بې له اقتصادي مصارفو څخه دواړو کورنیو ته وي[1].

دا هم د بامیانو د ولایت یو ناوړه دود دی چې تر اوسه شتون لري بې له دې د نکاح د مراسمو چې د ولیمي ډوډۍ ده، د شیرني خورۍ په نوم په هلک جبراً محفل نیول کېږي چې زیات مصرف هم په دې محفل باندې راځي او د هلک کورنۍ مجبوره ده چې د دې مراسمو لپاره پیسې پیدا کړي چې هغه له هر ځای څخه وي.

**۷- د نجلۍ اقاربو ته نغدي روپۍ او یا هدیې ورکول، تر څو هغوی راضي شي:**

متأسفانه چې په افغاني ټولنه کې په بعضې ځایونو کې دا دود شتون لري چې کله د نجلۍ او دهغې مور او پلار راضي شي، نو د هغې ځیني اقارب لکه ماما، کاکا ... هغوی خپل ځان مرور او ناراضه کړي، تر څو د هلک له کورنۍ څخه څه شی تر لاسه کړي، د هلک کورنۍ اخیر مجبوره شي، تر څو هغه شخص ته هم څه نغدې پیسې یا لنګۍ، څادر او جامې ورکړي دا دود په تخار ولایت کې ډېر دی.[2]

**۸- د کوزدې مرحله طولاني کول:**

متأسفانه په هغو ولایاتو کې چې د کوزدې په مرحله کې ناوړه دودونه زیات وي او همدارنګه د واده په جریان کې نامناسبې غوښتنې چې د هلک د کورنۍ له توان څخه پورته وي، لکه: ورڅخه طلا، ډول ډول لباس، خوړه، کور، د کور سامان، تحفې، میوه، ډېر زیات مهر او نغدې روپې غواړي او کله خو له دې وراخوا نورې زیاتې غوښتنې لري چې د هلک کورنۍ یې نشي ترسره کولای، نو په نتیجه کې د کوزدې مرحله په کلونو کلونو دوام کوي د هر نوي کال په راتګ مصارف، د اخترونو مصارف د هلک په کورنۍ دومره بوج شي چې د هغه له غرامت څخه نشي وتلای، نجلۍ د پلار په کور ناسته وي، هلک یوې خوا او بلې خو ته منډې وهي، تر څو د نجلۍ د کورنۍ غوښتنې پوره کړای شي[3].

**۹- عذرونه کول:**

د نجلۍ د کورنۍ لخوا واده په یو او بل نوم ځنډول، تر دې چې د هلک د کورنۍ مشران دې ته مجبور کړای شي، تر څو د نجلۍ کورنۍ ته وخت په وخت عذرونه وکړي،کله پلار، کله ماما، کله کاکا ته پښپله زوم او د هلک نور اقارب ورځي او د نجلۍ پلار، مور، ورور، کاکا، ماما او له نورو اقاربو سره کښېني، عذرونه کوي، تر څو واده ورکړي، هغوی هم بیا په داسې شکل راضي کېږي، چې د هلک له کورنۍ څخه زیاته مادي غوښتنه کوي، هلک مجبور شي، کله خو ورته ځمکه او موټر خرڅ کړي، کله نا کله له هېواده بیرون ولاړ شي، تر څو د خسر غوښتنې پوره کړي.[4]

---

[1]) محمد یوسف مرادي د سرپل دارالعلوم استاذ او د سرپل ولایت اوسیدونکی
[2]) عبدالواحد کریمی د تخار پوهنتون استاذ او د تخار ولایت اوسیدونکی
[3]) محمد یوسف مرادي د سرپل دارالعلوم استاذ او د سرپل ولایت اوسیدونکی
[4]) عبدالفتاح جواد، د احساس خیریه موسسې رئیس او د لوګر ولایت اوسیدونکی

### ۱۰- زیات مصارف غوښتل:

متأسفانه د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې د نجلۍ د کورنۍ لخوا چې کوم ناوړه دود شتون لري، د هلک په کورنۍ باندې داسې اقتصادي فشارونه راوستل، تر دې چې د هلک کورنۍ له ډېرو اقتصادي مشکلاتو سره مخ کېږي چې یو هم په هغو ناوړه دودونو کې د نجلۍ د کورنۍ لخوا د هلک له کورنۍ څخه تر پنځه سو جوړو، پرته له هغو جوړو چې د نجلۍ کورنۍ ته یې ورکوي زیاتې ورڅخه غواړي[۱].

### ۱۱- کفائت نه مراعاتول:

یو د هغو ناوړه دودونو څخه چې په افغاني ټولنه کې زیاته توجه ورته نه کېږي، د کفائت یا سیالولۍ نه رعایت کول دي، خو د افغانستان په جنوبي ولایاتو کې دا موضوع متأسفانه ډېر مشکلات لري، علم، کسب، مال، نسب او ... ته هېڅ پاملرنه نه کېږي چې بیا یې ناوړه اغیزې په کورني ژوند ډېرې بدې وې[۲].

### ۱۲- ولور:

زموږ په افغاني ټولنه کې چې په ټولو قومونو، سمتونو او ولایاتو کې ډېر ناوړه دود دی، هغه ولور دی، یعنې هغه پیسې چې د نجلۍ کورنۍ یې د هلک له کورنۍ څخه اخلي، خو دا ولور بیا په ځینو ولایاتو کې دومره زیات شوی چې ټول خلک ورڅخه رنځېږي، بالخصوص د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې چې تر ځلوېښت او پنځوس لکه افغانیو پورې رسېږي او دا قضیه د پکتیا په ولایت کې تر هر څه له مخه مطرح کوي او کله چې یې په ولور اتفاق راغی، بیا د کوزدې مرحلې ته داخلېږي چې د ولور د تعیین لپاره پنځه کسان تعینوي چې هغوی بیا د ولور په مقدار بحث کوي، تر دې چې موافقې ته ورسېږي[۳].

### ۱۳- د کوزدې ژبه او وعده:

د لغمان ولایت الینګار ولسوالۍ پشه یي قوم کې پخوا دا دود ډېر زیات ؤ خو اوس تقریباً له منځه تللی دی. هغه دا چې کله به په خپلوانو کې دوه ښځې امیدوارې (حاملې) شوې، نو نارینه وو به یو له بل سره په دې سره سلا او مشوره کوله چې که زما زوی او ستا لور وشي، نو یو بل ته به یې ورکوو او په دې خبره به تر آخره کلک او محکم ولاړ ؤ او له زېږېدو وروسته به په همدې خبره باندې کوزده ترسره کېده چې د دواړو کورنیو، هلک او نجلۍ که رضایت درلود او که نه درلود دغه کار ترسره کېده، ځکه هماغه مخکېنۍ وعده او لوظ د کوزدې په توګه کاریده او که نه نو دا به ورته د پیغور په توګه پاتې کېده چې له فلاني څخه خپله ښځه پاتې شوه[٤].

---

[۱]) عبدالرحمن مبشر د پکتیا پوهنتون استاذ او د لوګر ولایت اوسیدونکی

[۲]) محمد طاهر د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالی اوسیدونکی

[۳]) احمد ګل قومي مشر او ملک د پکتیا د ګردیز اوسیدونکی او نجیب الله صالح د ننګرهار پوهنتون استاذ او د ننګرهار ولایت اوسیدونکی

[٤])عبدالحکیم رسولی او شاه محمد د د لغمان ولایت الینګار ولسوالی د نورلام درې اوسیدونکی

**۱۴- یو بل ته ګوتمۍ په ګوته کول:**

پخوا به صرف د ښار په ځینو سیمو کې دې دود شتون درلود، خو اوس تقریباً ټول کلي او قریه جات په دې دود کې راګیر شوي دي، هغه دا چې کله د هلک او نجلۍ د کورنیو لخوا توافق تر سره شي او د دسمال د اخیستلو مراسمو ته د هلک د کورنۍ خلک د نجلۍ کورنۍ ته ولاړ شي، نو هلته وروسته له دې چې دسمال واخیستل شي، هلک د نجلۍ کور ته بیایي او هلته یې ورته یو لوړ ځای برابر کړی وي، بیا په هماغه لوړ ځای زوم او ناوې درول کېږي او د کلي ښځې دغه مراسم له نږدې ګوري چې محرم او نامحرم په کې هېڅ معلوم نه وي او په ځینو ساحو کې نور سړي هم ولاړ وي او زوم ناوې ته او ناوې زوم ته په خوله کې څه خواږه ورکوي او بیا وروسته یو د بل په ګوته کې ګوتمۍ ور اچوي.[۱]

خو که چېرې هلک او نجلۍ یو بل ته ګوتمۍ په ګوته کول د داسې خپلو خپلوانو په منځ کې ترسره کړي چې هغوی ټول محارم وي څه اشکال نلري البته کله ناکله خو د محارمو په حضور کې وي خو نور نامحرم سړي او نامحرمې ښځې هم په کې شتون لري چې دا کړنه ناسمه ده

**۱۵- بدل:**

په افغاني ټولنه کې یو له هغو دودنو څخه چې تر نن پورې باقې پاتې دی، هغه بدل (شغار) دی، بدبختانه چې دا دود زموږ په ټولنه کې تر اوسه پورې شتون لري او بالخصوص په کلیوالو او اطرافي ساحو کې چې په دې دود سره د ډېرو نجونو حقوق ضایع شوي دي.[۲]

**۱۷- باري او شوله:**

د نورستان ولس دودونه متأسفانه تر ډېره حده منفي او ناوړه دي، یو له هغو دودونو د نورستان د وایګل ولسوالۍ دود چې هلته خلک د کسبه کارو له طبقې چې هغوی ته باري او شوله وایي له هغو سره نور خلک د واده رابطه نه ساتي نه نجلۍ ورکوي او نه نجلۍ ورڅخه کوي، سره له دې چې هغوی کې دینداري او اخلاق په پوره توګه موجود هم وي[۳].

**۱۸- د هلک له کورنۍ څخه د کوزدې مصارف غوښتل:**

کله چې توافق وشي، نو د کوزدې د محفل دایرولو لپاره د هلک له کورنۍ څخه ټول هغه مصارف چې په دې ورځو کې کېږي غوښتل کېږي چې کله نا کله په لکونو روپیو سره دا مرحله ترسره کېږي، که د هلک د کورنۍ توان وي او که نه وي، خو مجبور دي تر څو هغه مصارف وګالي[٤].

**۱۹ – د کوزدې مصارف د نجلۍ له مهر څخه:**

د ورډګو د دودونو له جملې څخه یو منفي دود، د نجلۍ په مهر کې تصرف کول دي، کله چې د کوزدې مراسم ترسره کېږي او مهر تعیین شي، مخکې له مخکې د مهر یو څه حصه د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ پلار ته سپارل کېږي چې هغه د کوزدې مراسم ورباندې ترسره کړي[۱].

---

[۱]) محمد عثمان اخلاص د لغمان ولایت د معارف د تفتیش مدیر او د لغمان ولایت اوسیدونکی

[۲]) د ټول هېواد څخه راجمع شوي معلومات.

[۳]) جمال الدین د نورستان دارالعلوم استاذ او د نورستان ولایت د وایګل ولسوالۍ اوسیدونکی

[٤]) استاذ انعام الله صافی د کنړ ولایت اوسیدونکی او د تره خیل دارالعلوم استاذ

**۲۰ – ښځه په بدو کې ورکول:**

متأسفانه چې زموږ ګران هېواد له کلونو کلونو راپدېخوا له مختلفو ناخوالو څخه کړېږي، جهل، دښمني، تربګني، حسد او.... چې د دې دښمنیو بدې اغیزې په ټولنه، کورنیو او افرادو تر کلونو کلونو پورې پاتې کېږي، کله چې د جنګ په نتیجه کې لوی مشکل پیدا شي، لکه: قتل، نو بیا په ځینو ساحو کې جرګه ماران د قاتل له کورنۍ څخه یوه نجلۍ د مقتول کورنۍ ته په بدو کې ورکوي او په ځینو ساحو کې تر دریو ښځو پورې چې مختلف عمرونه ولري، د مقتول کورنۍ ته ورکول کېږي[۲].

**۲۱ – د نامزادانو په ملاقات کې افراط او تفریط:**

د میدان وردګو ولایت د اولس منفي دود چې تر اوسه یو څه ناڅه شتون لري، هغه له کوزدې وروسته په ځینو کورنیو کې تر دې حده بندیز وي چې هېڅکله هم هلک خپله نامزاده نشي لیدلی او تر دې چې نکاح یې هم تړلې وي، بیا یې هم لیدل منع وي، خو په ځینو ځایونو کې بیا داسې آزادي وي چې صرف له لومړۍ مرحلې څخه وروسته بیا خلوت، په هوټلونو کې چکر وهل او پارکونو ته تګ راتګ یو ځای سره کوي[۳].

**۲۲ – د غوښتنې (خطبې) په وخت کې یو بل ته د لیدو حق نه ورکول:**

دا هم یو ناوړه دود دی چې هلک او نجلۍ د خپل ژوند د ملګري د انتخاب په وخت کې او له انتخاب څخه وروسته د خطبې په وخت کې د لیدو حق نه لري او دا دود هم تقریباً په ټول هېواد کې شتون لري او د نجلۍ په کتو کې د هلک د کورنۍ ښځینه، لکه: مور، خور، ترور... اکتفا کوي او هلک ته حق نه ورکول کېږي چې خپله مخطوبه ووینې او همدارنګه نجلۍ هم هلک نشي لیدلی، بلکې د نجلۍ د کورنۍ پلار، ورور، تره او... د ده په کتلو اکتفا کوي چې دا دود په ټول هېواد بالخصوص په اطرافي ساحو کې شتون لري[٤].

**۲۳- د نجلۍ کور ته پرته له نکاح د هلک تګ راتګ:**

زموږ په بعضې ولایاتو او کلیوالو ساحو کې دا دود شتون لري چې صرف یوه اونۍ وشي او نکاح یې کړې نه وي بیا هم هلک او نجلۍ کورته تګ راتګ کوي او له خپلې نامزادې سره خلوت هم کوي[۵].

**۲۴- د ښځو او عاشقانو د ورځو یا مناسبت تحفې وړل:**

اګر چې دا دود الحمدلله زموږ په هیواد کې شتون نه لري، خو بیا هم په ځینو ښاري ساحو او د نیمروز په ولایت کې لږ لږ شتون لري چې د نورو ورځو د مناسباتو په څېر، لکه: اخترونه، نوروز د ښځو او د عاشقانو د ورځو په مناسبت هم یو بل ته تحفې وروړي او متأسفانه ډېرې قیمتي تحفې، یو بل ته وروړل کېږي چې بعضې وخت خو په قرض کولو هم مجبورېږي، ځکه د فامیل مالي وضعیت ښه نه وي، نو

---

[۱]) محمد حسن اسلامي د سلام پوهنتون استاذ او د وردګو ولایت اوسیدونکی

[۲]) مجیب الرحمن عاصم د وردګو ولایت اوسیدونکی او د سلام پوهنتون استاذ

[۳])ا عبدالبصیر حکیمی، د میدان وردګو ولایت اوسیدونکی، لیکوال او د ملي پوهنتون استاذ

[٤]) اصحاب الدین رحماني د بامیانو د ولایت اوسېدونکی او د علومو اکاډمي علمي غړی

[۵]) عبدالروف فیاض د غور ولایت د پوهنتون استاذ او د غور ولایت اوسیدونکی

مجبور شي چې قرض وکړي، تر څو د دغو عنوانونو لاندې تحفې برابرې کړي او خپل نامزاد ته يې ورکړي[1].

**۲۵- شيربها:**

په فراه ولايت کې د شيربها دود متأسفانه شتون لري او په دې ولايت کې د نامزادۍ په مرحله کې د نجلۍ د اقاربو لخوا چې د نجلۍ هيڅ واک او اختيار په کې نه وي، د هغوی لخوا نغدې روپۍ غوښتل کيږي چې په دې اړه بيا ډېره چنه بازي هم کيږي، خو بيا هم بايد يو څه شی هغوی ته ورکړی.[2]

۲۷- د نجلۍ خپلوانو ته د لباس په نه راوړلو جنجال:

دا هم د فراه ناوړه ولسي دود دی چې د نامزادۍ په مرحله کې د نجلۍ اقاربو ته د هلک د کورنۍ لخوا لباس رانه وړل شي، نو په دې جنګ او جنجال کوي.

**۲۶- جبري تحفې:**

د هرات ولايت يو له ناوړه دودونو څخه چې تر اوسه شتون لري، د درواغو تحفې دي يعنې، په حقيقي معنا تحفې نه وي، بلکې د مختلفو اوقاتو په راتګ سره يو بل ته تحفې ورکوي چې زياتره په دې مرحله کې د هلک کورنۍ مجبوره ده چې دا دود تر سره کړي، کله د عيدي په نوم، کله د نوروزي په نوم، خو هغه چې خاص په دې ولايت کې شتون لري، هغه د ژمي او پسرلي تحفې وي چې د دې موسمونو په راتګ يو بل ته ډالۍ ورکوي[3].

**۲۷- طرفين يو بل ته جبراً بايد لباس واخلي:**

په بادغيس ولايت کې د نامزادۍ په مرحله کې چې کوم ناوړه دود شتون لري، هغه هم په داسې شکل چې دواړه کورنۍ ورڅخه متضررې دي، هر کله چې کوزده ترسره شي او له هغې وروسته يو بل ته هره کورنۍ دعوت ورکوي، نو د هرې يوې کورنۍ ټول افراد نارينه او ښځينه، مشران او کشران د يو بل کور ته ځي، د ورځې تېرولو وروسته چې خوراک وشي، له رخصت کېدو څخه مخکې بايد هره کورنۍ د بلې کورنۍ ټولو راغلو ميلمنو ته لباس ورکړي[4]

## دوهم مطلب د واده د مرحلې منفي دودونه

د واده د مرحلې منفي دودونه هم د کوزدې په مرحلې پورې ډېر تړاو لري او له واده وروسته هم دا ټولې مرحلې يو پر بل پورې تړلې دي.

په افغاني ټولنه کې د واده په مرحله کې متأسفه ډېر داسې منفي دودونه شتون لري چې ټولنه، کورنۍ او افراد وسره په مشکلاتو کې راګير دي، خو دا چې ډېره موده دې دودونو دلته تېره کړې ده او له منځه وړل يې هم ډېر وخت ته اړتيا لري، تر څو هغه ناوړه دودونه زموږ له ټولنې پورته شي او له دې

---

[1]) ابراهيم خليل په نيمروز ولايت د اعجاز قران د موسسي مسئول او د نيمروز ولايت اوسيدونکی

[2]) شاه محمد بلخ د فراه ولايت د دارالعلوم استاذ او د فراه ولايت اوسيدونکی

[3]) خليل جامي، د اينده سازان د موسسي مسئول او استاذ ابراهيم يوسفي د هرات دارلعلوم استاذ او د هرات ولايت اوسيدونکي

[4]) عبدالخالق خيرخواه د بادغيس ولايت اوسيدونکی او مدنی فعال

مشکلاتو څخه د خلاصون لار همدا ده، چې علماء، استادان، قومي مشران، کورنۍ او هر فرد په دې قضیه کې خپل مسئولیت ادا کړي.

**۱- د مهر په پیسو جهیز اخیستل:**

متأسفانه یو ناوړه دود چې زموږ په ټولنه کې شتون لري، د نجلۍ د مهر په پیسو چې له هغې څخه هېڅ پوښتنه هم نه وي شوې، د هغې د نوي کور سامان «جهیز» اخلي، تر دې چې په بعضې وختونو کې خو د نجلۍ ټول مهر په کې مصرف شي او نجلۍ ته هېڅ شی هم له مهر څخه پاتې نشي، د کور سامان، ظروف، قالیني، بسترې لنډه داچې د کور لپاره چې کوم شیان ضرورت وي، هغه د نجلۍ د مهر په پیسو اخلي او بیا یې له نجلۍ سره کور ته استوي چې مال د نجلۍ مصرف شي او نوم یې د پلار وشي چې دومره قوي کور یې ورسره تیار کړی دی او هغه نوم بیا په ډېرو مجالسو کې یادېږي.[1]

**۲- د هلک په کورنۍ پر مهر سربېره نور بوج اېښودل:**

د واده په رانږدې کېدو سره د نجلۍ کورنۍ د هلک له کورنۍ څخه له مهر نه پرته د پنځه سو کم او زیاتو کسانو په شمېر لباس، پټو او لنګۍ جبري ایښودل کېږي، تر څو یې د واده ورځې ته اماده کړي او له هغې ورځې یې مخکې د نجلۍ کور ته ورووړي.[2]

**۳- د موټر مخکې ته چرګ حلالول:**

یو د هغو پخوانیو دودونو څخه چې په خاصه توګه په کلیوالو ساحو کې ډېر شتون لري، هغه د اوښ، اس، خره پښنو ته او یا د موټر ټیر ته چرګ حلالول دي چې ځینې خلک دا کار د دې لپاره کوي چې ناوې راوړل په سورلۍ دروندوالی او سام لري او د دې علاج دا دی چې د سورلۍ مخې ته باید چرګ حلال شي او بعضې ځایونو کې د چرګ کاکول وینې کوي او هغه وینې د څاروي په پښنو او یا د موټر په ټیر وهي.[3]

**۴- تویانه:**

د تویانې په نامه چې کومې پیسې د هلک له کورنۍ څخه اخیستل کېږي، متأسفانه ډېر ظالمانه دود دی چې زموږ په ټولنه کې شتون لري چې دا دود په کلیوالو ساحو کې زیات دی، خو په ټول هېواد کې شتون لري او په ښاري ساحو کې، خو بیا چې کله هم غوښتل کېږي، هغه د هوټل ټول مصارف وي، تر دې چې د هلک کورنۍ پور ته مجبوره شي، تر څو تویانه برابره کړي.[4]

**۵- د نکریزو د شپې محفل:**

په بامیانو ولایت کې متأسفانه خاص طور او په نورو ولایاتو په عامه توګه په بعضې کورنیو کې داسې دود شتون لري چې د هلک او نجلۍ کورنۍ د نکریزو لپاره خاص محفل دایروي او زیات مصرف په کې

---

[1]) محمد حسن اسلامي د سلام پوهنتون استاذ او د وردګو ولایت اوسیدونکی

[2]) پخوانی مرجع

[3]) مجیب الرحمن عاصم د وردګو ولایت اوسیدونکی او د سلام پوهنتون استاذ

[4]) عبدالبصیر مومن حکیمی د میدان وردګو ولایت اوسیدونکی او د ملي پوهنتون استاذ

کېږي او د نرانو او ښځو مختلط پروګرام په کې ترسره کېږي او د دې پروګرام لپاره خلک دعوت کېږي، زيات مصارف په کې کېږي په بعضو ځايونو کې د يوه واده مصرف په کې کېږي.

**۶- په زيات مصرف د زوم مجبورول:**

د باميانو په ولايت کې په زوم باندې جبراً د واده مصارف دومره زيات اچوي چې د زوم له وسې بيرون وي، خو هغه مجبوره دی چې د واده د پروګرام لپاره هغه ټول مصارف چې د نجلی د کورنی لخوا ورځخه غوښتل کېږي برابر کړي[1]

**۷- آريشګاه ته تلل:**

آريشګاه ته تلل د افغاني ټولنې ښاري دود دی چې په دې اواخرو کې زيات خلک ورځخه متاثره شوي دي.

دا له ځان سره څه منفي نقاط لري، لکه د آريش ګري ځای په امن کې نه وي او هغه له دې ځای څخه مطمئنه نه وي او که چيري د آريشګرۍ څخه کوم تشويش شتون ونه لري او يا دا چې آريشګره کور ته راوغوښتل شي بيا نو کوم مشکل نه لري.

**۸- شمه لګول:**

دا هم د غور ولايت ولسي دود دی چې په واده کې شمې روښانه کوي او دا هم د دوي لپاره له ځانګړو مراسمو څخه دي، نارينه او ښځې ورته راځي[2].

**۹- ناوې او زوم په بازار کې ګرځول:**

د ښاري سيمو يو بل ناوړه دود چې په هرات ولايت کې زيات دی، هغه د ناوې او زوم په بازار ګرځول دي چې د نجلۍ او هلک د کورنيو اقارب په موټرو کې د يو بل سره د مقابلې په شکل په بازارونو کې ځغلي، له ټکر، بازار کې مزاحمت، بې ځايه مصرف او ځانونه ستړي کولو بل څه په لاس نه ورځي، چې دا ټول کارونه عبث او بې ګټې دي.

**۱۰ ـ مختلط او ګډ محافل نيول:**

د مختلط محفل دود هم د ښاريانو دود دی چې په دې اواخر کې زيات شوی دی، خو د هرات په ولايت کې دا دود زيات تر سترګو کېږي[3].

**۱۱- يوبار مصرف لباس د واده لپاره اخيستل:**

په افغاني ټولنه کې په دې اواخرو کې متأسفانه داسې دود رايج شوی دی چې په زياتو پيسو باندې داسې لباس چې له واده وروسته بيا هېڅ په درد نه خوري او تر لس او يا شل زره افغانيو پورې بې ځايه او په بعضې ځايونو کې له دې هم زيات مصرف ورباندې کوي چې په هرات ولايت کې دې لباس ته پراهن شب وايي[4].

---

[1]) اصحاب الدين رحماني، د علومو اکادمي علمي غړی او د باميانو ولايت اوسيدونکی

[2]) عبدالرؤوف فياض د غور ولايت اوسيدونکی او د غور د پوهنتون استاذ

[3]) محمد ابراهيم يوسفی د هرات ولايت اوسيدونکی او د دارالعلوم استاذ

[4]) خليل احمد جامي، د هرات اوسيدونکی او د آينده سازان ليسي موسس او مسئول.

**۱۲- واده په یوه نوم او بل نوم ځنډول:**

د نورستان کامدیش ولسوالی د خلکو منفي دود د واده په مرحله کې د واده ځنډول دي، د نجلۍ پلا په هلک باندې دومره درونډ بوج اچوي او زیات مصارف ورڅخه غواړي چې د هلک له توان څخه بیرون وي، د هلک کورنۍ کوښښ کوي تر څو د نجلۍ د پلار غوښتنو ته ځان اماده کړي او خپل واده وکړي، خو څومره چې دا موده او وخت تېرېږي، هلک باید د خسر د کور کار وکړي، د کور اخېړولو، لو، کرنه او نورو موسمي کارونو کې باید برخه واخلي، تر څو له یوې خوا د هلک کورنۍ مصارف پیدا کړي او له بلې خوا هلک د نجلۍ د پلار رضایت په خدمت کولو ترلاسه کړي.

**۱۳- د شرم له وجې له هلک څخه مصارف اخیستل:**

دا هم د نورستان د خلکو یو ناوړه دود دی چې د هلک له کورنۍ څخه زیات مصارف له دې امله اخلي چې خلک ورته بیا ونه وایي چې ستا لور په کم مال باندې واده شوه، نو له همدې امله د هلک کورنۍ تر څلوېښت او پنځوس کم او زیات د ساحو په تفاوت غواګانې اخلي[1].

**۱۴- پریکون یا ګوړه ماتی:**

د کونړ ولایت د پیچ درې په ولس کې چې کوم منفي دودونه تر اوسه شتون لري یو هم له هغو څخه د ګوړه ماتي په دوران کې چې کوم ناوړه کارونه ترسره کېږي، هر لکه چې د واده لپاره تیاري وشي، نو د هلک د کورنۍ یو څو کسه کلیوال په یوه ټاکلي وخت د نجلۍ کور ته ورځي. د نجلۍ په کور کې د هغې پلار، ترونه، ورونه، ماماګان او نور خپلوان راغونډ شوي وي، لومړی د روغ ناروغ پوښتنه وکړي، وروسته اصلي خبره میدان ته واچوي، لومړی په ولور باندې خبره شروع شي، پلار او د نجلۍ کورنۍ لوړ ولور تعینوي، بیا د هلک له خوا راغلي خلک په سوال او زاری لاس پورې کوي، تر څو د نجلۍ لخوا پیسي کمې کړي چې په نتیجه کې لږ لږ کموي او آخیر هغه اندازه چې باید هغوی یې حتما واخلي په هغې اندازه کلک پاتې شي.

**۱۵- ورایز پنډ:**

کله چې د واده نېټه رانږدې شي، د هلک په کور کې د کور کلي ښځې راټولېږي او هغه سامان چې د ناوې لپاره اخیستل شوی، هغه همدغه ښځې له ځانه سره اخلي او د نجلۍ کور ته یې وروړي چې پخوا به یې په لار کې ګډاوې او سندرې ویلې چې اوس په پیچ دره کې دا دود په زیاتو ساحو کې له منځه تللی دی، خو بیا هم په ځینو ساحو کې اوس هم دا دود پاتې دی چې هم سندرې وایي او هم ګډاګانې کوي، پخوا به یې هغه مشهورې سندرې چې دې نجونو به ویلې، خو د افغانستان د خلکو مقدس جهاد او مهاجرت په نتیجه کې یه دې اولس کې زیات اصلاًحات راغلل[2].

د هغو سندرو یوه نمونه دا ده:

هلک نری چېنار دی جنۍ د ګلو ونه، په سر یې نری شال دی په غاړه یې ګلونه.

---

[1]) عنایت الرحمن رحماني، د نورستان د کامدیش ولسوالی اوسیدونکی او د دارالعلوم استاذ او جمال الدین پارون اوسیدونکی

[2]) ابو طارق غلام الله سرور ګلاب زوی ساپی د ګنړ ولایت اوسیدونکی، د پیچ درې د پښتو ولسي دودونه ص ۸۷

**۱۶- د واده له ډوډۍ څخه ماشومان منع کول:**

د پيچ درې په ځينو ځايو کې اوس هم دا دود شتون لري چې ماشومان د دې له وجې ډوډۍ ته نه پرېږدي چې ګډوډی کوي يا تکراري ډوډۍ خوري او ماشومانو له دروازې څخه شړل کېږي چې د هغوی د خفګان سبب هم ګرځي.

**۱۷- کاسه:**

پيچ دره کې دا هغه دود دی چې ناوې ته د ډولۍ په لومړيو اوو ورځو کې مور او يا نور خپلوان وروړي او هغې ته اجازه نه وي چې تر اوو وروځو پورې تور لوښي ته لاس وروړي او که چېرې يې دا کار وکړ، نو بيا دا ناوې بدمرغه ده[۱].

**۱۸- د نجلۍ د کورنۍ لخوا په هلک د خوړې مصارف او جوړې اېښودل:**

متأسفانه په ننګرهار کې دا منفي دود اوس هم شتون لري او د هلک او نجلۍ کورنيو ته کومه ګټه او فايده نشته، د نجلۍ د کورنۍ لخوا د خوړې مصارف يعني کوم مصرف چې د واده په ډوډۍ باندې راځي هغه بايد ټول د هلک کورنۍ په غاړه واخلي او همدارنګه د هلک کورنۍ په دې هم مکلفه ده چې يوه زياته اندازه جوړې چې د دې تعداد کله ناکله تر پنځوسو پورې هم رسېږي، بايد د نجلۍ کورنۍ ته راوړي[۲].

**۱۹- د ولور نه پشپېرولو په صورت کې واده نه ورکول:**

د لغمان ولايت الينګار ولسوالۍ د خلکو منفي دود چې تر اوسه پورې شتون لري، د ولور غوښتل دي، تر څو چې د هلک کورنۍ هغه پوره نه کړي واده نه ورکوي، تر دې چې هلک مجبور شي بيرون ته لاړ شي او سختو کارونو ته غاړه کېږدي[۳].

**۲۰- د ناوې د راوړلو په وخت کې په سړکونو باندې اتڼ او ساز:**

د کونړ د خلکو خاص طور د ناوې ولسوالۍ داسې دود دی چې د ناوې د راوړلو په وخت کې په سرک باندې اڼ کوي، موسيقي غږوي، خو دا دود په مشرقي نورو ولاياتو کې هم په ځينو ځايونو کې رواج لري.

د هلک خپل خپلوان او ځوانان ملګري خپل موټرونه راولي او په لاره کې هم بې نظمي کوي او بيا ځای پر ځای درېږي، ناوې ورسره وي او ځوانان اتڼ کوي.

**۲۱- هوايي ډزې کول:**

په واده کې هوايي ډزې کول له ډېره وخته د کونړ د خلکو دود دی کله ناکله په کې غټې وسلې هم استعماليږي، د هلک د کورنۍ خپلوان او ملګري دا کار کوي، دا خلک د هلک د کورنۍ د خوشحالولو او د دې ډزو کوونکي د خوشحالۍ د اظهار په معنا دا کار کوي.

---

[۱]) پخوانی مرجع، ص ۹۰

[۲]) محمد نعيم جليلی د امام ابويوسف دارالعلوم شيخ الحديث او د سلام پوهنتون استاذ، د ننګرهار ولايت اوسيدونکی

[۳]) محمد عثمان اخلاص د لغمان ولايت د معارف د تفتيش مدير او د لغمان ولايت اوسيدونکی

**۲۲- په دروازه میخ وهل:**

د کونړ د پېچ درې د خلکو بل منفي دود دا هم دی چې د فال نیونې په خاطر په دروازه میخ وهي، کله چې ناوې د زوم کور ته راولي، نو په دروازه کې په راننوتو سره باید په دروازه باندې میخ ووهي چې دا دود د دې خلکو په اند کله ناسته وي.

**۲۳- غنم شیندل او یا د پالنګ لاندې ایښودل:**

دا هم د کونړ د خلکو پخوانی دود دی چې په ځینو ساحو کې اوس هم شتون لري، کله چې ناوې د زوم کور ته راولي، نو دروازې ته په داخلېدو سره د هغې شاوخوا ته غنم شیندي او پاتې ورته د پالنګ لاندې ږدي د دوی په اند دا د ښېرازۍ په معنا دي[1].

**۲۴- زیات خلک د واده ډوډۍ ته تلل:**

د لوګر د خلکو په مجموع کې دا یو ناوړه دود دی چې د واده ډوډۍ په لویه اندازه د هلک له کورنۍ څخه غواړي او بیا هغوی، نور خلک دعوت کوي. د دې لپاره چې خلک وایي ډېر غټ پروګرام یې کړی ؤ او ښځې او نارینه په ډېره زیاته اندازه ډوډۍ ته ورځي، دا کار په ځانګړې توګه په کلیوالو ساحو کې ډېر ترسره کیږي[2]

**۲۵- د دود پر ځای کولو لپاره غریب او ناتوان خلک مجبورول:**

د پکتیا د خلکو له ناوړه دودونو څخه یو دا هم دی چې هر کله یو هلک واده کوي او هغه د دود د پوره کولو توان ونه لري، لکه: ډوډۍ ورکول، خلکو ته لباس ورکول، نو د مشرانو لخوا ورته ویل کیږي چې که دا دود ترسره نه کړې، نو شرم به درته پاتې شي.

**۲۶- نکاح ځنډول:**

په پکتیا ولایت کې په مجموع کې دا دود شته چې هر کله کوزده وشي، نو په هغه وخت کې نکاح نه تړي، تر څو چې ناوې د زوم کور ته راوړي، خو کله چې ناوې د زوم کورت راوړي، تر یوې هفتې پورې او په ځینو ځایونو کې تر دریو ورځو پورې نکاح نه تړي او له ناوې سره د کور ښځې شپه او ورځ ناستې وي او همدارنګه د هلک د کورنۍ خپل او خپلوان هم هلته خوراک او څښاک کوي، تر څو چې نکاح وکړي[3]

**۲۷- بابېرۍ:**

دا لفظ د کندهار د خلکو په منځ کې رواج دی چې د واده په مراسمو کې استعمالیږي، کله چې د نجلۍ پلار اقتصادي مشکلات ولري او مالي وضعیت یې ښه نه وي او یا هم د هلک له کورنۍ سره کوم مشکل د کوژدې په وخت کې راغلی وي، بیا نو د نجلۍ پلار او د نجلۍ خپل خپلوان د مهر په تعیین او

---

[1]) انعام الله ساپی د تره خیل دارالعلوم استاذ او د کنړ ولایت اوسیدونکی ا وغلام سرور ګلاب زوی ساپی د پیچ دري، د پښتو ولس د دودونه ص ۹۱

[2])عبدالرحمن مبشر د پکتیا پوهنتون استاذ او د لوګر ولایت اوسیدونکی

[3]) قومي مشر حاجي احمد ګل د پکتیا د ګردیز اوسیدونکی

همدارنګه هغه اضافه پیسې چې د نجلۍ کورنۍ یې په نورو نومونو سره اخلي، په دغو روپیو کې اضافه والی راولي[1].

**۲۸- ښځینه او نارینه ګډ پروګرام نیول:**

د کاپیسا نجراب ولسوالۍ یو منفي دود دا هم دی چې نارینه او ښځینه په ځینو ساحو کې یو ځای وي چې دا دود په دې اواخرو کې زیات رواج شوی دی[2].

**۲۹- په واده کې ډېر خلک خبرول:**

په واده کې زیات خلک خبرول د نجراب د ناوړه دودونو له جملې څخه دی چې بې وسه کورنۍ یې له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ کړې دي، کورنۍ مجبورې دي چې قرض وکړي، مال خرڅ کړي، ځمکه خرڅه کړي او یا ګرو کړي، تر څو د خلکو له نیوکو خلاص شي[3].

**۳۰- ناوې یا نجلۍ ته مهر نه تسلیمول:**

متأسفانه زموږ په هېواد کې د مهر ورکول ناوې ته نه لیدل کېږي او محدود خلک چې هغوی د ښځې په حقوقو پوه وي، عملي کړي دي او زیات خلک داسې شته چې پوهېږي هم، خو بیا هم نجلۍ ته مهر نه ورکوي، پنجشیر ولایت کې دا دود تر اوسه شتون لري چې خلک مهر نجلۍ ته ورکوي[4]

**۳۱- په دېګ کې د ناوې لاس ښکته کول چې د ناوې لاس څومره غټ دی:**

دا هم د بغلان ولایت د خلکو یو منفي دود دی چې کله ناوې کور ته راوړي، نو په سبا یې د چاشت عروسي په نوم پلو تیاروي، کله چې دا پلو پوخ شي، نو د دیګ سر ته ناوې راولي او ورته وایي تاسو دیګ ته لاس کوز کړئ او غذا پورته کړئ، تر څو مونږ معلومه ته شي چې ستا لاس غټ دی او که وړکی.

**۳۲- په هوټل کې په محفل کولو خلک مجبورول:**

په دې اواخرو کې د بغلان هغه خلک چې په ښار کې اوسېږي، د هلک کورنۍ د نجلۍ لخوا مجبورېږي چې پروګرام په هوټل کې ونیسي، قیمتي لباس واخلي، د هلک او د هغه د کورنۍ وس که وي او که نه وي، خو مجبور دي چې د نجلۍ د کورنۍ فرمایش عملي کړي[5]

**۳۳- د واده په مصارفو کې مسابقې کول:**

د واده د مراسمو په جوړولو کې خو متأسفانه زموږ په ټول هېواد کې د خلکو ناوړه دود دا دی چې یو له بل سره په خوراک، د هغه په اندازه او کیفیت، د میلمنو په تعداد، جهیز، لباس، موټر، ګل پوشۍ او... کې مقابله کوي.

خو په ځانګړې توګه د کندز په ولایت کې دا یو ډېر ناوړه دود دی چې عام خلک یو له بل سره سیالي کوي، ځان قرضداره کوي، خو ځان له بل چا څخه کم نه راولي[1].

---

[1] )محمد طاهر د کندهار پنجوایي ولسوالۍ اوسیدونکی او د کندهار د لیسې استاذ

[2] ) نورالحق عزیزی د علومو اکاډمي د تفسیر او علوم قرآن د انستټیوت آمر.

[3] ) عبدالوهاب عابد د علومو د اکادمۍ علمي غړی او د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ اوسیدونکی

[4] ) عبدالصبور فخري، د کابل پوهنتون استاذ او د پنجشیر ولایت اوسیدونکی

[5] ) عبدالله محقق، د بغلان پوهنتون استاذ او د بغلان اوسیدونکی

**۳۴- په میلمنو باندې اوړه شیندل:**

په سمنګانو کې چې ډېر ناوړه دود دی، هغه دا دی کله چې د زوم لخوا کوم خلک چې تعیین شوي دي د نجلۍ کور ته تویانه راوړي او د واده په هکله ورسره خبرې کوي، نو د نجلۍ د کورنۍ لخوا میلمانه په اوړو ولي او ورپورې خاندي[2]؟.

**۳۵- د نکاح په مراسمو کې مسخرې کول:**

په پکتیا او خوست کې په ځانګړې توګه دا دود دی چې کله د نکاح د تړلو مراسم جوړ شي، دوه نفره نجلۍ ته د وکېل د انتخاب لپاره استوي، تر څو له نجلۍ څخه وکالت راوړي، کله چې دا دوه نفره د نجلۍ کوټې ته ننوځي شي، د ښځو لخوا په اوړو یا مرچو ویشتل کېږي، یا ورپسې لمڅۍ، پرده او یا توشک ګنډي او مسخرې ورپورې کوي، تر دې چې دا اشخاص له هغه ځایه په تېښته مجبور کړي او بېرته لاړ شي[3]

**زما د سترګو لیدلی حال په ۱۳۹۵ هـ ل کال:**

د کابل د پلچرخي په ساحه کې د یو پکتیاوال ورور په کور کې د نکاح تړلو لپاره دعوت شوی وم چې مولوی صاحب بیګا ته زموږ په کور کې د نکاح پروګرام دی، د ماښام له لمانځه وروسته ورسره ولاړم، ډوډۍ او چای مو چې وخوړل نور مشران هم ناست وو، لږ ناوخته شوه، د هلک پلار ته مو وویل حاجي صاحب شپه ده ناوخته کېږي که مراسم پخیر ترسره کړئ، کور ته ځم او په ما باندې ناوخته کېږي، د دې خبرې په اوریدو سره په مجلس کې نورو مشرانو غږ پورته کړ او ویې ویل: مولوی صاحب دا دومره آسانه کار نه دی په کراره به وشي.

د هلک پلار زما په طبیعیت پوه ؤ غږ یې کړ سمه ده مولوی صاحب، پروګرام له خیره شروع کوو، په دې باندې بحث شروع شو چې څوک ولیږو، یو بل ته یې لاس نیول، هغه شخص چې لاس به ورته ونیول شو، په ډېرې عجلې سره به یې رد کړ، نه نه دا زه نشم کولای، زه حیران شوم چې دا ولې؟ تر دې چې په اخر کې په دوه نفرو توافق وشو، هغوی د کور داخل ته روان شول، لس او پنځلس دقیقې وروسته شور او غوغا شوه: مه کوه، څه شو، هغه ده، مه کوئ مه کوئ، دا ولې دا ولې؟ په دې سره زه چې په کومه کوټه کې ناست وم، دوه نفره رانتول چې په ډېر بد حال وو او یو بل ته په ملامتیا سره یې ویل چې موږ نه ویل چې موږ دا کار نشو کولای ډېر خراب خلک یاست، زه حیران وم چې دا څه کېسه ده؟ ما وپوښتل دا ولې؟ په دې سره په مجلس کې خندا پورته شوه ځوانانو خندل، کشرانو خندل او مشرانو ویل غلي شئ.

د هلک پلار ته مې غږ کړ دا څه کېسه ده هغه راته کړل چې دا خلک ښځو په اوړو او ډبرو باندې ویشتلي دي، دا زموږ دود دی، مولوی صاحب خپه نشي، په دې سره ما او هغه چا چې زما سره تللي وو، وویل: پورته شه چې ځو دا مو څه مسخرې شروع کړې دي، خلکو بیا عذر وکړ، مشران په قهر

---

[1]) عبدالسلام سایح د کندز د سلام پوهنتون د حقوقو د پوهنځي رئیس او کندز ولایت اوسیدونکی
[2]) فیض الله محمدي، د سمنګان ولایت اوسیدونکی او د سمنګان دارالعلوم استاذ
[3]) زما د سترګو لیدلی حال.

شول او ځو تنه داخل ته لاړل او غږ پورته شو، لږ وروسته بيخي کراره کراري شوه، خلک راغلل او نور دوه نفر يې انتخاب کړل، تر دې چې نکاح مو وتړله.

## دريم مطلب: له واده وروسته منفي دودونه:

له واده وروسته دودونه هم زيات په مخکېنيو مراحلو پورې تړاو لري، که چېرې د کوزدې په مرحله کې د اسلام د مبارک دين اصول په ټولو برخو کې، لکه: انتخاب، حقوقو، غوښتنو، رويه او تعامل کې مراعات شي او همدارنګه همدا اصول د واده په مرحله کې هم رعايت شي او د دواړو کورنيو تر منځ آسانيتا وشي، زيات مصارف ونشي، د واده مراسم آسانه او ساده ترسره شي، نو له واده وروسته به هم ښه تعامل او راشه درشه دوام پيدا کوي او که چېرې د کوزدې په مرحله کې د نجلۍ د کورنۍ لخوا ناوړه دودونه ترسره شوي وي چې دواړه کورنۍ يا د نجلۍ او يا هم د هلک کورنۍ ورڅخه متضررې شوې وي، نو له واده څخه وروسته هم بيا ډېر ناوړه دودونه وجود ته راځي چې دواړه کورنۍ او حتی د دوه لويو قومونو تر منځ هم بيا مشکلات رامنځته کېږي.

خلاصه دا چې له واده وروسته دودنه له دې مرحلې مخکې مراحلو پورې اړه لري.

**۱- د نجلۍ په اړه تحقيق کول چې ايا باکره ده او کنه؟:**

د واده په لومړۍ شپه د فارياب د خلکو دا دود دی چې د هلک او نجلۍ د کورنيو لخوا ښځې عمر لرونکې ښځې نجلۍ يعني ناوې ګوري چې باکره ده او که نه ده؟ چې دا اصلاً يوه ډېره جنجالي قضيه ده، ځکه د نجلۍ باکره توب او عدم باکره توب چې ګوري پرمختللي وسايل نه استعمالوي چې په وسيله حقيقت معلوم کړي، بلکې بې ځايه شکونه رامنځته کوي، ځکه د عدم باکره توب علت يوازې زنا نده، بلکې د فقهي کتابونو د هغه لپاره نور اسباب او علتونه هم بيان کړي دي.

**۲- مهر نجلۍ ته نه ورکول:**

متأسفانه زموږ په هېواد کې په مجموعي ډول خلک پوره مهر نجلۍ ته نه ورکوي او که ورکوي يې هم، هغه هم تش په نوم او په ډېرو ځايونو کې خو داسې دود شته چې هېڅ مهر نه ورکوي، خو د فارياب په ولايت کې مهر نه ورکوي او هغه روپۍ پلار اخلي[1].

**۳- تخت جمعي:**

تخت جمعي هم د افغانستان د شمال په يو شمېر زياتو ولاياتو کې شتون لري، له دريو ورځو او يا يوې اونۍ وروسته د زوم کورنۍ بيا مصرف کوي، ښځې د تخت جمعی په نوم زنانه دعوت کوي، هغه زنانه راځي د هلک په کور کې ډوډۍ خوري او په يو خاص شکل سره ناوې پورته کوي او هلته پيسې اچوي[2].

**۳- په زوم او ناوې مشترک ژوند لازمي کول:**

---

[1]) نثار احمد تيمی، د فارياب ولايت اوسېدونکی او مدافع وکيل

[2]) عبدالصبور فخري د کابل پوهنتون استاذ او د پنجشير ولايت اوسيدونکی، استاد عبدالوهاب عابد د علومو اکادمی علمي غړی او د کاپيسا ولايت اوسيدونکی

زموږ په افغاني ټولنه کې دا هم متأسفانه یو منفي دود دی چې هلک او نجلۍ به په مشترک کور یعنې له مور او پلار او یا له مشر ورور او په ځینو ځایونو کې له کاکا سره یو ځای ژوند کوي[۱].

**۵- له نجلۍ او ناوې سره د هلک د کورنۍ د اقاربو لخوا ښه رویه نه کول:**

مخکې مو وویل چې د نجلۍ د کورنۍ لخوا چې د هلک او د هغه له کورنۍ سره کومه رویه شوې وي، په دې معنا چې د نجلۍ کورنۍ په لومړي وخت کې د کوزدې او واده په مرحله کې غلطه رویه او نامناسب چلند د نجلۍ له کورنۍ سره له دې امله کوي چې تر اوسه یې واده ندی راوړی، خو کله چې ناوې راوړي نو د هلک د کورنۍ ځینې اقارب لکه مور، خور، پلار، مشر ورور د دوی لخوا له نجلۍ سره ښه رویه نه کېږي او کله ناکله خو ورته وایي چې ستا پلار، مور او... داسې او داسې زموږ سره کړي دي، تر دې چې کله خو د مور او پلار لخوا هم هلک دې ته واداره کړي چې له نجلۍ (خپلې ښځې) سره ښه رویه ونه کړي، ویې وهي، ښکنځلې ورته وکړي، تر دې چې په دې نوي کور کې یې ژوند ډېر خراب او له مشکلاتو ډک وي.[۲]

**۶- د حمام ټول وسایل د ناوې په مور باندې جبري اخیستل:**

د سرپل د خلکو له واده څخه وروسته یو ناوړه دود دا هم دی چې کله د واده مراسم تېر شي او د هلک او نجلۍ یعنې ناوې او زوم اولاد پیدا شي، نو د نجلۍ مور مجبوره ده چې د خپل لمسي لپاره د حمام ټول وسایل او هم لباس دې ماشوم ته واخلي.

دا دود اگر چې په ټول هېواد کې شتون لري، خو په نورو ولسونو کې مثبت اړخ لري او هغه دا چې د نجلۍ کورنۍ په ډېرې خوشحالۍ او مبارکۍ سره د خپل لمسي لپاره د توان مطابق تحفې اخلي.[۳]

**۷- له ناوې سره د هغې د پلار او یا ورور له امله ناوړه رویه:**

د لوګر د خلکو ناوړه دود دا دی چې له نجلۍ سره له واده وروسته ترسره کېږي، د هغې د مور او پلار او یا خپلوانو د هغه تعامل له امله چې د کوزدې او واده په مرحله کې یې له دوی سره کړی دی او د هلک کورنۍ د کوزدې او واده په مرحله کې ورته صبر کړی دی، له دې امله چې واده یې لا نه دی راوړی او ځینې وخت، خو د هلک په کور کې دا ویل کېږي، هر وخت مو چې خپل هدف ترلاسه کړ، بیا به ورسره ګورو، نو کله چې واده وکړي، د هلک په کور د هلک د پلار، مور، خور او د هلک له خوا له نجلۍ سره ناوړه چلند کېږي او نجلۍ غریبه شکآیت هم نه شي کولای او هم ورته ویل کېږي چې ستا پلار او مور او کورنۍ له موږ سره څه کړي دي[۴]

**۸- د نکاح ځنډول:**

د پکتیا د خلکو ناوړه دود چې تر نن پورې شتون لري، هغه د نکاح ځنډول دي، کله چې کوزده وشي د پکتیا د خلکو دا دود دی چې د کوزدې په وخت کې نکاح نه تړي، بیا په واده کې هم د نجلۍ په کور کې

---

[۱]) شریف الله خاموش د بدخشان ولایت اوسیدونکی او استاذ عبدالبصیر مومن حکیمی د ملي پوهنتون استاذ او د میدان وردګو ولایت اوسیدونکی

[۲]) مظهرالدین فایز د ښووني او روزنې د پوهنتون استاذ او د پنجشیر ولایت اوسېدونکی.

[۳]) محمد یوسف مرادی د سرپل ولایت اوسېدونکی

[۴]) عبدالفتاح جواد د احساس خیریه بنسټ رئیس او د لوګر ولایت اوسېدونکی

نکاح نه تړي بلکې هغوی وايي چې ناوې به خپل کور ته راوړو، بیا به یې نکاح وتړو، نو همداسې کوي، ناوې خپل کور ته یعني د زوم کور ته راولي، په همدې ورځ ډوډي ورکوي چې په مجموع کې ډېر زيات مصارف هم کوي. له لرې ځایونو څخه خلک دعوت کوي او د هلک کورنی د دې له امله چې د خلکو ډوډۍ مو خوړلي ده که وس او توان یې وي او یا نه وي، باید خلکو ته ډوډۍ ورکړي او په ځینو وختو کې خو ډوډۍ هم په سیالی سره ورکول کېږي چې د ده تربور او قومي په کومه اندازه ډوډۍ ورکړې ده له هغې اندازې باید دی زيات مصرف وکړي.
تر دې چې دا ورځ تېره شي او نکاح لا نه وي تړل شوې، د شپې په رارسېدو سره د ناوې شاوخوا زنانه راجمعه شي او د هغې کوټه نه پرېږدي، هلک یا په مهمانه خانه او یا هم د خپلو خپلوانو کور ته ځي، درې شپې په دې کور باندې مصارف روان وي، خلکو ته باید ډوډۍ ورکړي چې واده ته راغلي دي، په بعضې ځایو کې پنځه ورځې او تر اوو ورځو پورې نکاح معطله وي، بیا چې کله نکاح وتړل شي، په سبا بیا خلک رخصت کېږي

**۹- لس یا پنځه لس زره افغانی مهر تعینول:**

د جنوبي ولایاتو په مجموع کې دا ناوړه دود دی چې په کوزده، لباس، جهیز، خوړې، جوړې او په نورو مختلفو دودونو په لکونو لکونو افغانی مصرفوي، خو د نجلی حق چې شریعت ورته ورکړی، بدبختانه بیا په مجلس کې چې کله نکاح تړل کېږي، همدومره کم مهر ټاکي.

**۱۰- په یوه نوم او بل نوم مهر کمول:**

دا هم په مجموع کې په پښتون میشتو ساحو کې دود دی چې کله ناوې د هلک کور ته راوړل شي، د شپې ناوخته نکاح تړل کېږي، لوی ځای ټاکي، تر څو ډېر خلک په کې ځای شي، مشران په توشکو ناست وي، د مهمان خانې پر ځای هغه ځای ته خلک رسوي، هلته کېنه، حاجي صاحب ! مشره! ...
ځوانان هاخوا او دیخوا ناست وي او تماشا کوي، څوک ولاړ وي، څوک په ځمکه ناست وي، نو کله چې د مهر د تعین خبره شي د نجلی وکېل ته خلک وايي چې څومره مهر غواړې، هغه په ډېر عجیب شکل سره دومره اندازه یاده کړی چې حاضر مجلس ټول په یوه غږ آواز وکړي، هو، هو دا څه کوې؟! له دې وروسته د هلک د مشرانو لخوا او د نجلی د وکېل تر منځ چنې شروع شي، بیا نو د مجلس حاضر خلک هم راداخل شي، د حاضر مجلس په مخ څومره پرېږدې؟ هغه وخاندې او یوه اندازه وښيي، یو لک او یا دوه لکه د مشرانو په مخ پرېږدي او یوه اندازه د مړو په مخ پرېږدي.
بیا د مجلس خلک غږ وکړي، د الله تعالی په مخ هغه بیا ووايي، دومره، بیا ورته غږ وکړي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ؟ بالاخره چې په لومړي سر کې يې چې پنځوس لکه او یا هم سل لکه یادې کړې وي، نو هغه لس او یا پنځلس زره ته راښکته شي، نو بیا ملا امام نکاح وتړي[۱].

---

[۱])حاجي احمدګل د احمدزيو قومي مشر او د پکتیا ولایت د ګردیز اوسېدونکی او ډاکټر قیوم شاه د خوست ولایت اوسیدونکی.

**۱۱- د توشکي لاندې پیسې ایښودل:**

د کندهار د خلکو دا دود دی چې کله واده ترسره شي، نو د ساحو د خلکو دود په تفاوت سره په ۳ ــ ۷ ــ ۸ او یا هم په ۱۰مه زوم د خپل خسر کور ته ځي چې دې تګ ته سلامي ویل کېږي او خپله ښځه او ځیني خپلوان او همدارنګه د هلک یو څه خاص ملګري له ځان سره اخلي او د خسر کور ته ځي، چې د دې پروګرام په حاشیه کې هلک د خپلې خواښې سره هم ګوري او په کور کې ورته یو خاص ځای د ناستې لپاره تعیین شوی وي، هر کله چې هلک له دې کوټې وځي او پورته کېږي نو باید ۳۰۰۰ درې زره افغانۍ د توشکي لاندې کېږدي، دا هم په داسې شکل چې څوک یې ونه ویني او نه وربانديې پوه شي، نو هر کله چې زوم له دې کوټې وځي، د کور ځیني اشخاص د هغه ځای ګوري چې پیسې شته او کنه او دا کار لازمي دی او که څوک یې ونه کړي، نو هغه شخص ډېر کنجوس، یعنې بخیل او بې عرفه انسان شمېرل کېږي.

**۱۲- د دوستۍ اړیکي نه ساتل:**

د کندهار د خلکو چې د کوزدې، واده او له واده وروسته کوم منفي دودونه دي متأسفانه دا ناوړه دودونه د دې باعث شوي دي چې د دې دواړو کورنیو چې په واده سره یې دوستي رامنځته شوې وي، هغه مینه، محبت او دوستي چې باید وجود ولري له واده وروسته نه لیدل کېږي او کله چې د واده شپې او ورځې تیرېږي، نو د دواړو کورنیو تر منځ هغه روابط بیا نه لیدل کېږي[1].

۱۳- زیات مهر او ولور کله د تفریق او جداوالي سبب کېږي:

د نورستان د خلکو ناوړه دودونو څخه یو دا دود دی چې کله د هلک له کورنۍ څخه زیات ولور یا مهر په نوم مال چې اکثره غواګاني اخیستل کېږي، د کورنۍ د مشکلاتو باعث ګرځي چې کله ناکله د طلاق سبب هم ګرځي[2].

**۱۴- د درېیمي مراسم:**

د لغمان ولایت الینګار ولسوالۍ د خلکو د ناوړه دودونو له جملې چې له واده وروسته لیدل کېږي، هغه د درېیمي مراسم دي، کله چې د واده مراسم پوره ترسره شي، خپل او خپلوان کورونو ته ولاړ شي او د زوم او ناوې ژوند په خپل نوي کور کې عادي شي، نو د واده په درېیمه او یا اوومه نجلۍ د پلار کور ته ځي چې دا کله ناکله د کورنیو تر منځ د شخړې باعث ګرځي، هغه دا چې د نجلۍ پلرنۍ د هغې د زیاتو شپو پاتې کېدو غوښتنه کوي او هلک ته ویل شوي وي چې باید د پلار په کور کې نجلۍ له هغه معینو شپو چې ورته ویل شوي وي، زیاتې تېرې نه کړي، نو د دې دواړو کورنیو تر منځ د شخړو باعث ګرځي او مشکلات پیدا کوي.[3]

---

[1])محمد طاهر د کندهار ولایت پنجوایي ولسوالۍ اوسیدونکی

[2]) جمال الدین د پارون اوسیدونکی او عنایت الرحمن د نورستان د کامدیش ولسوالی اوسیدونکی

[3]) محمد عثمان اخلاص د لغمان ولایت د الینګار ولسوالی اوسیدونکی او د لغمان ولایت د معارف د تفتیش مدیر

**۱۵- کاسه:**

دا هغه دوډۍ ده چې ناوې ته یې خپلوان له واده وروسته تر اوو ورځو پورې وروړي او دې ته کاسه دود وایي دا ځکه چې تر اوو ورځو به ناوې آشپزخانې ته لاس نه وروړي چې هلته تور دیګي وي او که چېرې ناوې تور دیګي ته لاس وروړ، نو بیا دې ناوې باندې د بدمرغۍ تهمت کوي چې دا بدمرغه ده ولې یې تور لوښي او کاسي او یا دیګ ته لاس وروړ.

**۱۶- لورې وایم تا ته نګورې ته یې واوره!:**

کله چې ناوې په سره ډولۍ کې د مېړه کورته راشي، نو په لومړیو شپو او ورځو کې د کور ټول لوی او واړه له هغې سره مینه او محبت کوي، خو کله چې شپې او ورځې تېرېږي، د خواښې په زړه کې خپلې نګور ته د کینې او حسد غوټې زیاتېږي، په لومړي وار چې د خواښې نګور ته غصه راشي، نو د هغې پر وړاندې خپله لورې باندې په قهر شي، هغه ورتې خو مقصد او غرض یې نګور وي او د پښتو متل «لورې وایم تا ته نګورې ته یې وواوره» په همدې ځای کې استعمالیږي.

بیا یې چې کله سترګه پخه شي، نو له هغې وروسته یې تر مستقیمې نیوکې او فشار لاندې راولې او داسې تعامل ورسره کوي، لکه: څوک یې چې له وینځې سره کوي، د خواښې لوراني او زامن ناست وي، د کور غټ او واړه کارونه، ټول د همدې بېچاره په غاړه وي. کله چې لږ کینې خواښې به ورته د سترګو په کونج ګوري، لکه یوه ګناه کاره بندۍ چې د موظف پولیس تر نظارت او څارنې لاندې وي، ځینې وخت ورپورې د کور ټول غړي خاندي، خو بیا هم کله چې د خواښې په دغو خبرو باندې خوا یخه نشي، نو خپل مېړه یعنې د ناوې خسر ته د نګور په اړه درواغ برابر کړي، تر دې چې په هغه یې ووهي.

متأسفانه دا دود اګر چې په افغاني ټولنه ډېر زیات دی، بالخصوص په اطرافي ساحو کې او کله چې د ناوې مېړه په دې باندې خبر شي چې د ده په ښځه باندې ظلم دی، نو د دې پر ځای چې د هغې بېچاره پوښته وکړي په داسې شکل چې هغه له ظلم څخه خلاصه کړي، برعکس دی هم د پښتو دود پر ځای کولو لپاره خپله ښځه وهي، خو ښځه بې چاره خپل ناوړه حال پلار او نورو اقاربو ته د دې له وجې نه وایي چې د دواړو کورنیو رابطې خرابې نه شي.

۱۷- میراث نه ورکول:

ښځو ته میراث نه ورکول متأسفانه زموږ د ټولې افغاني ټولنې ناوړه دود دی چې پلار هم خپلې لور ته حق نه ورکوي که په ژوند باندې خپل ملک تقسیموي ورونه هم حق نه ورکوي، که چېرې پلار وفات شي، نو په تقسیم کې د خور حصه نه ورکول کېږي، خاوند او مېړه یې چې کله وفات شي، د هغې ورونه د هغه ښځې ته حق نه ورکوي.[1]

۱۸- ناوې د پلار کور ته له تګ څخه منع کوي:

په افغاني ټولنه کې متأسفانه په مجموع کې دا دود شتون لري چې د نجلۍ د پلار د ناوړه تعامل له وجې له واده وروسته له ښځې څخه انتقام اخیستل کېږي چې په ځینو ساحو کې د ناوړه تعامل کچه دې اندازه

[1])ابوطارق غلام سرور ساپی د کنړ ولایت اوسیدونکی/ د پیچ درې د پښتنو ولس دودونه ص ۱۰۳ او استاذ مجیب الرحمن عاصم د سلام پوهنتون استاذ د وردګو ولایت اوسیدونکی

ته ورسيږي چې د نجلۍ يعنې د نوي کور ښځه د هغې پلار کور ته له ورتګ څخه منع کوي، دا دود متأسفانه په بادغيس ولايت کې زيات شتون لري[1].

[1]) عبدالخالق خيرخواه د بادغيس ولايت اوسيدونکی او غياث الدين په بادغيس کي استاذ او د بادغيس اوسيدونکی

## دوهم مبحث: د منفي دودونو اغېزې:

په دې مبحث کې د کوژدې، واده او له واده څخه وروسته د منفي دودونو اغېزې بيانېږي چې د دې دودونو اغېزې او تاثيرات په فرد، کورنۍ او ټولنه څه دي.

## لومړی مطلب: د کوژدې د مرحلې د منفي دودونو اغېزې:

د رواجونو او دودونو اغېزې په دوه پورې اړه لري، هغه دودونه چې مثبت دي، د هغو اغېزې هم مثبت وي او که چېرې منفي وي، نو اغېزې يې هم منفي وي او کله چې ناوړه دودونه زموږ په ټولنه کې ځای ونيسي، نو طبعاً زموږ د ټولنې افراد، کورنۍ، اقوام او ټوله افغاني ټولنه ور څخه اغېزمنه کېږي چې د هغې اغيزې بيا د ژوند تر پايه پورې زموږ له ټولنې سره مل وي او موجوده ستونزې چې زموږ په ټولنه کې شتون لري بالخصوص په کورني ژوند کې د هغو ستونزو زيږنده هم، هغه ناوړه دودونه دي چې په افغاني ټولنه کې شتون لري.

متأسفانه موږ له دې دودونو څخه داسې اغيزمن شوي يوو چې له هر چا سره د دې دودونو په اړه خبرې کوې، هغه هم همدا خبره کوي چې دا ناوړه دود دی او حتی هغه په خپله او د هغه کورنۍ هم ورڅخه بد اغيزمن شوی وي، خو يوازې همدا دليل وړاندې کوي چې څه وکړو که دا کار ونه کړو، نو بيا به خلک څه وايي، د دې خبرې له وجې دود عملي کوي، ځان په مالي او اجتماعي مشکل کې راګيروي، خو دود بايد حتما عملي کړي.

له دې مبحث څخه وړاندې مو، د افغاني ټولنې د واده، کوژدې او له واده څخه وروسته منفي دودنه ذکر کړل اوس د همدغو دودونو اغيزې چې زموږ ټولنه ورڅخه اغيزمنه شوې د الله تعالی په توفيق بيانوو.

**۱- د کوژدې د مرحلې د منفي دودونو اغېزې:**

کله چې د کوژدې په مرحله کې هغه اوامر چې شريعت موږ ته بيان کړي دي، په دې مرحله کې مراعات نه شي،نو د کوژدې او له کوژدې وروسته نور ټول مراحل هم ورسره اغيزمن کېږي، کله چې د شريعت مطابق دا مرحله ترسره شي، نو په فرد، کورنۍ او ټولنه يې ښې اغيزې ښکاره کېږي، خو دا چې زموږ په ټولنه کې ډېر داسې منفي او ناوړه دودونه د کوژدې په مرحله کې شتون لري، د مثال په توګه هلک او نجلۍ ته د انتخاب حق نه ورکول کېږي.

په لنډ ډول به ووايو چې هلک او نجلۍ ته د واده کولو اختيار او واک نه ورکول کېږي او دا دود له پخوا څخه زموږ په افغاني ټولنه کې تر نن پورې شتون لري چې ډېرې ناوړه اغيزې يې په فرد، کورنۍ او ټولنه پرې ايښي دي، کله خو پلار خپله لور يو بوډا او د پوخ عمر سړي ته د پيسو په بدل کې ورکړي، پلار ته هماغه پيسې مطلوبې وي، خو نجلۍ ټول عمر له مشکلاتو ډک ژوند تېروي.

او کله ناکله خو داسې هم کېږي چې نجلۍ خبره شي چې فلاني کس ته يې ورکړې ده او له نجلۍ څخه هېڅ پوښتنه نه وي شوې، نو نجلۍ د ځان لپاره يو پټ ملګری ونيسي او له هغه سره بيا وتښتي، د کونړ د

خلکو په اصطلاح کې دې ته مټيزه يا بدنامه وايي چې په بد نوم سره د نجلۍ ټول قوم او که مېړه والاي وي، هغوی ټول ورسره په غټ شرم کې راګير شي.

په هلک باندې هم همداسې ظلم کېږي چې کله خو د کور مشر، لکه: پلار، مور او مشر ورور د خولې د خنداړ دوستۍ او ملګرتيا له وجې هم يو نجلۍ د خپل زوی لپاره انتخابوي او د هلک ورسره هېڅ رضايت نه وي او کله خو د مور يوه نجلۍ د دې لپاره خپل زوی ته خوښه وي چې هغه ډېرکاريګره ده، د هلک هېڅ رأيه نه اخيستل کېږي، هلک ته ويل کېږي هم چې د فلاني لور ډېره ښه، چالاکه او هوښياره ده تا ته به يې وغواړو او که ستا خوښه نه وي، نو بيا خير ته بله ښځه هم کولای شې، بله وکړه، نو داسې کوزدې چې ترسره شي، د هغې ناوړه اغيزې تر اخره پورې په کورنۍ باندې پاتې کېږي او د هلک او نجلۍ د زړه مينه يو له بل سره نه وي، کورنۍ جنګ، حسد، کينې او وهل او پښتانه خو طلاق هم نه ورکوي، نو له مشکلاتو ډک ژوند به تېروي.[1]

**۲- نوروزي او عيدي:**

دا دود چې نوروزي وړل راوړل د کورنيو اقتصادي وضعيت ډېر اغيزمن کوي، په ځانګړې توګه د هلک د کورنۍ اقتصاد ورسره زيات خرابېږي او کومه ځانګړې ګټه هم ورباندې مرتبه نه ده.

**۳- د کوزدې مرحله طولاني کول:**

کله چې د کورنيو لخوا په ناوړه دودونو باندې عمل کېږي او دا دودونه د ژوند برخه وګرځول شي، د هلک کورنۍ مجبوره ده چې پيسې پيدا کړي، ځان قرضداره کړي، ځمکې ګرو کړي او نور څه امکانات چې په لاس کې لري بايد هغه له لاسه ورکړي، تر څو واده ته ځان برابر کړي، تر څو چې ځان برابروي، نو د کوزدې مرحله کلونه کلونه وخت ونيسي او نکاح، خو د دې لپاره وي چې د انسان ژوند ورسره آسانه شي او د ژوند مشکلات يې ورسره حل شي، خو دغه ناوړه دودونه ور څخه عذاب جوړ کړي، هلک او د هغه کورنۍ ورسره تر هغه په عذاب وي چې څو واده کوي.

**۴- د کفائت نه رعايت کول:**

د کفائت يا سيالۍ نه مراعت کول، د دې لامل ګرځي چې کورنۍ، افراد او دواړه قومونه ورڅخه اغيزمن شي، که نجلۍ مالدره وي او هلک د هغې غوښتنې نشي ترسره کولای، لباس، خوراک، کور، موټر او... نو لومړی همدا وړه کورنۍ ورڅخه ناوړه اغيزمنه کېږي، بيا د هلک او نجلۍ کورنۍ هم ورڅخه اغيزمنې کېږي

**۵- بدل:**

متأسفانه چې زموږ ټول خلک په دې پوهېږي چې د بدل اغيزې په افرادو، کورنيو او قومونو ډېرې ناوړه دي، هر کله چې له يوې بدليزې څخه لږ خطا وشي او هغه د مېړه د کورنۍ لخوا تهديد او يا ووهل شي، د هغې بدلې چې هېڅ مشکل ونه لري، خو له دې وجې چې د هغې بدلۍ وهل شوې او تهديد شوې ده دا هم بايد ووهل شي او تهديد شی، که خاوند يې ونه وهي، د هغه پلار، مور، ورور او خوېندې يې وهي او

[1]) ابوطارق، غلام الله سرور ساپی د کنړ ولايت اوسيدونکی، پيچ درې د پښتنو ولسي دودونه ص ۷۹

کله چې طلاقه کېږي باید بدلی یې هم طلاقه شي، سره له دې چې په هغې بدلی کې به هېڅ مشکل نه وي او هلک به هم نه غواړي چې د ده ښځه طلاقه شي، خو دا چې کورنۍ قضیه ده باید دی هم خپله ښځه طلاقه کړي.
په بدل سره له یوې خوا د ښځو حقوق تر پښو لاندې کېږي او له بلې خوا د کورنۍ روابط چې باید دوستي، مینه او محبت ورسره پیدا شي، هغه په دښمنیو بدلېږي.
زما د سترګو لیدلی حال او د بدل پایلې:
زه خو به د هغې کورنۍ، قوم او اشخاصو نومونه نه اخلم، خو په ډېر تأسف سره داسې وضعیت مې لیدلی دی چې د بدل په نتیجه کې هغه وضعیت رامنځ ته شوی، د هجرت په دیار کې یو کس د خپل زوی لپاره د بل یو نفر سره چې د هغه زوی ؤ ورسره بدل وکړ، عمر تېرېده د دواړو ودودونو څخه اولادونه هم پیدا شول، بدبختانه چې په یوه کورنۍ کې د نجلۍ سره ښه تعامل نه کېده، وهل ټکول او تهدید او تحقیر روان ؤ او په درېیمګړو هم مشکل حل نشو، بل طرف کورنۍ تصمیم ونیو چې بالمثل ځواب ورکړي، هغوی خپل زوی دې ته مجبور کړ چې د خپلې خور انتقام واخلي، خو دا چې د ده په ښځه کې هېڅ مشکل نه ؤ، اطاعت، خدمت او د کورنۍ د ټولو وګړو یې ښه احترام کاوه، د هلک تصمیم هېڅکله هم دا نه ؤ چې د ده د ژوند ملګرې دې ښه ژوند ونه لري، په تکلیف دې شي ودې وهل شي او... خو دا چې مجبور ؤ د خور انتقام واخلي د پلار لخوا د مور لخوا او نورو مشرانو لخوا د هغه ښځه ووهل شوه، اخر هلک یې مجبور کړ چې دا ښځه خپل پلار ته واستوي، هغه هم مجبور ؤ له کوره یې وایستله، هغه بل چې کله دا عمل ولید، سمدلاسه یې خپله ښځه طلاقه کړه، تر دې چې دا هلک هم لږ موده وروسته د خپل ژوند له خوږې ملګرې سره وروستۍ لحظې په داسې شکل تېرولې چې دواړه په دې نه پوهېدل چې اخري تصمیم به څه وي، تر دې چې هلک مجبور شو خپله ښځه یې طلاقه کړه او د خپل ژوند له خوږې ملګرې څخه د تل لپاره جدا شو، له دې څخه ناوړه اغیزې هم دا وي چې د دواړو اولادونه به په ژړا ژړا غوښتل چې د خپلې مور خوا ته ورشي، خو هېڅکله به هم اجازه نه ورکول کېدله، تر دې چې د دواړو کورنیو تر منځ وضعیت خراب شو او د سخت جنګ په نتیجه کې د دواړو طرفو څخه سخت زخمیان وشول او په لوی کورني جنجال واوښتل.
**۶- ښځه په بدو کې ورکول:**
متأسفانه زموږ هېواد که له یوې خوا پېړۍ پېړۍ تېرېږي چې له ناوړه دودونو څخه کړېږي او له دې دودونو څخه د خلاصون لاره له خلکو ورکه ده چې ځان ورڅخه خلاص کړي له بلې خوا دا څو لسیزې په جنګونو او شخړو کې تېرېږي چې د دې جنګونو اغیزې په یوه طبقه باندې نه دي پاتې شوې، بلکې نارینه او زنانه ورڅخه اغیزمن شوې دي، نارینه ووژل شول، ماشومان یتیمان شول، ښځې کونډې شوې، مور او پلار د جنګ له وجې بې اولاده شول، خو د دې ناوړه جنګونو اغیزې یوازې په همدې ځای تمامې نه شوې بلکې داسې اشخاص ورڅخه د عمر تر پایه اغیزمن شول، کله چې قتل وشي، نو زموږ ولسي دود د جرګو له لارې په زیاتو پښتون مېشتو ساحو کې د مقتول کورنۍ ته د قاتل د کورنۍ څو ښځې په بدو کې ورکوي او د دې ښځې ژوند د خاوند په کور کې تر ډېرو سختو مشکلاتو لاندې

تېرېږي، طعنه، وهل د قاتل لور او یا خور ورته ویل او داسې نور ...، خلاصه دا چې د دې ژوند داسې اغیزمن شي چې اصلاً په دې کور کې له دې سره د دښمنۍ په شان تعامل کېږي.

**۷- شیربها:**

د شیربها تر عنوان لاندې متأسفانه په ځینو ولایاتو کې د هلک له کورنۍ څخه پیسې اخیستل کېږي چې د دې ډېرې ناوړه اغیزې د هغه چا لخوا چې پیسې اخیستل شوې، لکه ماما د هلک کورنۍ د خلکو لخوا ورسره تر ډېره وخته ښه رویه نه وي چې له موږ څخه یې په ناوړه توګه روپۍ اخیستې دي.

## دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفي دودونو اغیزې:

د واده د مرحلې منفي دودونه هم د کوزدې په مرحلې پورې تعلق لري چې د کوزدې په مرحله کې ناوړه او منفي دودونه منځ ته راغلي وي، نو د واده په مرحله کې هم متأسفانه منفي دودونه منځ ته راځي، زموږ په افغاني ټولنه کې متأسفانه د واده په مرحله کې هم ډېر داسې دودونه شتون لري چې فرد، کورنۍ او ټولنه ورڅخه ناوړه اغیزمنه شوې ده او وخت په وخت ور څخه ناوړه اغیزې په ټولنه کې خپرېږي، خو افراد او کورنۍ یې د هغه قومي جوړښت له وجې او همدارنګه له هغو دودونو څخه خلک دومره متاثره شوي چې ځان ورڅخه نشي خلاصولای.

**۱- جهیز د مهر په پیسو اخیستل کېږي:**

د نجلۍ د مهر په پیسو چې جهیز اخیستل کېږي، متأسفانه د دې دود اغیزې هم د نجلۍ په اقتصادي ژوند د ژوند تر پایه پورې پاتې کېږي، د هغې لپاره چې کوم مهر تعیین شي، کله خو څو لکه افغانۍ تعیین شوې وي، خو د کور سامان لکه: ظروف، قالینې، بسترې او... پرې اخیستل کېږي، لنډه دا چې د کور اکثره ضرورته د نجلۍ په مهر اخیستل کېږي، په نتیجه کې په نجلۍ باندې دومره ناوړه اغیزې راشي چې هېڅ روپۍ ورسره بیا پاتې نه وي، کله خو داسې هم شوي چې دې ښځې ته چې خپل ژوند بیا د خاوند په کور تېروي د ژوند په اوږدو کې یو سوالګره ورته سوال وکړي، دې بیچاره سره لس افغانۍ هم نه وي چې سوالګرې ته یې ورکړي او دا اقتصادي ناوړه اغیزې د ژوند تر پایه پاتې وي.

**۲- د ناوې او زوم په بازار کې ګرځول:**

دا چې ناوې او زوم په بازار او نورو ساحو کې د چکر په نیت د واده په لومړۍ ورځ د هلک او نجلۍ د کورنۍ د ځوانانو لخوا د موټرو په یو لوی قطار کې بیرون وځي، متأسفانه ناوړه اغېزې یې دومره وي چې یوازې د واده خلک ورڅخه نه متأثره کېږي، بلکې د دې کار ناوړه اغیزې په ټولنه باندې هم وي. موټر یو له بل سره مقابلې او پیشه کان کوي، موټر ټکر کېږي چې د موټرو په داخل کې چې څومره خلک وي، هغوی باندې ناوړه اغیزې راځي، لاس مات، پینبې ماتې، سر مات، مرګ، د موټرو له منځه تلل، لارې بندېدل، عامو خلکو ته مزاحمت او تر ټول بدې اغیزې بیا د واده په دې کاروان یا جنج کې چې څوک نقصان مند کېږي هغوی په همغه ځای کې یو له بل سره جنګ کوي.

**۳- یو بار مصرف لباس د واده لپاره اخیستل:**

د دې ناوړه اغیزې اصلاً په هغه چا باندې ډېرې راځي او ورځخه اغیزمن کیږي چې په هغوی باندې جبراً او لازماً دغه لباس اخیستل کیږي، نو د هغه اقتصادي وضعیت ورځخه ډېر اغیزمن کیږي او دا لباس، نو بیا هېڅ په درد نه خوري او نه ورځخه په بل ځه کې کار اخیستل کیږي.

**۴- د واده له ډوډۍ ماشومان منع کول:**

متأسفانه دا دود په کلیوالو ساحو کې زیات شتون لري چې د دې ناوړه اغیزې هم په کلیواله سطحه په کورنیو او افرادو باندې تر ډېر وخته پورې وي، د کومې کورنۍ واړه چې له ډوډۍ ځخه منعه شوي وي، د دې کورنۍ مشران هم د واده والا له کوره خوابدي وي چې ولې یې زموږ ماشومان له ډوډۍ منعه کړي دي او مستقیما ناوړه اغیزې، خو په هماغه ماشومانو باندې وي چې هغوی وږي د واده له ډوډۍ پاتې کیږي، بېړا کوي، ازدحام او ګډوډي جوړوي او ددې له وجې راغلي میلمانه هم ورځخه اغیزمن کیږي، هغوی ته هم مزاحمت کوي.

**۵- هوایي ډزې کول:**

که زموږ هېواد له یوې خوا د جنګ د ډزو ځخه له کلونو کلونو ډېر ناوړه اغیزمن شوی دی، شهیدان، کونډې، یتیمان او زخمیان یې تر شا پرېښودي دي، خو له بلې خوا په ځینو ساحو کې د خوشحالیو په مراسمو کې هم ډزې کوي چې د دې هم ډېرې ناوړه اغیزې زموږ په ټولنه باندې تر اوسه پورې شتون لري، اقتصادي اغیزې کله خو داسې هم کیږي چې په واده کې یو شخص په سلګونو مرمۍ فایر کوي، پټاکۍ، په دې باندې ډېرې روپۍ مصرفوي.

له بل طرف په دې ډزو سره په ساحه کې په مریضانو ډېرې ناوړه اغیزې راځي، خلک وربانډې زخمیان او شهیدان شوي دي، له دې اخوا نورې ناوړه اغیزې هم لري چې بعضې ځایو کې د شخړو او جنګ باعث کیږي.

**۶- د ښځې مهر نه ورکول:**

د اسلام مقدس دین هر انسان ته حقوق ورکړي، نارینه، ښځینه، وړوکي، مشران، مور، پلار، اولاد، حتی غیرمسلمان ته هم اسلام خپل حقوق ورکړي دي، متأسفانه زموږ په هېواد کې تر ډېره حده د ښځو حقوق نه رعایت کیږي چې یو مثال یې مهر نه ورکول دي چې د دې ناوړه اغیز مستقیما په هماغې ښځې باندې ډېر زیات وي چې د هغې حق تلف شوی وی او د دې اقتصادي ژوند ور ځخه ډېر زیات متاثره کیږي او د ژوند تر پایه پورې اقتصادي مشکلات ګالي.

**۷- د نکاح په مراسمو کې مسخرې کول:**

د دې دود ناوړه اغیزې تر ډېره وخته پورې په هغې کورنۍ باندې چې د نکاح په وخت کې یې داسې مسخرې کړي وي پاتې وي او هغه اشخاص چې هغوی یې مسخره کړي وي د زیات وخت لپاره د همدې کورنۍ له افرادو خپه وي او همدارنګه اغیزې یې په ښځو باندې هم تر ډېره وخته پورې وي او کله ناکله له واده وروسته هغه یاد کړي هغه بیا د زړه بدۍ سبب ګرځي.

**دریېم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو اغیزې:**

له واده وروسته د منفي دودونو اغیزې هم د همدې مرحلې په دودونو پورې اړه لري او همدارنګه له دې مرحلې وړاندې یعنې د واده په مرحلې پورې هم تړاو لري، کله چې د واده په مرحله کې منفي دودونه منځ ته راغلي وي،نو له واده وروسته هم منفي دود منځ ته راځي او کله چې داسې دودونه منځ ته راځي، نو لازماً اغیزې یې په همغه وخت او له هغه ورخت وروسته هم په کورنیو باندې تر ډېره وخته پورې پاتې وي، له واده څخه وروسته د منفي دودنو اغیزې بدبختانه د کورنۍ له جوړښت سره متصل تر ډېره وخته همدغه نوې کورني او له دې وراخو هغه لویه کورنۍ هم ورڅخه متاثره او اغیزمنه وي.

**۱- د ناوې په اړه د واده په لومړۍ شپه تحقیق چې باکره ده او که نه ده:**

له یوې خوا دا قضیه د داسې اشخاصو او ښځو لخوا څېړل کېږي چې هغوی په دې اړه هېڅ علمي معلومات نه لري، بلکې صرف د تجربې په لحاظ سره دا کتنه ترسره کوي چې ډېرې ناوړه اغیزې په نجلۍ او د هغې په کورنۍ لري او همدارنګه د هلک کورنۍ هم ورڅخه اغیزمنه کېږي، د نجلۍ سرنوشت اغیزمن شي، د هغې کورنۍ مستقیمه او همدارنګه نجلۍ متهمه شي، هلک په خپلو ملګرو کې خجالت وي او د دې کورنیو تر منځ د همیشه لپاره رابطه او اړیکه قطعه شي او یو بل ته په ښه نظر نه ګوري.

**۲- تخت جمعی:**

یو اضافي مصرف دی او هېڅ فایده او ګټه نه افرادو او نه کومې کورنۍ ته رسوي، د خلکو وخت بې ځایه تیرېږي او اقتصاد یې ورڅخه اغیزمن شي.

**۳- په هلک او نجلۍ د مشترک ژوند لازمي کول:**

نجلۍ چې کله نوي کور ته راشي، د هغې له حقوقو څخه یو دا حق دی چې باید هغې ته مستقل کور ورکړل شي، خو زموږ په هېواد کې تر ډېرې اندازې د هلک پلار، وروڼه، وریرونه، ترونه، د تره زامنو له دې ټولو سره مشترک ژوند وي او تر ډېره وخته پورې تر دې چې د هلک اولادونه هم پیدا شي، خو مستقل کور بیا هم نه لري.

چې د دې دود ناوړه اغیزې تر ډېره وخته پورې، هلک او نجلۍ برداشت کوي او جنجالونه خو ټوله لویه کورنۍ په غاړه لري، ناوړه اغیزې خو یې ډېرې دي، مثلاً په کور کې ازدحام او د هغوی خواړه برابرول او د یو شخص په طبعه به یوه نوع خواړه نه وي یا به په صحي لحاظ هغه خواړه نشي خوړلی، هغه باید همغه خواړه وخوري او یا صبر وکړي، خو که چېرې د ځان لپاره لږ خواړه برابر کړي، نو بیا دې په کور کې په کوره کي باندې متهم کېږي.

پرده نشي رعایت کولی، ښځه چې په هغه اندازه باید د خپل لیور څخه چې باید رعایت یې کړي نه یې شي کولی ځکه ټول ژوند یې په یوه کور، یوه دسترخوان او یو محدوده ساحه کې وي، امکان نه لري چې پرده رعایت کړي، نو ښځې ورڅخه اغیزمنې کېږي، د دې لوی کور ځینې افراد کار کوي، ځینې یې نه کوي، تهمتونه وي تا لږ پیسې راوړي، نورې دې څه کړې، بل ځای دې پټې کړې دي، خواښې او خسر ته یې ورکوي، بې ځایه مصارف په کې کېږي، ځکه هر شخص وایي چې زما ورباندې څه ګټم یې زه او

خوري يې ټول، د کور چارې هم په ښه شکل مخ ته نشي تلای، يو يې بل ته سپاري اخر داسې شي چې د کور کارونه د ډېرو افرادو باوجود يا خو پاتې وي او يا په ښه شکل مخ ته نه ځي.
خلاصه دا چې د مشترک ژوند ډېرې ناوړه اغيزې په فرد، کورنۍ او په هغو افرادو او کورنيو چې د هغوی نجونې دې لوی کور ته راغلي، تر ډېره وخته پورې وي.

**۴- د زيات مهر يا ولور اغيزې:**

متأسفانه له يوې خوا د مهر حق ښځې ته زموږ په افغاني ټولنه کې نه ورکوي او کومې پيسې چې د مهر په نوم له هلک څخه واخيستل شي، هغه په نورو ځايونو باندې مصرف کېږي، له بلې خوا د نجلۍ پلار د ولور په نامه د هلک څخه په لکونو اضافه پيسې غواړي چې دا د نجلۍ پلار د خپل ځان حق بولي او خپل شخصي مصارف ورباندې کوي، بدبختانه د دې ناوړه اغيزې، زموږ پر ټولنه له کلونو را په دېخوا شتون لري چې نن هم زموږ هېوادوال ور څخه رنځېږي.
د دې مستقيماً ناوړه اغيزې په هلک او نجلۍ باندې تر ډېره وخته پورې پاتې وي، د هلک تعليم او تحصيل نيمګړی پاتې کېږي او د تعليم او تحصيل لپاره چې کومې پيسې ضرورت وي، هغه په واده باندې مصرف شي او حتی هغه لا ښه هم بسنه نه کوي، قرضداري په واده کې چې زياتې پسې او د مهر او يا ولور په نوم چې څومره په زياته اندازه د هلک او يا د هغه له کورنۍ څخه غوښتل کېږي له واده وروسته د هلک کورنۍ خپله هلک او نجلۍ باندې ډېر ناوړه اغيزې تر ډېره وخته پورې وي.
د قرض د خلاصون لپاره کله خو خپله ځمکه، موټر او نور هغه سامان چې دوی يې لري د دې لپاره چې قرض يې خلاص شي، هغه هم په کم قيمت پلوري، بيروني سفر د هلک د ژوند د مالي او اقتصادي مشکلاتو له وجې دې حد ته ورسيږي چې په خپل کور او وطن يې اقتصادي مشکلات نه حل کېږي، دی مجبور شي چې بايد بهرنيو هېوادونو ته لاړ شي، تر څو خپل قرضونه او اقتصادي مشکلات ورباندې حل کړي، د سفر په جريان کې زيات مشکلات او کړاوونه په هلک باندې راځي، ډېر کله خو داسې هم شوي چې په لاره کې مړ شي او ښځه يې کونده شي او که بل هېواد ته ورسيږي، نو د ډېرو سختو کارونو له وجې د ده ژوند تر مشکلاتو لاندې وي، خپل خپلوان ورته طمعه لري چې دی خو په خارج کې دي.
کله خو معتاد شي او صرف د خپلو نشو لپاره پيسې پيدا کړای شي او بعضې ځوانان خو خپل اسلامي اخلاق او اسلامي عقيده له لاسه ورکړي او بيرته خپل هېواد ته د راستنېدو هېڅ اراده نه لري، ښځه يې په دې کور کې تر مشکلاتو لاندې خپلې شپې او ورځې تيروي.

## درېيم مبحث: د مخکېنيو دودونو شرعي او قانوني حيثيت

په دې مبحث کې د مخکنيو منفي دودونو شرعي او قانوني حيثت بيانېږي چې د کوژدې، واده او له واده څخه وروسته دي.

## لومړی مطلب: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو شرعي او قانوني حيثيت:

### لومړی: د کوزدې د مرحلې د منفي دودونو شرعي حيثيت:

سره له دې چې زموږ ټولنه په سلګونو کلونه کېږي، يوه اسلامي او ديني ټولنه ده، نه تنها اسلامي او ديني ټولنه ده، بلکې د دې دين لپاره يې کلونه کلونه بې حده قرباني ورکړې دي، د خپل ځان، مال، اولاد او کور په قربانولو سره د دين، عقيدې، اخلاقو او اسلامي عنعناتو ساتنه کړې ده، زموږ په ټولنه کې ښه او مثبت دودونه هم شته چې د اسلام مقدس دين د انساني مصالحو لپاره د اسلام د مبارک دين په ابتداء کې هم داسې دودونه چې هغه ښه او مثبت وو تاييد کړي دي، نو زموږ افغاني ټولنه هم الحمدلله له ډېر پخوا اسلامي ټولنه ده او ډېر زيات مثبت او ښه دودونه لري، خو بدبختانه په دې باندې هم بايد اعتراف وکړو چې د دې مثبتو دودونو تر څنګ ډېر داسې ناوړه دودونه زموږ په ټولنه کې شتون لري چې له کلونو کلونو را په دېې خوا زموږ افراد، کورنۍ، قومونه او په مجموع کې ټوله افغاني ټولنه ورڅخه رنځ وينې دغو ناوړه دودونو زموږ په ټولنه کې متأسفانه داسې ريښې ښخې کړې دي چې حتی زموږ عبادات، معاملات، عقايد او د ژوند ډېرې چارې ورڅخه اغيزمنې شوې دي.

کله خو يو شخص د دې له وجې حج نشي کولای چې د حج د فريضې د ادا کولو وروسته چې کوم دودونه په همغه ټولنه کې شتون لري، د هغو دودونو د تر سره کولو توان نه لري او کله، خو په يو چا مصيبت راشي، نو هغه د هغه مصيبت يا مړي په غم نه وي او نه ورته وخت وي چې خپل غم وکړي، بلکې په همدې وخت کې هم د ناوړه دودونو د ترسره کولو فکر او سوچ ورسره وي چې بايد له کومې لارې دا دود تر سره کړي اګر چې څومره مشکل هم ورباندې راځي.

همدارنګه زموږ کورنی ژوند هم ور څخه ډېر اغيزمن شوی دی، د کورنۍ له ايجاد او تشکل شروع او بيا د ژوند تر پايه پورې ډېر داسې دودونه زموږ په کورنۍ کې شتون لري چې نه خو د فرد، کورنۍ او ټولنې خير، ګټې او مصالح ورپورې تړلي او نه يې د اسلام مقدس دين تاييدوي.

**۱- هلک او نجلۍ ته د انتخاب اختيار نه ورکول:**

متأسفانه په ټوله کې زموږ په افغاني ټولنه کې هلک او نجلۍ ته د انتخاب واک او اختيار نه ورکوي، بلکې دا اختيار د مور، پلار، تره، ماما او مشر ورور سره وي، خو د اسلام مقدس دين د اسلامي او سالمې کورنۍ د جوړښت په ابتداء کې داسې قوانين لري چې هغه بايد رعايت او عملي شي، تر څو يوه داسې کورنۍ منځ ته راشي چې له يوې خوا د هغوی ژوند په ښه شکل مخ ته ولاړ شي، کورني مشکلات نه وي او له بل طرف نه داسې ټولنه منځ ته راشي، تر څو هغه يوه بېلګه او نمونه ټولنه وي.

ښځه اصلاً د نارینه د ژوندې ملګرې ده، د کور منتظمه، د اولادونو مور، د راز ساتونکې او د ژوند مشاوره ده، نو له همدې امله نارینه او ښځې ته اسلام دا حق ورکړی دی چې خپل د ژوند د ملګري انتخاب په خپله وکړي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «تُنكَح المرأة لأربع: لمالها، ولحسَبِها، ولجمالها، ولدِينها، فاظفَرْ بذات الدين تربتْ يداك»[1]

ژباړه: ښځه د څلورو صفتونو له کبله په نکاح کېږي، د مال له کبله، د نسب له کبله، د ښایست له کبله او د دینداری له کبله، خو ته ښځه د دینداری له کبله وکړه لاسونه دې په خاورو شه.

په دې حدیث کې اصلاً هغه معیارونه ښودل شوي دي چې په هغو معیارونو ښځه په نکاح کېږي او همدارنګه په دې حدیث کې نارینه دې ته تشویق کېږي چې د ښځې د اختیارولو په وخت کې باید کوم معیار ته ډېره پاملرنه وکړي چې هغه دینداري ده، چې په دې معیار سره هغه په دنیوي او اخروي امورو کې د خپل خاوند همکاري کوي، د خپل خاوند عزت، کرامت او ابرو ساتي او مېړه له داسې ښځې سره په ډېره خوشحالی، اطمینان، مینه او محبت خپل ژوند کولای شي.

او همدارنګه ښځې ته هم د اسلامي شریعت په رڼا کې د انتخاب اختیار ورکړل شوی دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ إِذْنُهَا؟ قَالَ: أَنْ تَسْكُتَ[2]

ژباړه: کونډه ښځه په نکاح نه ورکول کېږي، تر څو چې ورڅخه امر ونه غوښتل شي، یعني د نکاح په اړه صراحتاً اجازه ونه کړي او پېغله هم په نکاح نشي ورکول کېدای، تر څو ورڅخه اجازه ونه غوښتل شي، صحابه کرامو وویل: ای د الله تعالی رسوله د پېغلې اجازه څرنګه وي؟ نبي علیه السلام وروته وویل هغه چې سکوت وکړي او چپه شي.

دا حدیث په دې باندې دلالت کوي چې له ښځې څخه د نکاح په باره کې باید اجازه واخیستل شي او بې د هغې له اجازې باید نکاح ونه تړل شي او همدارنګه د یوه مشترک ژوند لپاره ابتدایي مرحله ده، نو د دې ژوند د دې مرحلې لپاره رضا ضروري ده او کله چې د هلک او نجلی په نارضایي باندې نکاح وشي، د هغې ناوړه اغیزې په همدې دواړو او همدارنګه د دوی په کورنیو باندې تر ډېره وخته پورې پاتې وي.

زموږ په فقه کې هم دا قضیه په صراحت سره ویل شوې ده چې په کونډې او پېغلې باندې به د هغې له اجازې پرته نکاح نه تړل کېږي.

«و لايجوز للولي اجبار البكر البالغة على النكاح فإذا استادنها الولي فسكتت أو ضحكت فهو إذن»[3]

ژباړه: جایزه نه ده چې د پېغلې نکاح د هغې ولي په زور وتړي، نو کله چې ولي له دې څخه د اجازې غوښتنه وکړي او هغه خاموشه او غلې پاتې شي او یا وخاندي نو دا د دې اجازه ده.

[1]) محمد بن اسماعيل البخاري، صحيح البخاري ج ١ كتاب النكاح ص ٥١٩.

[2]) مسلم بن الحجاج النيسابوري، صحيح مسلم، كتاب النكاح، باب استئذان الثيب فى النكح بالنطق و البكر بالسكوت، ج ١ ص ١٠١٢

[3])برهان الدين ابوالحسن على بن ابي بكر بن عبدالجليل الفرغاني المرغيناني، الهداية في شرح البداية ج٢ كتاب النكاح، باب فى الاولياء و الاكفاء ص ٢٩۴.

د هدايې د کتاب په شرح کې شيخ ابن همام وايي، د دې معنا دا ده چې نکاح به د نجلۍ له اجازې سره مباشره وي، نو يا خو به نجلۍ خپله خوښه ښکاره کوي او يا به انکار کوي[1].

**۲- کفائت نه رعايت کول:**

بل د هغو ناوړه دودونو له جملې څخه چې زموږ په ټولنه کې شتون لري، د کفائت يا سيال نه رعايت کول دي،خو د اسلام مقدس دين د سيال موضوع ته ډېره پاملرنه کړې ده چې بايد رعايت شي او په نه رعايت کولو سره يې په ټولنه او کورنيو کې زيات مشکلات پيدا کېږي.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَخَيَّرُوا لِنُطَفِكُمْ، فَانْكِحُوا الْأَكْفَاءَ، وَأَنْكِحُوا إِلَيْهِمْ "[2]

ژباړه: د خپلو نطفو لپاره مناسب ځای ولټوئ او له خپلو سيالانو سره نکاح وکړئ او هغوی ته يې په نکاح ورکړئ.

په يو بل حديث کې هم راغلي دي چې له ښځې سره د څلورو مواصفاتو له امله نکاح کېږي، د هغې د مال له وجې، د هغې د ښايست له وجې، د هغې د نسب له وجې او د هغې د دينداری له وجې او له مسلمان څخه د نکاح په انتخاب کې د دينداري ښځې غوره کول مطلوب دي.

په حنفي فقه کې هم د کفائت قضيې ته خاصه پاملرنه شوې ده، تر څو يې خلک رعايت کړي او د کفائت رعايت کول اصلاً د ټولنې د مصالحو په خاطر په نظر کې نيول شوي دي چې کورنۍ په ښه توګه خپل ژوند ترسره کړي.

«الكفاءة في النكاح معتبرة لأن انتظام المصالح بين المتكافيين عادة»[3]

سيال والی په نکاح کې معتبر شرط او ضروري دی، ځکه د کورنۍ مصالح د دوه سيالو تر منځ ښه ترسره کېدای شي.

ابن همام رحمه الله د هدايې د پورته عبارت لاندې وايي: کفائت د نکاح د لزوم شرط دی د ولي لپاره تر دې پورې که چېرې ښځه د غير کفؤ سره نکاح وکړي، نو د ولي لپاره د فسخې اختيار شته چې نکاح فسخه کړي.[4]

حقيقت همدا دی چې کفائت او سيالداري بايد د نکاح لپاره رعايت شي او که چېرې رعايت نشي، نو کورنۍ ژوند له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ کېدای شي، په کورني ژوند کې ډېر مشکلات د هغو دواړو طرفينو کورنۍ هم ورسره له مشکلاتو سره مخ کېږي، کله خو مور او پلار ته د پيغور باعث وګرځي، نجلۍ ته پيغور ورکول کېږي، حقوق نه رعايت کېږي، عدالت له منځه ځي او تر دې چې په طلاق سره د بېلتون سبب ګرځي، چې دا کفائت د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په شپږ شيانو کې ښودل شوی دی: اسلام، نسب، حريت، مال، دينداري او کسب.

---

[1]) کمال الدين محمد بن عبدالواحد بن عبدالحميد بن مسعود المعروف بابن همام، فتح القدير شرح الهداية، ج۳، ص ۱۶۱.

[2]) محمد بن يزيد القزويني، سنن ابن ماجة، كتاب النكاح، باب الاكفاء, قال الالباني في صحيح الجامع: حديث صحيح

[3]) برهان الدين ابوالحسن على بن ابي بكر المرغيناني، الهداية شرح البداية ج ۲ كتاب النكاح ص ۲۹۹.

[4]) كمال الدين محمد بن عبدالواحد بن عبدالحميد بن مسعود المعروف بابن همام، فتح القدير شرح الهداية، ج ۳ ص ۱۸۶

**۳- بدل:**

زموږ په ټولنه کې په ځانګړې توګه په کلیوالو ساحو کې تر نن پورې د بدل دود شتون لري چې متأسفانه ناوړه اغیزې یې په ټولنه کې پرې ایښي دي.

د اسلام مقدس دین چې د کوم شي ممانعت کړی وي، هغه خامخا حکمتونه لري او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد هغه وخت درست دی چې هرې نجلۍ ته مستقل او جلا مهر ورکړل شي، خو زموږ په ټولنه کې دا هم نه رعایت کېږي، ځکه کله خو د یو پلار څو لورګاني وي، کومه چې په بدل کې ورکړل شي، د هغې پنځه یا لس زره افغانۍ مهر وي او یا یې د بدلیځې مهر ته ګوري، خو د همدې شخص بله لور چې په بدل باندې نه وي، د هغې مهر په لکونو وي.

عن ابن عمر رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لا شغار في الاسلام»[1].

ژباړه: په اسلام کې د شغار (بدل) نکاح نشته.

اصلاً د شغار نکاح د جاهلیت د زماني یوه نوعه نکاح وه چې اسلام هغه منع کړې ده او امام ابوحنیفه رحمه الله یې چې په جواز باندې قایل دی، هغه وایي حدیث کې اصلاً همغه نکاح چې د جاهلیت وه، هغې ته اشاره ده او دا چې هرې نجلۍ ته مستقل مهر وټاکل شي او د دواړو نجونو په خوښه نکاح وشي، نو دا کار جایز دی.

خو زموږ په اوسني وخت کې په بدلې نکاح کې هغه شروط چې امام ابوحنیفه رحمه الله یې وایي پوره نه متحقق کېږي.

**۴- ولور:**

دا ناوړه دود چې زموږ د هېواد په زیاتو ساحو کې شتون لري چې د نجلۍ پلار او یا ورونه د هلک له کورنۍ څخه د مهر په نامه او یا خو د ولور په نامه پیسې اخلي، اصلاً د اسلام مقدس دین چې د مهر مستحق څوک ګرځولی، هغه د شریعت په نصوصو کې ښکاره دی، خو متأسفانه زموږ ناوړه دودونو دا حق له خپل حقدار څخه سلب کړی دی.

« وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً»[2]. ژباړه: ښځو ته د دوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ.

د دې آیت په تفسیر کې کابلي تفسیر وایي: د هغو ښځو مهرونه چې تاسې نکاح ورسره تړلې وي، په خوښۍ او رغبت سره پخپله ادا کړئ، بې له دې چې د هغوی کوم حامي یا بل څوک له تاسو د مهر د حصول غوښتنه وکړي[3].

مولانا مودودي رحمه الله د پورتني آیت لاندې لیکلي دي: که ښځه د خپل مهر یوه حصه او یا ټول مهر خپل میړه ته وبښي او وروسته دوباره هغه وغواړي، نو خاوند په دې مجبور دی چې هغه ورکړي، ځکه د هغه دا غوښتنه په دې معنا ده چې هغه نه غواړي یوه حصه یا ټول مهر خاوند ته ورکړي[4].

---

[1]) مسلم بن الحجاج النیشاپوري، صحیح مسلم ج ۱ ص ۱۰۱۳

[2])د النساء سورت ۴ آیت.

[3]) شبیر احمد عثماني او مولانا محمود الحسن دیوبندي، کابلي تفسیر ج ۱ ص ۴۲۹

[4])سید ابوالاعلی مودودي، تفهیم القرآن ج ۱ ص ۳۴۰

مفتي محمد شفیع رحمه الله تر پورتني آیت لاندې د مهر په اړه تفصیلي بحث کړی دی چې خلاصه یې دلته ذکر کوم.
د مهر متعلق په عربو کې څو قسمه ظلم کېده:
اول: کوم مهر چې د نجلۍ حق دی، دا به یې نه ورکاوه، بلکې د نجلۍ اولیاء به د هلک له کورنۍ څخه وصول کاوه چې دا سراسر ظلم ؤ، د دې ظلم د دفع کولو لپاره الله تعالی وفرمایل: ښځو ته د دوی مهرونه ورکړئ، د دې مخاطب خاوندان هم دي، یعنې دوی دې خپلو ښیانو ته مهر پخپله ورکړي او بل چا ته دې نه ورکوي او همدارنګه د نجونو اولیاء هم مخاطب دي، یعني که تاسو ته د نجونو مهر درکړل شو، هغه خاص نجونو ته ورکړئ.
دوهم: کوم مهر به یې چې ورکاوه، هغه به یې په تریو تندي ورکاوه او په خوشحالۍ به یې نه ورکاوه نو الله تعالی وفرمایل: دا مهر دوی ته په خوشحالۍ ورکړئ او مقصد په دې کې دا دی چې مهر ادا کول یو واجب عمل دی او څرنګه چې د نورو واجباتو ادا کول په خوشحالۍ ضروري دي، نو مهر هم باید په خوشحالۍ ورکړل شي[1].
او شهید سید قطب رحمه الله تر پورتني آیت لاندې لیکي:
دا آیت په صراحت سره د ښځې حق بیانوي او همدارنګه د ښځې شخصي حقوق چې مالي حقوق دي او هغه څه چې د جاهلیت په زمانه کې یې په انساني ټولنه کې شتون درلود چې د ښځو حقوق په کې تلف شوي وو چې یو د هغو تلف شویو حقوقو څخه دا ؤ چې د نجلۍ اولیاء به مهر قبض کاوه او هغه به یې د ځان حق باله لکه چې دوی کوم شی خرڅ کړی وي[2].
**۵- ښځه په بدو کې ورکول:**
بدبختانه دا ناوړه دود زیات په پښتون میشتو ساحو کې دی چې کله کورنۍ په کومه شخړه او جنګ کې د مقابل لوري څوک قتل کړي، نو د جرګې په پرېکړه سره بیا د قاتل له کورنۍ څخه یوه، دوه او یا درې ښځې د مقتول کورنۍ ته ورکوي چې په دې کې د نجلۍ او هلک هېڅ د قبول او رد هېڅ اختیار نه وي او دا بالکل د واده په څېر نه وي، ولیمه په کې نه وي، د ناوې لپاره هغه لباس چې باید واخیستل شي نه وي، مهر صرف یو څه شی تعیین کړي چې نکاح جواز پیدا کړي، خوشحالي نه وي، بلکې د پلار له کوره د دې نجلۍ په تګ سره غم وي او د مقتول کورنۍ ته په ورتلو هم غم وي، نوې جامې نه وي، د ښکلا او زینت وسایل نه وي، د کور لپاره جهیز قطعاً نه وي، خلاصه دا چې دا نجلۍ د مقتول کور ته د وینځې په څېر راوستل کېږي او په دې کور کې ورسره د دښمن په څېر تعامل وي، خو د اسلام مقدس دین انسان ازاد پیدا کړی دی، د بل په ګناه نه نیول کېږي او په نکاح او واده کې هلک او نجلۍ ته یې پوره اختیار ورکړی دی، الله تعالی فرمایي: « وَ لا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى»[3]. ژباړه: او یو نفس د بل نفس ګناه نه باوري.

---

[1]) مفتي محمد شفیع، تفسیر معارف القرآن ج ۱ ص ۲۵۷.
[2]) شهید سید قطب، تفسیر في ظلال القران ج ۱ ص ۵۸۵.
[3]) د انعام سورت ۱۶۴ آیت.

پورته آیت په دې باندې ښکاره دلیل دی چې د یوه ګناه کار انسان ګناه په بل انسان نه اچول کېږي، د پورتني آیت لاندې په کابلي تفسیر کې مفسیرین وایي: د هر چا ګناه د ده په خپله غاړه ده، یو د بل د ګناه ذمه واري نشي کولای او نه د بل چا بار وړی شي.[1]

تر همدې آیت لاندې مولانا مودودي رحمه الله وایي: هر شخص په خپله د خپل عمل او کار مسئول دی، د هغه د کار او عمل مسئولیت بل چا ته نشي ورپه غاړه کېدای.[2]

**۶- په غوښتنه (خطبه) کې هلک او نجلۍ د لیدو حق نه ورکول:**

د خطبې اصلي مقصد او هدف دا دی چې عاقدین یو بل په ښه توګه وپېژني او د دواړو تر منځ نکاح په رڼو سترګو او د داوړو په خوښه ترسره شي او د خطبې لپاره د اسلام مقدس دین شرعي لار پوره واضحه کړې ده.

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إذا خطب أحدكم المرأة فإن استطاع أن ينظر إلى ما يدعوه إلى نكاحها فليفعل »[3]

ژباړه: له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي: که له تاسي څخه څوک د یوې ښځې خطبه کوي، که کولای شي چې ورته وګوري چې د هغې د نکاح د کولو باعث شي، نو دا کار دې وکړي.

ټول فقهاء په دې نظر دي چې سړی د نکاح په نیت کولای شي، چې د مخطوبې مخ او لاسونو ته وګوري او همدارنګه ښځه هم کولای شي، سړی ته د نکاح په نیت، ځکه څه چې نارینه یې په ښځو کې خوښوي، ښځې یې هم خوښوي.

مخطوبې سره د خپلوانو په حضور کې خبرې کول جایز دي[4]

۷- د کوژدې د مرحلې باقي منفي دودونه لکه شریني خوري، جبري محفل نیول، نوروزي، عیدي، د سوغات ردول، د کوژدې مرحله طولاني کول، یو بل ته ګوتمې په ګوته کول:

زموږ په ټولنه کې د کوژدې په مرحله کې داسي نور دودنه شتون لري چې د اسلامي عمومي قواعدو چې په شریعت کې د همدې قواعدو په اساس ناوړه شمېرل شوي دي، اصلاً عرف او دود د ټولنې او کورنیو د مصالحو په نظر کې نیول دي، خو که چېرې په یوه ټولنه کې داسې دودونه شتون ولري چې د ټولنې او کورنیو په کې مصالح نه وي، بلکې مفاسد او ضرورونه وي، هغه باید له منځه یوړول شي، په دې اړه موږ فقهي قواعد لرو:

«درء المفاسد اولى من جلب المنافع»[5]

ژباړه: د ګټو لاس ته راوړلو په نسبت د مفاسدو لرې کول غوره دي.

---

[1]) شبیر احمد عثماني او مولانا محمود الحسن دیوبندي، تفسیر کابل ج ۱ ص ۸۴۰
[2]) مولانا مودودي، د تفهیم القرآن تفسیر ج ۱ ص ۶۳۰.
[3]) سلیمان بن الاشعث السجستاني، سنن ابي داود ج ۱ ص ۱۵۰۳، قال الالباني حدیث حسن
[4]) شیرزاد عزیز، د اسلام کورنی نظام ص ۳۶
[5]) برکت الله تایب، فقهي قواعد ص ۷۲

يعنې کله چې ضرر او مصلحت سره مخامخ او په تعارض کې واقع شي، د ضرر دفت کول د ګټو لاس ته راوړلو نه غوره او ضروري دي او په داسې صورت کې منفعت د ضرر لرې کولو په هدف پرېښودل کېږي.
د شیرني خورۍ محفل جبري دایرول اصلاً، نه خو د نجلۍ د کورنۍ لپاره کومه فایده لري او نه د هلک د کورنۍ لپاره، بلکې د هلک د کورنۍ مالي لګښت، وخت مصرف کېدل او په بې فایده شیانو باندې خپل مال او وخت ضایع کول دي، خو که بیا هم کوم طرف ته څه فایده وي، نو ددې له وجې چې نقصان او مفسده یې زیاته ده، نو منع کول یې په کار دي.
«اذا تعارض المانع و المقتضي يقدم المانع»[1]
ژباړه: د يو کار په کولو او نه کولو کې د تعارض پر مهال نه کول مقدم دي.
مقصد دا چې يو سبب د يو کار په ترسره کولو کې باعث شي او بل سبب د هماغه کار په نه کولو کې باعث شي،په دې صورت کې هغه سبب مقدم دی چې د نوموړي کار په نه کولو باندې دلالت کوي، نو همدې قواعدو ته په کتو سره زموږ په افغاني ټولنه کې چې کوم ناوړه دودونه شتون لري، سره له دې چې يو طرف به د هغه کار په کولو ټينګار کوي، خو بل طرف ورڅخه متضرر کېږي نو هغه طرف چې ورڅخه ضرر مومي هغه ته ترجيح ورکول کېږي چې هغه د کار نه کول دي او دا ناوړه دودونه زموږ په ټولنه کې تر نن پورې چې راغلي دي، متأسفانه د شخصي مصالحو په خاطر د ټولنې او کورنۍ مصالح برباد شوي دي.
«الضرر لايکون قديما»[2]
ژباړه: د ضرر پخواني والی بې اعتباره دي.
مقصد دا چې د ضرر قدامت اعتبار نه لري او نه د هغه په پرېښودلو باندې حکم کېږي، د ضرر قدامت او حداثت په حکم کې سره يو شان دي، نو ځکه يې قدامت اعتبار نه لري، بلکې بايد لرې شي، د قديم او حادث ضرر تر منځ توپير نشته، ځکه علت ضرر دی، لکه: څرنګه چې زموږ د ټولنې اوسني منفي دودونه په واده کې عام دي او يوه کورنۍ او فرد پورې خاص نه دي، ضرر يې عام دی، نو بايد دا منفي دودونه له منځه يوړل شي، اګر که دا دودونه ډېر قدامت هم ولري.
پورته قواعدو ته په کتو سره په افغاني ټولنه کې چې کوم دودونه د کوزدې په مرحله کې شتون لري دا ناوړه دودونه دي او بايد له منځه يوړل شي.
اسلامي شريعت هم د ټولنې، کورنۍ او افردو مصالح غواړي او په دې پورتنيو دودونو کې هېڅ مصالح نه ليدل کېږي، البته که په بعضې دودونو کې څه مصالح وي، هغه فردي مصالح دي او عام مصالح په کې نشته، نو د عامو مصالحو لپاره بايد منفي دودونه له منځه يوړل شي.
د شيريني خورۍ محفل کې د يو طرف مصالح هم نه وي، بلکې صرف د دود له وجې يې عملي کوي، نوروزي چې کلونه کلونه زموږ په ټولنه کې شتون لري، هېڅ فايده يې نشته، هغه عيدي چې جبري وي،

[1]) عبدالکریم زیدان، ژباړن: ابوعاصم عبدالناصر زاهدي، فقهي قواعد ص ۹۴
[2]) سليم رستم باز الکباني، شر مجله ص ۲۲

له توان څخه پورته وي، فرمايشي شيان وغوښتل شي، د سوغات ردول، اصلاً سوغات او تحفه د دې لپاره ورکول کیږي، تر څو د ورکونکي او اخیستونکي تر منځ محبت پیدا شي، خو کله چې تحفه بېرته رد شي او دا د یوه دود په څېر وي، متأسفانه د ورکوونکي او اخیستونکي تر منځ د نفرت باعث او سبب ګرځي، د کوزدې مرحله طولاني کول، په یو او بل باندې دا هم ناوړه دود دی او هېڅ یو طرف ته یې فایده نشته. د نامحرمو ښځو او سړیو په منځ کې هلک او نجلۍ یو بل ته ګوتمې په ګوته کول هم سم کار نه دی.

لنډه دا چې د دې مرحلې دا منفي دودونه چې زموږ په ټولنه کې شتون لري، د شرعي او فقهي قواعد ته په کتو سره ناوړه دي، باید په داسې شکل له منځه یوړل شي چې یو طرف ته څه غټ مشکل مخې ته رانشي او له بل طرف څخه د مشکلاتو او ستونزو څخه خالي ټولنه مو جوړه کړې وي.

## دوهم: د کوژدې د مرحلې د منفي دودونو قانوني حیثیت:

په واده خو نن سبا د ناسمو کړنو او ناسمو دودونو څپې پیل شوې، چې ستونزې یې را پیدا کړي او د واده پروسه یې پېچلې کړې ده، چې د ځوانانو د واده مخه نیسي او په پایله کې د واده پروړاندی خنډونه ورځ په ورځ زیاتیږي.

عرف، رواجونه او دودونه د افغانستان په سنتي ټولنه کې ډېر ځای لري، حتی دغه دودونه او رواجونه کله له شریعت او د قانون نه هم ډېر اهمیت پیدا کوي. ځیني خلک په هغو دودونو او رواجونو هم کلک ولاړ يي چې د شریعت سره په ټکر کې دی او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره په تعارض کې دي. دوی وایي چې "شرم دی"، "خلک به راپورې وخاندي" او داسې نور... خو دا چې د شریعت خلاف عمل ترسره کړی، خدای او رسول یې صلی الله علیه و سلم ناراضه کړی هېڅ پروا یې نه وی.

همداسې، په ځینو ټولنو کې دودونه له قانون نه هم ډېر اهمیت لري. قانون ته خلک غاړه نه ږدی، خو له رواجونو او نرخونو وتل ورته ګران کار دی. د قانون خلاف کار کولو لپاره شل پلمې او بهانې جوړوي، خو د عرف او عنعناتو د ساتلو او عملي کولو لپاره ولو که د قانون خلاف هم وي، بی دریغه کوښښ کوي.

شاید دا ټول په انساني فطرت او بشري طبیعیت پوری اړه ولري، هغه ځکه چې دغه وضعیت د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو ټولنو کې تجربه شوی. خلک تل د قانون په مخ دریدلي او کلک مقاومت یی کړی، بالمقابل د عرف او عنعناتو ساتنه یی کړی او درناوی یی کړی.

په اوسنی ټولنه کې هم شریعت او هم قانون، د عرف په مخ کې نه دي دریدلیي، خو د عرف او عاداتو لپاره یې یو څه معیارونه ټاکلي؛ ولې چې ځینې دودونه د بشري ټولنې لپاره مشکلات زیږوی او د تباهی لامل یې ګرځي. په اوسنی افغاني ټولنه کې هم ځینې داسې منفي او ناسم دودونه شتون لري چې د هغو پیژندنه او د هغوی د مخنیوی لپاره کار کول د هر عاقل انسان مسؤولیت دی.

د اسلام په انسان جوړونکې مکتب کې د واده ترسره کول، خورا آسانه او ساده دي او له ناسمو او پیچلو دودونو څخه پاک دی چې حتی د ټیټې ټولنیزې طبقې کورنۍ یې هم کولی شي، په آسانۍ سره د اسلام د معرفي شویو معیارونو او تناسب پر بنیاد عملی کولی شی.

خو کله بیا دغه ناسم دودونه د اسلام دښمنه او دین ستیزه وګړو لخوا د اسلام د احکامو په نوم یادیږی او د اسلام د سپیڅلي دین د بد نامۍ لپاره کارول کیږی او د دین د بد معرفي کولو په پار ترینه استفاده کیږی.

نو لازمه ده چې دغه دودونه و پیژندلی شي، ټولنې ته معرفي کړی شی، د هغوی معایب او بدۍ خلکو ته وویل شي چې، د هغوی ذاتي قبح یا هغه فساد او ضرر چې د دوی د عملي کولو په پای کې ټولنې یا د ټولنې وګړو ته راګرځي هغه هم بیان کړي.

په افغانستان کې خوشبختانه قوانینو او په ټوله کې قانون جوړونکو دغه مهم ټکي ته پام کړی دی او د ناسم عرف، منفي دود او فاسد رواج مخنیوی یې کړی دی.

په دی اړه لومړی که د افغانستان اساسي قانون ته مراجعه وشي، نو د اساسي قانون څلور پنځوسمه ماده، په دې اړه داسې وایي: "دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي"[1].

د اساسي قانون د یادې مادې په رڼا کې ټول هغه ناسم او منفي دودونه چې د اسلامي شریعت له احکامو سره مغایر دي او هغه رسوم او رواجونه چې له دیني احکامو سره په تعارض او ټکر کې دي، هغه منفي دودونه بلل شوي او یواځې په منفي بللو یې اکتفاء نه ده شوې، بلکه په صراحت سره ویل شوي چې یاد دودونه باید له منځه یوړل شي، د هغوی مخنیوی وشي او د هغوی د ترویج لاره بنده شي.

دلته قانون جوړونکو د اساسي قانون په یاده ماده کې ټول تمرکز د شریعت په اصالت کړی او د سلام د سپیڅلي دین احکام یې د معیار او ملاک په شکل معرفي کړي، چې ټول هغه رواجونه چې له دغه معیار سره سم نه دي، هغه نه یواځې چې منع شوي، بلکه د هغوی د له منځه وړولو لپاره جدي سپارښتنه هم شوې ده.

اوس دا چې کوم دودونه مثبت یا سم دي او کوم دودونه منفي او ناسم؟ کوم دودنه باید له منځه یوړل شي او کوم دودونه لا ترویج شي او د هغوی حمایت وشي؟ دی لپاره هغه عام فهمه معیار دا دی چې: هغه څه چې د خلکو په منځ کې عام وي او د قرآن او سنت له نصوصو سره په ټکر کې نه وي او د ګټې یا منفعت د له منځه وړولو او تاوان او فساد د رامنځته کېدو لامل نه وي، هغه سم او مثبت عرف دی.

د دی بر عکس، فاسد رواج او ناسم دود هغه څه چې د خلکو په منځ کې شتون لري او د شریعت خلاف وي، د منفعت او ګټې مخه نیسي یا یې له منځه وړي او د تاوان او فساد د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

---

[1]. د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، اساسي قانون، د تصویب کال ۱۳۸۲ (۵۴ ماده)

مونږ دلته په همدې لړ کې یو څه، دغه ناسم دودونه او فاسد رواجونه په تفصیلي توګه وپیژنو او هغه څه په تقنیني اسنادو کې په صراحت یا ضمني توګه راغلي او د هغوی نه کولو حکم وضع شوی، هغه یو یو معرفي کړو.

په افغانستان کې لکه هره بله عرصه او هر بل میدان د واده په اړه هم ښه ډېر تقنیني اسناد شتون لري، لکه اساسي قانون، مدني قانون، د جزا کوډ، د واده د مراسمو قانون، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون او د ښځو د آزار او اذیت د مخنیوي قانون.

نوروزي، عیدي، د خطبې په وخت د انکار په صورت کې د دښمنۍ فکر کول، د سوغات ردول، په انتخاب کې د هلک او نجلۍ اختیار نه لرل، د شیریني خوري محفل، د نجلۍ اقاربو ته نغدي روپۍ او یا هدیې ورکول، تر څو هغوی راضي شي، د کوژدې مرحله طولاني کول، عذرونه کول، زیات مصارف غوښتل، کفائت نه مراعاتول، ولور، د کوژدې ژبه او وعده، یو بل ته ګوتمې په ګوته کول، بدل، باري او شوله، د هلک له کورنۍ څخه د کوژدې مصارف غوښتل، د کوژدي مصارف د نجلۍ له مهر څخه ترسره کول، ښځه په بدو کې ورکول، د نامزادانو په ملاقات کې افراط او تفریط، د غوښتنې (خطبې) په وخت

کې یو بل ته د لیدو حق نه ورکول، د شیرني خورۍ محفل جبري کول، د نجلۍ کور ته بغیر له نکاح د هلک تګ راتګ، د ښځو او عاشقانو د ورځو یا مناسبت تحفې وړل، شیربها، د نجلۍ خپلوانو ته د لباس په نه راوړلو جنجال، د دروغو تحایف، یو بل ته جبرا باید لباس واخلي، دا ټول د هغو منفي او ناسمو دودونو او فاسدو رواجونو نموني دي چې د خطبې یا کوژدې په مرحله کې ترسره کېږي.

په یادو قوانینو کې ځینې رواجونه او رسمونه په صراحت سره منع شوي او حتی جرمي وصف ورکړل شوی، تر څو ترسره کوونکي یې مجازات شي او ټولنه دغه دود یا عمل ته د جرم په سترګه وګوري، خو ځینې رواجونه یې یواځې منع کړي او د هغو د نه ترسره کولو سپارښتنه یې کړې ده.

خو د ځین نورو ناسمو دودونو او فاسدو رواجونو، په اړه بیا صریح حکم نه دی وضع شوی، بلکه قانون جوړونکو یو څه عام قواعد او ضوابط وضع کړي چې دغه کار یې منع کړی دی.

خواستګاري یا خطبه چې د واده د پروسې لومړۍ مرحله ګڼل کېږي، په دې مرحلې کې ځینې دودونه او رواجونه داسې دي چې ناسم بلل شوي او د ټولنې له سالم عرف سره په ټکر کې دي او همداسې د شریعت له احکامو سره په تضاد او تعارض کې واقع شوي، د دې ترڅنګ کوم بل ذاتي قبح یا ضرر هم لري چې دغه دودونه او رواجونه په دې ټولنه کې قانون جوړونکو هم په نظر کې نیولي او د هغو د نه ترسره کولو حکم یې وضع کړی او د هغو د مخنیوي سپارښتنه یې کړې ده.

د اساسي قانون ځلور پنځوسمه ماده چې وايي: "دولت .. او د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو سره د مغايرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبيرونه نيسي"١. دلته چې د کومو دودونو او رواجونو د مخنيوي او د له منځه وړولو سپارښتنه شوې ده، دا يو عام حکم دی چې د واده په بهير کې په هرې مرحلې کې چې کوم دود او رواج د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو سره مغايرت ولري، هغه بايد له منځه يوړول شی، نو اوس که دغه ناسم دود د کوژدې په مرحله کې وي هم منفي دود او له منځه وړل يې د دولت مکلفيت دی.

لکه څنګه مو چې په تېر فصل کې وويل، په افغانستان کې د واده کولو مراسم او د دغه بهير په اړه قانون جوړونکو له ډېر پخوا پاملرنه کړې ده. د کمونيستي رژيم ځينې فرامين د حکومت لخوا صادر شوي دي چې ښايي د دودونو او رواجونه په اړه لومړی قانونی اقدام وبلل شي، ځکه چې په دغې ساحه کې له دې مخکې يواځې په مدني قانون کې يو څه داسې احکام وو چې د واده کولو حقوقی چوکاټ يی بيان کړی وو، خو د رسمونو او رواجونو په اړه ډېر څه په کې نه وو بيان شوي، تر دې چې د کمونستي رژيم په فرمانونو کې د ولور د لوړوالي او د نورو بې ځايه مصارفو د مخنيوي په اړه ځانګړي محدوديتونه راغلي وو، خو په دې وروستيو کې پر اساسي قانون سربېره، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون[2] او د واده د مراسمو قانون[3] تدوين او نافذ شو.

د اساسي قانون ترڅنګ ځينې نورو قوانينو هم هغو ناسمو او فاسدو دودونو ته اشاره کړې او د هغو په اړه يې حکم وضع کړی چې قانون جوړونکي د د هغو معيارونو چې د يو دود د ناسموالي په اړه بيان شوي، مطابق ګڼلی دی.

د مدني قانون ۶۹ ماده د بدل يا هغه ته چې په فقهي او شرعي اصطلاح شغار وايي، داسې صراحت لري: "د بدل د واده په عقد کې يوه ښځه له بلې ښځی په بدل کې نه ورکول کيږی، د هری ښځی لپاره جلا مهر مثل لازم دی[4]".

د ښځو پر ړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، چې د ۱۳۸۸ کال د رسمی جريدی په ۹۸۹ ګڼه کې نشر او د تقنيني فرمان په شکل نافذ شوی دی، دوييمي مادې په دوييمې فقرې کې چې د دې قانون موخې يی بيان کړي داسې راغلي: "د کورنۍ سلامت ساتل او د ښځې پر وړاندې د تاوتريخوالي مسبب د اسلام د سپيڅلي دين د حکمونو مغاير دود، دستور او عادتونو پر وړاندی مبارزه[5]". يعنې دا چې د ياد قانون له موخو څخه يوه مهمه موخه دا هم ده چې د اسلام د سپيڅلي دين د حکمونو مغاير دود، دستور او عادتونو پر وړاندی مبارزه وشي.

---

[1]. د افغانستان جمهوری اسلامي دولت، اساسي قانون، د تصويب کال ۱۳۸۲ (۵۴ ماده)

[2]. د ښځو پروړاندې د تاوترخوالي د مخنيوي قانون، د تقنينی فرمان په توګه، په کال ۱۳۸۸، د رسمي جريدې په ۹۸۹ ګڼه کې نشر شو.

۳. د واده د مراسمو قانون، په ۱۳۹۶ کال د جدي په مياشت کې، د رسمي جريدی په ۱۲۸۰ ګڼه کې په ۴ فصلونو او ۲۵ مادو کې نشر شوی.

[4]. د افغانستان مدني قانون چی په کال ۱۳۵۵ کال کې د رسمي جريدې په ۳۵۳ ګڼه نشر او نافذ شوی دی، چې د لومړي قسمت، دويم فصل شپږم مبحث، (۶۹) ماده.

[5]. د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، ۱۳۸۸ کال، د رسمي جريدې د ۹۸۹ ګڼې (۲) ماده دوييمه فقره.

ښځه په بدو کې ورکول، يو بل دود دی چې کله نا کله په افغانستان کې ترسره کېږی؛ په دې اړه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، ۲۵ ماده وايي: "هغه شخص چې په بدو کې د ورکولو په نوم ښځه په بدو کې ورکړي يا يې وکړي، په اوږده حبس چې له لسو کلونو زياد نه وي، محکوميږي[1]".

د همدې قانون په شپږويشتمه ماده کې د اجباري نکاح په اړه داسې راغلي: "که چېرې يو شخص، هغه ښځه چې د واده قانوني سن يې بشپړ کړی، د هغې له رضايت پرته کوزده يا يې واده کړي، له احوالو سره سم به په متوسط حبس چې له دوو کلونه څخه لږ نه وي، محکوم او کوزده او واده د قانون د حکمونو مطابق فسخ کيږي[2]".

همدا راز د جزا کوډ د اجباري نکاح په يا کوزدې په اړه وايي چې: "هغه شخص، هغه نجلۍ چې ۱۸ کاله يې پوره کړي نه وي يا ښځه د هغې له رضايت پرته ميره ته ورکړي، له احوالو سره سم په لنډ حبس محکوميږی[3]".

د دې ترځنګ، د يو دود د قانوني حيثيت او مجاز ګڼلو لپاره نور شرطونه د واده د مراسمو قانون په دويمه ماده چې د ياد قانون موخې او اهداف يې بيان کړي، ذکر شوي دي.

د واده د مراسمو قانون اهداف په لاندې ډول دي: "د دغه قانون موخې عبارت دي له:

- د اسلام د سپيڅلي دين د حکمونو د مغايرو رسمونو او عنعنو له منځه وړل،
- د اصيلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او غوره سنتونو ته درناوی،
- د زياتو لګښتونو مخنيوی او د محفلونو په ترسره کولو کې د آسانيتاوو برابرول،
- له انحرافاتو څخه مخنيوی،
- د ټولو لپاره د سالمې کورنۍ د جوړولو د زمينې برابرول،
- د کورنۍ د شيرازې ساتل او د کورنۍ د تاوتريخوالي مخنيوی،
- د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو ساتنه،
- د زوج او زوجې او د دوی د کورني د ښو او پايدونکو اړيکو تأمينول[4]"،

که چېرې د واده د مراسمو قانون چې د واده په بهير کې د شته دودونو او رواجونو په اړه ځانګړی او اختصاصي قانون دی، دغو موخو ته و کتل شي، نو دا جوتيږي چې ټول هغه معيارونه چې د هغوی په اساس يو دود ناسم بلل کيږي او د ناروا، غير قانوني يا فاسد رواج په توګه پيژندل کيږي او د قانون له لوري د هغه مخنيوی کيږی په ډېر ښه انداز او په پوره وضاحت سره بيان شوی.

د ياد قانون دوييمه ماده په حقيقت کې د اساسي قانون د ۵۴ مادې تشريح او عملي کړندلاره ده، په دغې مادې کې د ياد قانون موخې د داسې عمومي قواعدو په شکل بيان شوي چې د قانون په رڼا کې د مجاز او غير مجاز دودونو د پيژندنې يو ډېر روښانه معيار او يو ډېر ښه ملاک ورته تعيين شوی.

---

[1]. د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، ۱۳۸۸ کال، د رسمي جريدې د ۹۸۹ ګڼې (۲۵) ماده.
[2]. . د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، ۱۳۸۸ کال، د رسمي جريدې د ۹۸۹ ګڼې (۲۶) ماده.
۳. د جزا کوډ،۱۳۹۶ کال، د رسمي جريدې ۱۲۸۰ ګڼه، (۵۱۷) ماده.
٤. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۲).

د دغې مادې د حکم په بناء ټول هغه دودونه، دستورونه، رواجونه او رسمونه چې پورته اووه شرطونه په کې موجود نه وي او د قانون په چوکاټ کې ترسره نشي، هغه ناسم دودونه او فاسد رواجونه دي چې مخنیوی یې لازمي دی.
د واده د مراسمو قانون ځیني ناسم دودونه او بد رواجونه په بیلابیلو موادو کې په دې ترتیب بیان کړي:
د دریيمې مادې په لومړۍ فقره کې د محفلونو بیان شوی، د همدې مادې په ۴ فقره کې خویش خوري، او په ۵ فقره کې د نکریزو شپه، په ۶ فقره کې واده، په ۷ فقره کې مهر او په ۱۵ فقره کې د شریعت مغایرې جامې تعریف شوې دي.
د دې ترڅنګ، د یاد قانون په څلورمه ماده کې چې په هوټلونو، رسټورانتونو او سالونونو کې د محفولونه منع راغلې، د نورو محفلونو تر څنګ د کوزدې د لمانځنې منع هم په صراحت سره یاده شوې[1].
په دغه قانون کې، د بې ځایه او لوړو مصارفو مخنیوی شوی، نور ځیني دودونه په صراحت سره منع شوي، خو د دې ترڅنګ داسې ډېر هغه رسم او دستور چې د خلکو په منځ کې مروج دي. خو د متغییر او متحول والي په بناء قانون جوړونکو د هغه په اړه کوم صریح حکم نه دی بیان کړی، نو مشخص معیارونه یې د دغه قانون د موخو او اهدافو تر عنوان لاندې بیان کړي، چې د هغو له مخې ټول هغه دودونه چې، یا د شریعت د سپیڅلو احکامو سره مغایرت لري، یا له صحیح عرف سره په ټکر کې واقع کېږي او یا هم مالي زیان او تاوان رامنځته کوي او یا ذاتي قبح لري او یا د کوم تاوان یا ضرر سبب ګرځي، د هغو د نه تر سره کولو مخنیوی او د له منځه وړولو سپارښتنه یې کړې ده.
نو اوس کوم هغه دود او دستور چې پورته په همدې مبحث کې د منفی دودونو او رواجونو په نوملړ کې راغلی، خو د تقنیني اسنادو په موادو کې د هغوی په اړه لفظاً کوم ځانګړی او مشخص حکم نه دی وضع شوی، هغه ټول د دغو عمومي قواعدو لاندې راځي کوم چې د یادو تقنیني اسنادو په عمومي حکمونو کې د منفعت د جلب یا د ضرر او تاوان د دفع په موخه وضع کړی دی.

## دوهم مطلب: د واده د مرحلې د منفې دودونو شرعي او قانوني حیثیت:

### لومړی: د واده د مرحلې د منفي دودونو شرعي حیثیت:

د واده د مرحلې د دودونو شرعي حیثیت هم په دود پورې تړاو لري هغه دودونه چې منفي او ناوړه دي. نو دا دودونه په شرعي لحاظ مردود دي، باید د دې د له منځه وړلو لپاره کوښښ وشي او په داسې شکل سره دا دودونه له منځه یوړل شي چې نه خو هغه ناوړه دود پاتې شي او نه ور څخه لوی مشکل مخې ته راشي، نو باید په حکمت سره ورسره مبارزه وشي.
متأسفانه زموږ په ټولنه کې چې د واده په مرحله کې کوم دودونه شتون لري زموږ ټولنه، کورنۍ او افراد ورسره په ډېرو مشکلاتو کې راګیر دي، داسې دودونه چې زموږ په ټولنه کې شتون لري، نو له یوې خوا

---

۱. د واده د مراسمو قانون، څلورمې مادې ته دې مراجعه وشي.

زموږ انساني ټولنه به تر ډېره وخته په مشکلاتو کې وخت تېروي او له بل لوري له شرعي نصوصو څخه سرغړونه هم ده.

**۱- د مهر په پیسو جهيز اخیستل:**

دا ناوړه دود زموږ په ټولنه کې متأسفانه شتون لري چې کله هم د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته مهر تسلیم شي، نو د نجلۍ کورنۍ په کې په خپل سر تصرف کوي او د نجلۍ سره چې کوم سامان استوي هغه د مهر په پیسو اخلي.

مهر د ښځې خاص حق دی، هر ډول تصرف په کې کولی شي، خو د کور او د کور سامان برابرول پر خاوند باندې د ښځې حق دی، په اسلامي شریعت کې داسې کوم دلیل نشته چې د کور سامان په ښځه او یا د هغه پر پلار لازم وي، د جهيز برابرول پر خاوند باندې د ښځې حق دی[۱].

الله تعالی فرمايي: «وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً»[۲]

ژباړه: او ښځو ته د هغوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ.

دا آیت ښکاره دلیل دی چې مهر باید ښځې ته ورکړل شي او دا د دې یو مسلم حق دی، زموږ په ټولنه کې زیات خلک خو نجلۍ ته مهر نه ورکوي او که بیا یې ورکوي نو په هغو پیسو باندې ورته د کور سامان یا جهيز اخلي چې دا سامان اصلاً د نجلۍ په اختیار او تصرف کې نه وي، بلکې دا سامان د هغې لویې کورنۍ چې هلک او نجلۍ په کې ژوند کوي د ټولو د استفادې لپاره وي[۳].

**۲- په واده کې د ښځو او سړیو مختلط محافل نیول:**

سره له دې چې زموږ په ټولنه کې د واده په مراسمو کې د نارینه او ښځینه تر منځ زیات اختلاط نه وي، خو په بعضې محفلونو کې چې هوټلونو او په ښارونو کې ترسره کېږي، متأسفانه مختلط هم وي چې دا د فتنې سبب ګرځي.

په واده کې د ښځو او سړیو تر منځ اختلاط یو منکر عمل دی او جواز نه لري، بلکې د دې کار د منع کولو لپاره باید کار وشي، ځکه دا د فتنې سبب ګرځي[٤].

**۳- په لباس، خوراک او د واده په سامان اخیستلو کې اسراف:**

د اسلام مقدس دین خپلو پیروانو ته لارښوونه کوي چې له اسراف څخه ځانونه وساتي او خپلې چارې په داسې شکل مخې ته یوسي چې نه بخل وي او نه په کې اسراف وي، متأسفانه زموږ په ټولنه کې تر نن پورې دا مشکل شتون لري چې د واده په مراسمو کې خلک له یو بل سره په لباس، خوراک او جهيز کې

---

[۱])پوهنمل شیرزاد عزیزي، د اسلام کورنی نظام ص ۱۲۷

[۲]) د النساء سورت ۳ آیت

[۳]) ابوطارق غلام الله سرور ساپی د پیچ درې د پښتنو دودونه ص ۸۴

[٤]) ابن باز، حکم اختلاط الرجال بالنساء فی الاعراس، د ابن باز رسمي سایټ
http://www.aleman.com/%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٣٪D٨٪AA%D٨٪A٨/%D٩٪٨٥٪D٩٪٨٨٪D٨٪B٣٪D٩٪٨٨٪D٨٪B٩٪D٨٪A٩٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨١٪D٩٪٨٢٪D٩٪٨٧٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪A٥٪D٨٪B٣٪D٩٪٨٤٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٥٪D٩٪٨A/%D٨٪AD%D٩٪٨٣٪D٩٪٨٥٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٨٪AE%D٨٪AA%D٩٪٨٤٪D٨٪A٧٪D٨٪B٧٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B١٪D٨٪AC%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪٢٠٪D٨٪A٨٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٦٪D٨٪B٣٪D٨٪A٧٪D٨٪A١٪٢٠٪D٩٪٨١٪D٩٪٨A٪٢٠٪D٨٪AD%D٩٪٨١٪D٩٪٨٤٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٢٪D٩٪٨٨٪D٨٪A٧٪D٨٪AC:/i٥٨٢&d٩٢٠٢٤٠&c&p١

سيالي کوي، د دې لپاره قرضونه هم په غاړه اخلي، الله تعالی فرمايي: «وَ كُلُوا وَ اشْرَبُوا وَ لا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ»[1].

ژباړه: وخورئ او وڅکئ خو اسراف مه کوئ، ځکه الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

د پورتني آيت په شرح کې کابلي تفسر د اسراف په اړه وايي: د الله تعالی ورکړل شوی لباس او ټول هغه نعمتونه چې تاسو ته درکړل شوي له هغه څخه فايده واخلئ، په دې شرط چې اسراف په کې نه وي، د اسراف معنا له حده تجاوز او بې ځايه خرچونه دي[2].

مفتي محمد شفيع رحمه الله د پورته آيت لاندې ليکي: له آيت څخه د خوراک او څښاک فرضيت ثابت دی، په خوراک او څښاک کې اسراف کول، جايز نه دي، په خوراک او څښاک کې اعتدال د دين او دنيا لپاره ګټور دي[3].

الله تعالی فرمايي: «إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ»[4]

ژباړه: بې شکه بې ځايه لګښت کوونکي د شيطانانو وروڼه دي.

د دې آيت لاندې مولانا مودودي رحمه الله وايي: په دې آيت کې د انسان ټولنيز مسئوليت ذکر دی چې بې د ځايه مالي لګښت مخه ونيول شي او د ټولنيزې اصلاح په وسيله زياتره هغه دودونه له منځه يوړل شي چې په هغو کې بې ځايه لګښت کيږي[5].

**۴- په يوه او بل نوم د واده ځنډول:**

حقيقت دا دی چې د واده په ځنډولو کې ډېر مفاسد مخې ته راځي، له همدې امله اسلام خپل پيروان دې ته تشويق کوي چې په ودونو کې مبادرت او لومړيتوب وکړي، له بلې خوا د نجلۍ اولياؤ ته د آسانيتا حکم کيږي ځکه په واده کې چې آسانيتا وشي، د افرادو، کورنيو او ټولنې مصالح متحقق کيږي او له بل طرف څخه د مفاسدو دروازه بنديږي.

عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ، وَفَسَادٌ عَرِيضٌ»[6]

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي کله چې تاسو ته څوک د غوښتنې (خطبې) لپاره راشي او تاسو د هغه له ديندارۍ او اخلاقو راضي وئ، نو له هغه سره نکاح وکړئ که نه نو فتنه او فساد به په ځمکه کې خپور شي.

اصلاً په دې حديث کې هم دې قضيې ته پام اړول شوی دی چې د فتنې او فساد مخنيوی په واده سره کيږي،نو هر کله چې دوه کورنۍ په خپلو کې وروسته له مشورې توافق وکړي، نو بايد دا دوستي په يوه او بل نوم ونه ځنډول شي، ځکه د واده ځنډول اصلاً د دواړو کورنيو په زيان دي او هر څومره قيودات

---

[1])د اعراف سورت ۳۱ آيت
[2]) شبير احمد عثماني او محمود الحسن ديوبندي، تفسير کابلی ج ۱ ص ۸۶۲
[3])مفتي محمد شفيع، معارف القرآن ج ۳ ص ۱۷۶
[4]) د بني اسراييل سورت ۲۷ آيت
[5])مولانا مودودي رحمه الله، تفهيم القرآن ج ۱ ص ۸۴۸
[6]) محمد عيسى ترمذي، سنن ترمذي ج۱ ص ۱۸۸۴، قال الالباني في هداية الرواة: حديث حسن لغيره

چې د نجلی د کورنی لخوا د هلک پر کورنی باندې اېښودل کېږي، متأسفانه د هغو ناوړه نتايج هم په دواړو کورنيو تر ډېره وخته پورې وي.

**۵- د موټر مخې ته چرګ حلالول، شمې لګول، په دروازه ميخ وهل،غنم شيندل، په ديګ کې د ناوې ديګ ښکته کول:**

د اسلام مقدس دين، خو د فالونو، نذرونو او له ځانه جوړ شوي تقرب الی الله په نوم کارونه ردوي، يو دا چې په دين کې د دې شيانو اصل نشته او بل دا چې ډېر بې ځايه مصارف دي چې په ترسره کولو کې ورڅخه کار اخلي، کله خو داسې شي چې د موټر مخې ته چرګ حلال کړي او دا نذر وګڼل شي، دا خو عبادت دی او نذر خاص د الله تعالی لپاره ترسره کېږي.

په شمه لګولو کې له نورو اقوامو سره مشابهت راځي او همدارنګه بې ځايه مصرف هم دی او همدارنګه نور دودنه بې اساسه او بې بنياده دودونه دي، اسلامي شريعت د هغو ناوړه دودونو په اړه چې پخوا يې شتون درلود، قاطع احکام نازل کړي دي، الله تعالی فرمايي: «إِنَّما حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَ الدَّمَ وَ لَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَ ما أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ»[1]

ژباړه: په تاسې يې حرام کړي دي مرداره، وينه د خنزير غوښه او هغه څه چې په هغه باندې د الله نه پرته د بل چا نوم اخيستل شوی وي.

کابلي تفسير تر پورته آيت لاندې داسې بيان کړی دی:

که دکوم پاچا د راتګ په وخت کې د تعظيم په نيت يو ساکښ ذبح شي، يا د توپ ويشتلو يا د کوم نياز ورکول په وخت کې اګر چې د ذبحې په وخت د الله تعالی نوم واخيستل شي حرام دي[2].

نو کابلي تفسير د پاچا د راتګ په وخت کې دا کار حرام ګرځولی دی، نو د ناوې او زوم د راتګ په وخت کې هم ناوړه عمل دی.

تر همدې پورته آيت لاندې مفتي محمد شفيع رحمه الله وايي: که يو څاروی يا چرګ د غيرالله د رضا د حاصلولو لپاره ذبح کړای شي او غرض يې دا وي چې هغوی خوشحاله شي حرام دی او همدارنګه که د غيرالله د رضايت لپاه د يو څاروي غوږ يا بل څه علامه ورباندې کړل شي او بيا پرېښودل شی هم حرام دی[3].

فتاوی شامي کې هم په دې اړه ښه وضاحت راغلی دی چې د امير په راتګ سره که کوم حيوان ذبح کړل شي،نو هغه حرام کړل شو، ځکه دا د غيرالله لپاره نذر ومنل شو، اګر که د الله تعالی نوم هم ورباندې ياد کړل شي[4].

---

[1]) د بقرې سورت ۱۷۳ آيت

[2]) شبير احمد عثماني او محمود الحسن ديوبندي، کابلي تفسير ج ۱ ص ۱۲۰

[3]) مفتي محمد شفيع رحمه الله، تفسير معارف القرآن ج ۱ ص ۸۶

[4])محمد امين مشهور په ابن عابدين، حاشيه رد المحتار علی در المختار ج۱ ص ۵۴۹

په نبوي احاديثو کې هم هغه څه چې په هغه باندې کوم شرعي دليل نه وي، هغه مردود ګرځول شوي دي، عن عايشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد»[1].

ژباړه: له حضرت عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې زموږ په دين کې داسې څه ايجاد کړي چې په دين کې نه وي نو هغه مردود دي.

دا پورته حديث اصلاً د همداسې منکراتو رد کوي چې په کومو ټولنو کې داسې ناوړه دودونه په يوه ديني نوم باندې ترسره کېږي که هغه شمه لګول وي او که هغه نذرونه وي، که غنم شيندل وي، که د ناوې لاس په ديګ کې ښکته کول وي، دا ټول د اسلامي شريعت په رڼا کې مردود دي، ځکه د دې اصل نشته، بايد داسې ناوړه دودونه له منځه يوړل شي.

د فقهي قواعدو په رڼا کې هم داسې دودونه، لکه: په نيک فال او بد فال نيول، غيرالله ته نذرونه، د نورو قومونو تابعداري ناوړه عمل بللی دی.

«الاصل في العبادات التوقف»

د دې فقهي قاعدې مقصد او مطلب هم دا دی، هغه څه چې په عبادتي شکل ترسره کېږي، نو د هغه اصل بايد وکتل شي، ځکه کوم شی چې شريعت تعين کړي، په هغه زيادت او کمبود ناروا دی، له همدې وجې هغه عبادات چې شرعاً مطلوب دي، د نړۍ په شرق، غرب، شمال او جنوب کې هېڅ توپير نه لري، د مکان او زمان په اختلاف سره هم په خپل حال او اصل باقي پاتې دي.

۶- ناوې او زوم په بازار باندې ګرځول، وديز پنډ، هوايي ډزې، په سرکونو اتڼ، بابېړی او هغه نور د واده په وخت ناوړه دودونه:

دا ټول داسې دودونه دي چې نقصان او ضرر يې يا خو فرد ته دی، يا کورنۍ او يا هم ټولنې ته او د اسلام مقدس دين د انساني ټولنې مصالح په نظر کې نيولي دي چې هغه رعايت شي، هر کله چې هغه مصالح رعايت شول، نو انسان کولی شي چې په دې ټولنه کې خپل ژوند ښه تر سره کړي.

«الضرر يزال»[2]. ژباړه: ضرر له منځه وړل کېږي.

مقصد دا چې هر چېرته ضرر وي، هغه بايد له منځه يوړل شي او پاتې نشي، د ضرر له منځه وړل واجب دي بايد په حکمت او ښه تدبير سره ختم شي.

خو په بازار کې د ناوې او زوم ګرځول، هوايي ډزې، وديزپنډ، دا ټول هغه ناوړه دودونه دي چې ټولنې ته يې ډېر مشکلات پيدا کړي دي، عمومي سرکونه بندېږي، د ورا(جنج) د ناوړه حرکاتو له وجې مريضان او حاجتمند خلک معطل پاتې وي، خو د داسې خلکو له وجې چې لار يې په ناوړه دود بنده کړي ده، خلک په دې مشکلاتو کې راګير وي، د هوايي ډزو له وجې ډېر خلک خپل ژوند له لاسه ورکوي او بې ځايه مصرفونه هم کېږي.

«الضرر لايکون قديما»[1]. ژباړه: د ضرر پخوانی والی بې اعتباره دي.

---

[1]) محمد بن اسماعيل البخاري، صحيح البخاري ج ۱ ص ۲۷۳

[2]) برکت الله تايب، فقهي قواعد ص ۵۴

د دې قاعدې مطلب او معنا دا ده چې د ضرر قدامت اعتبار نه لري او نه د هغه په بقا او پرېښودلو باندې حکم کېږي که هر څومره پخواني وي او مشروع نه وي بیا هم اعتبار نه لري.
د ضرر ډولونه:
لومړی عام ضرر: عام ضرر باید په مطلق ډول له منځه یوړل شي، لکه: په ودونو کې هوایي ډزې کول، دا یو عام ضرر دی چې په مجموع کې ټول خلک ورځخه متضرر کېږي، په ودونو کې لارې بندل دا هم یو عام ضرر دی باید په مطلقه توګه بند شي.
دوهم خاص ضرر: په دې کې هم یو هغه دی چې ضرر یې ډېر زیات وي، لکه بابېړی، دا کورنۍ او فرد ته یو خاص ضرر دی دا هم باید له منځه یوړل شي.

## دوهم: د واده د مرحلې د منفي دودونو قانوني حیثیت:

د واده په بهیر کې د نامزادۍ له مرحلی نه وروسته چې د واده د مراسمو نوبت رارسیږي، په دغې مرحلې کې هم خورا ډېر دودونه موجود دي چې په افغاني ټولنه کې بیلابیل ډولونه لري. لکه څنګه مو چې په مخکېني مبحث کې دغې مسئلی ته اشاره وکړه چې ټول هغه مروجه دودونه د قانون له مخې مجاز ګڼل کېږي، کوم چې قانون په صراحت یا ضمني توګه منع کړي نه وي، نو د دغې قاعدی په اساس هغه دودونه چې په قانون کې منع شوي، د هغو له جملې څخه یو هغه دودونه دي چې د اساسي قانون ۵۴ مادې بیان کړي دي، چې د شریعت مغایر دود وي.
د اساسی قانون ۵۴ ماده د مروجه دودونو په اړه وایي: "... او د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسمونو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي"[2]. د یادې مادې د حکم په بناء، هغه دودونه چې د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره مغایرت ولري، هغه نه یواځې منع دي، بلکې د هغو له منځه وړل هم لازمي دي. د دې ترڅنګ هغه دوه نور اصول چې په تېر مبحث کې مو بیان کړل، لکه: هغه دودونه چې د ټولنې له سم عرف سره په تعارض کې واقع کېږي او یا هغه دود او رواج چې ذاتي قبح ولري او ضرر په کې وي.
د اساسي قانون د ۵۴ مادې د ښه تطبیق لپاره او د اسلام د دین له سپېڅلو احکامو سره د مغایرو دودونو د ښې پیژندنې لپاره د واده د مراسمو قانون تدوین کړی چې په دغه قانون کې د ناسمو او د شرعي احکامو مغایرو دودونو پیژندنه، د هغو مراجعو چې د دغو ناسمو او بدو رواجونو مخنیوی وکړي، ذیصلاح مراجع او مقامات دي هم بیان شوي.
مخکې له دی چې د دودونو هغو معیارونو او اصولو ته چې د واده د مراسمو په قانون کې بیان شوي، مراجعه وکړو لازمه ده چې د مدني قانون په اړه ووایو چې د واده په بهیر کې د منفی او ناسمو دودونو په اړه په یاد قانون کې کوم خاص حکم نه دی راغلی.

---

[1]) عبدالکریم زیدان رحمه الله، فارسي ترجمه ابوعاصم عبدالناصر، قواعد فقهي ص ۵۳
[2]. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، اساسي قانون، د تصویب کال ۱۳۸۲ (۵۴ ماده)

د واده د مرحلې مهم دودونه کوم چې منفي ګڼل کېږي؛ په دې ډول دي: د مهر په پيسو جهيز اخيستل، د هلک په کورنۍ پر مهر سربېره نور بوج اچول، د موټر مخې ته چرګ حلالول، تويانه، د نکريزو د شپې محفل، په زيات مصرف د زوم مجبورول، آرايشګاه ته تلل، شمه لګول، ناوې او زوم په بازار کې ګرځول، مختلط او ګډ محافل نيول، يوبار مصرف لباس د واده لپاره اخيستل، واده په يوه نوم او بل نوم ځنډول، د شرم له وجې له هلک څخه مصارف اخيستل، پريکون يا ګورماتی، ورايز پنډ، د واده له ډوډۍ څخه ماشومان منع کول، کاسه، د نجلۍ د کورنۍ لخوا په هلک د خوړې مصارف او جوړې اچول، د ولور نه پشپړولو په صورت کې واده نه ورکول، د ناوې د راوړلو په وخت کې پر سرکونو باندې اتڼ او ساز، هوايي ډزې کول، په دروازه ميخ وهل، غنم شيندل او يا د پالنګ لاندې ايښودل، زيات خلک د واده ډوډۍ ته تلل، د دود پر ځای کولو لپاره غريب او ناتوان خلک مجبورول، نکاح ځنډول، بابېزی، په واده کې ډېر خلک خبرول، ناوې يا نجلۍ ته مهر نه تسليمول، په ديګ کې د ناوې لاس ښکته کول چې د ناوې لاس ځومره غټ دی، په هوټل کې په محفل کولو خلک مجبورول، د واده په مصارفو کې مسابقې کول، په ميلمنو باندې اوړه شيندل، د نکاح په مراسمو کې مسخرې کول.

اما د واده د مراسمو په قانون کې ځينې ناسم دودونه او رواجونه په بېلابېلو مادو کې په دې ترتيب بيان شوي دي:

د دريیمې مادې په لومړۍ فقره کې د محفلونو بيان شوی، د همدې مادې په ۴ فقره کې خويش خوري او په ۵ فقره کې د نکريزو شپه، په ۶ فقره کې واده، په ۷ فقره کې مهر، په ۹ فقره کې تخت جمعي، په ۱۰ فقره کې جهيز، په ۱۱ فقره کې پايوازي، په ۱۴ فقره کې د واده کليزه او په ۱۵ فقره کې د شريعت مغايرې جامې تعريف شوي دي.

د دې ترڅنګ، د ياد قانون په څلورمه ماده کې چې په هوټلونو، رسټورانتونو او سالونونو کې د محفولونو منع راغلې، د نورو محفلونو تر څنګ د نکريزو د شپې او د تخت جمعي د لمانځنې منع، هم په صراحت سره ياده شوې[1].

د واده د مراسمو قانون په هوټلونو، سالونونو او رسټورانتونو کې د واده د مراسمو د لمانځنې په اړه وايي: "د شرايطو لرونکې د ناوې او زوم اولياء او خپلوان کولای شي، د دې قانون د حکومونو سره سم په هوټل، سالون يا رسټورانت کې د واده محفل جوړ کړي[2]".

د دې مادې د حکم په اساس په هوټل او رسټورانټ کې د واده محفل مجاز ګڼل شوی دی، خو د شرايطو لرونکو ته، هغوی چې دغه شرايط نه لري يا يې دغه شرايط پوره کړي نه دي، هغوی نشي کولی چې په هوټل کې محفل جوړ کړي.

د ياد قانون د لسمې مادې په لومړۍ فقرې کې داسې راځي: "(۱) د ناوې او زوم اولياء کولای شي له دواړو خواوو څخه زيات نه زياد (۵۰۰) تنو په ګډون په هوټلونو، سالونونو او رسټورانتونو کې د واده محفل جوړ کړي[1]". معنا دا چې د (۵۰۰) تنو له شمير اوړي، دا د قانون خلاف کار بلل کېږي.

---

۱. د واده د مراسمو قانون، څلورمې مادې ته دې، مراجعه وشی.
۲. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۵).

بله هغه مسئله یا هغه دود چې په دې قانون کې ځای لري د ناوې لپاره جوړه یا د واده جامې اخیستل او برابرول دي. د یاد قانون په اتمه ماده کې داسې راغلي چې: "د واده جامې له اسلامي شریعت سره سم د دواړو لورو په هوکړې (موافقې) او د زوم لخوا ناوې ته برابرېږي[2]". یعنې دلته یې هغه ټولې جامې چې د اسلامي شریعت سره سمې نه وي او هغه شرعي شرایط په کې نه وي، هغه یې منع کړې.

دلته قانون جوړونکو دغه دود په رسمیت پېژندلی او جواز یې ورکړی، خو شرط یې دا دی چې دغه جوړه د اسلامي شریعت سره برابره شي، چې د ښځې هغه واجبي حجاب په کې مراعات شوی وي او بل دا چې د داوړو لورو په موافقې برابره شوې وی. نرخ یی او شکل یی د دواړو په خوښه وي، یواځې د ناوې نظر په کې جبراً نه وي نیول شوی.

همدا راز، په یادو محفلونو کې د ښځو او سړیو ګډ او مختلط مجلس نیولو په اړه د واده د مراسمو قانون، د لسمې مادې په دویمې فقرې کې داسې راځي: "په هوټلونو، سالونونو او رستورانټونو کې د ښځو او نارینه وو تر منځ په مختلط ډول د واده د محفلونو جوړول جواز نه لري[3]"

دی سره ویلی شو، په افغانستان کې قانون جوړونکو ډېر کوښښ کړی دی، تر څو د موجوده رواجونو او عنعناتو لپاره مشخص قانوني احکام و ټاکي، چې د ځینو رواجونو او دودونو تائید به په کې شوی وي او د ځینو نورو به مخه نیول شوی وی، خو دا چې واده یو بهیر دی او دغه بهیر د ډول ډول متحولو او متغیرو ظروفو سره مخ کېږي او د هرې کورنی تجربه بلی کورنی له تجربې سره توپیرونه لري، نو واضح ده چې د ټولو رواجونو، د ټولو هغو دودونو او د ټولو بشري تجربو لپاره چې خورا وسیع میدان لري او د شمیر له لحاظه هم بې اندازې دي، په قانون کې د قانون د مادې په توګه بیانول ناشونی کاری دی.

په همدې اړه د قانون جوړونې په بهیر کې عمومي قاعده دا ده چې د متحولو ظروفو او متغییرو حالاتو لپاره قانوني اصل اینبودل نا ممکن کار دی. قانون د عمومي قواعدو او کلي ضوابطو نوم دی چې د مشخصو حالاتو او شرایطو لپاره وضع کېږی.

اوس ټول هغه رواجونه چې د واده د مراسمو د قانون هغه ۷ معیارونه چې د موخو او اهدافو تر عنوان لاندې بیان شوي له هغو سره په ټکر کې وي، هغه ټول منع دي او منفی دود بلل کېږی.

د یاد قانون اهداف په لاندی ډول دي: "د دغه قانون موخې عبارت دي له:

- د اسلام د سپیڅلي دین د حکمونو د مغایرو رسمونو او عنعنو له منځه وړل،
- د اصیلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او غوره سنتونو ته درناوی،
- د زیاتو لګښتونو مخنیوی او د محفلونو په ترسره کولو کې د آسانیتاوو برابرول،
- له انحرافاتو څخه مخنیوی،
- د ټولو لپاره د سالمی کورنی د جوړولو د زمینی برابرول،

---

۱. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۱۰) فقره (۱).
۲. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۸).
۳. د واده د مراسمو قانون، کال ۱۳۹۶، ماده (۱۰) فقره (۳).

- د کورنۍ د شیرازې ساتل او د کورني تاوتریخوالي مخنیوی،
- اسلامی ارزښتونو او اخلاقي ارزښتونو ساتنه،
- د زوج او زوجې او د دوی د کورني د ښو او پایدونکو اړیکو تأمینول[1]"،

نو دلته د واده د مراسمو د قانون دویمه ماده په حقیقت کې د اساسي قانون د ۵۴ مادې تشریح او عملي کړنلاره ده، په دغې مادې کې د یاد قانون موخې د داسې عمومي قواعدو په شکل بیان شوي چې د قانون په رڼا کې د مجاز او غیر مجاز دودونو د پیژندنې یو ډېر روښانه معیار او یو ډېر ښه ملاک ورته تعیین شوی.

د دغې مادې د حکم په بناء، ټول هغه دودونه د قانون خلاف دي او ترسره کول یې ستونزه لري، چې دغه پورته اووه شرطونه په کې موجود نه وي او د قانون په چوکاټ کې نه وي ترسره شوي.

## دریم مطلب: له واده وروسته د منفي دودونو شرعي او قانوني حیثیت:

## لومړی: له واده څخه وروسته د منفي دودونو شرعي حیثیت:

هر کله چې د کوزدې او واده په مرحله کې منفي او ناوړه دودونه ترسره شوي وي او د هغو دودونو ناوړه اغیزې په فرد، کورنۍ او ټولنه کې پاتې شوې وي، نو له واده وروسته هم ناوړه دودونه د مخکښنیو دودونو له وجه مخې ته راځي او کوم شرعي حیثیت چې د مخکښنیو مرحلو ؤ، هغه دا چې په شریعت کې د دې منفي دودونو کوم ځای نشته دی او باید په حکمت او ښې طریقې سره له منځه یوړل شي، نو همدارنګه له واده وروسته د ناوړه دودونو شرعي حیثیت هم د مخکې په څېر دی او باید له منځه یوړل شي.

۱- تخت جمعي:

تخت جمعي زموږ په هېواد کې چې په ځینو ساحو کې تر سره کیږي، یو ناوړه دود دی، په اسلامي فقه کې داسې څه نه دي لیدل شوي او نه هم د اسلام په صدر کې دې ته ورته کوم دود شتون درلود، دوهم دا چې بې ځایه مصرف هم ورباندې کیږي، ښځې راجمعه کوي او دریم دا چې ناوې ته هم په دې سره روحي اذیت رسول کیږي.

اروایوه فضل الرحمن فاضل په دې اړه وایي: د هلک او نجلۍ جنسي تقرب له روحي لحاظه باید احساس د امنیت وکړي، د دې قضایاوو د پلټنې اجازه باید هېچا ته ورنه کړل شي، کله خو داسې هم کیږي چې په لومړۍ شپه ناوې او زوم ډېر ستړي وي، د واده د مراسمو له وجې، نو د تخت جمعي له وجې باید په هغوی جبر ونه شي یعنې داسې نه شي چې هغوی جنسي مقاربت له دې وجې وکړي چې سبا تخت جمعي ترسره کیږي، نو په دې وجې باید دوی هم بسترې وکړي، سره له دې چې ډېر میل یې هم نه وي.[2].

---

۱. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۲).

[2] https://www.awna.af/۱۳۹۷/۱۱/۰۳/%D۹٪۸۵٪D۸٪AD%D۹٪۸۱٪D۹٪۸٤- (
%D۸٪AA%D۸٪AE%D۸٪AA-%D۸٪AC%D۹٪۸۵٪D۸٪B۹٪DB٪۸C%D۸٪۹B-%D۸٪B۹٪D۸٪B۱٪D۹٪۸۱-

۲- په هلک او نجلۍ باندې د هلک له اقاربو سره مشترک ژوند لازمي کول:

که یو طرف د دې دود ښه اړخونه هم شته چې د هلک سره په مجموع کې همکاري کول دي، د هغه اقتصادي بوج د نورو مشرانو لخوا په غاړه اخیستل کیږي، په مشترک ژوند کې له یو بل سره کمک کول دي، خو بل طرف ته ډیرې ناوړه اغیزې چې موږ لیدلي دي، هم لري او ویلی شو چې له فایدې یې نقصان زیات دی.

د ښځې له حقوقو چې په خاوند یې لري، د هغو له جملې یو مهم او مسلم حق یې دا دی چې خاوند به ورته مستقل کور ورکوي، د اوسېدو یو مناسب ځای به ورته برابره وي، دا د ښځې شرعي حق بلل کیږي، د کور په اړه یې لاندې شرایط باید رعایت شي:

1. د خاوند له اقتصادي حالت سره باید برابر وي، مستقل وي او که په شریک لوی کور کې اوسیږي، نو باید دې ښځې ته خپله کوټه معلومه کړي.
2. هغه ځای چې دوی ته ورکړل شوی، په هغه کې به نور څوک نه اوسیږي، نه د میړه خپلوان او نه دې ښځې خپلوان.
3. د کور لوازم، فرش، بستر، د پخولو، خوړولو او څښلو لوښي، غسل خانه به په کې موجود وي.
4. د صالحو ګاونډیانو تر منځ به وي، تر څو د ښځې نفس او مال په کې په امن وي. میړه نشي کولای خپله ښځه د نورو خپلوانو سره په یوه کوټه کې، یو ځای ژوند کولو ته مجبوره کړي.
5. میړه که حاضر وي او که غایب وي، د ښځې نفقه او مسکن پرې لازم دي.[1]

دکتور وهبة الزحیلي هم په اسلامي فقه کې د ښځو په حقوقو کې دا بیان کړی دی چې د ښځې لپاره داسې ځای واجب دی چې د هغې له شان سره مناسب وي، که هغه د هغې لپاره د کور پوره ملکیت وي او یا ورته په کرأیه نیول شوی وي، یا اعاره وي او یا هم وقف وي. څکه الله تعالی فرمایي: « أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ»[2]. «و عاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ»[3].

دا له ښځې سره د نیکیو له جملې څخه ده چې هغې ته کور ورکړل شي، تر څو په امن وي، داسې مستقل وي چې د خاوند د کورنۍ نور افراد ورسره نه وي، مګر که ښځه یې خپله اختیار کړي چې څوک له ځان سره واوسوي او کور د ښځو د هغو حقوقو په شان دی، لکه: نفقه، نو نفقه واجبه ده، همدارنګه کور ورکول ښځې ته هم واجب دي، نو څرنګه چې نفقه د ښځې لپاره مستقله وي، نو کور هم باید مستقل وي، څکه چې کور مستقل نه وي هغه ورباندې د ضرر باعث ګرځي.

---

%D٩٪٨٦٪D٨٪A٧٪D٩٪BE%D٨٪B٣٪D٩٪٨٦٪D٨٪AF-%D٨٪AF%D٨٪B١-
/%D٨٪AC%D٨٪A٧٪D٩٪٨٥٪D٨٪B٩٪D٩٪٨٧٪E٢٪٨٠٪٨C%DB٪٨C-%D٨٪A٧

[1]) پوهنمل شیرزاد عزیزي، د اسلام کورنی نظام، ص ۱۳۰

[2])د الطلاق سورت ۶۵ آیت

[3]) د النساء سورت ۴ آیت.

امام ابوحنیفه رحمه الله وایي که د سړي اقارب وي او هغه له سړي سره وي، نو سړی کولای شي چې ښځه له خپلو خپلوانو سره واوسوي، په دې شرط چې اقارب دې ښځې ته ضرر ونه رسوي، په خبرو سره یا په فعل سره[1].

خلاصه دا چې زموږ په افغاني ټولنه کې د ښځې ژوند کول، د خاوند له اقاربو سره لکه ورونه، کاکا، د تره زامن، خوراني او... ډېر مشکلات په کورني ژوند کې پیدا کوي، په پایله کې د ښځې ژوند له ډېرو مشکلات سره تېرېږي.

۳- د هلک او د هغه د کورنۍ لخوا د ښځې سره ناوړه تعامل:

متأسفانه زموږ په ټولنه کې دا ناوړه دود تر اوسه شتون لري چې له واده څخه مخکې کورنۍ خپل اخلاق، کردار، تعامل او خبرې داسې ښې او خوږې منعکسې کوي چې ته به وایې دا ده ښې رویې او ښه تعامل والا کورنۍ ده، خو چې کله د واده ورځې تېرې شي، د هلک په کورنۍ کې د مختلفو اشخاصو لخوا په نجلۍ ظلمونه شروع او د هغې ژوند ډېر تریخ شي.

الله تعالی فرمایي: «و عاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ»[2]. ژباړه: او له هغوی سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ.

په دې آیت کې نارینه ته امر شوی دی چې له خپلو ښځو سره ښه چلند او ښه ژوند وکړي، ښه تعامل د ښځې معنوي حق دی چې باید رعایت شي.

مېړه باید په خپله ښځه مهربان وي، د هغې عزت او احترام وکړي، نامناسب ځواب ورنه کړي، د ښځو حقوق په اسلامي شریعت کې داسې روښانه بیان شوي چې هېڅوک ورڅخه انکار نشي کولای:

۱. ښځه له نارینه سره په څو شیانو کې شرعاً یو شان ده، لکه انساني کرامت، په دې ښځه او نارینه یو شان دي، کوم کرامت چې سړی لري، هغه کرامت ښځه هم لري.
۲. د سړي او ښځې د کرامت تمیز په تقوا کې دی او بس.
۳. د ښځې شریک ژوند له سړي سره د کورنۍ په جوړولو کې، نو څرنګه چې سړی په ښځه باندې حق لري همداسې ښځه هم په سړي حقوق لري.[3]

۴- ښځې ته میراث نه ورکول:

د یو شخص هغه مال او جایداد ته چې د هغه له مرګ څخه وروسته په خپلوانو ویشل کېږي، میراث ویل کېږي،خو متأسفانه په عمومي ډول په ټول افغانستان کې خور او لور او په مجموع کې ښځینه طبقه له میراث څخه محرومه ده، نه خو د پلار په ژوند کې حق ورکول کېږي او نه هم د هغه له مرګ وروسته، بلکې میراث د نارینه وو تر منځ ویشل کېږي، سره له دې چې میراث د نارینه او ښځې یو مسلم او تعیین شوی حق دی، تر دې حده پورې ښځه ورڅخه محرومه شوې ده چې هغه یې غوښتنه هم نشي کولای او که چېرې د میراث د حق غوښتنه وکړي، نو هغه سپین سترګې بلل کېږي او حتی له هغې ښځې سره د پلار د اقاربو لخوا بالکل له دې امله قطع روابط کېږي چې میراث یې غوښتی دی.

---

[1] وهبه زحیلي، الفقه الاسلامي و ادلته ج ۱۰ ص ۷۳۹۰
[2] د النساء سورت ۱۹ آیت
[3] خالد عبدالرحمن العک، آداب الحیاة الزوجیة ص ۳۲۳

اسلامي شريعت د ميراث په اړه روښانه او واضح احکام د نارينه او ښځينه لپاره بيان کړي دي: «يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ»[1].

ژباړه: الله تعالی تاسي ته ستاسي د اولادونو په اړه حکم کوي چې په ميراث کې سړيو ته د ښځو دوه برابره برخه ورکړئ.

دې آيت د مړي د اقاربو د وراثت ذکر کړی دی او د هغوی د برخو تعيين يې ښودلی دی، ځکه په عربو کې له قديم دا دود ؤ چې د هغه دود له مخې له ميراث څخه ځيني اشخاص محروم وو او دا لوی ظلم تر ډېره وخته پورې ؤ[2].

او همدارنګه مفتي محمد شفيع صاحب تر پورته آيت لاندې ليکلي دي چې دا «يوصيکم» داسې کلي قاعده ده چې هلکان او نجونې دواړې د ميراث حقدار جوړ کړي دي او د هر يوه حصه يې هم تعيين کړې ده او دا اصول معلوم شول چې که د مړي په اولاد کې هلکان او نجونې دواړه وي، نو د هغو د تقسيم طريقه يې وښودله، بل په دې آيت کې د نجونو حصه يې داسې روښانه او واضحه ښودلي ده چې د نجونو حصه يې اصل مقرر کړی دی او د دې په اعتبار سره يې د هلکانو حصه ښودلي ده. داسې نه دي ويل شوي چې د نجونو لپاره د هلک نيمايي، بلکې د هلک لپاره د ښځو دوه چنده ميراث دی.

کوم خلک چې ښځو ته په ميراث کې حصه نه ورکوي دا يوه لويه ګناه ده او کله خو خويندې ميراث له دې وجې معاف کوي چې هسې هم موږ ته يې نه راکوي، نو ولې زړه بدوالی ورباندې وکړو، نو معاف يې کړي داسې معافي په شريعت کې معافي نه بلل کېږي او کله خو ښځينه نابالغه هم وي، د مال په ارزښت نه پوهېږي دا دوه چنده ګناه ده چې دوی ته ميراث نه ورکول کېږي[3].

شهيد سيد قطب رحمه الله تر همدې آيت لاندې وايي: يقيناً الله تعالی دی چې د حصو تعين کوي، لکه: د هر شي تعيين چې کوي، روزي تقسيموي، قوانين څرنګه رالېږي، د انسانانو ژوند په ورو چارو کې هم منظموي، لکه: ميراث، الله تعالی په انسانانو ډېر رحم کوونکی او نيکو کار دی، له دې چې پلار له خپل اولاد سره څه کوي، نو الله تعالی چې کومې حصې تعيين کړې دي، خلک نشي کولای په کې تصرف وکړي، په داسې توګه نشي توزيع کېدای چې ښځه يې نشي ګټلی، جنګ نشي کولای، دفاع نه شي کولای، په آس نشي سورېدلی چې دا ټول تعامل د ښځو سره د جاهليت په وخت کې ؤ.[4].

۵- درېيمه يا اوومه:

دا زموږ په ټولنه کې داسې يو ناوړه دود دی چې کله ناوې د خپل مېړه په کور کې اووه ورځې تېرې کړي له هغه وروسته د نجلۍ پلار، ورور او يا بل د کورنۍ يو شخص په نجلۍ پسې راځي او بيايي، زيات داسې وي چې په لومړي وخت کې د ناوې سره زوم هم د خسر کور ته ځي، خو د هلک د کورنۍ لخوا هغه ته ويل شوي چې خپله ښځه له دريو ورځو زيات د پلار په کور کې پرېنږدې، هماغه وي چې

---

[1]) د النساء سورت ۱۱ آيت

[2]) شبير احمد عثماني او مولانا محمود الحسن ديوبندي، کابلی تفسير ج ۱ ص ۴۳۵

[3])مفتي محمد شفيع رحمه الله، تفسير معارف القرآن ج ۲ ص ۲۸۷. سيد قطب رحمه الله، في ظلال القرآن تفسير ج ۱ ص ۵۹۰

[4]) سيد قطب رحمه الله، في ظلال القرآن تفسير ج ۱ ص ۵۹۰

بیا هلک ورپسې ورځي او نجلۍ بېرته په داسي شکل چي د نجلۍ کورنۍ غواړي چې یو څو شپې نورې هم وکړي خپل خپلوان د نجلۍ د لیدو لپاره راغلي وي، خو هلک مجبور وي چې باید خپله ښځه له ځان سره روانه کړي، چې د داسې تعامل په نتیجه کې د صله رحمۍ قطع راځي، سره له دې چې داسلامي شریعت اصول موږ د صله رحمۍ پاللو او ساتلو ته دعوت کوي:

عن عائشة، قَالَتْ : قَالَ رَسُول الله صلى الله عليه وسلم « الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالعَرْشِ تَقُولُ : مَنْ وَصَلَنِي، وَصَلَهُ اللهُ، وَمَنْ قَطَعَنِي، قَطَعَهُ اللهُ»[1].

ژباړه: له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: رحم تر عرش پورې نښتې وي وایي چا چې پاللی یم، یعني دوام یې په نیکۍ او احسان سره کړی وي، الله تعالی یې دې وصل کړي او چا چې قطعه کړی وم الله تعالی یې دې قطعه کړي.

له دې حدیث شریف څخه د خپلوانو سره د نیکۍ رویه، احسان، نیکي او له هغوی سره روابط پالل د شریعت غوښتنه ده او دا چې د ناوړه تعامل له وجې لور له پلار او مور، ورور او خور، خپلو خپلوانو څخه جدا شي دا یو ناوړه او ناروا عمل دی.

۶- د نجلۍ د بکارت په اړه تحقیق او پلټنه:

متأسفانه دا دود چې په مختلفو شکلونو باندې په افغاني ټولنه کې تر سره کېږي چې د نجلۍ بکارت په غیر مسلکي شکل چې هېڅ دلیل نشي کېدای، تر سره کېږي، چیرته چې د زړو ښځو په واسطه او چېرته هم د واده په شپه زوم ته سپینه تیکه یا ټوټه ورکوي چې وینه ورباندې ښکاره شي، په دې طریقو باندې بکارت معلوموي چې متأسفانه ډېرې ناوړه اغیزې پر دې ټولنه پرېښودی شي، طلاق، دښمني، بدګمان او عمري روابط قطعه کول، سره له دې چې بکارت، په نورو عادي عواملو هم له منځه تلای شي، لکه ډېر حیض، عام مرضونه، خیز یا ټوپ وهل.

اصلاً په نجونو کې بکارت اصل دی، نو کله چې د هغې سره نکاح وکړل شي او بغیر له دلیل داسې دلیل چې هغه اعتبار ولري وړاندې نشي هغه باکره بلل کېږي.

«الاصل بقاء ما كان على ما كان»[2].

ژباړه: اصل دا دی چې یو شی په کوم حالت کې وي، په هماغه حال باقي پاتې کېږي.

یعني کله چې یو شی په یو وخت کې په یو حالت ثابت وي، تر هغه چې هماغه ثابت پخواني حالت پر تغییر باندې کوم دلیل راغلی نه وي، هماغه ماضي حالت استمرار پیدا کوي او هماغه ته اعتبار ورکول کېږي.

د وینې نه راتلل په لومړي ځل جماع دا د عدم بکارت دلیل نشي کېدای، له ابتدا څخه بکارت اصل دی، تر څو قوي دلیل په عدم نه وي د عدم بکارت قول رد دی.

۷- د نجلۍ مهر پرته د هغې له اختیاره د نورو خلکو لخوا کمول:

---

[1]) مسلم بن الحجاج النیسابوري صحیح مسلم ج ۲ ص ۲۵۶

[2]) برکت الله تایب، فقهي قواعد ص ۱۰۶ - ۱۱۰

متأسفانه دا ناوړه دود هم زموږ په هېواد کې تر اوسه پورې شتون لري او بالخصوص په اطرافي ساحو کې ډېر زيات دی چې د نجلۍ لخوا کوم کس وکيل تعيين شي، نو بيا هغه سره په مجلس کې خلک چنه وهل شروع کړي چې د نجلۍ هېڅ رضايت په کې نه وي او نه ورځخه خبره وي، تر دې پورې چې د نجلۍ مهر هېڅ ته راورسوي، يعني پنځه زره او يا هم زيات نه زيات لس زره افغاني سره له دې چې په نور مباحاتو په لکونو روپۍ مصرفوي.

د مهر د مسئلي په اړه قرآن کريم کې الله تعالى په صراحت سره ويلي دي چې تاسې مهر هغوی ته ورکړئ، خو که چېرې هغوی تاسو ته د مهر څخه يوه برخه په خوشحالۍ درکړه، نو بيا يې خوړلی شئ.

« وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا» [1]

[2]ژباړه: ښځو ته د هغوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ که چېرې هغوی په خوشحالۍ سره تاسې ته له مهر څخه څه درکړل، نو هغه تاسې بې غمه وخورئ.

د دې مقصد دا دی چې په جبر او زور معافي حاصلول هېڅ ارزښت نه لري، افسوس چې د جاهليت د زماني دا خبرې په مسلمانانو کې اوس هم شته، له دې ټولو څخه ځان ساتل لازم دي او بيا بالخصوص په پښتون قوم کې تر ډېره حده نه ورکول کېږي او د يوې ښځې په مهر باندې څو نورې ښځې هم واده کوي او هغه مهر چې ددې ښځې لپاره تعيين شوی وي، د دې ښځې هېڅ حق نه ګڼل کېږي، بلکې دا يو مشترک مال دی چې اصلي مالکان د دې مال خسر او خواښې وي.

۸- زيات مهر غوښتل چې د جدايۍ سبب ګرځي:

متأسفانه دا ناوړه دود چې يو خو ښځې ته د هغې خپل شرعي حق نه ورکول کېږی او له بل طرف د نجلۍ د پلار کورنۍ دومره زياته اندازه مال غواړي چې کله ناکله هلک دې ته مجبور شي چې نجلۍ پرېږدي له دې وجې چې مصارف يې نشي پوره کولای، سره له دې چې اسلامي شريعت د مهر په آسانه ادا کولو باندې خپلو پيروانو ته ترغيب ورکوي، تر څو چې واده کول اسانه شي.

عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: ألا لا تغالوا صدقة النساء فإنها لو كانت مكرمة في الدنيا أو تقوى عند الله لكان أولاكم بها نبي الله صلى الله عليه وسلم ما علمت رسول الله صلى الله عليه وسلم نكح شيئا من نسائه ولا أنكح شيئا من بناته على أكثر من ثنتي عشرة أوقية[3]

ژباړه: عمر رضي الله عنه فرمايلي دي: خبردار د ښځو مهرونه کې زياتوالی مه کوئ، که چېرې دا د الله تعالى په نزد څه قدر او عزت وای او يا د تقوا خبره وای، نو پيغمبر عليه السلام به له تاسې څخه مخکې والی کړی وای،په داسې حال کې چې خپله يې د خپلو بيبيانو او لورګانو مهرونه له دولس اوقيو نه نه دي پورته کړي.

عن عايشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « أَعْظَمُ النِّسَاءِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُنَّ مَئُونَةً»

---

[1]) د النساء سورت ۴ آيت

[2]) مفتي محمد شفيع رحمه الله، معارف القرآن تفسير ج ۲ ص ۲۵۸.

[3])محمد بن عبدالله الخطيب التبريزي، تحقيق محمد ناصر الدين الالباني، مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۹۵۸، قال الالباني في التعليقات الرضية: حديث صحيح

ژباړه: تر ټولو غوره ښځه هغه ده چې د نکاح لګښتونه يې کم او اسانه وي.
د پورتنيو احاديثو څخه په ښکاره دا معلوميږي چې د واده لګښتونه بايد اسانه وي او دا چې دا مصارف دومره زيات شي او يا خو دا چې د نجلۍ د پلار او د هغې د کورنۍ لخوا ناوړه غوښتني دې اندازې ته ورسيږي چې هلک مجبور شي، ښځه پرېږدي بالکل ناروا عمل دی.
۹- د دود له وجې جبري غوښتني عملي کول، لکه لمسي ته سامان اخيستل، د سلامي پيسي اچول:
داسې دود چې د عار له وجې يا په چل او فريب يا هم د دې له وجې چې بيا تهمت د نجلۍ وربانديې لګيږي که وس يې وي او يا نه وي مجبوراً بايد په داسې دودونو باندې دوی عمل وکړي او دا مصارف په غاړه واخلي، سره له دې چې اسلامي شريعت د بل مسلمان مال خوړل جايز نه دي ګرځولي، مګر د هغه د زړه په خوښۍ سره او کله چې هغه يې د زړه په رضايت مصرف نه کړي، بلکې مجبوراً بايد دا دود ترسره کړي ناوړه عمل دی او بايد له منځه يوړل شي.
الله تعالى فرمايي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ»[1]. ژباړه: ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی په خپلو منځنو کې يو د بل مالونه په ناروا سره مه خورئ.
تر پورتني آيت لاندې مولانا مودودي رحمه الله وايي: باطله او ناوړه طريقه هغه ده چې د حق په خلاف وي او د شريعت له نظره نامشروع وي، اګر چې په ظاهره رضايت وي، اما دا رضايت د مجبوريت او يا فشار له وجې وي، دغه ډول مال خوړل هم ناروا دي.[2]
تر همدې آيت لاندې مفتي محمد شفيع رحمه الله وايي: دلته د «لاتأكلوا» لفظ راغلی چې مه خورئ، د عامې محاورې په اعتبار د دې معنا دا ده چې د نورو په مال کې په ناحقه شکل هيڅ تصرف مه کوئ، که هغه د خوراک شی وي او يا د استعمال شی وي.

## دوهم: له واده څخه وروسته د منفي دودونو قانوني حيثيت:

د واده په بهير کې آخرنۍ مرحله مهمه مرحله ده. نورو مرحلو ته ورته په دغې مرحلې کې هم ډېر دودونه او رواجونه موجود دي چې د ټولنې په مختلفو برخو کې عملي کيږي. دغه دودونه او رسمونه هم، لکه: د تېرو دوه مرحلو د دودونو په شان په مثبت او منفي دودونو تقسيميږي.

دغه دودونه او رواجونه چې له واده وروسته، د نجلۍ د باکره والي په اړه تحقيق، نجلۍ ته مهر نه ورکول، تخت جمعي، په زوم او ناوې د مشترک ژوند لازمي کول، له نجلۍ سره د هلک د کورنۍ د اقاربو لخوا ښه رويه نه کول، د حمام ټول وسايل د ناوې په مور په جبري توګه اخيستل، له ناوې سره د هغې د پلار او يا ورور له امله ناوړه رويه، د نکاح ځنډول، د نکاح د مراسمو په وخت مسخرې کول، لس يا پنځه لس زره افغانۍ مهر تعيينول، په يوه نوم او بل نوم مهر کمول، د توشک لاندې پيسي ايښودل، د دوستۍ اړيکې نه ساتل، زيات مهر او ولور کله ناکله د تفريق او جدايي سبب ګرځي، د دربيمې مراسم، کاسه، لورې تا ته وايم نګورې ته يې واوره، ميراث نه ورکول، ناوې د پلار کور ته له تګ څخه منع کول او داسې نور په ټوله کې د قانون له مخې منفي دودونه بلل کيږي.

---

[1]) د النساء سورت ۲۹ آيت.
[2])مولانا مودودي رحمه الله، تفهيم القرآن تفسير ج ۱ ص ۳۴۶

ځيني هغه دودونه او رواجونه دي چې قانون او په ټوله کې قانون جوړونکو ورته درناوی کړی او د قانون په موادو کې یې د هغو د تائید لپاره حکمونه وضع کړي دي چې په تېر فصل کې په تفصیل سره بیان شول، خو ځیني بیا هغه دودونه او رواجونه دي چې قانون جوړونکو په مختلفو دلایلو ناسم بللي او د هغوی د منعې حکم یې کړی، یا د هغو د مخنیوي او بالکل له ټولنې څخه د لرې کولو او د له منځه وړلو حکم یې صادر کړی.

د هغو ناسمو دودون او رواجونه چې هم د اساسي قانون د ۵۴ مادې د حکم پر بنیاد د اسلام سپیڅلي دین له احکامو سره مغایر دي، داسې ډېر دودونه او رواجونه شته چې د تاریخ په اوږدو کې په افغاني ټولنه کې د واده د بهیر په دغه آخرنۍ مرحله یا د واده په وروستۍ مرحله کې عملي کېږي. او سره له دې چې د اساسي قانون له ۵۴ مادې یا په ټوله کې د شریعت له احکامو سره په ټکر کې نه دي، خو یا د ذاتي قبح له وجهې او یا د هغه تاوان او ضرر له وجهې چې دغه بد رواجونه او ناسم دودونه یې دغه پاک او سپیڅلی عقد ته اړوي، د قانون جوړونکو له خوا، د قوانینو په موادو کې په صراحت سره یا په ضمني توګه د عمومي قواعدو په چوکاټ کې منع شوي.

هغه ځکه چې دا ټول هغه اقدامات دي چې د دواړو کورونو تر منځ اړیکې خرابوي، مشکلات ایجادوي او د مینې او ورورولۍ په فضا کې خنډونه راولاړوی، د کینې او کدورت سبب ګرځي او کورنۍ سره جلا کوي.

که د اساسي قانون ۵۴ مادې ته ځیر شو، نو دا چې دغه رواجونه او دودونه د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره مغایر نه دي او د شرعي اخلاقي اصولو سره په تعارض او ټکر کې واقع کېږی، نو د همدې اساسي قانون له مخې دا رواجونه منع شوي او دولت د هغو د له منځه وړولو مسؤولیت لري.

او دا چې دغه یاد دودونه د ښځې د جسمي او روحي روغتیا او د کورنۍ خوشحالي له منځه وړي، نو د همدې مادې له مخې دا دودونه ممنوع او د قانون خلاف عمل بلل کېږی.

مدني قانون او همدارنګه د واده د مراسمو قانون ته که وګورو، د واده د وروستۍ مرحلې او هغه رواجونه چې په دغې مرحلې کې تر سره کېږی، توجه نه ده کړې او نه یې د هغو په اړه کوم حکم وضع کړی.

که چېری د یادو قوانینو اهدافو ته وکتل شي، ټول هغه څه په کې بیان شوي چې د واده بهیر بې له کومې ستونزې او بې له دې چې د شریعت خلاف کوم عمل په کې ترسره نه شی.

نو له دې سره ویلی شو چې د واده په وروستۍ مرحلی کې چې کوم دودونه ذکر شوي دي، دا ټول هغو متغیرو او متحولو حالاتو او شرایطو ته ورته دي چې د قانون د کوم ځانګړي حکم وضع ورته نه ایجابیږی.

که چېرې د واده د مراسمو قانون اهدافو ته و کتل شي، لاندې درې موخې هغه څه دي چې د واده په وروستۍ مرحله کې چې دغه دودونو ترسره کېږی، د هغوی لپاره عمومي اصول دي:

- " د اسلام د سپیڅلی دین د حکمونو د مغایرو رسمونو او عنعنو له منځه وړل،

- د اصیلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او غوره سنتونو ته درناوی،
- د زیاتو لګښتونو مخنیوی او د محفلونو په ترسره کولو کې د آسانیتاوو برابرول،
- له انحرافاتو څخه مخنیوی،
- د ټولو لپاره د سالمې کورنۍ د جوړولو د زمینې برابرول،
- د کورنۍ د شیرازې ساتل او د کورنۍ د تاوتریخوالی مخنیوی،
- د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو ساتنه.
- د زوج او زوجې او د دوی د کورنۍ د ښو او پایدونکو اړیکو تأمینول[1]"،

نو د واده د مراسمو د قانون د دویمې مادې پورتنیو اهدافو ته په کتو، هغه څه چې د واده وروستۍ مرحلې د دودونو په اړه وویل شو، هغه یا خو اصیل فرهنګي ارزښتونه نه دي او د غوره سنتونو مخالف عمل دی، یا هم د کورنۍ د ښیرازې د له منځه وړولو او د تاوتریخوالي سبب ګرځي او یا هم د زوج او زوجې د کورنیو تر منځ د اړیکو د پایښت سره په ټکر کې واقع کیږي او دغې مقدسې اړیکې ته ډیر تاوان او زیان رسوی.

نو بناءً، دغه ناسم دودونه او منفی رواجونه د اساسي قانون د ۵۴ مادې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي د قانون د دویمې مادې، دویمې فقرې او د واده د مراسمو د قانون د دریمې مادې د اووه واړو فقرو سره متعارضې او متضادې کړنې دي.

نو څکه خلاف د قانون او منفي دودونه دي، چې یواځې، نه ترسره کول یې مطلوب نه دي، بلکې د هغوی د مخنیوي لپاره او د ترویج د مخې د ډپ کولو په پار، د دغو ټولو ناروا کړنو، ناسمو دودونو، فاسدو رواجونو او بدو رسمونو له منځه وړل هم یو مطلوب کار دی.

---

۱. د واده د مراسمو قانون، ۱۳۹۶، ماده (۲).

# خاتمه او پایله

لکه څرنګه چې پلان شوې وه په دې لیکنه کې په افغاني ټولنه کې پر کورني ژوندانه کې له واده وړاندې د واده پر وخت او له واده څخه وروسته هغه دودونه چې له ډېر پخوا دود دي، د مرکو، پوښتن پاڼو او خپلو سترګو لیدلي حال په واسطه راټول کړی شي چې الحمدلله د مختلفو سفرونو په جریان کې د هېواد د مختلفو قومونو دودونه راټول کړل شول.

په دې کوښښ سره زما اصلي هدف پر افغاني ټولنه کې پر ودونو د دودونو اغیزې وي چې ددې کوښښ په پایله او نتیجه دې ته ورسېده چې پر افغاني ټولنه کې د واده په مختلفو مرحلو کې مختلف دودونه شتون لري چې په دې دودونو کې د واده په ټولو مرحلو کې داسې دودونه شتون لري چې مثبت او ښه دودونه دي، چې د دې دودونو ښې اغیزې په دې ټولنه کې ودونه آسانه کړي او کورنۍ ژوند ورسره په ښه شکل پر مخ تللی دی او د دواړو کورنیو روابطو، تعامل او ژوند ورسره وده کړې ده. او د داسې مثبتو او ښو دودونو په اړه اسلامي شریعت هم د هغو د ټینګښت، قوت او حفاظت سپارښتنه کوي او همدارنګه د افغانستان مدني قانون هم د داسې دودونو د پرځای کولو لپاره مواد لري، ځکه اسلامي شریعت او مدني قانون د ټولنې ښېرازي، مصالح او ښه ژوند غواړي.

خو متاسفانه په دې تلاش او کوښښ کې دا پایله او نتیجه په لاس راغله چې زمونږ په دې ټولنه کې یو زیات شمیر ناوړه دودونه په ودونو کې شتون لري چې له یوه اړخه هغه اسلامي شریعت ردوي او همدارنګه مدني قانون هم د داسې ناوړه دودونو د پرېښودلو امر کوي او سرغړونکو ته یې سزا هم تعیین کړې ده او له بله اړخه د واده، کورنۍ او افرادو مصالح هم دا غوښتنه کوي چې له داسې ناوړه دودونو څخه خپله ټولنه خلاصه کړو.

او په بل اړخ کې دا نتیجه او پایله هم په لاس راغله چې په فرد، کورنۍ، او ټولنه باندې د دې ناوړه دودونو اغېزې ډېرې ناوړه دي، افراد مجبور شوي دي چې خپل کور، وطن او خپله خاوره پرېږدي تر څو د هغو ناوړه دودونو پوره کولو لپاره مال پیدا کړي او همدارنګه د دې وړې کورنۍ ژوند یې له مشکلاتو سره مخامخ کړی دی او همدارنګه یې د دواړو کورنیو روابط، تعامل او ژوند په ځینو وختونو له سختو مشکلاتو او ستونزو سره مخامخ کړی دی.

او د دې لیکلې په پای کې دا نتیجه په لاس راغله چې په هر قوم او ځای کې چې کوم دودو شتون لري که هغه ښه وي او که بد وي، د ځایي خلکو پکې ونډه شته چې ښه دودو ته خلک تشویق شوي او له ناوړه دود څخه د خلکو د خلاصو لپاره هم تبلیغات شوي دي خو بل طرف چې په کوم ځای کې ناوړه دودونه شتون لري په هغو کې هم ځایي خلکو ته مسئولیت راجع کېږي.

**وړاندیزونه:**

۱) عامو خلکو ته: زما دا لیکنه ولولي هر څومره چې ورڅخه مستفید شول په دعاوو کې مې یاد وساتې او که کومه خطا او غلطي راڅخه شوي وي هغه دې را په ګوته کړي.

۲) علماؤ ته: زمونږ د ټولنې د فلاح لپاره د ولس دیني پوهاوی زیات کړي تر څو د کورنیو په جوړښت او د کورني ژوند مشکلات له منځه لاړ شي.

۳) قومي مشرانو ته: تاسو په خپله ساحه کې مه رول او مسئولیت لرئ د ناوړه دودونو په له منځه وړلو کې قدم پورته کړئ او ښو دودونو ته خلک تشویق کړئ.

٤) دا چې دا موضوع ډېره لویه او پراخه ده که چېرې د پوهنتون اداره نور محصلین په دې وګماري چې په دې موضوع کې د قانون له اړخه تفصیلي لیکنه وشي او یا هم د دې موضوع په یوه برخه لکه: د کوژدې د مرحلې دودونه، د واده د مرحلې دودونه او له واده وروسته دودونو په اړه مستقله لیکنه وشي.

٥) دا چې موضوع ډېره لویه ده که چېر د پوهنتون نور محصلین په دې وګمارل شي چې د دې موضوع قانوني اړخ په تفصیل سره بیان کړي.

٦) که یوازې د کوژدې د مرحلې په منفي او مثبتو دودونو باندې یو ځانګړې لیکنه وشي، همدارنګه د واده د مرحلې په مثبتو او منفي دودونو ځانګړې او له واده څخه وروسته په منفي او مثبتو دودونو ځانګړي لیکنه وشي نو موضوع به ښه روښانه شي.

۷) همدارنګه کېدای شي چې د یوه سمت او زون په مختلفو دودونو ځانګړی بحث وشي او یا د یوه قوم په مختلفو دودونو ځانګړی بحث شوي، نو د موضوع ټولې برخې به روښانه شي.

## د ځينو اعلامو معرفي او پېژندنه

١) عبدالكريم زيدان: دكتور عبدالكريم زيدان په ١٩٢١م كال په بغداد كې زیږیدلی دی او په ٢٠١۴م كال كې د ٩٢ كلو په عمر په يمن كې وفات شوی دی او مړی يې عراق ته نقل شوی دی، نوموړی د عراق د اوقافو وزير هم پاتې شوی دی او همدارنګه په عراق كې د اخوان المسلمين عام مراقب مسئوليت يې هم پر مخ بيولی دی، دېرش تاليفات يې په مختلفو مسائلو كې ليكلي دي، په فقهي، قانوني، دعوتي، عقايدو، اصول فقه كې يې مشهور كتابونه ليكلي او چاپ كړي دي.

٢) محمد علي صابوني: محمد علي صابوني په ١٩٣٠م كال د سوريې په حلب ښار كې زیږیدلی دی او په ٢٠٢١م كال په تركيه كې وفات شوی دی، شيخ محمد على صابوني رحمه الله يو له هغو لويو اهل سنت معاصرو علماؤ څخه ؤ چې زيات خدمات او تاليفات يې درلودل چې مشهور يې: روايع البيان في تفسير آيات الاحكام، صفوة التفاسير، فقه العبادات في ضوء الكتاب و السنة، فقه المعاملات، النبوة و الانبياء، حركت الارض و دورانها حقيقة كتابونه دي.

٣) محمد شفيع: مفتي محمد شفيع ديوبندي رحمه الله په ١٨٩۶م كال كې زیږیدلی دی او په ١٩٧۶م كال په كراچۍ كې د ٧٩ كلو په عم وفات شوی دی، په عملي ډګر كې يې زيات خدمات ترسره كړي دي چې مشهور تاليفات يې: د معارف القرآن تفسير، جواهر الفقه، ختم نبوت، سيرة خاتم النبين، آلات جديده، احكام علوم القرآن كتابونه دي

٤) ملا علي قاري: ملا علي قاري رحمه الله د ولادت دقيقه نېټه معلومه نه ده خو په ١٠١۴هـ ق كال په مكه مكرمه كې وفات شوی دی، اصلا د افغانستان د هرات ولايت اوسيدونكی ؤ، د اهل سنت او جماعت د حنفي مسائلو فقيه ؤ، ډېر علمي خدمات يې ترسره كړي دي، مشهور تاليفات يې: انوارالقرآن و اسرار الفرقان تفسير، ضوء المعالي شرح بدء الامالی، شرح فقه الاكبر، مرقات المصابيح شرح مشكواة المصابيح او الرد علي القائلين بوحدة الوجود كتابونه دي.

٥) وهبة الزحيلي: وهبة الزحيلي رحمه الله په ١٩٣٢م كال په دمشق كې زیږیدلی دی او په ٢٠١۵م كال كې په دمشق كې د ٨٣ كلو په عمر وفات شوی دی، دكتور وهبة الزحيلي رحمه الله د اهل سنت او جماعت له لويو معاصرو علماؤ څخه شمېرل كېږي، شافعي مسلک ؤ، په علمي ډګر كې يې زيات خدمات ترسره كړي دي.

مشهور كتابونه يې: تفسير منير، تفسير الوسيط، الفقه الاسلامي و ادلته، وسطية الاسلام و سماحته، اصول الفقه الاسلامي، آثار الحرب في الفقه الاسلامي، مقارنة بين المذاهب الثمانير و القانون الدولی، تخريج و تحقيق احاديث، تحفة الفقها، او داسي نور تاليفات هم لري.

٦) سيد ابوالاعلى المودودي: سيد ابوالاعلى مودودي رحمه الله په ١٩٠٣م كال د حيدراباد په اورنګ اباد كې زیږیدلی دی، په هغه وخت كې هند د برتانيي مستعمره ؤ او په ١٩٧٩م كال د نيويارک په ښار كې وفات شوی او په لاهور كې له خپل كور سره نږدې دفن شوی دی، او مكه مكرمه كې ورباندې غايبانه جنازه شوې ده. مولانا مودودي رحمه الله هغه وخت چې د هند نيمه وچه د برتانيي مستعمره

وه د اسلام لپاره يې ډېر خدمات ترسره کړي دي، په سياسي ډګر کې يې د جماعت اسلامي په نامه د يوه لوی جماعت تاسيس وکړ، چې په فکري لحاظ سره يې فکر له امام حسن البناء سره ورته والی لري.

په علمي ميدان کې يې ډېر خدمات کړي دي چې مشهور کتابونه يې: خلامت او ملکويت، جاهلية قرن العشرين، تکوين نظام، الجهاد فی الاسلام، اسلامي اقتصاد کتابونه دي. چې تاليفات يې له ۶۰ کتابونو څخه زيات دي.

څو ځله په پاکستان کې بندی شوی او په اعدام محکوم شوی دی، د قاديانيانو د فکر قوي مقابله يې کړې ده.

۷) شبير احمد عثماني: شبير احمد عثماني رحمه الله په ۱۸۸۷م کال کې زيږيدلی دی او په ۱۹۴۹م کال د ۶۳کلو په عمر په بهاولپور کې وفات شوی دی، د اسلام د ترقۍ او پرمختګ لپاره يې په مختلفو مجالونو کې کار کړی دی، علمي خدمات يې هم زيات دی چې مشهور کتابونه يې: تفسير عثمانی چې د دې کتاب طبع او تزيع د سعودي ملک فهد کړې ده او همدارنګه په پښتو او دري ژبو هم ژباړل شوی دی.

نوموړی د ديوبند دارالعلوم له موسسينو څخه دی او کله چې د ديوبند له دارالعلوم څخه فارغ شو نو د زيات زکاوت له امله هلته د استاذ په توګه وګمارل شو.

# د آیتونو لړلیک

| آیت | سورت | شمېره |
|---|---|---|
| «وَعلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ» | البقره | ۲۳۳ |
| «وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاثَةَ قُرُوءٍ» | البقره | ۲۲۸ |
| «وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ» | البقره | ۲۲۸ |
| «يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ» | البقره | ۱۸۵ |
| «وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ» | آل عمران | ۱۵۹ |
| «وَاتَّقُوا اللّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا» | النساء | ۱ |
| «وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا» | النساء | ۴ |
| «وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ» | النساء | ۱۹ |
| «الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ» | النساء | ۲۴ |
| « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ» | النساء | ۲۹ |
| «وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُواْ عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا» | النساء | ۳۴ - ۳۵ |
| «وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى» | المائده | ۳ |
| «خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ» | الاعراف | ۱۹۹ |
| «وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ» | الحجر | ۵۱ |
| «إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ» | النحل | ۹۰ |
| «إِنَّما حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَ الدَّمَ وَ لَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَ ما أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ» | الاسراء | ۲۷ |
| «إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ» | الاسراء | ۲۷ |
| «وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا» | طه | ۱۳۲ |
| « وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ» | الحج | ۷۸ |
| «وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى» | الاحزاب | ۳۳ |
| « وَالَّذِينَ استَجابوا لِرَبِّهِم وَأَقامُوا الصَّلاةَ وَأَمرُهُم شورىٰ بَينَهُم وَمِمّا رَزَقناهُم يُنفِقونَ» | الشوری | ۳۸ |
| «هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ» | الذاریات | ۲۴ |
| «وَ أُولاتُ الْأَحْمالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ» | الطلاق | ۴ |
| «أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ» | الطلاق | ۶ |
| «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا» | التحریم | ۶ |

# د احاديثو لړليک

| صفحه | حديث شريف |
|---|---|
| ١٦ | «إِنَّ مِن أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يومَ القِيَامَةِ، الرَّجُلَ يُفْضِي إلى امْرَأَتِهِ، وَتُفْضِي إِلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا.» صحيح مسلم، د حديث شميره: ١٤٣٧ |
| ١٧ | «إِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا» صحيح البخارى، د حديث شميره: ٦١٣٤، |
| ١١ | «إذا دعا الرجُلُ امرأتَه إلى فِراشِه، فلم تأتِه، فبات غضبانَ عليها؛ لَعَنَتْها الملائكةُ حتى تُصبِحَ» الامام الحافظ محمد اسماعيل البخارى، صحيح البخارى، كتاب بدء الخلق. حديث ٣٢٣٧ |
| ٦٥ | «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا» صحيح البخاري كتاب النكاح، باب اجابة الوصية |
| ٦٥ | «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ، فَلْيُجِبْ» صحيح مسلم ج ١ ص ١٠١٦ |
| ٦٩ | «اعظم النساء بركة ايسرهن مؤنة» مسند امام احمد بن حنبل د حديث شميره ٢٥١١٩ |
| ١٥ | «أكْملُ المؤمنينَ إيمانًا أحسنُهُم خلقًا، وخيارُكُم خيارُكُم لنسائِهِم» ابو داؤود، د حديث شميره: ٤٦٨٢ |
| ١٦ | «ألا واستوصوا بالنساء خيرًا، فإنما هن عوانٌ عندكم» سنن ترمذى، د حديث شميره: ١١٦٣، |
| ١٥ | «الدُّنيا متاعٌ وخيرُ متاعِها المرأةُ الصَّالحةِ» مسلم، د حديث شميره: ١٤٦٧، |
| ٧٧ | «الرحم معلقة بالعرش، تقول من وصلني وصله الله و من قطعني قطعه الله» الحافظ مسلم بن الحجاج النيسابوري صحيح مسلم ص ١٢٥٦. |
| ٦٧ | «المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ القِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ» صحيح البخاري |
| ٦٧ | «المؤمن لِلْمؤمن كالبُنْيان يَشُدُّ بَعْضُه بَعْضا» صحيح مسلم، ج ١ ص ١٢٦٠ |
| ١٥ | «أنَّ رسولَ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليْهِ وسلَّمَ رأى عبدَالرَّحمنِ بنَ عوفٍ وعليْهِ ردعُ زعفرانٍ فقالَ النَّبيُّ صلَّى اللَّهُ عليْهِ وسلَّمَ مَهيم فقالَ يا رسولَ اللَّهِ تزوَّجتُ امرأةً قالَ ما أصدقتَها قالَ وَزنَ نواةٍ من ذَهبٍ قالَ أولِم ولو بشاةٍ» ابوداؤود، د حديث شميره: ٢١٠٩ (دا حديث امام الباني رحمه الله صحيح بللى) |
| ١٣ | «أَنَّ رَسولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ كانَ يَسْأَلُ في مَرَضِهِ الذي ماتَ فِيهِ: أَيْنَ أنا غَدًا؟ أَيْنَ أنا غَدًا؟ يُرِيدُ يَومَ عائِشَةَ، فأذِنَ له أزْواجُهُ يَكونُ حَيْثُ شاءَ، فَكانَ في بَيْتِ عائِشَةَ حتَّى ماتَ عِنْدَها.» صحيح البخاري، د حديث شميره: ٥٢١٧. |
| ١٨ | «أن لا ضررَ ولا ضِرار» صحيح ابن ماجه، د حديث شميره: ١٩٠٩، |
| ١١٤ | «إذا خطب أحدكم المرأة فإن استطاع أن ينظر إلى ما يدعوه إلى نكاحها فليفعل» سنن ابي داود ج ١ ص ١٥٠٣ |
| ١٢٣ | «إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ، وَفَسَادٌ عَرِيضٌ» سنن الترمذي ج١ ص ١٨٨٤ |
| ١٣٣ | «الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالعَرْشِ تَقُولُ : مَنْ وَصَلَنِي ، وَصَلَهُ اللهُ ، وَمَنْ قَطَعَنِي ، قَطَعَهُ اللهُ» صحيح مسلم ج ٢ ص ٢٥٦ |
| ١١١ | «تَخَيَّرُوا لِنُطَفِكُمْ، فَانْكِحُوا الْأَكْفَاءَ، وَأَنْكِحُوا إِلَيْهِمْ ))سنن ابن ماجة، كتاب النكاح، باب الاكفاء |

| | |
|---|---|
| «تَصَافَحُوا يَذْهَبْ الْغِلُّ، وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا، وَتَذْهَبْ الشَّحْنَاءُ» الموطا للامام مالک، ج ۲، ص ۴۵۹ | ۷٦ |
| «تُنكَح المرأة لأربع: لمالها، ولحسَبِها، ولجمالها، ولدِينها، فاظفَرْ بذات الدين تربتْ يداك» صحيح البخاري ج ۱ كتاب النكاح ص ۵۱۹. | ۱۱۰ |
| «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللهِ : قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَسَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ » مشكوة المصابيح | ۵۵ |
| عن ابي هريرة رضي الله عنه « كنتُ عندَ النَّبيِّ فأتاه رجلٌ فأخبره أنَّه تزوَّجَ امرأةً من الأنصارِ فقال رسولُ اللهِ أنظَرتَ إليها ؟ قال : لا قال : فاذهَبْ فانظُر إليها فإنَّ في أعيُنِ الأنصارِ شيئًا » امام احمى بن شعيب نسايي سنن نسايي ج ۲ ص ۲۴۸٦ | ۵۵ |
| عن عايشة رضي الله عنها قالت: جاءت هندٌ إلى النَّبيِّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم، فقالت: يا رسولَ اللَّهِ إنَّ أبا سفيانَ رجلٌ شحيحٌ، لا يعطيني ما يَكفيني وولَدي، إلَّا ما أخذتُ من مالِهِ، وَهوَ لا يعلَمُ، فقال: «خُذي ما يَكفيكِ وولَدَكِ بالمعروفِ» الامام الحافظ محمد بن اسماعيل البخارى، صحيح البخاري، كتاب النفقات، باب و على الوارث مثل ذلک | ۱۲ |
| عن ابي هريرة رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم كان اذا رفا الانسان قال: «بارک لکم و بارک علیکم و جمع بینکما فی خیر» سنن ابن ماجة ج ۲ ص ۲۸ | ۷۷ |
| «قيل لرسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ أيُّ النساءِ خيرٌ ؟ قال : التي تسرُّه إذا نظر، وتطيعُه إذا أمر، ولا تخالفُه في نفسِها ومالها بما يكره.» د صحيح النسايی په روايت، د حديث شميره: ۳۲۳۱. | ۱۲ |
| «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إنْ كَرِهَ منها خُلُقًا رَضِيَ منها آخَرَ، أَوْ قالَ: غَيْرَهُ.» صحيح مسلم، د حديث شميره: ۱٤٦۹، | |
| «لا شغار في الاسلام» صحيح مسلم ج ۱ ص ۱۰۱۳ | ۱۱۲ |
| «لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَكَيْفَ إِذْنُهَا؟ قَالَ: أَنْ تَسْكُتَ» صحيح مسلم، ج ۱ ص ۱۰۱۲ | ۱۱۰ |
| «لو كنت آمرا أحدا أن يسجد لأحد لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها» سنن الترمذی، د حديث شمبره ۱۱۵۹ | ۱۰ |
| «ما غِرْتُ على أحَدٍ من أزْوَاجِ النبيِّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ ما غِرْتُ على خديجةَ وما بي أنْ أكُونَ أدْرَكْتُها وما ذلكَ إلَّا لِكَثْرَةِ ذكرِ رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ لها وإنْ كان لَيذبحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ بِها صدايقَ خديجةَ فَيُهْدِيها لهُنَّ.» صحيح مسلم، د حديث شميره: ۲٤۳۵، | ۱٦ |
| «من كان يؤمن بالله و اليوم الاخر فليكرم ضيفه» صحيح البخاري، كتاب الادب، باب اكرام الضيف ص ٦۰۷ | ۷۵ |
| «من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد» صحيح البخاري ج ۱ ص ۲۷۳ | ۱۲۵ |
| «مَنْ كانتْ له امرأتان فمال إلى إحداهما جاء يومَ القيامةِ وشِقُّه مائلٌ» ابوداؤود، د حديث شميره: ۲۱۳۳، | ۱۷ |
| «مَن نَفَّسَ عن مؤمنٍ كُرْبَةً من كُرَبِ الدُّنيا نَفَّسَ اللهُ عنه كُرْبَةً من كُرَبِ يوم القِيامَة، ومن يَسَّرَ على مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عليه في الدُّنيا والآخرة، ومن سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ في الدُّنيا والآخرةِ، واللهُ في عَوْنِ العَبْدِ ما كانَ العبدُ في عَوْنِ أخِيهِ» صحيح مسلم | ۷٦ |
| «والمَرْأةُ في بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وهي مَسْؤُولَةٌ عن رَعِيَّتِهَا» صحيح البخاري، د حديث شميره: ۲٤۰۹ | ۱۱ |

# مراجع


قرآن کریم

۱) تفسیر المبین، تالیف: دکتور عبدالرحمن بن نفیسه، ناشر: مکتبه الملک فهد
۲) تفسیر احکام القرآن القرطبي تالیف: علامه ابو عبدالرحمن محمد بن احمد الانصاری القرطبی، ناشر: مکتبه احیاء التراث العربی بیروت
۳) تفهیم القران، تالیف، سید ابوالاعلی مودودی، ناشر: مکتبه ترجمان القرآن
٤) معارف القرآن تفسیر، تالیف: مولانا مفتي محمد شفیع، ناشر: تاج کتب خانه پېښور.
٥) الجامع لاحكام القرآن، تالیف ابی عبدالله محمد بن احمد الانصاري القرطبي
٦) في ظلال القرآن، تالیف: شهید سیدقطب، ناشر: دارالشروق
۷) تفسیر روح المعاني، تالیف: علامه ابی الفضل شهاب الدین السید محمود الالوسی، ناشر: دارالفکر
۸) کابلی تفسیر، تالیف: مولانا شبیر احمد عثمانی او مولانا محمود الحسن دیوبندی، ناشر: طبع ملک الفهد بن عبدالعزیز السعود
۹) صفوة التفاسیر، تالیف: محمد علي الصابوني، ناشر: دارالصابوني للطباعة و النشر و التوزیع، قاهره
۱۰) تفسیر القرآن العظیم، تالیف: الامام الحافظ عماد الدین ابی الفداء اسماعیل ابن کثیر القریشی الدمشقی، ناشر: دارالاحیاء التراث العربي
۱۱) تفسیر الکشاف، تالیف: ابو القاسم محمود بن عمرو بن احمد الزمخشري، ناشر: دارالکتاب العربي، بیروت، لبنان
۱۲) صحیح البخاري، تالیف الامام الحافظ محمد بن اسماعیل البخاری، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
۱۳) صحیح مسلم، تالیف الامام الحافظ مسلم بن الحجاج النسابوري، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
١٤) سنن الترمذي، تالیف: الامام محمد بن عیسی الترمذي، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
١٥) سنن النسایي، تالیف: الامام احمد بن شعیب النسایي، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
١٦) الموطا للامام مالک، تالیف الامام مالک بن انس ابن مالک بن ابي عامر بن عمرو بن الحارث ابوعبدالله، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
۱۷) سنن ابي داود، تالیف: الامام سلیمان بن الاشعث السجستاني، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
۱۸) سنن الکبری للبیهقي، تالیف: ابوبکر احمد بن الحسین بن علي البیهقي
۱۹) سنن ابن ماجة، تالیف: الامام محمد بن یزید القزوني، ناشر: مکتبة الرشد ناشرون
۲۰) مسند امام احمد بن حنبل، تالیف: امام احمد بن حنبل، ناشر: الکتب التسعة
۲۱) مشکوة المصابیح، تالیف: ابومحمد الحسین بن مسعود البغوي، ناشر: مکتبه فاروقیه پېښور
۲۲) فتح الباري شرح صحیح البخاري، تالیف: الامام الحافظ احمد بن علی بن حجر العسقلانی، ناشر: دارالمعرفة - بیروت
۲۳) شرح النووي لصحیح مسلم، تالیف: الامام الحافظ محي الدین ابو ذکریا یحیی بن شرف النووي، ناشر: دارالفکر
۲٤) مرقاة المفاتیح، تالیف: نورالدین ابوالحسن علی بن سلطان محمد القاری الهروی
۲٥) بحرالرائق شرح کنز الدائق، تالیف: زین الدین ابن نجیم الحنفي، ناشر: دارالکتب العلمیة، بیروت لبنان

٢٦)	الهداية في شرح البداية، تاليف: برهان الدين ابوالحسن علي بن ابي بكر ابن عبدالجليل الفرغاني المرغيناني، ناشر: مكتبه نعمانيه
٢٧)	الفتح القدير فى شرح الهداية، تاليف: كمال الدين محمد بن عبدالواحد ابن عبدالحميد بن مسعود المعروف بابن همام، ناشر: مكتبه رشيديه - كويټه
٢٨)	الفقه الاسلامي و ادلته، تاليف: الدكتور وهبة الزهيلي، ناشر: دارالفكر المعاصر، دمشق سوريه.
٢٩)	فقه خانواده در جهان معاصر، تاليف: وهبة الزحيلى، ژباړه: عبدالعزيز سليمي. ناشر: احسان، تهران
٣٠)	رد المحتار، تاليف: محمد امين مشهور به ابن عابدين،
٣١)	زاد المعاد، تاليف: امام ابن قيم جوزية رحمه الله، ناشر: مكتبة العلمية، بيروت، لبنان
٣٢)	حقوق الزوجين في ضوء السنة النبوية، تاليف: اروى بنت فايز الزيادي
٣٣)	معجم اللغة الفقهاء، تاليف: محمد رواس قلعجي، ناشر: مكتبة النور
٣٤)	القاموس المحيط، تاليف: فيروزآبادي.
٣٥)	رحيق المختوم تاليف: صفى الله مباركفوري، ناشر: عبدالله خاموش هروي
٣٦)	د اسلام كورنى نظام، تاليف: شيرزاد عزيزي
٣٧)	ګوګل: دكتور عاصم بن عبدالله بن ابراهيم الخليلى اقريدى
٣٨)	فقهي قواعد، تاليف: دكتور عبدالكريم زيدان، ناشر: انتشارات مستقبل
٣٩)	د افغانستان جمهوري اسلامي دولت اساسي قانون
٤٠)	د افغانستان د جمهوري دولت د واده د مراسمو قانون
٤١)	فقهي قواعد، تاليف: پوهنوال بركت الله تايب، ناشر: حكمت خپرندويه ټولنه.
٤٢)	فقهي قواعد، تاليف: عبدالكريم زيدان، ژباړه : ابوعاصم زاهدي
٤٣)	د افغانستان مدني قانون
٤٤)	معجم التعريفات تاليف: على بن محمد بن على الجرجانى. چاپ: دارالكتب العلمية ، بيروت لبنان
٤٥)	شرح منظومة القواعد الفقهية، تاليف: الشيخ سعد بن ناصر الشترى
٤٦)	شرح المجلة، تاليف: سليم رستم باز اللبناني، ناشر: مكتبه فاروقيه، پېښور
٤٧)	لسان العرب، تاليف: أبو الفضل محمد بن مكر بن علي، ناشر : دارصادر، بيروت
٤٨)	التعريفات، تاليف: علي بن محمد بن علي الزين الشريف الجرجاني، ناشر: دار الكتب العلمية، بيروت
٤٩)	المعجم الوسيط، تاليف: ابراهيم انيس، ناشر: مكتبة الشروق
٥٠)	الفروق، تاليف: أبو العباس شهاب الدين أحمد بن ادريس القرافي، ناشر: مكتبة دارالسلام
٥١)	اعلام الموقعين عن رب العالمين، تاليف: امام محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد بن قيم الجوزية، ناشر : دارالكتب العلمية، بيروت
٥٢)	الموسوعة الفقهية الكويتية، ناشر: وزارة الأوقاف والشؤون الاسلامية – كويت.
٥٣)	الوجيز في أصول الفقه، تاليف: دكتور عبدالكريم زيدان، ناشر: مسلم خپرندويه ټولنه – جلال آباد.
٥٤)	الأشباه والنظائر، تاليف: امام جلال الدين عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي، ناشر: دارالكتب العلمية.
٥٥)	الاكليل في استنباط التنزيل، تاليف: جلال الدين السيوطي، ناشر : دار الكتب العلمية – بيروت
٥٦)	شرح القواعد والأصول الجامعة والفروق والتقاسيم البديعة النافعة، تاليف: أبو عبد الله أحمد بن عمر بن مساعد الحازمي.

٥٧) المهذب فی علم آصول الفقه المقارن، تاليف: دكتورعبد الكريم بن علي بن محمد النملة، نشار : مكتبة الرشيد.
٥٨) المصباح المنير فی غريب الشرح الكبير، تاليف، أبو العباس أحمد بن محمد الحموي، چاپ : المكتبة العلمية – بيروت
٥٩) د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون
٦٠) د جزا كود،١٣٩٦ كال
٦١) د پيچ درې د پښتنو دودونه، تاليف: ابوطارق غلام الله سرور ساپی
٦٢) حكم اختلاط الرجال بالنساء فی الاعراس، الامام ابن باز، د ابن باز رسمي سايټ
٦٣) په هيواد كې له يوشمير پوهانو او ټولنيزو شخصيتونو سره ليدنې او مركې .

## Summary of the Thesis

The Afghan society is an Islamic community since hundreds of years ،so there are positive and good traditions in this community for marriage, engagement and post marriage situations. The effects and consequences of such good traditions have been seen positively in the life of the individual, families and society and subjected to full of prosperity life.

The Islamic Shariya and civil law have not only certified such good traditions but also devoted rewards with the perpetrator; and in some circumstances the Islamic Sharia and civil law recommended to its followers to respect and take care of such traditions. So, that Islamic Sharia and civil law can be well-received in order to fulfil human beings.

But on the other hand, I must also regretfully say that; we have been had bad traditions during the engagement, marriage and post marriage which has been had unwilling and bad effects and consequences on individuals and families lives and community.

Islamic Shariya and civil law not only refuse such traditions, but also dictates that from such evil traditions Muslims must disregard such traditions to fulfill the benefits of human accordingly.

Marriage in this thesis marriage is elaborated in light of the sacred law of Islam, civil law of Afghanistan and different traditions of the Afghan society as well as the positive and negative consequences of those traditions on their life's goals and objectives.

SALAM UNIVERSITY
FACULTY OF LAW
DEPARTMENT OF JURISPRUDENCE
AND LAW

ISLAMIC EMARAT OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION
Cooperation Scientific affairs

# AFGHAN WEDDING TRADITIONS AND THEIR EFFECTS

## IN THE LIGHT OF ISLAMIC LAW AND CIVIL LAW

(Master's thesis)

**AUTHOR: GHOUSUDDIN BAZ**
**INSTRUCTOR: DR. MOHAMMAD MOZMAL ESLAMI**

**YEAR: ۱۴۰۱هـ ل – ۱۴۴۴هـ ق**

SALAM UNIVERSITY
FACULTY OF LAW
DEPARTMENT OF JURISPRUDENCE AND LAW

ISLAMIC EMARAT OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION
Cooperation Scientific affairs

# AFGHAN WEDDING TRADITIONS AND THEIR EFFECTS

## IN THE LIGHT OF ISLAMIC LAW AND CIVIL LAW

(Master's thesis)

AUTHOR: GHOUSUDDIN BAZ
INSTRUCTOR: DR. MOHAMMAD MOZMAL ESLAMI

YEAR: ۱۴۰۱هـ ل – ۱۴۴۴هـ ق